# د کلیاتِ اقبال رح

## (اردو) منظومه پښتو ژباړه

ژباړونکي

بیلابیل شاعران

ټولونه اوخېړنه

ډاکټر عبدالرؤف رفیقي

اقبال اکادمي پاکستان لاهور

# ټول حقوق یې له ادارې سره دي


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | ::د کلیات اقبال (اردو) منظومه پښتو ژباړه |
| ژباړونکي | ::بېلابېل شاعران |
| ټولونه او څېړنه | ::ډاکټر عبدالرؤف رفیقي |
| چاپ کال | ::اګست 2015م کال |
| خوروونکی | ::اقبال اکادمي پاکستان لاهور د ډاکټر رفیقي څېړنیز مرکز په مرسته |
| چاپ شمېر | ::۵۰۰ |
| کمپوزر | ::حافظ رحمت نیازی |

**ډالۍ**

د پښتني خاوري د امن اوغوره سباوون په نوم

**رفيقي**

## د کلیاتو ترتیب


| کتاب | ژباړونکی | مخ |
|---|---|---|
| بانگِ درا | راحت زاخیلي | ۲۷۴/۳۷ |
| بالِ جبریل | قاضي عبدالحلیم اثرافغاني | ۴۲۷/۲۸۱ |
| ضربِ کلیم | شېر محمد مینوش | ۵۴۱/ ۴۳۹ |
| ارمغانِ حجاز | امیر حمزه شینواری | ۵۸۱/۵۴۷ |

# د اقبال رح

## د اردو کلیاتو دغه منظومه پښتو ژباړه

اقبال پېژندنهدا وخت يو نړيواله موضوع ده. د نړۍ په بېلابېلو برخو کي مېشت د بېلابېلو قامونوپوهان او څېړونکي په بېلا بېلو ژبو کي د اقبال په فکر او فن باندي ورځ په ورځ نوي څېړني کوي. تراوسه پوري د اقبال په باب د چاپ شوو کتابونو شمېره زرونو ته رسيږي.

د اقبال په فکر او فن باندي د خبرېدو دپاره د دهٔ شاعري اوله منبع ده. ځکه نو د نړۍ په بېلو بېلو ژبو کي د اقبال د شعري ټولګو ژباړي په ځانګړې خو البته په ځينو ځايونو کي په بشپړه توګه شوې دي.

په ځينو ژبو کي يې د يوې او نيمي خو په ځينو ژبو کي يې د زياترو ټولګو منظومي ژباړي شوي دي.

د دغه ژبو په بهير کي پښتو هم هغه يوه ژبه ده چي د اقبال د درست اردو او فارسي کلام بشپړه منظومي ژباړي په کي شوي دي. حتیٰ په ځينو ځايونو کي خو په پښتو کي د اقبال د يوې يوې شعري ټولګي تر يوې هم زياتي منظومي ژباړي شوي دي.

د دې وجه ښايي دا ده چي اقبال له پښتنو سره مينه درلوده. د پښتنو د غوره کردار، لوړو اخلاقو، عمل، سخت جانۍ او سخت کوشۍ له کبله پښتانهٔ پر اقبال ډېر ګران وو. په خپل کلام کي اقبال د پښتنو د دغه صفتونو ځایٔ پر ځایٔ يادونه کړې ده. په ځيني ځايونوکي خو يې د پښتنو ستاينه بېخي په ډاګه کړې ده. البته په ځينو ځايونو کي بيا په ځانګړې توګه[1] د پښتنو خویٔ و خاصيت او ملي مشاهيرو ته يې په درنه سترګه کتلي دي. نهٔ يوازي دا بلکې د اقبال پر فکر باندي

افغانیت ډېره درنه او توده اغېزه او اثر ښندلی دی چي له کبله يې د ځينو نړيوالو پر اقبال باندي ببخي د افغان ګمان کېدۀ. هم د غه سبب ؤ چي پښتنو د خپل دغه غمخور او لوئ شخصیت د دۀ په ژوند کي لا پېژندنه وکړه. د اقبال په ژوند کي لا د اقبال د کلام منظومي پښتو ژباړي پيل شوي[۲]

د اقبال د ټولو منظومو آثارو پښتو منظومي ژباړي و شوې. د يوې يوې شعري ټولګي يې بېلو بېلو شاعرانو ژباړي وکړې. تر څو و خپل دغه نړيوال شخصيت ته د خپلي بې کچي ميني څرګندونه وکړي.

دلته د اقبال د اردو کلياتو په لړ کي د هغۀ پر پښتو ژباړو او پښتنو ژباړونکو يو ځغلنده نظر اچوو.

د اقبال اردو کليات

۱: بانګِ درا ۲: بالِ جبريل ۳: ضربِ کليم ۴: ارمغانِ حجاز.

## بانګ درا

که څه هم تر بانګ درا له مخه د اقبال د فارسي درې آثار "اسرارِ خودي" ۱۹۱۵م "رموزِ ببخودي ۱۹۱۸م او "پيامِ مشرق" ۱۹۳۲م چاپ شوي وو. خو بانګ درا د اقبال د اردو لومړۍ شعري ټولګه ده چي لومړی وار په ۱۹۲۴م کي چاپ شوې وه. درې برخي لري لومړۍ برخه يې هغه اشعار دي چي تر ۱۹۰۵م پوري يې ويلي دي. د اقبال د دغه دور پر غزلو او کلام باندي داردو ژبي دشاعرانو لکه "داغ" او "مير" او ورسره ورسره د غربي شاعرانو لکه ايمرسن کاؤپر، لانګ فيلو او ټيني سن اثر پروت دی. د دغه دور په کلام کي يې منظر کشي ببخي زياته ده ځيني نظمونه يې د ماشومانو دپاره ليکلي دي چي د لټون څېړني او

جستجو رنګ پر غالب دی. په ځینو نظمونو کي یې د راتلونکي عالي فلسفیانه افکارو څرك لیدل کیږي.

د بانګ درا دویمه برخه د ۱۹۰۵م څخه تر ۱۹۰۸م پوري د اقبال شوې شاعري ده. په دغه وخت کي علامه د اروپا تهذیب ښخي له نژدې ویني او د اسلامي اصولونو او تاریخ په زړۀ پوري مطالعه کوي. ځکه نو په دې نتیجه رسیږي چي وطنیت او قومیت د بني آدم دپاره په ګټه نه تمامیږي ځکه یې نو د اسلامي اصولو تبلیغ د خپلي شاعرۍ موضوع جوړه کړه. له دغه پس د اقبال پر شعر د پیغام جلوه زیاته څرګندیږي.

د بانګ درا دریمه برخه د ۱۹۰۵م څخه تر ۱۹۰۸م پوري دده دکړې شاعرۍ سره اړه لري دغه برخه په پرتلیزه توګه کوچنۍ ده. خو د اقبال د دغه وختو په شاعري کي سوز و ګداز، فلسفیانه غور او فکر او آفاقي رنګ بریښي. په اردو یې د فارسي غلبه زیاته شوې ده. په فکر کي یې د انقلاب بدلون راغلی دی. د خدایي خودي، بېخودي او عشق خبري کوي. د نړۍ د مسلمانانو سره د زړۀ له کومي د میني اظهار کوي او له انګرېزانو سره یې د دښمنۍ جذبات و شعر ته ننوزي. تر شاعرۍ زیات د پیامبرۍ تر ټاکه را رسیږي[3].و قام ته د امید له یقین سره سره د اسلام د اطاعت بلنه هم ورکوي.

د بانګ درا د پښتو منظومه ژباړه د پښتو نامتو شاعر، ادیب، مؤرخ او محقق ښاغلي سید راحت الله راحت زاخیلي کړې ده. دغه ژباړه لومړی ځل په جنوري ۱۹۶۳م کي د اقبال اکېډمۍ کراچي له خوا د پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټۍ په وساطت چاپ شوه[4]

راحت زاخیلي صاحب که څه هم د خپل فن و شخصیت په حواله په پښتو ادبیاتو کي په خپله هم د لوئ نامۀ ښښتن ؤو خو د بانګ درا په دغه ژباړه سره راحت صاحب نور هم د شهرت و لوړ مقام ته ورسېدی.

"راحت صاحب د ټولو نه اولنی سړی ؤ چي څه وخت شکوه او جوابِ شکوه شایع شوه نو دۀ یې په پښتو کي ترجمه وکړه. دا هغه وخت وو چي اقبال هم زلمی ؤ او راحت صاحب هم زلمی ؤ. راحت صاحب څه چي د هندوستان د هر ګوټ مسلمان شاعر ته به چي د اقبال کلام په اخبار یا رسالو کي ورسېد نو سمدستي به یې د هغې ترجمه په خپله خپله ژبه وکړه[۵]

راحت صاحب د کوم دولتي امر یا کوم پروجیکټ په وړاندي د بانګ درا منظومه پښتو ژباړه نه ده کړې بلکې وخت په وخت یې سمدلاسه د اقبال د کلام په لیدلو د اقبال سره د ذهني فکري یووالي لکه کبله د اقبال اشعار په پښتو شعر را ژباړل[۶].

د بانګ درا د دغه ژباړي د وخت په وخت لیکلو ګواهي مولانا عبدالقادر کړې ده. "بانګ درا د پښتو کولو دا دروند کار په راحت صاحب سپك شوی غوندي ؤ. دۀ د پنځوسو شپېتو کالو راهیسي د بانګ درا د اشعارو ترجمه وخت بې وخته کړې ده. او د څه لاندي باندي نه پس یې ترې یوه مسوده شان جوړه کړه او ما ته یې را وسپارله"[۷]

کله چي موږ د راحت صاحب دغه ژباړه وایو نو ځای په ځای خو د سړي دا خیال شي چي دغه اشعار ژباړه نه بلکې طبع زاد دي او راحت صاحب د ترجمې په وخت د پښتو محاوراتي پیرایه هم برقراره ساتلې ده. ځای پر ځای یې په شعر کي د پښتو متل په استعمال سره پر دغه شعر د ژباړي خیال نه بلکې د طبع زاد شعر یقین کیږي.

غواړم چي دلته د بانګ درا د پښتو ژباړونکي راحت الله راحت زاخیلي لنډه پېژندنه راوړم.

سید راحت الله راحت زاخیلي د سید فریح الله زوی په ۱۸۸۴م / ۱۳۰۴ه ق د نوښېرې په زاخېل کلي کي وزېږېدئ.[۸] په ۲۹ مئ ۱۹۶۳م په حق ورسېدئ. لومړنۍ زده کړي یې له خپل پلار څخه تر لاسه کړې. بیا یې طبي او عربي علوم زده کړل او په خطاطي کي یې هم پوره لاس درلود.[۹] د خپل کوچني ورور له وفات وروسته تر درو میاشتو پوري په دماغي ستړې اخته شو وروسته یې د یوه فرنګي پادري لین کاسټر سره مخه شوه چا چي دئ ته عیسوي چاپي مواد ورکړل خو د هغه سره هم راحت صاحب سکون نه کړ تر لاسه. له هغه وروسته یې د قرآن کریم مطالعه په ډېر ځیر سره وکړه تر څو چي راحت صاحب یې په خوند آګاه شو.

په پښتو ادبیاتو کي راحت صاحب بسم الله د اقبال له کلام څخه وکړه. د شکوه او جوابِ شکوه ژباړې یې په پښتو کي وکړې. له هم دې کبله و و دئ ته معاصرو پوهانو افغاني اقبال وایه.[۱۰]

په ۱۸۱۰م کي یې اووه ورځنی اخبار "افغان" را وایست. په ۱۹۲۳م کي یې د شېخ مصلح الدین سعدي شیرازي د ګلستان پښتو ژباړه وکړه. په ۳۱- ۱۹۳۰م کي یې مجله "ستړې مه شې" را وایستله. وروسته یې د فرنټئیر ایډوکېټ په نامه اخباره چلاوۀ. په ۱۹۴۸م د پښتو ورځپاڼي "شهباز" د پښتو برخي مدیر هم پاته شوی ؤ.[۱۱]

د راحت زاخیلي صاحب ځیني آثار په دې ډول دي:

ګلستانِ سعدي (پښتو ژباړه) * سیف الملوك (پښتو منظوم) * ستارۀ زمین (اردو ناول) * سوانح انور بېګ (منظوم پښتو) * تاریخِ افغانستان (پښتو) * خزانِ افغان (منظوم پښتو) * لغت افغاني (پښتو) * صرف میر * رسالهٔ نبض (فارسي) * قواعدِ خوشخطي (منظوم فارسي) * پالنامه (منظوم پښتو) * تحریر کافیه * د پښتو قاعدې

(پښتو صرف او نحو) * تاریخِ بغداد (پښتو) * جنګ نامهٔ انوري (منظوم پښتو) * د راحت افسانې * ناول د ماه رخې * داغستان *بانګ درا (منظومه پښتو ژباړه).

د راحت صاحب د ستاینې په باب د کابل څخه "د راحت یاد" هم چاپ شوی دی.

د راحت زاخیلي د بانګ درا د دغه ژباړې پر هنري ښکلا ادبي نقد ډېر اوږد پرې په لنډه توګه دا ویلی شم چې د اقبال د درا دغه بانګ په پسته، خوږه پښتو ژبه بې له راحته چا اړولای شو. د راحت دې روح ښاد وي چې د اقبال د درا بانګ یې له امو تر اباسینه له سالنګه تر خیبره او کوږکه په درست پښتانهٔ قام واورېدئ.[12]

د راحت صاحب علاوه د بانګ درا یوه بله منظومه پښتو ژباړه شېر محمد مینوش هم کړې ده چې تر اوسه لا نه ده چاپ شوې[13]

د بانګ درا ځینې نظمونه لکه "شکوه او جوابِ شکوه" جلا جلا هم چاپ شوي د چې په هغو کې د راحت زاخیلي ژباړه، د مولانا صاحب ګل ژباړه (مردان) ۱۹۴۶م او مولانا عبدالمنان اپیل نویس چارسده (۱۹۴۵م) ژباړې شاملې دي.[14]

د خانوزئي عبدالغني شهاب هم د اقبال د شکوې او جوابِ شکوې منظومې ژباړې کړې دي چې تراوسه لا نه دي چاپ شوي.[15]

## بالِ جبریل

د اقبال د اردو کلیاتو دویمه ټولګه بالِ جبریل ده چې لومړی ځل د بانګ درا د چاپ یوولس کاله پس د اقبال په ژوند کې لا په جنوري ۱۹۳۵م کې له چاپه راووته. بالِ جبریل د اقبال د لوړو ادبي شاهکارو

ځخه یو دی. په دغه کتاب کې د ضربِ کلیم غوندې روحاني تسکین موندل کیږي. لوړ شاعرانه افکار یې د لوستونکو ذهنونه منور کوي. دا ټولګه په حقیقت کې د علامه د نظریاتو بشپړتوب دی. د دهٔ د معتقداتو او خیالاتو معراج او د دهٔ د غوره مسلک غوره انځور دی.

بانګ درا د ارتقایي پړاوونو لومړی پړاؤ ؤ په کوم کې چې هغه د یوه لټوونکي په څېر بې قراره دی. خو په بالِ جبریل کې د یوهٔ موندونکي په څېر خورا پُر سکون ښکاري. دلته اقبال د یوه خود آګاه او خدا آګاه په څېر ښکاري. دی د منزل مقصود دپاره دوې نسخې د خودۍ احساس او د سخت کوشش وړاندیز کوي. په بالِ جبریل کې د بنده او خدای د ناز او نیاز ګیله او شکوه او مناجات بېل بېل منظرونه تر سترګو کیږي.[۱۲]

د بالِ جبریل لومړۍ باقاعده پښتو منظومه ژباړه عبدالله جان اسیر کړې ده چې د پلوشې په نامه په ۱۹۵۹م کې د کراچۍ ځخه چاپ شوې ده. ډېره خوندوره ژباړه یې کړې ده.

په دغه ژباړه کې عبدالله جان اسیر د اقبال د مشهوري اصطلاح خودي ژباړه "پښتو" کوي. ګویا اسیر په خپله خودي "پښتو"ګڼي چې ځای په ځای یې د معنویت په لحاظ ډېر خوند په کړی دی.

ولي چې موږ په دغه کلیاتو کې د بالِ جبریل د منظومې پښتو ژباړې په لړ کې راوړې خو دعبدالحلیم اثر افغاني ژباړه ده خو په هغه کې چې کوم کمبوتات راغلي وو د هغو تشه مو د عبدالله جان اسیر له ژباړې ځخه پوره کړې ده. ځکه نو دلته د اقبال د منظوم پښتو ژباړونکو په بهیر کې د عبدالله جان اسیر و ژوند او آثارو ته لنډه کتنه کوو.

عبدالله جان اسیر د صوابۍ په زیده کي په ۱۳ جولائي ۱۹۱۰م کي وزیږیدئ. په نهم صنف کي یې شاعري پیل کړه. ۱۹۳۳م کي د خیر آباد په ښوونځي کي ښوونکی وټاکل شو.

په ۱۹۴۶م کي یې په آل انډیا راډیو کي ملازمت پیل کړ. په ۱۹۶۰م کي په کراچي کي نیوز ریډر ؤ. د کوټي څخه یې د محکمه اطلاعات له خوا مشهوره پښتو میاشتیزه "اولس" جاري کړه. بیا یې په پېښور کي "جمهور اسلام" را وایسته. په ۱۹۶۵م کي تقاعد شو. په ۱۳ نومبر ۱۹۷۸م کي په حق ورسېدئ[۱۷].

د عبدالله جان اسیر ځیني آثار په دې ډول دي:

* درسِ عبرت (ډرامه) * د پسرلي ګل (شعري ټولګه) * د زړۀ قطرې (شعري ټولګه) * پلوشې (د اقبال د بال جبریل منظومه پښتو ژباړه) * ذکرِ حبیب (مرثیې) * محمد عربي (ژباړه) * امیر علي ټګ (سوانح عمري)

د بالِ جبریل دویمه پښتو منظومه ژباړه هم شوې ده چي د هغه پر ټایټل خو نوم د عبدالحلیم اثر لیك دی ولي د مولانا عبدالقادر په قول:

"په دې ترجمه کي ګڼو ادیبانو، شاعرانو او فاضلانو همکاري او ملګرتیا کړې ده او تړون یې په دوئ کي د یو کس سره کول به تر حده د بل په حقه بلوسه کول وي. د دې میدان سوارۀ قاضي عبدالحلیم اثر، نواز طائر، مشتاق احمد مشتاق او مراد شینواری دی. دا وروستي درې فاضلان د اکېډمۍ سره تعلق لرونکي وو او فاضل عبدالحلیم اثر په کي د بهر نه ؤ."[۱۸]

دغه ژباړه لومړی ځل په نومبر ۱۹۶۷م کي د اقبال اکادمي کراچي له خوا د پېښور د پښتو اکېډمۍ په وساطت چاپ شوه. په دغه ژباړه

کي اتلس څلوریځي د ژباړي څخه پاته شوي دي چي موږ د عبد الله جان اسیر په ژباړلو څلوریځو پوره کړي دي.

د عبدالحلیم اثر افغاني لنډه پېژندګلوي د دۀ د ژوند او اثارو په اړه راوړو:

"قاضي عبدالحلیم اثر افغاني په جون ۱۹۱۰م کي د مردان په اسلم آباد فیروز پور کي د قاضي سید کریم کره زېږېدلی ؤ. په ختټه سالار زی ؤ. په رساله سرحد او خلاصه اخبارات نومي اخبارونو کي یې کار کاوۀ. وروسته یې د مردان څخه اووه ورځنۍ مجله "انصاف" جاری کړه. د قبیلییز پاکستان په اسمبلۍ کي د ملاکنډ ایجنسۍ له خوا ممبر منتخب شوی ؤ"[۱۹]

نوموړي یو شمېر درانۀ علمي او ادبي تصنیفات او تالیفات ادبي نړۍ ته یادګار پرې اېښي دي. زیاتي مقالې یې په سیمه ایزو مجلو کي چاپ شوې دي او له علامه اقبال سره یې خصوصي تړون درلود ځکه خو یې د محمد نواز طائر، مشتاق احمد مشتاق او مراد شینواري په ملتیا د علامه د بالِ جبریل منظومه پښتو ژباړه وکړه. ځکه نو موږ دی د پښتو اقبال پېژندونکو شاعرانو په قطار کي دروو. نوموړی په اتم دسمبر ۱۹۸۷م په حق ورسېدئ روح دي یې ښاد وي.

د اثر افغاني آثار: * روحاني تړون یا روحاني رابطه * پشتي * پښتون *پښتونخوا * ګندهارا * مري * بلوڅ * ادار * د تاریخي نومونو پسِ منظر * ختټك * تاریخ سامه * دردي * ارکزی * افریدي * مومند * وزیري * تذکره پټه خزانه زما په نظر کي * عبدالرحمان بابا * تاریخچۀ یوسفزئ * افغان مؤرخین * وحدة الوجود * د پښتو ژبي عوامي ادب * موسوي سادات * محمد ګېسو دراز * مشواني * سالار غازي * افغان * نوې تاریخي مطالعه د علمِ اصولِ تاریخ په رڼا

کي * د پښتو تاریخ * شېخ متي * درې نومونه * د پښنین ستانه دار * ترین سادات * سادات افاغنه * په سرحد او قبایل کي د اسلام رڼا * پښتو تفسیرونه * د اولیاءِ افغانستان اجمالي تذکره * منطق افکار (شعري ټولګه) * زما خطونه * روهي ادب او نور.[۲۰]

د عبدالحلیم اثر صاحب په ژباړه کي زیاتره هم هغه د اقبال د اصل متن قافیې په کار اچول شوي دي. زیاتره ردیفونه او قافیې کټ مټ هم هغه د اقبال د اردو اشعارو څخه اخستل شوي دي. ځیني ځایونه خو هغه د اقبال تراکیب بشپړ را اخستل شوي دي او حال دا چي د اسیر صاحب معامله د دې څخه علاوه ده. بالِ جبریل پښتو منظومه ژباړه د عبدالله جان اسیر، عبدالحلیم اثر علاوه جناب شبر محمد مینوش هم کړې ده خو تر اوسه نه ده چاپ شوې.[۲۱]

## ضربِ کلیم

د اقبال په اردو کلیاتو کي ضربِ کلیم دریم شعري اثر دی چي پر بېلا بېلو دقیقو موضوعاتو باندي د حضرت علامه خورا درانهٔ عالمانه او فلسفیانه افکار لري. و دغه موضوعاتو ته یې خورا ښکلې شعري بڼه وراغوستې ده چي په ښکلي هنري پسول پسوللې ده.

د ضربِ کلیم شاعري د اقبال دپاخهٔ عمر شاعري ده. د اقبال د وفات دوه کاله له مخه چاپ شوه. په دغه کتاب کي په هنري لحاظ شعریت یا تغزل لږ دی خو فلسفه په کي زیاته ده. په فلسفیانه انداز د حاضر وخت چلن، ناوړه ښوونو، ناوړه خیالاتو او ناوړه منطقي رزمونو په دومره غوره ټکو غندنه کړې ده چي په ځینو ځایونو کي یې نظمونه دومره اوچت دي چي د الهام تر ټاکه رسیږي.

د افرنګ او دانش افرنګ سره سره يې پر عرب او عجم او ايران و هندوستان باندي هم ژوره کره کتنه کړې ده او د مسلم امة د بېلا بېلو برخو جاج يې اخستی دی. لنډه دا چي ضربِ کليم پر غرب او شرق بې لاګه تبصره ده د کوم ساری چي په اردو شاعري کي څه چي په واړه آسيايي ادبياتو کي په لټولو هم نه ترلاسه کيږي[٢٢]

د ضربِ کليم دوې پښتو منظومي ژباړي شوي دي چي تفصيل يې په دې ډول دی. لومړۍ ژباړه يې د سيد محمد تقويم الحق کاکاخېل ده چي اقبال اکېډمي د پښتو اکېډمۍ پېښور په وساطت په ١٩٦٧م کي چاپ کړې ده. دويمه ژباړه يې د اقبال يوه بل مين پښتانۀ شاعري شېر محمد مينوش کړې ده چي د يونيورسټۍ بك ايجنسۍ له خوا چاپ شوې ده. کله چي موږ د دغو دواړو ژباړو پر هنري څنډو پام را اړوو نو وينو چي ځيني ځايونه خو په دواړو ژباړو کي د اقبال آهنګ هم په هغه انداز ژباړل شوی دی لکه د اقبال اصل متن چي دی هم هغه رديف او هم قافيه دي.

د ضرب کليم د پښتو منظومو ژباړونکي شېر محمد مينوش لنډه پېژندګلوي او آثار په دې ډول دي:

شېر محمد مينوش د صوابۍ تحصيل په ترلاندی د فروري په ١٧ مه نېټه ١٩٠٣م کي د ظهور الله په کور کي وزېږېدئ. لومړۍ زده کړې يې په کلي کي تر سره کړې او د پنجاب پوهنتون څخه يې ايس وي تر لاسه کړه. ديني کتابونه يې پر مولانا عبدالحکيم باندي وويل.[٢٣]

مينوش صاحب په خټه مندڼ ؤ او د شاعرۍ پيل يې د لوست د زمانې څخه کړی ؤ. لومړی تخلص يې بسمل ؤ. د مردان په افغان مجله کي يې نظمونه خپرېدل او د پښتو په تکړه شاعرانو کي شمېرل کيدۀ. مينوش صاحب په محکمه تعليم کي مدرس ؤ او وروسته له هغه ځايه

ریټائر شو. د اقبال د افکارو څخه ډېر متاثر ؤ د همدغه ذوق او شوق له کبله یې د اقبال زیاترو کتابونو منظومې ژباړې کړې دي چې په هغه کې "پیامِ مشرق" او ضربِ کلیم چاپ شوي دي.

د پورته یاد شوو دوو کتابونو په څېر د همېش خلیل د قوله چې مینوش صاحب د "بانګِ درا" او "زبورِ عجم" ژباړې هم کړې وې. مینوش د دغو ژباړو په وخت کې خپله هم د اقبال د شعر څخه په خپل شعر کې اثر قبول کړی ؤ.

د مینوش صاحب خپله شعري ټولګه "تصوراتِ مینوش" نومېږي. د اقبال د پوررته ذکر شوو چاپي ژباړو او دوو ناچاپه ژباړو په څېر مینوش صاحب د اقبال د "بالِ جبریل" او "جاوېد نامې" ژباړې هم په پښتو ژبه کړې وې چې تر اوسه نه دي چاپ شوې. له دې علاوه مینوش صاحب د غالب د دیوان هم منظومه پښتو ژباړه کړې وه. مینوش صاحب د اکتوبر په اتمه نېټه ۱۹۷۷م کې په حق ورسېدئ.[۲۴]

## ارمغانِ حجاز

"ارمغانِ حجاز" د حضرت علامه هغه شعري اثر دی چې ژور دیني او مذهبي افکار په کې بیان شوي دي. د علامه د پېغمبر اسلام شاهِ دو جهان آنحضرت ﷺ د غرقې مینې خوندوري بېلګې په کښې دي. دغه کتاب علامه د خپل ژوند په پای کې مرتب کړ. خو د دۀ له مرګه څو میاشتې وروسته په نومبر ۱۹۳۸م کې له چاپه راووت. لومړۍ برخه یې فارسي او دویمه برخه یې اردو ده. د دغه دواړو ژبو د کلیاتو په پای کې د ارمغان حجاز خپله خپله برخه راغلې ده.

د یوې لوړې پایې مفکر او شاعر چې کله د خپل پاخۀ عمر د علم او فکر د وسعتونو او د تجرباتو او مشاهداتو د کثرت څخه راتېر شي

بیا د خپل فکر د پوخوالي او تخیل د پروازو انتها ته را ورسیږي. هلته یې قوتِ حافظه او ذهني قواوي مخ پر ځوږ شي. په نتیجه کي یې شاعر زیاتره د اوږدو اوږدو نظمونو څخه راوګرځي او څلوریځو او قطعو باندي وګمارل شي. اقبال هم له دغه کیفیت سره مخ شوی دی[۲۵]

خو لکه څنګه چي د کتاب له نامه څخه څرګندہ ده چي د حجاز د میني اندېښنو ډېر مغلوبه کړی دی. د حبیب ﷺ د روضې د دیدار شوق شاعر ټول عمر کړولی دی. د رسول ﷺ عشق خو یې په رګ و رېښې کي نغښتی دی. په دغه عمر کي یې فلسفه او خرد ټول د رسول ﷺ د عشق تابع شوي دي.

ارمغانِ حجاز د هغه اندېښنو او ارمانونو ډك دی چي اقبال د شاعري خلاصه لب لباب او د رسول الله ﷺ د عشق او اطاعت د څرګندوني ښکارندوی دی.

د ارمغانِ حجاز د دوارو برخو اردو او فارسي منظومه پښتو ژباړه د پښتو غزل بابا امیر حمزه خان شینواري کړې چي لومړی ځل په نومبر ۱۹۶۴م کي د پښتو اکېډمۍ پېښور په وساطت اقبال اکېډمۍ کراچي چاپ کړه. حمزه صاحب د فارسي د منظومي ژباړي په وخت د کمال تر ټاکه رسېدلی دی. په دغه ژباړو کي حمزه بابا په فکري لحاظ د اقبال د بین الاسلامیت د اصطلاح څخه د بین الافغانیت تر لاسه کړۀ او د حمزه پیرایه دومره خوندوره، روانه، سلیسه او خوږه ده چي زیاتره د سړي د ارمغان حجاز د پښتو ژباړل شوو شعرونو باند د طبع زاد شعرونو ګمان کیږي. دا ځان ته ډېر اوږد بحث دی. دلته د امیر حمزه شینواري لنډ ژوند لیك او آثارو ته کتنه کوو:

ابو المراد امیر حمزه شینوای په دسمبر ۱۹۰۷م کي د میر باز خان په کور کي د خیبر د لواړګي په کلي کي وزېږېدۀ. لومړی زده کړي یې د

کلي په مدرسو کي ترسره کړې وروسته د پېښور په اسلامیه کالجېټ هائ سکول کي داخل شو. د نهم ټولګي څخه بریالی شو چي په لسم ټولګي کي یې د زده کړي مربوطه لړۍ وشلېده خو په زده کړه د مرګ تر ورځي اخته پاته شو.

په بېلا بېلو دولتي او غیر دولتي کارونو اخته پاته شو. په ۱۹۳۱م کي د پلار د وفات پس په طریقت اخته شو او د عبدالستار باچا مرید شو. د دغه عبدالستار باچا په امر یې اردو شاعري ته شا شوه او پښتو شاعري ته یې مخه کړه[۲۲]

په ۱۹۴۱م کي د پښتو د لومړي فلم "لیلی و مجنون" د بدلو او مکالمو دپاره بمبۍ ته وغوښتل شو. دغه راز لومړی اثر په ۱۹۳۷م کي "تجلیات محمدیه پر تصوف باندي" راووائڅ. په ۱۸ فروري ۱۹۹۴م کي په پېښور کي په حق ورسېد. روح دي یې ښاد وي.

زما خوش قسمتي ده چي په ژوند کي مي دوه ځله(۱۹۹۱م او۱۹۹۲م کي) د حمزه بابا په خدمت کي د حاضرۍ نېکمرغي وموندہ.

د امیر حمزه شینواري نوم د پښتو ادبیاتو په معاصر بهیر کي ډېر لوړ او ځلاند حیثیت لري. د حمزه څخه د پښتو د نوي شاعري دور بالعموم او د پښتو جدید غزل دور بالخصوص پیل کیږي. حمزه وو چي پښتو شاعري یې د پخواني او کلاسیك غالب څخه راویسته او د نوي رمز سره یې اشنا کړه. هم دغه سوب ؤ چي پښتنو و خپل ستر زېرمه خوار ته د پښتو غزل د بابا خطاب ورعطا کړ.

امیر حمزه شینواری د پښتو یو خورا لوړ وتلی او منلی عالم، فاضل او ادیب و شاعر ؤ. ګڼ شمېر کتابونه یې لیکلي دي او د یو جامع شخصیت څښتن ؤ. ځکه خو د دۀ په ژوند کي د دۀ پر فن او

شخصیت باندي د تحقیق دپاره یوۀ څېړونکي ته د پي ایچ ډي کولو ویاړ وسپار شو او د دۀ په ژوند کي هغه ته پي ایچ ډي ورکړل شوه. د امیر حمزه شینواري په چاپ شوو کتابونو کي دغه کتابونه ما ته معلوم دي:

*ارمغان حجاز * انسان او خدای * تسخیر کائنات * جاوېد نامه * د حجاز په لور * د خوشحال خټك يو شعر * د خیبر وږمې *ژور فکرونه * ژوند * غزوني * نوی پښتون * نوې څپې * یون *پرویني * کلیات * جبر او اختیار(اردو) * انا (اردو) * سپېڅلي ویناوي * د نهجة البالغه پښتو ژباړه.[27]

د حمزه شینواري پر کلام باندي د اقبال ډېر اثرات پراته دي. ځکه چي يو خو دۀ د اقبال د مشهورو کتابونو "ارمغانِ حجاز" او "جاوېد نامه" منظومي پښتو ژباړي کړې وې ځکه نو د حمزه پر کلام باندي د اقبال اثرات لوېدل يو فطري خبره وه. بل حمزه په خپله هم د عالمګیریت او آفاقیت د فلسفې قائل ؤ. ځکه نو حمزه په پښتو شاعري کي د اقبالیاتو موضوعات لکه خودي، همت، امید، مرګ او ژوند، انسان کامل، وحدت ملت، د ژوند حقیقت، انسانیت قومیت او مذهب او پر غربي تهذیب باندي نیوکي وغېره یې ډېر په دقت سره شامل کړه.

د حمزه د همدغه افکارو پر بنیاد باندي حمزه د پښتو ادب په اقبال شناسانو کي يو وتلی او منلی نوم لري. په ځینو ځایونو کي خو یې شعر د اقبال څخه ماخوذ واقع شوی دی. د دې علاوه یې اقبال ته منظومي پیرزویني هم وړاندي کړې دي. د اقبال د عالمګیر بین اسلامي وروروله نظریه او د مرد کوهستاني د هري قبلې د جدا جدا رسمونو د بتانو په ضد هم هغه په دوئ کي وحدت غوښتنه کول دغه

فکري تومنه وه چي حمزه ته د عالمګیر بین الافغانیت رنګ ورکړ او دغه د پراخي پښتونوالي نظریه د حمزه برخه شوه.[۲۸]

دا خو شو د اقبال د اردو کلیاتو د ښېلا ښېلو ټولګو د پښتو منظومي ژباړي او د هغو ژباړونکي.

۱۹۹۸م د پښین په ښارکي د روژې د میاشتي په وروستۍ عشره کي مي اقبال په خوب لیدۀ چي د پخواني اسلامي طرزِ تعمیر په یو لرغوني سرای کي د اسلامي مشاهیرو د یوې لویې غونډي پر مهال په استقبالیه کي پر یوه کټ مخ پر قبله پروت وي. پر مخ یې سپین نازك د ململ ټوکر پروت وي. زۀ احتراماً تر شا ورته ودرېږم خو ښېرته مي زړۀ راغونډ کړم. مخ ته ورته راشم او السلام علیکم ورحمة الله ورته وایم. دی له مخه دغه سپین ټوکر لیري کړي او و علیکم السلام راته ووایي او راته وموسیږي په شا و خوا چاپېر کي اوازه شي چي اقبال د رفیقي سره خبري وکړې. اقبال په ما ږغ وکړ چي ته ما در پورته کړه زۀ یو څه شیان درښیم. ډېره درنه جوسه لکه د ډېر وخت رنځور اول خو ما همت نه شو کولای خو چي دۀ په خپله هم د راپورته کېدو هڅه وکړه زۀ یې تر ښۍ وږه ورلاندي شوم. تر کینۍ وږه یې زما د اکا زوئ صلاح الدین خان چي د معلمي مقدسه دهنده په غاړه لري هغه ورلاندي شو. راپورته مو کړ له کټه په دغه سرای کي مخ په قبله اووه غټ غټ محرابي ششکونه وه د لومړي ششك و مخ ته چي راغلو او اقبال راته ګویا شو:

موضوع د الٰهیاتو وه چي په دغه وخت کي زما و سر ته پرته د ګړۍ د پېشلمي زنګ ووهل شو او زۀ را ویښ شوم. که هر څو مي بیا سترګي پټي کړې خو هغه روح پرور علمي مجلس نه ؤ. یو سپېڅلي شخصیت یې دا تعبیر راکړ چي اقبال له تا څخه د څه کار هیله لري. همدغه هیلي زۀ ناقرار ساتلی یم او د اقبال په څېړنو بوخت پاته شوی یم. د همدغه

خېړنو په لړۍ کې یوه هم دغه د اقبال د کلیاتو د پښتو منظومو ژباړو پر یوۀ ځایځ را برابرول او له نوي سره په نوي لیکدود را اړول شامل ؤ.

د دغه کار دپاره زۀ د اقبال اکېډمی د هڅاندوکالخواهانو شکریه ادا کوم چې د دغه کار د برابرولو او چاپولو ضمینه یې راته برابره کړه. او د ګران حافظ رحمت خان نیازي شکریه ادا کوم چې په ډېره مینه او اخلاص یې د کمپوز سترې په ځان وګاللې.

د پروردګار شکر ادا کوم چې له ما څخه یې د تاریخ په یوه داسي پړاو کي د اقبال د اردو کلیاتو د دغه منظومي پښتو ژباړي د ترتیب کار واخیست چې پښتانۀ ورته تر بل هر وخت زیات ضرورت لري. د زمانې په جبر کي راګیر د نړیوالو ځواکونو تر ځاپېړو لاندي ټوکر ټوکر پښتون ملت د ښه سباوون په هیله ستاسي و درانۀ حضور ته خپل دغه نیمګړی زیار وړاندي کوم. خدای دي وکړي چي زما دغه زیار د ملت په درد وخوري.

**ډاکټر عبدالرؤف رفیقي**

ډاکټر رفیقي څېړنیز مرکز

کاسي واټ کوټه

۲م اکتوبر ۲۰۱۰ء

**اي میل**: abdulraufrafiqui@yahoo.com

**اړیکه**:3337817768 /۰۰۹۲

# کتابيات او حوالې

0 عبدالرؤف، رفيقي، ډاکټر، (ژباړه) د اقبال ژوند، اقبال اکېډمي پاکستان، ۲۰۰۷ء مخ ۲۷.

1 لکه د محراب ګل افغان کے افکار، په جاوېدنامه کې د افلاکو د سير پر وخت د بېلابېلو پښتنو علمي، جهادي او ملي رجالو او مفاخرو سره ملاقاتونه، هم دا ډول په مثنوي مسافر کي د افغانستان د سيل پر وخت د پښتنو د خاوري او خلګو په باب د دۀ درانۀ افکار.

2 عبدالرؤف رفيقي، ډاکټر، اقبال او پښتو شاعري، اقبال اکادمي پاکستان لاهور، ۲۰۰۴ء مخ ۲۸۵.

3 زيت الرحمٰن، کلامِ اقبال کي پشتو تراجم، تحقيقي مقاله برائے پي ايچ ډي، اردو، شعبه اردو پشاور يونيورسټي، ۲۰۰۲ء مخ ۹۷.

4 اقبال او پښتو شاعري، مخ ۲۲۴.

5 راحت الله، راحت، زاخيلي، بانګ درا، پښتو ژباړه، اقبال اکېډمي پاکستان، ۱۹۲۴ء، مخ ح.

6 اقبال او پښتو شاعري، مخ ۲۲۷.

7 بانګ درا، پښتو ژباړه، مخ ي.

8 عبدالله بختانی، خدمتګار، پښتانۀ شعراء، پنځم ټوك، د افغانستان د علومو اکاډمی کابل، ۱۳۷۱هـ ش، مخ ۱۲۵۱.

9 زلمی هيوادمل، فرهنګ ادبياتِ پښتو، جلد اول، مطبع دولتي کابل، ۱۳۵۲ه ش، مخ ۱۸۵.

10 همېش خليل، پښتانۀ ليکوال، جلد اول، پبلك آرټ پريس، پېښور، ۱۹۷۸ء، مخ ۴.

11 کلامِ اقبال کے پشتو تراجم، ص ۹۲.

12 اقبال او پښتو شاعري، مخ ۲۷۳.

13 همېش خليل، د قلم خاوندان، پښتو اکېډمی پېښور، ۱۹۹۹ء، مخ ۴۵۰.

14 کلامِ اقبال کے پښتو تراجم، مخ ۱۲۲.

15 اقبال او پښتو شاعري، مخ **۲۷۱**.

16 **کلام اقبال کے پښتو تراجم، ص ۴۳**

17 کلام اقبال کا پشتو تراجم، ص ۴۲.

18 **بالِ جبریل،** (پښتو ژباړه) اقبال اکادمي پښتو اکېډمي پېښور، **۱۹۷۷**ء مخ ۸.

19 پښتانهٔ لیکوال، لومړی جلد، مخ **۲۰۹**.

20 **د قلم خاوندان، مخ ۵۰۲.**

21 **ایضاً مخ ۴۵۰.**

22 **تحسین، فراقي، ډاکټر، (مرتب) نقد حیات اقبال، مقاله د ضرب کلیم اور احمدیت د پروفیسر یونو سلیم چشتي، بزم اقبال لاهور، بزم اقبال لاهور، مخونه ۲۰۵ – ۲۰۲**

23 پښتانهٔ لیکوال (لومړی ټوك) مخ ۲۱۲.

24 **د قلم خاوندان، مخ ۴۵۰.**

25 کلام اقبال کے پشتو تراجم، ص ۱۸۸

26 پښتانهٔ لیکوال، لومړی ټوك مخ **۱۳**

27 **حبیب الله رفیع، پښتو کتابښود، وزارت اطلاعات کلتور کابل، ۱۳۵۲ه ش، مخ ۹۱.**

28 **اقبال او پښتو شاعري، مخ ۳۲۱.**

# بانگِ درا

## منظومه ژباړه

راحت زاخيلي

# فهرست


| شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | اوله برخه هماله | ۳٦ |
| ۲. | رنګینه ګل | ۵۵ |
| ۳. | د ماشوم والي زمانه | ۵۷ |
| ۴. | مرزا غالب | ۵۷ |
| ۵. | د غره وریځ | ۵۹ |
| ٦. | یو مچ او جولاګی | ٦۱ |
| ۷. | غر او بلونګړی | ٦۳ |
| ۸. | غوا او چیلۍ | ٦۵ |
| ۹. | د ماشوم دعا | ٦۸ |
| ۱۰. | همدردي | ٦۹ |
| ۱۱. | د مور خوب | ۷۰ |
| ۱۲. | د مارغه فریاد | ۷۱ |
| ۱۳. | د مړو نه تپوس | ۷۳ |
| ۱۴. | شمع او پتنګ | ۷٦ |
| ۱۵. | عقل او زړه | ۷۷ |
| ۱٦. | د درد بړغ | ۷۸ |

| | |
|---|---|
| ۱۷. لمر | ۷۹ |
| ۱۸. شمع | ۸۰ |
| ۱۹. یو ارمان | ۸۳ |
| ۲۰. د سحر لمر | ۸۵ |
| ۲۱. د میني درد | ۸۷ |
| ۲۲. مړاوی ګل | ۸۸ |
| ۲۳. د سر سید د قبر شنخته | ۸۹ |
| ۲۴. نوې میاشت | ۹۱ |
| ۲۵. انسان او بزمِ قدرت | ۹۱ |
| ۲٦. د سحر پیغام | ۹۳ |
| ۲۷. عشق او مرګ | ۹۵ |
| ۲۸. زاهدي او رندي | ۹۷ |
| ۲۹. شاعر | ۱۰۰ |
| ۳۰. زړه | ۱۰۱ |
| ۳۱. د دریاب څپې | ۱۰۲ |
| ۳۲. رخصت دی اې جهانه! | ۱۰۳ |
| ۳۳. ماشوم | ۱۰۵ |
| ۳۴. د درد تصویر | ۱۰٦ |
| ۳۵. د بېلتانه ژړا | ۱۱۲ |
| ۳٦. سپوږمۍ | ۱۱۴ |
| ۳۷. بلال رض | ۱۱۵ |

۳۸. د آدم سرګزشت ۱۱۷
۳۹. د هند ترانه ۱۱۹
۴۰. اور اورکی ۱۲۰
۴۱. د صبا ستر ګه ۱۲۲
۴۲. د هندوستاني بچو قومي سندره ۱۲۴
۴۳. نوی درمسال ۱۲۵
۴۴. داغ ۱۲٦
۴۵. وریځ ۱۲۸
۴٦. یو مرغی او اورکی ۱۲۹
۴۷. شمع او ماشوم ۱۳۱
۴۸. د راوي په غاړه ۱۳۲
۴۹. د مسافر سوال ۱۳۳
۵۰. غزلونه ۱۳۵
۵۱. دویمه برخه ۱۵۲
۵۲. محبت ۱۵۵
۵۳. د حسن حقیقت ۱۵٦
۵۴. پیغام ۱۵۷
۵۵. سوامي رام تیر تهه ۱۵۸
۵٦. د علیګړ کالج د لوستونکو په نوم ۱۵۸
۵۷. د صبا ستر ګه ۱۵۹
۵۸. حسن او عشق ۱٦۰

| | |
|---|---|
| ۵۹. په غېږ کښې د پیشو په لیدو | ۱٦۲ |
| ٦۰. غوټۍ | ۱٦۳ |
| ٦۱. ستوري او سپوږمۍ | ۱٦۴ |
| ٦۲. وصال | ۱٦۵ |
| ٦۳. سلیمیٰ | ۱٦٦ |
| ٦۴. هر دري عاشق | ۱٦۷ |
| ٦۵. نیمګړې هڅه | ۱٦۹ |
| ٦٦. د غم فریاد | ۱۷۰ |
| ٦۷. ننني عېش | ۱۷۱ |
| ٦۸. بنیادم | ۱۷۲ |
| ٦۹. د حسن پلوشه | ۱۷۳ |
| ۷۰. یو ماښام | ۱۷۴ |
| ۷۱. تنهایي | ۱۷۵ |
| ۷۲. د عشق پیغام | ۱۷۵ |
| ۷۳. هجران | ۱۷٦ |
| ۷۴. د عبدالقادر په نوم | ۱۷۷ |
| ۷۵. صقلیه | ۱۷۸ |
| ۷٦. غزلونه | ۱۸۰ |
| ۷۷. دریمه برخه | ۱۹۰ |
| ۷۸. اسلامي ملکونه | ۱۹۳ |
| ۷۹. ستوري | ۱۹۵ |

۸۰. دوه ستوري ۱۹۶
۸۱. شاهي ګورستان ۱۹۷
۸۲. د سحر تېغون ۲۰۲
۸۳. د انیسي شاملو په شعر تضمین ۲۰۳
۸۴. د غم فلسفه ۲۰۴
۸۵. د ګل په سوغات کېدو ۲۰۷
۸۶. ملي ترانه ۲۰۸
۸۷. وطنیت ۲۰۹
۸۸. یو حاجي د مدینې پر لار ۲۱۱
۸۹. قطعه ۲۱۲
۹۰. شکوه ۲۱۲
۹۱. سپوږمۍ ۲۲۱
۹۲. شپه او شاعر ۲۲۲
۹۳. بزم انجم ۲۲۴
۹۴. د اسمان سپل ۲۲۵
۹۵. نصیحت ۲۲۷
۹۶. رام ۲۲۸
۹۷. موټر ۲۲۹
۹۸. انسان ۲۳۰
۹۹. د اسلام ځوانانو ته خطاب ۲۳۰
۱۰۰..د اختر میاشت ۲۳۲

۱۰۱..شمع او شاعر ۲۳۳
۱۰۲..مسلمان ۲۴۲
۱۰۳..د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په حضور کښې ۲۴۴
۱۰۴..د حجاز هسپتال ۲۴۵
۱۰۵..د ګیلې ځواب ۲۴٦
۱۰٦..ساقي ۲۵۹
۱۰۷..تعلیم او د هغه نتیجې ۲۵۹
۱۰۸..د باچا نزدېکت ۲٦۰
۱۰۹..شاعر ۲٦۱
۱۱۰..د سحر زېرى ۲٦۲
۱۱۱..دعا ۲٦۳
۱۱۲..د اختر په ورځ ۲٦۴
۱۱۳..فاطمه بنت عبدالله ۲٦۵
۱۱۴..ستوري او شبنم ۲٦٦
۱۱۵..د ادرنې محاصره ۲٦۸
۱۱٦..غلام قادر روهيله ۲٦۹
۱۱۷..یوه مکالمه ۲۷۰
۱۱۸..زه او ته ۲۷۱
۱۱۹..د "ابو طالب کلیم" په شعر تضمین ۲۷۲
۱۲۰..شبلي او حالي ۲۷۳
۱۲۱..ارتقا ۲۷۴

| | |
|---|---|
| ۱۲۲..صدیق رض | ۲۷۵ |
| ۱۲۳..موجوده تهذیب | ۲۷٦ |
| ۱۲۴..د مور په یاد کښې | ۲۷۷ |
| ۱۲۵..د لمر پلوشه | ۲۸۵ |
| ۱۲٦..عرفي | ۲۸٦ |
| ۱۲۷..د یو خط په جواب کښې | ۲۸۷ |
| ۱۲۸..نانك | ۲۸۸ |
| ۱۲۹..کفر او اسلام | ۲۸۹ |
| ۱۳۰..بلال رض | ۲۹۰ |
| ۱۳۱..مسلمان او نوی تعلیم | ۲۹۱ |
| ۱۳۲..د ګلونو شهزادګۍ | ۲۹۲ |
| ۱۳۳..د صائب په شعر تضمین | ۲۹۳ |
| ۱۳۴..جنت کښې یوه مکالمه | ۲۹۴ |
| ۱۳۵..مذهب | ۲۹۵ |
| ۱۳٦..د جنګ یرموك یوه واقعه | ۲۹٦ |
| ۱۳۷..مذهب دمبلا بیدل په شعر تضمین | ۲۹۷ |
| ۱۳۸..د معراج شپه | ۳۰۱ |
| ۱۳۹..ګل | ۳۰۱ |
| ۱۴۰..شکسپیر | ۳۰۲ |
| ۱۴۱..زه او ته | ۳۰۳ |
| ۱۴۲..قید | ۳۰۴ |

۱۴۳..د خلافت ګدايي ۳۰۴

۱۴۴..همايون ۳۰۵

۱۴۵..خضر راه ۳۰۶

۱۴۶..د خضر ځواب ۳۰۷

۱۴۷..ژوند ۳۰۸

۱۴۸..سلطنت ۳۱۰

۱۴۹..پنګه او محبت ۳۱۱

۱۵۰..اسلامي دنيا ۳۱۳

۱۵۱..طلوع اسلام ۳۱۵

۱۵۲..غزلي ۳۲۳

۱۵۳..ظريفانه ۳۳۰

# دیباچه

## (له شېخ عبدالقادر بیرسټر ایټ لا سابق مدیرِ مخزن)

څوك خبر ؤ چي له غالب مرحوم پس به هندوستان کښې داسي څوك پيدا کيږي، چي هغه به د اردو شاعرۍ په کالبوت کښې يو نوی روح وپوکي، او د هغه په برکت به د غالب بې مثله تخيل او د عجيبه انداز وينا را ژوندۍ شي او دا به د اردو ادب د برتګ او عام کېدو باعث وي، د اردو خوش نصيبي ته ګورو چي په دې زمانه کښې يې د اقبال په شان شاعر نصيب شو، چي د هغه د کلام رعب د ټول هندوستان د اردوداني دنيا په زړونو کښې پرېوتی ؤ، او نوم يې تر روم، ايران او تر فرنګستانه پوري رسېدلی دی.

غالب او اقبال کښې ډېري خبري شريکي دي، او که چيري ما د تناسخ مسئله منلی نو دا به مي ضرور وې چي د مرزا اسدالله غالب چي د اردو، فارسي، شاعرۍ سره کومه مينه وه، هغې د هغه روح په بله دنيا کښې هم په قرار پرې نه ښود او په دې يې مجبور کړ، چي هغه بيا د چا په کالبوت کښې ځان ځرګند کړي، او د شاعرۍ د چمن خصمانه وکړي، او د پنجاب په يو ګوټ کښې چي سيالکوټ نوميږي، دوباره پيدا شو، او محمد اقبال نوم يې پرې کېښود.

د قبلېدو وخت ؤ دغه چي د شېخ محمد اقبال سپين ږيري پلار او د هغه خوږې مور د ده نوم کښېښودو، چي د هغوی اېښودلی نوم په خپلو پوره معنو کښې صحيح ثابت شو، او د هغوی اقبال مند زوی

هندوستان کښې د علم حاصلولو نه اوزګار شو او انګلستان ته ورسېد ، هلته يې په کېمبرج کښې په کاميابۍ سره وخت تېر کړو او جرمني ته ولاړ، او د علمي دنيا د اوچتو پوړو نه تېرېدو نه پس بېرته راغی.

شېخ محمد اقبال د يورپ د استوګنې په زمانه کښې د فارسي ډېر کتابونه ولوستل او د دغې کتابونو د لوستې يوه خلاصه يې د يو محققانه کتاب په شکل کښې چاپ کړه، چې هغې ته د ايران د فلسفې يو لنډ تاريخ ويل په کار دی، جرمنيانو چې دا کتاب ولوست نو شېخ محمد اقبال له يې د ډاکټر (علامه) اوچت علمي سند ورکړو، د فرنګيانو حکومت سره داسي لاري ګودرې نه وې، چې د دوی د لمر ختيځو ژبو او علومو نيغ په نيغه معلومات لرلي وای، او چې ډېره موده پس دا خبره معلومه شوه، چې د ډاکټر صاحب شاعري عالمګير شهرت بيا موندی دی، نو د قدردانۍ په طور يې ورله د "سر" خطاب ورکړو، او اوس هغه د ډاکټر سر محمد اقبال په نامه مشهور دی، ولي د هغه نوم چې يو خدايي خوند لري، هم نوم دی او هم تخلص دی، او د ډاکټرۍ او سري نه زيات مشهور او مقبول دی.

سيالکوټ کښې يو کالج دی، چې دغلته د پخوا نه عالمانو يادګار او د هغوی په پل تلوني سپين ږيری مولوي سيد مير حسن صاحب د لمر ختيځو علومو درس لولوي. څو ورځې کيږي دوی له د حکومت له طرفه د "شمس العلماء" خطاب ورکړی شوی دی، د هغه د تعليم خصوصيت دا دی، چې څوك ترې نه فارسي يا عربي زده کوي، نو د هغه په طبعيت کښې د هغې ژبې سم ذوق پيدا کړي، اقبال هم د

خپل عمر په اولنو ورځو کښې د مولوي سيد مير حسن غوندي استاد بيا موند په طبع کښې يې د ادب د علم سره فطري سمون خو ؤ او فارسي او عربي يې د مولوي صاحب نه زده کړه، نو لاوځلېد. لاسکول کښې يې سبق وې، چي موزون کلام به يې د خولې نه وته، پنجاب کښې د اردو رواج دومره ؤ چي هر ښار کښې د ژبې او د شاعرۍ غوبل لړ ډېر موجود ؤ. سيالکوټ کښې به هم د شېخ محمد اقبال د طالب علمي په زمانه کښې يوه وړه غوندي مشاعره کېده. اقبال ورته کله کله غزل ليکل شروع کړل، په دغه ورځو کښې د اردو په شاعرانو کښې د ډيلي نواب مرزا خان صاحب داغ ډېر لوی شهرت لرلو، او د دکن د نظام په استاذۍ يې شهرت لازيات شوی ؤ. کوم خلګ چي ورله تلای نه شو. هغوی بۀ د ليك لوست په واسطه د لري نه نسبت پيدا کړو. په ډاك کښې به يې ورله غزلونه استول، او د اصلاح نه پس بۀ هغه بېرته ورته لېږل، پخوا چي د ډاك داسي نظام نه ؤ. دومره شاګردان به چا شاعر څنګه موندل، اوس د دې اسانۍ په وجه حال دا ؤ چي په سوونو شاګردانو به ترې نه غائبانه شاګردي کوله، او د دې کار دپاره به يې جدا يوه عمله او محکمه ساتله.

شېخ محمد اقبال هم ورته خط وليکه او څو غزلونه يې ورته د اصلاح دپاره ولېږل، په دا شان د اقبال د اردو ژبې د زده کړې دپاره هم د داسي استاذ سره تعلق پيدا شو. چي هغه په خپل وخت کښې د ژبې د خوبو په حقله د غزل په فن کښې يکي يو ګڼلی شو. بېشکه چي اول اول څو د ده په غزلونو کښې هغه خبري نه وې، په کومو چي اقبال بيا وروسته مشهور شو. ولي جناب داغ اوپېژنده چي د پنجاب د ضلعې دا

طالب علم څه دیخوا آ خوا غزل ګو نه دی، سمدستي یې اووې چي په کلام کښې د اصلاح ځای ډېر کم دی، او د استاذۍ او شاګردۍ سلسله یې تر ډېرې مودې قایمه پاته نه شوه، ولي یاد یې دواړو غاړو ته پاتې شو، د داغ نوم په اردو شاعرۍ کښې هغه نوم لري، چي د اقبال په زړه کښې یې د دې لنډ غوندي او غائبانه تعلق هم قدر شته، اقبال د داغ په ژوندانه کښې د مقبول عام درجه حاصله کړه، چي داغ مرحوم ورباندي فخر کوو، چي اقبال هم په هغو خلګو کښې دی، د چا د کلام اصلاح چي ده کړې وه، زما په خپله په دکن کښې له ده سره لیده کاته شوي وو، او د ده د خولې مي په فخر سره پخپله داسي خبري اورېدلې وې.

سیالکوټ کالج کښې تر ایف اې (یعني دولسم جماعت) پوري سبق و، د بي، اې، (څورلسم) د سند حاصلولو دپاره د شیخ محمد اقبال تګ لاهور ته لاژم شو، د فلسفې د علم لوستو یې شوق ؤ، او د لاهور په استاذانو کښې ده یو بې کچه مهربان استاذ بیا موند، چي هغه له فلسفې سره د ده خاص مناسبت ته وکتل، نو په ډېر فکر یې ورته سبق ښیل را واخستل.

پروفیسر آرنلډ صاحب چي اوس په سرټامس آرنډ بللی شي، او په انګلستان کښې استوګن دی، د غیر معمولي قابلیت خاوند دی، د لیك قوت یې ډېر ښه دی، او د علمي لټون او کنجکاوي د نوې لارو چارو سره ډېر ښه واقف دی، دا نیت یې وکړو چي خپل دې شاګرد له هم خپل علمي ذوق او عمل کښې برخه ورکړي، او هغه په دې اراده کښې تر ډېره حده کامیاب هم شو، د دې نه آګاهو هم دې (آرنلډ) د علي ګړه کالج د پروفیسرۍ په زمانه کښې د خپل دوست مولانا شبلي

مرحوم د علمي ذوق په پخولو کښې کامیاب شوی ؤ، اوس دلته ورته د ملغلرو یو بله دانه ښکاره شوه، او د ده په زړه کښې یې د ځلولو تلوسه پیدا شوه، او کومه دوستي او مینه چي د استاذ او شاګرد تر منځه د ړومبۍ ورځي نه پیدا شوې وه، هغې اخیر شاګرد په استاذ پسې انګلستان ته بوته، دغلته دا تعلق لا مضبوط شو، او تر ننه قایم دی. آرنلډ خوشحاله دی، چي زما خواري پر ځای شوه، او زما شاګرد په علمي دنیا کښې زما د شهرت د زیاتېدو باعث شو، او اقبال دا مني چي د کوم ذوق اره چي سید میر حسن ایښی وه، او په منځومیانه زمانه کښې د داغ سره نالیدلي پېژندګلو زیاته کړې وه، د هغې آخري پړاوونه د آرنلډ په مینه ناکه رهبرۍ سره ووهلې شول.

د علمي پړاوونو په وهلو کښې اقبال ښه ښه لارښودونکي بیا موندل او په لویو لویو عالمانو پېښن شو، په دوی کښې د کېمبرج یونیورستۍ ډاکټر میك ټګرټ، براؤن، نکلسن او سارلي دیاد لرلو قابل دی، پروفیسر نکلسن خو زموږ د منني خاص حق دار دی، ځکه چي ده د اقبال د فارسي نظم "اسرارِ خودي" ترجمه په انګریزي ژبه کښې وکړه، او دیباچه او حاشیې یې پرې ولیکلې، او د یورپ او امریکې یې د اقبال سره پېژندګلوي را وسته، او دغه رنګه د هندوستان د علمي دنیا ځومره یاد خلګ چي وو، لکه مولانا شبلي مرحوم، مولانا حالي مرحوم، اکبر موحوم، د ټولو اقبال سره لیده کاته هم وو او لیك لوست هم وو، او د هغوی اثرات د اقبال په کلام او د اقبال اثر به د هغوی په طبیعتونو باندي یو تر بله پرېوتو، مولانا شبلي خو په ګڼو خطونو کښې او ښاغلي اکبر نه یوازي په خطونو کښې ولي په بیتونو کښې هم د

اقبال د کمال مننه کړې ده او اقبال په خپل نظم کښې د دې باکمالو ځای په ځای صفت کړی دی.

د ړومبي مشق ورځي چي ترې نه وباسې، نو د اقبال اردو کلام د شلمې صدۍ د اولنو ورځو نه لږ کوټي وړاندي شروع کيږي، داسي مي ياديږي چي غالباً د ۱۹۰۱ء نه دوه درې کاله آګاهو ما په اول ځل دی د لاهور په يوه مشاعره کښې ليدلی وو، خپلو يو څو سبقيانو دی دغې غونډې ته راکښلی ؤ، او يو غزل يې هم ورباندي په ډېر منت سنت اورولی ؤ، تر دغه وخته د لاهور خلګ د اقبال د نوم نه خبر نه وو، وړوکی غوندي غزل ؤ،ساده غوندي ټکي وو، ميدان يې هم ګران نه ؤ، ولي په کلام کښې يې شوخي په تيزي موجوده وه، د خلګو ډېر خوښ شو، له دغي نه پس يې بيا په دغه مشاعره کښې دوه درې ځله غزلې وويلې او خلګ خبر شو، چي يو هوښيار زلمی شاعر ميدان ته را وتی دی، ولي دا نوم ړومبو ورځو کښې د لاهور د کالجونو تر هلکانو او تر ځنې نورو داسي کسانو پوري رسېدلی ؤ چا چي د تعليمي کاروبار سره تعلق لرلو، په دې کښې يو ادبي مجلس قائم شو، چي په هغې کښې به بيا خلګ شامليدل، او د نظم او د نثر د مضمونونو طلب ورکښې وشو، شيخ محمد اقبال يې په يوه جلسه کښې خپل هغه نظم واورولو په کوم کښې چي ده د همالې غر ته خطاب کړی دی، په دې کښې خيالات انګريزي وو او بندشونه فارسي وو، او ښايسته والی پکښې دا ؤ چي د وطن پرستۍ خوند رنګ پکښې هم موجود ؤ، د زمانې د مذاق او د وخت د ضرورت سره د سمون لرلو له کبله ډېر خوښ کړای شو، او د ګڼو اړخونو له خوا دا فرمائش وشو چي دا دي خور کړای شي، ولي

شېخ صاحب دا نظم په دې بهانه ځان سره یوړو چې په دې لاد دویم نظر تېرولو حاجت شته، او دغه وخت چاپ نه کړای شو، په دې خبره لږه موده تېره شوې وه، چې ما د اردو ادب د ترقۍ دپاره "مخزن" رسالې ایستو اراده وکړه، په دې موده کښې زما د شېخ محمد اقبال سره لیدل کتل شوي وو، او ما د ده نه لوظ اخستی ؤ، چې د دې رسالې د نظم حصې دپاره به دی ما له د نوي رنګ نظمونه راکوي، ړومبۍ رساله شایعه کېدونکې وه، چې زه ده له لاړم او یو نظم مې تر اوغوښتو، ده اووې: "لا خو تیار نظم نشته، ما ورته اووې: چې د همالې هغه نظم راکړه او بلې میاشتې له بیا چرته بل څه ولیکه، دې د دغې نظم په راکولو کښې لکوټې ټکنې شان شو، ځکه چې د ده هم دغه خیال ؤ چې ګنې په دې کښې څه خامي ده، ولې ما لیدلی ؤ چې هغه نظم د خلګو ډېر خوښ شوی ؤ، نو ځکه مې ترې نه په زور واخستو، او د مخزن د ړومبۍ شمېرې په ړومبۍ ګڼه کښې کومه چې اپرېل ۱۹۰۱ء کښې وتې وه، شائع کړو، داسې به ووایو چې اقبال د اردو شاعرې میدان ته د دغه ځای نه اووتو، او تر ۱۹۰۵ء پورې د ده د انګلستان تر تلو دا سلسله جاري وه، په دې موده کښې به ده عموماً د مخزن د هرې ګڼې دپاره یو نیم نظم لیکه، او چې څومره خلګو ته د ده د شاعرۍ حال معلومېدو ځای په ځای د مختلفو رسالو او اخبارونو نه فرمائشونه راتلل، او انجمنونو او غونډو خواستونه شروع کړل، چې د هغوی په کلیزو جلسو کښې اورېدونکي په خپل کلام اونمانځي.

شېخ صاحب دا وخت د طالب علمي نه اوزګار شوی ؤ، او په ګورنمېټ کالج کښې پروفیسر شوی ؤ او شپه او ورځ به یې علمي

صحبتونو او مشغولاګانو کښې تېروله، طبعيت يې په زور کښې ؤ، شعر ويلو ته به يې چي کله زړه وشو نو زبردست "آمد" به يې ؤ، په يوه يوه ناسته کښې به بې شماره شعرونه جوړ شول، څوك دوست، اشنا يا د سبق ملګرى چي بۀ ورڅخه نژدې ؤ كاغذ ، پنسل به يې را واخستو او ورسره ورسره به يې ليکل، او دى به په خپل چرت کښې لګيا ؤ، ما په دغه زمانه کښې دى چري په دې نه ؤ ليدلى چي كاغذ قلم يې اخستى وي، او شعرونه جوړوي، د موزونو الفاظو بۀ يو سيند ؤ چي بهېدو به، يا يوه چينه وه، چي را خوټکېده به، د رقت يو خاص حال به ؤ، چي په ده به راغى، خپل بيتونه به يې په وزن سره په خوندناك آواز لوستل، پخپله به يې هم ورسره ټالى وهلې او نور به يې هم د ځان سره زنګول، يو عجبه خصوصيت يې دا دى، چي حافظه يې داسي وه، چي هر څومره شعرونه به يې دغسي له خولې نه ووتل، كه هغه يو مسلسل نظم واى نو هم ټول به يې بل وخت په بله ورځ په هغې ترتيب په ذهن کښې محفوظ وو، په كوم ترتيب چي به يې اول ځل ويلي وو، او په دا مينځومانه کښې به ده پخپله ليكل هم نه، د ډېرو شاعرانو سره ما د ناستې موقع بيا موندې ده، او ډېر مي ليدلي هم دي، او اورېدلي مي هم دي، چي څه وخت به يې شعرونه ويل ولې دا رنګ مي بل په هيچا کښې نه دى ليدلى، د اقبال يو بل خصوصيت دا دى چي طبعې د دې موزونيت سره سره د چا په وينا شعرونه نشي ويلى، ان چي په خپله يې زړه نظم اوغواړي نو چي څومره شعروه يې خوښه وي نو اووائي، دا چي په هره موقعه او هر وخت د چا په وينا څه اوليکي، دا ناممکنه غوندي ده، او ځکه نو چي د هغه نوم لاړ او د فرمائشونو پرې ناتار شو، نو د

اکثرو فرمائشونو د پوره کولو به یې مجبوراً انکار اوکړو، او دغسې به غونډو او ټولنو ته هم جوابي کېدهٔ. فقط د لاهور انجمن حمایت اسلام ته په ځینو وجوهاتو دا موقع حاصله وه، چې د دې په کلیزو جلسو کښې څو کاله پرله پسې اقبال خپل هغه نظم واوروو چې کوم به یې خاص دغې جلسې له لیکلی ؤ، او د دې فکر به یې د وړاندي نه کاوه.

اول اول چې بهٔ کوم نظمونه په عامو جلسو کښې لوستلی شول، تحت اللفظي به لوستلی کېدل، او په دې انداز کښې یې هم یو خاص خوند ؤ، ولې ځنې دوستانو یو ځل په یو عامه جلسه کښې شیخ محمد اقبال ته په بیا بیا اووې چې خپل نظم په خوش آوازۍ اولولي، آواز یې قدرتاً اوچت دی، او ښکلی دی، د وزن یا خوش آوازۍ انداز نه هم ښه واقف دی، داسې حال جوړ شو، چې چپه چپیا شوه، او خلګ ورسره په زنګېدو شول د دې دوه نتیجې را اوختې، یوه خو دا چې اوس د هغه دپاره تحت اللفظي لوستل ګران شول، چرې چې لولي نو خلګ به په بیا بیا وایي چې په وزن دې اولولې او دویمه دا چې اول خو صرف خاص خاص کسان د هغه د کلام قدردان وو او پوهېدای شو پرې، ولې د دې کشش په وجه عوام هم ورته راکښې شو، د لاهور د حمایتِ اسلام په جلسه کښې چې د اقبال نظم لوستی شي، نو لس لس زره خلګ ورته په یو وخت جمع وي، او تر څو چې نظم لوستی شي ټول دم په خود ناست وي، چې څوك پرې پوهیږي هغه هم ډوب او چې څوك نه پوهیږي هغه هم ډوب وي.

د ۱۹۰۵ء نه تر ۱۹۰۸ء پورې د اقبال د شاعرۍ یو بل دور شروع شو، دا هغه زمانه ده، چې هغه په یورپ کښې تېره کړه، ښېشکه چې

دغلته د شاعرۍ دپاره ده وخت کم بیا موندو او کوم نظمونه یې چې د هغه ځای د قیام په ورځو کښې لیکلي دي، د هغې شمېره ډېره کمه ده، ولي په هغو کښې د هغې ځای د مشاهدو یو خاص رنګ ښکاري، په دغه زمانه کښې د هغه په خیالاتو کښې دوې لویې تبدیلي راغلې، په دې دریو کالو کښې دوه کاله داسي وو، چې زه هم دغلته استوګن وم، او اکثر به مو د لیدو کتو موقعې بیا موندلې، یوه ورځ راته شېخ محمد اقبال اووې چې ما کلك نیت کړی دی، چې شاعري پرېږدم، قسم خورم چې شعر به نه وایم، او کوم وخت چې مي په شاعرۍ کښې لګي، هغه به څه بل څه فایده من کار کښې لګوم. ما ورته اووې چې ستا شاعري څه داسي د پرېښېدو قابله شاعري نه ده، ستا په کلام کښې هغه تاثیر دی، چې د هغې په برکت ممکنه ده، چې زموږ د دې پرېوتي قوم او د دې کم نصیبه ملك د رنځونو علاج وشي، ځکه نو د داسي فایده مند او خدا داد طاقت ضائع کول به ښه نه وي، شېخ صاحب څه لږ لږ ومنله او کله به یې نه منل، فیصله دا وشوه، چې آخري فیصله به د آرنلډ صاحب په خوښه پرېږدو، که چرې هغه زما په صلاح شو، نو شېخ صاحب به د شعر پرېږدو اراده بدلوي او که هغه د شېخ صاحب سره مل شو نو بیا به پرېږدي شاعري. زما خیال دی، چې دا د علمي دنیا خوش قسمتي وه چې آرنلډ صاحب رای زما سره شوه او فیصله دا وشوه، چې د اقبال دپاره شاعري پرېښودل جائز نه دي، او چې کوم وخت دی اوس په دې شغل قربانوي، دا د ده دپاره هم فائده منده خبره ده، او د ده د ملك او قوم دپاره هم، کوم تغیر چې زموږ د دې شاعر په طبعیت کښې راغلی ؤ، هغه خو په دې طریقه ختم کړی شو، ولي بل

تغیر د یو وړوکي آغاز نه تر لویه انجامه پوري اورسېد ، یعني د اقبال شاعرۍ د اردو ژبي په ځای فارسي ژبه د خپل خیال د ښرګندولو ذریعه اوګرزوله.

په فارسي کښې د شعر ویلو رغبت به د اقبال په طبعیت کښې په څو وجهو پیدا شوی وي، او زما خیال دی چي د تصوف د حالاتو په حقله چي هغه کوم کتاب لیکلی دی، د هغې دپاره د نورو کتابونو د مطالعې به هم ضرور په دې تغیر کښې لاس وي، علاوه د دغې نه د هغه مطالعه چي د علم فلسفې په حقله څومره ژوره کېده او د دقیق خیالاتو اظهار به یې زړه غوښتو نو هغه بهٔ دا لیدل چي د فارسي په مقابله کښې د اردو سرمایه ډېره کمه ده، او په فارسي کښې ډېر فقرې او جملې داسي په قالب کښې جوړي شوې وې، چي د هغې په مطابق اردو کښې فقرې جوړول آسانه خبره نه ده، ځکه نو د هغه طبع فارسي ته را واوړېده، ولې په ظاهره چي د کومي وړې غوندي واقعې نه د هغه د فارسي وینا شروع شوه، هغه دا ده چي یو ځل هغه یو دوست کره مېلمه ؤ دغلته د هغه نه د فارسي شعرونو اورېدو فرمائش اوشو، او پوښتنه ترې اوشوه چي ته هم فارسي کښې شعر وایې که نه؟ هغه اووې: "چي بغیر د یو نیم شعر نه ما چري فارسي کښې د لیکلو کوشش نه دی کړی، ولې څه داسي ساعت ؤ او هغې فرمائش داسي تحریك د هغه په زړه کښې پیدا کړو، چي د مېلمستیا نه بېرته راغی او په کټ کښې پرېوت نو باقي وخت یې شاید هڅو فارسۍ شعر اوویلو سحر د پاسېدو سره چي ما سره یو ځای شو، نو په فارسي کښې دوه تاره غزلونه تیار وو او په یاد یې ما ته واورول، په دې غزلو ویلو ورته د خپلي فارسي و

یاد قوت هغه حال معلوم شو، د کوم ازمېښت چي یې اول نه ؤ کړی، بیا چي د ولایت نه بېرته راغی، نو کله کله به یې اردو نظمونه هم ویل، مګر د طبعیت رخ یې فارسي اړخ ته اوګرزېدو، دا د هغه د شاعرۍ درېیم دور دی، چي د ۱۹۰۸ء نه پس شروع شو، او تر اوسه روان دی، په دې مودو کښې اردو نظمونه هم ډېر شول او ښه ښه وو، او غرب یې خور شو، ولي اصل کار چي کوم طرف ته هغه مخه کړه، هغه د هغه فارسي مثنوي "اسرارِ خودي" ؤ، دا خیال تر ډېرې مودې د هغه په مازغو کښې ؤ او ورو ورور یې د مازغو نه کاغذ ته را کوزېدل شروع شو، او آخر د یو مستقل کتاب په شکل کښې ښکاره شو، چي د اقبال نوم پرې د هندوستان نه بهر هم مشهور شو.

په فارسي کښې د اقبال د قلمه تر دا وخت درې کتابونه راوتي دي، "اسرارِ خودي" "رموزِ بېخودي" او "پیامِ مشرق" یو د بل دپاسه دي، د اولني کتاب نه د دویم کتاب ژبه زیاته ساده ده او هر څوك پرې پوهیږي، او دریم د دویم نه زیات آسان دی، چي د چا د اقبال اردو کلام زړه ته نزدې دی، د فارسي نظمونو په لیدو به هغوی مایوسه شوي وي، ولي هغوی دي یاد لري چي فارسي هغه کار اوکړو کوم چي د اردو نه نه شو کېدای، په ټولو اسلامي ملکونو کښې چي قریب قریب د فارسۍ رواج دی د اقبال کلام په دې واسطه ور اورسېد او په دې کښې داسي خیالات وو چي هم داسي وسیعه خورونه یې ضروري وه او هم په دې وسیله د یورپ او امریکې خلګو ته زموږ د داسي قلندر مصنف حال ور معلوم شو، "پیامِ مشرق" کښې زموږ مصنف د یورپ د یو ډېر لوی شاعر ګوئټې د "سلامِ مغرب" ځواب لیکلی دی، او ډېر حکیمانه خیالات یې

پکښې په ډېر ښایسته او ښهٔ طریقه بیان کړي دي، د ده په اشعارو کښې ځنې کشنې غتې غوټې پرانستې شوي دي، چې هغه پخوا په داسې آسانه طریقه نه وې بیان شوې، تر ډېرې مودې بعضو رسالو او اخبارونو کښې د ډاکټر محمد اقبال د "ترجمانِ حقیقت" په نوم یاد شوی دی، او د دې کتابونو د خاص شعرونو نه دا ثابته ده چې هغه په دې نوم (لقب) د یادیدو مستحق دی، او هر هغه چا چې دا نوم اول اول په ده ایښی دی، څه زیاتې یې نه دی کړی.

د فارسي وینا یو اثر د اقبال په اردو کلام دا شوی دی، چې په دریم دور کښې کوم شعرونه ده په اردو کښې لیکلي دي، په هغو اکثرو کښې د فارسي ترکیبونه او بندشونه د پخوا نه هم زیات دی او بعضې ځایونو کښې یې د فارسۍ شعرونه خپل کړي هم دي (تضمین یې پرې کړی دی) ګویا دا معلومیږي چې د قلم نیلی چې د فارسي په میدان کښې کوم تراټ (یون) کړی دی، د هغې واګې څه قدرې په ګرانه سره د اردو اړخ ته را تاویږي. د اقبال کوم اردو کلام چې د ۱۹۰۱ء نه تر ننه راسې په رسالو او اخبارونو کښې شائع کېدو او په غونډو کښې لوستی کېدو د هغې د مجموعې اشاعت د ډېرو خلګو زړونو غوښتو.

د ډاکټر صاحب دوستانو به په کرنونو تقاضا کوله چې د اردو کلام مجموعه دې شائع شي، ولي په ځینې ګڼو وجوهاتو د اردو دا مجموعه تر ننه شائع نه کړای شوه، او د خدای پاك شکر دی، چې د اردو کلام سره د مینه لرونکو دا زوړ ارمان نن اورژېد، او د اقبال د اردو نظمونو دا مجموعه شائع کیږي، دا درې سوه شپږ دېرش (**۳۳۶**) مخونه لري،

او په دریو برخو کښې وېشلی شوی دی، په اوله حصه کښې د ۱۹۰۵ء پوري نظمونه دي، دویمه حصه کښې د ۱۹۰۵ء نه تر ۱۹۰۸ء پوري دي او دریمه حصه کښې د ۱۹۰۸ء نه تر ننه پوري دي، دا په دعوې سره ویلای شو، چي تر ننه په اردو ژبه کښې داسي کتاب نشته چي په هغه کښې داسي پرېمانه خیالات وي او داسي مطلب او معنٰی ورکښې یو ځای وي، او داسي به ولي نه وي چي د یوې صدۍ د ځلورمي برخې د مطالعې او تجربې او مشاهدې حس دی او د سیل او سیاحت نتیجه ده، په بعضې نظمونو کښې یو یو شعر او یوه یوه مصرعه داسي ده چي سړی پرې یو مستقل مضمون لیکلی شي، دا وړوکی شان مضمون چي د دیباچې په طور اولیکلی شو په دې کښې د مختلف نظمونو تنقید یا د مختلفو وختونو د نظمونو د باهمي مقابلې ځای نشته، ځکه نو که خدای وکړي، نو دغې له به زه څه بله موقع لتهوم سردست زه اهلِ ذوقو ته اومبارکي ورکوم، چي د اقبال اردو کلیات د هغوی په وړاندي د رسالو، ګلدستو او خورو ورو مخونو نه را ووتل او د یوې زړه خوښې مجموعې په شکل کښې ښکاره شول، او امید دی چي کوم خلګ تر مودو راسي د دې کلام د یو ځای کولو لېواله ؤ هغوی به دې مجموعې ته د میني په نظر اوګوري او د زړه نه به د دې قدر کوي.

په آخر کښې د فاضل مصنف په خدمت کښې د اردو شاعرۍ له اړخه دا خواست کوم چي هغه دي د خپل زړه او مازغو نه اردو له هغه برخه ورکړي د کومي چي حقداره ده او متازه یې ده، هغه پخپله د غالب په ستاینې کښې چي یو څو بنده لیکلي دي هغې کښې یې د اردو د حالت سمه نقشه را کښلې ده:

گیسوئے اردو ابھی منت پذیر شانه هے
شمع یه سودائی دل سوزی پروانه هے

موږ د هغه دا شعر لولو او ورته وایو چي کوم احساس د هغه نه دا شعر راویستی دی، د هغې نه دي کار واخلي، او تر څه موده دي اوس د اردو سر سنړه سمولو ته مخه کړي او موږ له دي دا موقع راکړي، چي موږ د اردو دا مجموعه، چي د مودو پس چاپ شوې ده، د یو بل کلیات پېش خېمه وګڼو.

ژباړه: مشتاق احمد مشتاق

# لومړۍ برخه

**(.......تر ۱۹۰۵م پوري)**

# هماله

اې همالې! چې یې کلا د هندوستان
ستا تندی ښکلیی؟ راټیټ شي دا اوچت اسمان
نشته د زوړوالي، در کښې هیڅ نښه نښان
ګرځي اسمانونه، ستا ځوانۍ ته دي حیران
یو جلوه په طور، ښکاره شوې و موسیٰ ته
ته یې سر تر نوکه، تجلي سترګي بینا ته
ښکارې په ظاهر نظر کي، ته یو کوهستان
ته مو څوکیدار، ته یې دېوال د هندوستان
ته لکه دېوان یې، ړومبی بیت د دې اسمان
را کاږې وخلوت ته، د انسان د زړه ارمان
واورو چي پګړۍ د مشرۍ کړه در پر سر
ځکه ته خندا کړې، په ټوپۍ پوري د لمر
تیرې زمانې خو ستا، د عمر دي یو آن
کندو کښې مېشته دي، د وریځو تور تمبوان
ښکاري دي سرونه، ثریا سره ګویان
ته خو یې پر مځکه، ولي خور یې پر اسمان
بېخ کښې دي چینې جوړ، آیینې دي چي بهیږي
باد درته رومال دی، چي دي مخ پرې صفا کیږي
ګوري دي وریځي، د باد اس باندي سورې دی
لاس کښې یې اخستی، کروړې د تندر سرې دی

يې ميدان د لوبو، همالې درکښې درې دي
دا د قدرت جوړي، عناصرو ته پرې دي
ځومره خوشحالي کښې، ځنګ پر ځنګ وريځې زغلي
پرځي بې ځنځيره، دا هاتيان دي هسي زغلي
راغلي د صبا وږمه، زانګو ترې نه جوړيږي
هره غوټۍ مسته، د هستۍ په ټال زنګيږي
چوپه خوله د هرې پاڼې، ژبه دا وييږي
لاس د ګلچين کله، زما مخ ته را رسيږي
وايي چوپه ورځه، دغه ټوله افسانه مي
ده لکه جونګړه، د قدرت خلوت خانه مي
واله د غر د سر نه، په سندرو چي راځي
موجونه د کوثر او، د تسنيم دا شرموي
صافه آئينه، د قدرت ناوې ته ښايي
لاره کښې د ګټ نه، کله بچ کله يې وهي
چېړه چېړه دغه، د زړه خوښ عراقي ساز
پېژني زما زړه مسافره! ستا آواز
څېرې اوږدې زلفي، چي د شپې چيري ليلٰی
زړه را کاږي ځان ته، آبشارونه په خندا
هغه چوپ ماښام، چي ګويايي پرې ده فدا
هغه ونې ډوبې، په فکرونو سر تا پا
رنګ چي د شفق لا رپي رپي په کوهسار
ډېره ښه ښکاريږي، دا غازه ستا په رخسار

وایه همالې! څه خو، د هغه وخت داستان
مېشت چې ستا لمن کښې شو، زموږه بابا ګان
وکړه څه د هغه ساده ژوند ساده بیان
نه وو د ښیوې چې، پرې څه خاپ خال او نښان
ښیه تصوره! بیا هغه صبا ماښام
وزغله په ستورو، اې ګردشه د ایام

# رنگینه گل

تا ته جوړ پېښ شوی، چیرې نه دی څه مشکل
اې رنګینه ګله! جوړ ټېر لرې بېدل
ګډ په محفل نه یې، او رونق یې د محفل
دا فراغت ما ته، په دنیا نه دی حاصل

زه په دې چمن کښې، سوز وساز یم د آرزو
نه لرې په ژوند کښې، ته احساس هم د آرزو

ستا شو کول ښاخ نه، خو زما نه دی عادت
نه دی دغه کار، بې ظاهر بینو د صورت

آه- چي دغه لاس نه دی ظالم په هيڅ حالت
څنګه دي کړم پوه، چي ګلچين نه لرم خصلت

څه می کار روزګار دی، د حکمت د ماشوړو سره
کار مي د بلبل په، سترګو دی له نندارو سره

سره د سلو ژبو چوپ يې، دا درته منظور؟
راز دی هغه څه؟ چي دي سينه کښې دی مستور
ته خو هم زما غوندي، يې ګل د باغ د طور
زه هم يم چمن نه، لرې ته هم ترې مهجور

ته يې خاطرجمع، زه د بوی غوندي پرېشان يم
ژوبل د لټون په توره، هر خوا ته روان يم

دغه پرېشاني، زما سامان د جمعيت نه وي
دا سوی ځيګر، ډيوه کوټه کښې د حکمت نه وي
دغه ناتواني، پنګه زما د دې قوت نه وي
رشک د جامِ جم، دغه آيين مي د حيرت نه وي

دا لټون د شمعي، دی جهان ته چي رڼا بښيي
دا د علم اس ته، په قدم قدم ادا بښيي

# د ماشوم والي زمانه

نوی یو وطن وو، دغه مځکه اسمان ما ته
بس د خپلې مور وه، ارته غېږه جهان ما ته
هر یو حرکت یوه مزه وه په ځان ما ته
حرف وو بې مطلبه غوندي، دا خپل زبان ما ته
آه هغه ژړا، په څه خبره ماشومتیا کښې
آه هغه مزه، د ځنځیرونو په شرنګا کښې
های! هغه کتل، زما سپوږمۍ ته په پارونو
هغه د وریځو، په مینځ تګ یې په ګامونو
د دې د غر او سمې، د سفر په تپوسونو
هغه حیرانتیا مي، په دروغو جوابونو
سترګي په دیدن بښخې، او خولې وینا غوښتله
زړه د تپوسونو، راته بس لمسه کول

# مرزا غالب

معلومه کړله ستا له برکته دا انسان
مارغه د تخیل شي، الوتی تر کوم مکان
محفل د شاعرۍ وو، تن او ته یې روح روان
ښایست وې د محفل، او هم محفل نه وې پنهان
ستا سترګې هم د هغه، ښایست غواړي دیدنونه
چې سوز د زندګۍ دي، هرڅه شی کښې پټ دننه
مجلس دی د هستۍ، ستا په رباب سرمایه دار
چې ښنګه په نغمو، د توی سکوت دی د کوهسار
ستا د تخیل نه، د قدرت هم دی بهار
ستا د فکر کر نه، راځومبیږي عالم زار

ژوند دي پوشیده دی، په شوخۍ کښې د تحریر
ګواښ د ګویایي کښې یې، دي شونډې د تصویر
خبرې کړي فخرونه، ستا د شونډو په اعجاز
حیرانه ثریا ده، ستا په دې اوچت پرواز
د خوږ نه خوږ مضمون شه، صدقه ستا په انداز
خاندي د ډیلي غوټۍ په ګلو د شیراز
آه ویجاړ ډیلي کښې، تا جوړ کړی خپل مقام دی
باغ کښې د "ویمر" ستا، همنوا ناست په آرام دی

ستا د شاعرۍ سره، سيالي نه شي کېدې
کامل فکر چي څو، د تخيل نه شي ملګرې
آه په هغه هند، چي چيري وو يو وطن ښکلې
آه چي نندارې دي، نکته بينو ته ښودلې
زلفې د اُردو لا، منت باري دي شانې ته
شمع سودايي ده، دلسوزۍ د پروانې ته
اې ډيلي! زانګو وې، ته د علم او هنر
سر تر نوکه ژاړې، پټ پټ ستا دا بام و در
ستا ذره ذره کښې، دی اوده سپوږمۍ او لمر
هسي په دې خاورو کښې، لکهونه دي ګوهر
داسي در کښې هم چرته، هستي شته دې نامداره!
ښخه چرته پټه، ملغلره شته آبداره

# د غره وريځ

زه يمه اوچته، اسمانونه ښکلوم
زه د غره وريځ، يمه ګلونه وروم
کله په صحرا، کله باغونه خوښوم
ګرځمه هر خوا ته، بحر وبر آبادوم

زړه هم سخوبي کښې، چي مي غواړي چي اوده شم
شي د غرشينکې مي، بچونه په کښې خوره شم

قدرت را ته ښيلي، ملغلري دوړول دي
اوښی ته د ناوې، د رحمت حدي ويل دي
زړه نه د دهقان مي، د خفګان لري کول دي
مجلس کښې د ځوانانو، د باغچو رونق کول دي

زلفي شمه ګورې، د هستي په مخ خورېږم
ږمنځي د تيز باد باندي، سمبړم هوارېږم

چرته چي باندې نه، مي غړوسکي چپ تيريږي
سترګي د اميد راته، له ورايه نه زاريږي
سېل په سېل چي غاړي، د ولې ته ور رسېږي
اوبو ته مي له ځاځکو نه، والی دي په غوږ کيږي

ځای د اميدونو يم، د ښنو کچه فصلونو
يم پيدا له بحره، لويه کړې يم لمرونو

د غرونو په چپو کښې، کيښه شور مي قلزم
مارغان مي واړه مست کړل، د مستۍ په ترنم
په سر د شينکو ودرېدم، او ومي وېل چي قُم
غنچې د ګل ته ورکړه، ما مذاق د تبسم

دا د غره لمن كښې، چې جونګړه د دهقان ده
ګوره زما فيض ته، نمونه د شبستان ده

# يو مچ او جولاګی

## ماخوذ

### (د ماشومانو دپاره)

يو مچ ته يوه ورځې، جولاګې اوويل دا
چې ټګ راتګ دې تل وي، په دې لاره باندې ستا
لېکن چيرې وينې نه شو، د جونګړې مې قسمت
په هېره چيرې هم دلته، كښې نه ښود قدم تا
پردو سره كه پرېږدې، نو خبره دا څه نه ده
خو خپلو نه، په ډډه ډډه تلل دې ناروا
كه كور ته زما راشې، نو عزت به زما وشي
او دغه مخامخ پوړی، راتلو لره دی ستا
خبره چې مچ واورېده، ويل يې جولاګې ته
چې ګوره څوک كم عقل، وركوه ورته دوكا
زه مچ يم ستا په دغه، جال كښې چيرې نه ګېرېږم

ختلي په پوړو چي دي، کوز شوي نه دي بيا
ويل يې جولاګي چي، واه د ټګ ګومان دي وشه
ناپوهه به بل نه وي، په دنيا کښې لکه ستا
زړګي مي دغه غوښتو، چي خاطر وکړم خو ستا
خبره د فايدې خو، په کښې هيڅ نه وه زما
راغلی يې له کومه، خدای خبر ته به يې سترې
دمه که ما کره وکړې، نو څه ده بده دا
دې کور کي ډېر څيزونه دي، و تا ته د ښوولو
باهر نه هسي ښکاري، کوټګۍ غوندي زما
نرۍ نرۍ پردې، په دروازو دي غوړېدلې
ښايسته دي دېوالونه، په سرو شنو آئينو صفا

آرام د مېلمنو ته، دی حاضر بچونی زما
دا داسي سامانونه، نصيب نه دي د هرچا
مچي وويل: "چي ښه ده، خو ستا کور ته مي راتلل
هيچري به ونه شي، طمع قطع کړه له ما
له دې نرمو بچونو، مي دي خپل خدای وساتي
چي څوک پرې اوده شوی دی، ويښ شوی نه دی بيا
خبره چي دا واورېده، جولا ويل يې زړه کښې
چي اوس به رانيسمه، په څه مچ دی دانا
خو راشه خوش آمدو، باندي سل کارونه کيږي
هرڅوک د خوشامدو، دی بنده په دې دنيا
ډېر فکر نه پس، ووېل جولاګي په پسته ژبه

درکړې درته لويه، مرتبه ده زما الله
چي يو ځل دي ځوک ويني، درباندي فريفته شي
حيران يم څه پې مخې، دى دا ښکلى صورت ستا
پر سر باندي خداى ايښى، درته تاج دى د مزې
او سترګي دي پرقيږي، لکه پړق وهي هيرا
دا حسن، دا جامه، دغه خوبي، دا صفايي
سندرې الوتو کښې، دي قيامت راولي لا
چي واورېدله مچ، دا خوش آمده نو شو نرم
وېل اوس مي په تا باندي، يقين راغى د اشنا
انکار کول بلنې نه، خبره ده ناکاره
هم زړه خفه کول، مناسب نه دي د هيچا
دى سم له دې خبري، سره والوت جولاګي ته
هغه پر کړه ورټوپ، او وې نيولو په هوا
څو ورځي راسي وږى وو، چي مچ يې په لاس راغى
نو وې خوړلى داسي چي سره يې کړه پرې خوا

# غر او بلونګړی

## ( د ایمرسن نه ماخوذ، د ماشومانو دپاره)

بلونګړي ته يو ځل ګويا شولو غر
حيا که لري کړه ورک دي بشر
پوټسکی شی يې او دومره غرور
عقل دي دغه، دا پوهه شعور
قدرت د رب دی نه څه هم څيز شو
نن بې شعوره هم باتميز شو
زما په مخکښې ستا څه قدرت دی
مځکه جهان ټول و ماته پست دی
زه چي لرم څه، ته لرې چرته؟
غر اوچت چرته، ته چينجی چرته،
بلونګړي ووېل خوله دي سنبال کړه
کچه ګفتار کړې لږ کوټې خيال کړه
هيڅ فکر نشته که نه يم ستا شان
ته خو هم نه يې کوچنی زما شان
هر پيدايښت کښې د خدای قدرت دی
وړوکی لوی څوک، دا يې حکمت دی
ته که پيدا يې په دنيا لوی کړې
زما ختوته يې اونی وړی کړی

پل اخستل دي په وس کي نه دي
تشه لوي يې نور در کي څه دي؟
هنر ښکاره کړه، چې لوی يې ما ته
دا سپاري ده، کړه يې را ماته
نشته بې کاره څه زمانه کښې
څه شی نه بددی دې کارخانه کښې

# غوا او چیلۍ

## (ماخوذ، د ماشومانو دپاره)

د څاروو د څړېدو يو لوی ځنګل ؤو
چې په کښې يو لوی بهار د شين کبل ؤو
څه صفت د شېرازۍ يې کړم بيان
سپين، صفا، رانه، تويونه وو روان
او پيپل په کښې ولاړ ؤ سايه دار
د انارو په کښې وو، بوټی بې شمار
الوتل په کښې هر خواته يخ بادونه
د مارغانو په کښې ښه، ښه سرودونه
يو چيلۍ په دغه رک کښې څرېدله
د خوړ غاړې ته په سر اوسېدله

یو خوا بل خوایې کتل چي اودرېدله
یوه غوا یې په خپل خوا کښې اولیدله
تیټ اول یې ورته سر خپل په سلام کړ
بیا یې ډېر په درناوي ورته کلام کړ
بي بي وایه د مزاج دي څنګه حال دی؟
بي بي وویل خیریت دی نور څه حال دی؟
ښه یا بد دي خو تیرېږي دا ساعت
زما ژوند دی ما دپاره مصیبت
دا زړګی کباب، کباب دی څه اووایم
زما خپل قسمت خراب دی څه اووایم
وینم ګورمه چي څه دی د خدای شان
دغه شان دی چي زه ژاړمه بدان
نه چلېږي زور هیچرته د غریب
را پیښ شوي دي لیکلي د نصیب
بنیادم سره دي څوک ښېګړه نه کړي
ګوزاره دي خدای د چا ده سره نه کړي

که پې لږ وکړم غرېږي تنګوي مي
که مانده شم ورکوي مي خرڅوي مي
څه ووایم په څه چل مي کړې راګېره
کړي دامونه د فریب له ما چاپېره
هم د ده بچي زما په سر لويېږي
هم زما په شودو پیو دوی غټېږي

د نېکيو دي زما دا بدلونه
اې الله زما دي تاته فريادونه
چي چيلۍ واورېده دغه ماجرا
نوې ووېل چي بي بي ښه نه ده ګيلا
ښه خو چرې لګي نه رښتيا خبره
ولې کړم زه خدای د پاره دا خبره
دغه ځای د ځر او دا يخه هوا
دغه شنه واښه او دا يخه سايا
خوشحالۍ داسي زموږ په نصيب چرته
چرته دا او يو بې زبانه غريب چرته
دا مزې د بنيآدم تر سره دي
ټول خوندونه د آدم تر سره دي
هم د ده په دم زموږ ده آبادي؟
نو بيا قيد دی موږ ته ښه که آزادي؟
سل خطرې دي له ځنګل او بيابان نه
خدای دي وساتي هر ځوک هغې ګزران نه
په موږ باندي دی انبار د ده احسان
نه ښاييږي ګيله موږ ته په هيڅ شان
که ته پوه شې د آرام په قدر چرې
بنيآدم نه به ګِيله ونه کړې چرې
دې خبره باندي غوا وشرمېدله
بنيآدم نه په ګيلو پښېمانه شوله

نېک او بد يې ښه په زړه کښې وتلل
پس له فکره يې بيا داسي وويل

يو وړوکی غوندي شی چيلیٔ ښکاريږي
خو خبره دي په زړه کښې ورښخيږي

## د ماشوم دعا

### (ماخوذ: دماشومانو دپاره)

تمنا مي په خوله راغله شوه دعا
کړې د شمعې په شان خدايه ژوند زما
په هستیٔ مي دا تياره دنيا رڼا کړې
په ولقو مي خوره هر لور ته برېښنا کړې
او زما په برکت ښايسته وطن کړې
لکه څنګه چي په ګلو جوړ چمن کړې
د پتنګ په شان ژوندون راکړې ته ربه!
شم د علم په مشال مين زه ربه!
کار زما د غريبانو حمايت وي
د دړدمنو او کمزورو محبت وي

زما خدایه له بدۍ ما په امان کړې
کومه لار چې سمه وي ما پرې روان کړې

# همدردي

## (ماخوذ له وليم کوپرنه، د ماشومانو دپاره)

پر یو ښاخ د ونې ناسته وه بلبله
څه خفه او غلې غلې ښکارېدله
وېل چې شپه مې پر سر راغله څه به کيږي
ځای په ځای مې په خوراک ورځ تېره کړله
اوس به څنګه و رسم تر خپلې جالې
پر هر شي باندې تياره راخوره شوله
هلته یو اوراورکی و چرته غلی
د بلبلې دا زارۍ یې واوېدله
وېل یې ګر که زه یو نه څه غوندې شی یم
ولې ستا خدمت ته ملا مې وتړله
که تياره د شپې خوره شوه نو څه غم دی
زه به ستا مخ کښې ډېوه کړم خپله بله
خدای راکړې په قدرت ما ته رڼا ده
تا ته لاره به ښیم پرې زه په خپله

هم هغه خلک دي ښه په دې جهان کښې
چې د نورو شي په کار په درد خفګان کښې

# د مور خوب

## ماخوذ: (د ماشومانو دپاره)

یوه شپه اوده وم خوب مي لیده
په دې خوب مي زړه نور هم وترهېده
ما ویل چې ځمه، یم چرته روانه
ده تیاره لار لېدی نه شي له یو خوانه

ټول وېښته مي ډېر له وېرې رپېدل
راته ګران وو د قدم اوچتول
لږ مي زړه ټینګ کړ او لاړمه، په مخ کښې
یو قطار د هلَوکانو راغی مخ کښې
تکې شنې غوندي جامې یې وې اغوستې
ډېوې ټولو وې لاسونو کښې نیولې
وړاندي وروسته پټه خوله ولو روان
خدای خبر چې چرته تلل په داسي شان

په دې فکر کښې روان ومه بېدله
چې خپل ځوی مې په نظر شو په دې ډله
وروسته وروسته غلی غلی دی روان وؤ
چې ډیوه یې د لاس مړه وه په خفګان وؤ
ما ویل ورته زما د سترګو توره
زه دې پرېښووم ته چرته راغلې ګوره
ستا بېلتون کښې زه هر وخت یم ناقلاره
تل د اوښکو هار پېیمه ستا دپاره
تا زموږ او نه کړه یو پوټې پروا
رانه ولاړې تا خو ښه وکړه وفا؟
چې بچي ولید زما دا اضطراب
مخ یې واړاوه او رایې کړ جواب
دا زما جدایي تل تا ژړوي
خو په دې کښې هیڅ فایده زما نه وي
یو ساعت ورپسې چپ وو څه یې نه ویل
بیا ډیوه یې را ښکاره کړه دا یې وویل
ته به وایې چې په دې ډیوه څه وشو؟
دا ستا اوښکو ده مړه کړې دغه وشو

# د مارغه فریاد

## (د ماشومانو دپاره)

آه هغه د تېرو ورځو زما رایادېدل
هغه باغ، هغه سپرلی، هغه د ټولو چیغیدل
چرته هغه آزادي شته وه، چې جاله کښې زما به
الوتل په خپله خوښه، او په خپل اختیار راتلل
یو ګوزار په زړګي اوخورم، چې کوم وخت راته رایاد شي
د شبنم په اوښکو پوري، د غوټیو خندېدل
هغه ښه ښه صورتونه، او نازک نازک مخونه
د هغه له برکته، مې د کور ابادېدل
آوازونې نه رارسي، اوس زما په دې قفس کښې
آه-ارمان دیچي خلاصی مي،چیري وایزماپه وس کښې
آه- زه څومره بدنصیب یم، چې په کور پسې نولیږم
ټول ملګري مي وطن کښې، او زه قید یمه کړیږم
سپرلی راغلی غوټۍ ټولي، شوې ګلونه او خندیږي
زه په دې تیاره کوټه کښې، خپل قسمت باندي ژړیږم
د دې قید مصیبت خدایه! زه اوس چاته واورومه
وېره ده چې دې پنجره کښې، زه له غمه مړ نه شمه
چې چمن نه یم راوتی، حال مي هغه راسي دا دی
غم مي زړه خوري زړه مي غم خوري، په خپل کار هر یو لګیا دی

خوشحال مه شئ او رېدونکو، د فراق په دې سندره
دا د خوږو زړونو درد دی، په فریاد او واویلا دي

د قفس ښېښتنه راشه! د پنجرې نه مي آزاد کړه
زه قیدي یم بې زبانه، دعا واخله زړه مي ښاد کړه

# د مړو نه تپوس

لمر پرېوت او اوچت شو، نقاب مخ نه د ماښام
خورې دي د هستۍ، په اوږو زلفې د ماښام

دا تک تور اغوستن جوړ، تیارې د چا د غم دي؟
محفل کښې د قدرت، د هغه تللی لمر ماتم دی
اسمان دی چې جادو، کوي په شونډو د ګفتار
نظر کښې دی د شپې، د سحرګر، یمه بیدار
دریاب د خاموشۍ کښې، شو غوپه موج د هوا
راځي چرته له لیري، د جرس نرۍ صدا
زړه دی چې د میني، تاؤ کښې تښتي له دنیا نه
بو یې تلم زه لیري، د دې ځای شور او غوغا نه

زه شومه تماشګیر، د بدنصیبو د منظر
اوده چي دي قبرونو کښې، د خاورو پر بستر

ودریږه د زړه تاوه! چي لږ څه خو زه کښېنم
د دې کلي په حال، دوه څاڅکي اوښکې خو زه توی کړم
اې مستو د غفلت، په میو چرته کښې اوسېږئ؟
لږ حال د هغه ځای، ووایئ چرته چي اوسېږئ
چکر د نن صبا کښې، هلته هم خلګ حیران دي
او جنګ د عناصرو ته، جوړ هلته هم میدان دی

بنده هلته کښې هم، د غم قلا کښې را محصور دی
او هغه ولایت کښې، هم انسان داسي مجبور دی
اې هلته هم په شمع، د پتنګ سوځېدل شته څه؟
اې!هغه باغ کښې هم، قیصې د ګل او بلبل شته څه؟
په یو مصرعه چي دلته، زړه سینې نه بهر کیږي
د شعر له ګرمۍ نه، هلته هم زړه ویلي کیږي

خویښۍ او خپلولۍ دي، دلته روح لره آزار
خو هغه ګلستان کښې، داسي هم شته چرته خار
که دلته یک یوه وي، خوشحالي نو سل غمونه
اې هغه ملک کښې نه وي، چرته پېښ داسي فکرونه

اې! هلته تندر هم شته؟ زمیندار هم او راشه هم؟
جوپې او قافلې شته، د شوکمارو اندېښنه هم
اې هلته ټولوي، جالې ته کنړکي هم مارغان؟
او غم د خټو لوټو، شته د پاره د مکان؟
اې! هلته هم انسان، خپل اصلیت نه بېګانه دی؟
بېلتون کښې د قامونو، دستورونو دېوانه دی؟
اې! هلته هم فریاد، د بلبل نه شي اورېدلی؟
د دې جهان په شان، په چا زړه ته شي دړدېدلی؟
باغ دی د جنت که، د آرام هسي منزل دی؟
یا نوم د بې پلوو، مخ د حسن د ازل دی؟
دوږخ د ګناهونو، سوزولو یو ترکیب دی؟
د اور په دې لمبو کښې، پټ مطلب ادب تادیب دی؟
اې! دلته خو موږ ګرځو، هغه ملک کښې دی پرواز؟
دا موږ چې ورته مرګ وایو د دې لا څه دی راز؟
سبب د پرېشانۍ خو، دلته دا ساز او سامان دی؟
نو هلته هم محدود، دغه شان علم د انسان دی؟
بېلتون وهلی زړه هم، په دیدن مومي آرام؟
که هغلته هم دې، لن ترانې، د طور کلام؟
روح هلته کښې هم، مومي څه آرام په لټونونو؟
او هلته هم انسان، دی هسي مړ په تپوسونو؟
آه- هغه وطن هم، تورو تیرو نه ډک معمور دی؟
او یا په پلوشو، د میني سر تر نوکه نور دی؟

ښکاره کړئ هغه راز، په دې جهان چې دی پنهان
چې مرګدلته ازغی دی، ښخ په زړه کښې د انسان

# شمع او پتنګ

پتنګ تاسره شمعې! ولې دومره محبت کړې؟
نا قرار دی او په تا، قربانېدو ته ولې نیت کړې؟
ستا نازونو اداګانو، غریب کړو لکه سېماب
تا خو نه دي ورښودلي ؟ څه د عشق دغه آداب
طوافونه کوي چورلي، ګېر چاپېر ستا د جلوو نه
سوځېدلي راته ښکاري، ستا د سترګو د لمبو نه
په عذاب د مرګکښې ده ته، جوړې شته آرام د ځان
ستا شغلو کښې ورته ښکاري، جوړې عمر جاودان
ستا رڼا که د جهان، په غم خانه کښې چیرې نه وای
د عاشق د امید بوټې، به شین شوی چیرې نه وای
ستا دربار کښې پرېوتل بې، د ده مونځ دی هم بې نیاز دی
دی وړوکی غوندي زړه کښې، بې لذت د سوز وساز دی
جوش د عشق یې په زړه کښې، د هغه حسن قدیم دی
ته وړوکی غوندی طورېې، دی پوتسکی شان کلیم دی
شوق د تماشې، د الوتونکي پتنګ ګوره!
تلوسې ته د رڼا، د دې پوتسکي پتنګ ګوره

# عقل او زړه

یوه ورځ عقل و زړه ته داسي ووېل
د بې لارو بې درکو رهنما یم
یم په مځکه ولې ګرځم په اسمان کښې
ګوره څومره؟ او ترکومه زه رسا یم
په دنیا کښې کار زما لاره ښودل دي
لکه خضر پېښ په سخته د هرچا یم
د هستۍ د کتاب یم تفسیر کوونکی
د اظهار ځای زه د شان د کبریا یم

ته یو څاڅکی یې د ويني، لېکن زه خو
زېرونکی ځان ته لعل بې بها یم
زړه چي واورېدل ویل یې ټول ربښتیا دي
ولې ما ته ګوره زه هم په ربښتیا یم
ته به تش د هستۍ راز باندي خبر یې
ولې زه یم چي باطن له هم بینا یم
واسطه ستا ظاهري مخلوق سره ده
او زه یمه چي باطن سره اشنا یم
تا کښې علم دی په ما کښې معرفت دی
لټوې ته خدای او زه خدا نما یم

د هر علم انتها بې آرامي ده
ولې دې مرض دپاره زه دوا یم
په محفل د صداقت کښې ته یې شمع
په مجلس د حسن زه ښایست رڼا یم
د زمان مکان په مزي ته پابند یې
زه مارغه یم د سدره وني اشنا یم
ګوره ته، څومره اوچت زما مقام دی
د جلوو تجلو ډک عرش د مولا دی

# د درد ږغ

سوزمه آرام، نشته په هیڅ شانې زما
ډوب مې ګرزندی، کښې کړه اې سینده د ګنګا!
مځکه د وطن مې، ډېر نفاق راځومبوي
وصل څه ته وایي ؟ قرب فراق راګډوي
غضب دی، شو پر ځای، د یو رنګې نااشنایي
غضب دی، شوه د یو، درمن دانو کښې جدایي

راغلې چې هوا، د وروروليۍ نه وي پر ګلو
مزه هغه چمن کښې، نغمې نه کړي د بلبلو

خوند پسې د قرب حقيقي همېش مړ کېږم
سيند چې شي ورغاړه، خپل ساحل ته ترې ترهېږم
شاعر معجزبيان، يوه دانه ده د راشې
راشه چې نه وي بيا نو، څه هستي ده د دانې
ښايست وښيي ځان څه ته ؟ چې ځوک پر مايل نه وي
د شمعې سوزېدو نه، څه مطلب چې محفل نه وي
شوق د ګويايي، په خاموشۍ ولي بدلېږي نه
دې زما آئينې نه، دا جوهر ولي ختمېږي نه
داسي وخت وينا، زموږه ژبه پرانستله
اور د جنګ چې وسو، چمن يخه ايره شوله

# لمر

## (د ګايترې ژباړه)

اې لمره! هم ته روح يې، د ژوندو د دې جهان
راغونډه شيرازه کړه، تا د کون او د مکان
سبب ته د عدم او، د وجود ښکاره کېدو يې
سبب ته د چمن د شته، کېدو او نېشت کېدو يې
قايمه تماشه، د عناصرو ده په تا
هم ستانه په هر څيز کښې، د ژوندون ده تقاضا

**هر شي ستا له جلوو نه، دی میندلی خپل ثبات**
**ستا سوز دی او که ساز دی، سر تر نوکه دی حیات**
**آه- لمر چي په هغه زمانه، ټوله نور او نور دی**
**دی عقل او که زړه، روح روان دی، او شعور دی**
**اې لمره! موږ ته راکړه، پلوشې دي د شعور**
**د خپلي تجلې نه، ورکړه عقل ته مو نور**
**محفل د موجودات له، جوړونکی د سامان یې**
**د کښته او د پورته، اوسېدونکو ته یزدان یې**
**کمال دي د هستۍ دی، ظاهر شوی هر جاندار کښې**
**ښکاره دي ده هستي، په قطارونو د کوهسار کښې**
**د هر شي د ژوندون، دپاره ته پروردګار یې**
**د نور نه چي پیدا دي، د هغو هم ته تاجدار یې**
**نه ستا څه ابتدا شته، او نه ستا څه انتها**
**ړومبی وروستی له قیده، ده آزاده ستا رڼا**

# شمع

**محفل د دنیاګۍ کښې، شمعې زه هم یم خوږمن**
**دانه د سپېلني یم، فریاد غوټه په لمن**
**درکړی حرارت د سوي زړه دی میني تاته**
**د سرو اوښکو له ګلو، یې لمن ډکه کړه ماته**

بلبرې په مجلس، د عيش کښې يا که په زيارت يې
د غم اوښکو سره غاړه غړې په هر حالت يې
د راز د عاشقانو، په شان ستا نظر دی يو
زما نظر ته ګوره، چې بيل بيل ته په بيل رو
کعبه او بتخانه کښې، ستا رڼا ده په يو شان
د دير او د حرم، په بېلتون زه يم پرېشان
ښکاريږي ستا په تور لوګي کښې، ما ته شان د آه
يو زړه به چرته پټ وي، غلی ستا په جلوګاه
سوځې ته په دې، چې يې هجران د تجلو کښې
بې درده دغه سوی ګڼي، رڼا ستا پلوشو کښې
ته سوځې خو خپل سوي، باندي هرګز نه يې خبر
بينا يې او په سوز د زړه دي نشته دی نظر
په جوش د اضطراب کښې، زه په شانې د سيماب يم
خبر د ځلبلاند زړګي، په دغي اضطراب يم

دا وو چرته نظر، د ناز پر ما د بې نياز
احساس يې راته راکړ، چې زما د خپل ګداز
هم دغه اګاهي ده، چې زه يم پر ناقرار
دی پټ په دې بڅري، کښې جهان يو د انګار
او دا بېلتون کول، د کوز وپاس دی هم په دې
بوی ګل کښې او شرابو، کښې مستي ده هم په دې
باغ دی که بلبل که ګل کښې بوی د آګاهی نه دی
اصل کشمکش د زه او ته : د آګاهی نه دی

ازل کښې ښایست زړه، اخستونکی شو د مینې
آواز د کن تاوونه، ورښودونکی شو د مینې
حکم وو ګلشن کښې، د کن ګوره بهارونه
سترګه یوه واخله، وینه زر ګډوډ خوبونه
ما نه تپوس مه کړه، د حجاب د دې وجود مې
ماښام د جدایي زما، سحر وو د نمود مې
لاړې هغه ورځې، چې د قید سره ناشنا وم
د طور په ونه باندې، زه دپاسه یو برېښنا وم
قیدي یمه اوس داسې، چې پنجرې ته چمن وایم
د دې مسافرۍ دې غم خانې ته وطن وایم
وطن را یادېدل، راته خفګان مې بې سبب شه
نظر د شوق مې کله کله ذوق مې د طلب شه
اې شمعې د فرېب، د خیال یې ګوره انتها
سجده چې ملایکو، ورته کړه انجام یې دا
مضمون یم د فراق، خو ثریا نه هم اوچت یم
نغمه زه د ناظم، د کون مکان د طبعیت یم
چې جوړ یې کړمه زه، نو ویې غوښت زما نمود
په سر یې ولیکلم، د دېوان د هست و بود
استوګنه ملغلري، کړله دې خاوره کښې اخوښه
بندش یې که دی سست، ولې قیصه یې ده اوچته
د سترګو د غلط نظر، همدا واړه قصور دی
عالم خو د شعور، د شوق جلوو نه په ظهور دی

او دغه سلسله يې، د زمان مکان کمند دی
هم طوق ته د ښايست، د تماشې ورکړی خوند دی
منزل ته مي شوق شته، خو يم تېروتی رو ګودر کښې
اې شمعې! يم راګير، په فريبونو د نظر کښې
په خپله هم ښکاري يم، هم په ځان کړی د دام
هم بام يم د حرم، په خپله هم مرغۍ د بام
معلومه نه شوه دا، چې زه يم ناز او که زه نياز يم
زه حسن يم که عشق يم، سر تر نوکه چې ګداز يم
هن! شوندو سره نه شي، اشنا بيا چرته زوړ راز
قيصه چرته د دار، او رسن نه شي بيا آغاز

# يو ارمان

د دنيا له محفلونو، مي زړه موړ دی خپله ربه!
څه مزه د انجمن وي، چې زړه موړ وي دم ختلی
شور او زوږ نه يم په تېښته، زړه مي دې لټون کښې ګرځي
چرته وي داسي سکوت، چې تر تقرير قربانېدلی
خاموشۍ پسې مړ کېږم، دا ارمان مي دی په زړه کښې
چې د غره چرته لمن کښې، مي جونګړه جوړه کړلی
اوسېدی ايکې يواځې، فکر هيڅ راسره نه وای
د دنيا د غم ازغی مي، له زړګي نه وای ايستلی

د سرود مزه راتللی، د مرغیو په چغار کښې
د چینې د اوبو شور، راته باجه وای رغېدلی
ګل غوټۍ ټق وچاودلی، او پیغام یې د چا راکړئ
دې ورې غوندي پیالې، راته جهان راوښودلی
خپله لېچه مې بالښت وای، شین کبل مې بچاونه وای
دا خلوت وای زما داسي، چي جلوت یې شرمولی
زما شکل او صورت، سره بلبل دومره بلد وای
چي وړوکی غوندي زړه یې، ما نه هیڅ نه ترهېدلی

په قطار دواړه طرف ته، شنه شنه بوټي ښه ولاړ وای
او د خوړ صفا اوبو یې، تصویرونه اخستلی
ننداره د غرونو دومره، مزیداره ښکارېدلی
د اوبو غلیو هم، ورته اوچت اوچت کتلی
په ارام شینکی ویده وای، په مزه د مځکي غېږ کښې
او اوبه د جاړو منځ کښې، ګرځېدلی ځلقیدلی
لکه څوک پې مخی مخ چي، په آیینه کښې څنګه ګوري
د ګل څانګه دغه شانې، په اوبو ورتیټېدلی
د ماښام ناوې ته لمر چي، وای نوکریزې پوري کړې
سرې جوړې د بنارس غوندي هر ګل وای اغوستلی
دا زما ماته ډېوه دي، وای امید د هغو خلګو
چي د شپې په سفر تلو، باندي ستومانه اودرېدلی
پړقیدلی چي تنا نوې، جونګړه ورښکاره شوای
کوم وخت چي په اسمان، باندي وربځ راخوره شولی

د سحر په صباوون چې، تورانۍ کړي چغارونه
زه دې سره دا ما سره، یو ځای وای چیغېدلی
هیڅ احسان د بتخانې، او د جمات مې په غوږ نه وای
د جونګړې سورى ما ته، د سحر زيري راوړلی
د ګلونو اوداسه ته، چې څه وختی شبنم راغی
ما اودس کړلی په اوښکو، او فریاد مې دعا شولی
هم په دې چوپه چوپتیا کښې، مې شوې چغې دومره پورته
چې د ستورو قافلې ته، د کوچ ږغ وو رسېدلی
دې ژړا مې هر دردمند زړه، په ژړا وو ژړولی
دا بې خوده چې پراته دي، ګوري دوی که بې ویښ کړلی

## د سحر لمر

زموږ د میخانې د شور و ږوږ نه ته دېر بر یې
مجلس چې د اسمان پرې دی ښایسته هغه ساغر یې
د ناوې د سحر د غوږو در کښې ته ګوهر یې
نازیږي چې تندی پرې، د افق هغه زېور یې
تور داغ د توري شپې لري کړه مخ نه دنیا
شو ستوري له اسمانه، غلط حرف غوندي فنا
حسن دې په بام چې، د اسمان شي جلوه ګر
خو وتښتي له سترګو نه یو دم د خوب اثر

نور نه ځای پر ځای، ډکه لمن شي د نظر
خو تش ظاهر ليدل وکړي، بس يو سترګي د سر
د زړه سترګي چي غواړي، ښايي هغه تماشه
باطن چي پرې رڼا شي، ده په کار هغه جلوه
د شوق د آزادۍ دنيا کښې ونه خوت ارمان
ځنځير د تعلق کښې، يو ټول عمر بنديوان
لوړه او ژوره، ستا نظر ته دي يو شان
زما هم داسي سترګي، دي خپل ځان لره ارمان
کسي مي د اوښکو دي، د بل غم کښې آباد وي
ښېلتون د قام قامۍ نه دي، زما زړګی آزاد وي
ترلی مي د چا په رنګ کښې، خاص نه وای زبان
قوم مي کل انسان وای، او وطن مي کل جهان
راز د انتظام د قدرت زړه کښې شي عيان
لوګی مي دي د خيال د شمعې رسي تر آسمان
چي ورانې مشورې مي، د دنيا نه کړي پرېشان
ښايست د ميني وښايي، هر شي کښې راته ځان
پاڼه که د ګل چيري، شي خوږ د باد په پر
اوښکي شي له سترګو مي، او څاڅي يې اثر
زړه کښې مي د ميني، د سوز وای پوټی شرر
رڼا يې چي د راز، د حقيقت راکړي خبر

زړه مي آئينه وای، د فطرت ډېره صفا وای
سر کښې مي همېش، د همدردۍ جوړه سودا وای

ته چي خواريکښ، د هنګامو د عالم نه يې
دا د کمال نخښه، نه ده لمره! اعظم نه يې
ته چي دومره لوی حسن سره هم محرم نه يې
ذرې د در د خاوري، سره سم د آدم نه يې
مسجود د ملايکو، نور دی ښخ په تماشه
او ته يې منت باره، د سحر او د صبا
د نور د حقيقت ارمان، زموږ دی په کوګل کښې
کور د لټونونو د ليلا، دی دې محمل کښې
خوند د پرانستو څومره، دی غټو د مشکل کښې
خوند د سل خوندونو، مو په سعي لا حاصل کښې
دړد د تپوسونو، سره زړه د اشنا نه دی
رازونو د قدرت پسې، لټون کړې تا نه دی

## د ميني درد

اې دړده! د عشق ته يې مرغلره يو آبداره
خو پام چي نامحرمو کښې ځان نه کاندي آشکاره
چي ستا د جلوو ځای دی په پړدو کښې پټ پنهان
او دا نوی محفل، لري ظاهر باندي ايمان
راغلې ده هوا نوې، چمن د هست وبود کښې
اې دړده! د عشق نشته دی، څه خوند اوس په نمود کښې

خیال چیري ونه کړې، ته د ځان ښکاره کولو
احسان چیرې وانه خلې، ته د چیغو د بلبلو
د عشق د شرابونو، نه خالي د لاله جام وي
شبنم دي ژاړي پټ، د اوبو څاڅکی دي پرې نام وي

دننه په سینه کښې، دي وي پټ چرته ستا راز
او اوښکه د ځیګر دي، د هغې نه شي غماز
ګویا دي ژبه نه وي، د شاعر رنګین بیان
آواز کښې د شپېلۍ دي، ګیله نه وي د هجران
دا دور د نکته چینو دی، عالمو نه پټ کښېنه
کوم زړه کښې چې اوسیږې، نو هم هغلته پټ کښېنه
ده علم پیدا کړې، حیرانتیا درنه غافله
لټون د کم نظره، دنیا نه کوي هیڅ کله
پرېږده چې لټون کښې، ګرځي دا اوچت خیالونه
ګرځي دي حیرت کښې، فلسفیان دي کړي فکرونه
چې ته یې شی سپرلی، نه دي داهغه چمنونه
قابل دي د جلوې نه، ښکاري دا انجمنونه
دی دا انجمن ورک، په نندارہ کښې د مجاز
مقصد ستا د نظر په، خلوتونو دی د راز
هر زړه د خیال شرابو، باندي مست دی او چور چور دی
د دغې زمانې د، کلیمانو بل شان طور دی

# مړاوی گل

مړاوې ګله! زه په کومه ژبه تاته به ګل وایم!
تمنا به تاته څنګه، د زړګي د بلبل وایم؟
چیرې چیرې د سحر باد، ستا زانګو وه زنګولې
ستا نامه ګل خندان وه، ګلستان کښې خندېدلې
د سحر صبا وږمو دي، د احسان کوه اقرار
باغ هم ستا له برکته، صندوقړی وو د عطار
وروي مي سترګي اوښکي، ستا په مخ لکه شبنم
دا زما چودلی زړه دی، ستا په شان اخته په غم
ته زما د بربادۍ یو، پوټیناني شان تصویر یې
د ژوند خوب چي ما لیدلی وو، نو ته یې جوړ تعبیر یې
د شپېلۍ په شان د خپل بڼ، د نچو زه حکایت کړم
واوره ګله! واوره ګله! له بېلتونه شکایت کړم

# د سر سید د قبر شنخته

اې! چي دي مارغه، د روح راګیر د ساه په تار دی
اې! چي دي طوطي، د روح پنجره کښې لا ایسار دی
ګوره د چمن، د سندر غاړو آزادۍ ته
دغه ښار چي وران وو، اوس یې ګوره ابادۍ ته

زه يې چې تل په فکر، ومه دا هغه محفل دی
دا د حوصلې، د استقلال د کر حاصل دی
کانې مې د قبر، دی مین په تقریر ګوره
لږ د زړه په سترګو، د خازې مې تحریر ګوره
ستا که مدعا دنیا کښې وي تعلیم د دین
قوم ته د دنیا پرېښولو اونه ښایې آیین
خوله چیري ونه سپړې، په ډلو جوړولو
پټ دی په کښې شر، ګورې د قام د ورانولو
رنګ د اتحاد دي وي، پیدا ستا له تحریر نه
ګورې چې د چا نه شي، زړه خوږ ستا له تقریر نه
نوو محفلونو کښې دي، تیري قیصې مه سپړه
رنګ چې نه را وباسې، ګوره داسي قیصې مه سپړه
ته که مدبر يې، نو مي واوره دا صدا
ده لویه همسا، په سیاست کښې زړه ورتیا
ویلو د مطلب کښې، وېره نه ښاییږي تا ته
نیت که چیري نېک لرې، کړه فکر پرواه شا ته
زړه خو د مومن وي، د ریا او یرې پاک
شوریې د دنیا وي، د حاکم مخکښې بېباک
لاس کښې که دي چیرته، وي قلم معجز رقم
آئینه دي د زړګي وي، په مثال د جام جم
پاکه دي ساته، ژبه شاګرد يې د رحمان
ګوره چې صدا دي، بې آبرو نه شي هیڅ شان

ويده را ويښوه ته، د شعرونو په اعجاز
سوزوه د باطل درمند، په شعلو دي د آواز

## نوې مياشت

ماته شوه ښکنتې د نمر، شوه غرقه رودِ نيل کښې
يوه ټکړه پر سر، د اوبو ګرځي سيند د نيل کښې
تال کښې د اسمان، خاځي سرې ويني د شفق
نشتر د قدرت رګ او واهه لمر ته د آفق
پټه کړه اسمان والې د ناوې د مابنام؟
يا د نيل اوبو کښې دی، يو کټ د سيم خام؟
روانه قافله ده، بې منته د درا
غوړونه د انسان دي، اوريدی نه شي صدا
حالت د کميدو زياتيدو ستركو ته ښايې ته
دی چرته ستا وطن، کوم مملکت پلو ته ځې ته
ما هم له ځان سره بوزه، اې ستوريه د اسمان
زه يمه ناقلاره، په ازغو د ډير ارمان
طالب يمه د نور، په دې دنيا کښې ډير ترهيږم
مکتب دی دا هستي، زه لکه طفل تر پټيږم

# انسان او بزمِ قدرت

سحر په ځلېدو کښې، چې لمر ولیدلو ما
مجلس د کایناتو نه، تپوس وکړلو ما
د لمر د پلوشو، په برکت ده رڼا ستا
سپین زر دي ویلي شوی، د سیندونو اوبه ستا
د نور دغه کالي دي، تاته لمر در اچولي
محفل ستا دی هم دغه، دې شمعې خلقولې
دا ګل او دا ګلزار ستا، د جنت دي تصویرونه
دا ټول دي د **والشمس والضحٰی** دي تفسیرونه
جامې د ونو سرې، د ګلو شنې دي دلبري
محفل کښې ستا دي څوک، سبزپري څوک لال پري
ستا د اسماني خیمې، د زرو دی جالر
دا سرې غوندي وریځې، چې ښکارېږي په نظر
ښایسته څنګه ښکارېږي، د شفق د سرخۍ رنګ
شراب دي اچولي، د ماښام خم کښې ګلرنګ
لویه مرتبه ده ستا، او لوی لرې ته شان
پرده کښې د نورونو، ستا هر یو شی دی پنهان
سحر دی ستا د شان، او د شوکت یوه سندره
دي ورکې د تیاره، نښانې هم د لمر له نوره

زه خو هم آباد يمه، د نور په دې دنيا کښې
بيا ولې د تقدير ستورى مي وسو دې رڼا کښې؟
نور نه يمه ليري، په تيارو کښې گرفتار يم
ولې روسياه يم، سياه بخت او سياه کار يم
زه په دې وينا کښې، وم چي راغى يو آواز
اسمان نه وو که مځکې نه، خو راغى رسا ساز
ترلى ستا له نور سره، دى دغه زما ذات
باغوان يې ته، د پاره د گلزار د موجودات
د حسن انجمن يې، ته او زه يم ستا تصوير
د ميني يو کتاب يې، ته او زه يم ستا تفسير
زما دا وران کارونه دي، کړو سم په خپل همت
کوم پېتى چي اوچت نه کړې شه ما تا کړه اوچت
محتاجه پلوشو ته، د لمر ده هستي زما
او بې له څه منت احسان د لمر ده رڼا ستا
که لمر نه واى نو وو به، مي ويجاړه گلستان
منزل به د عشرت واى، په نامه زما زندان
افسوس چي په څرگند او، ښه ښکاره راز نه پوهيږي
ته طمع تمنا ته، په ښويدا نړۍ کښې ښوييږي
افسوس دې په غفلت، چي ستا دي سترگي په مجاز
ښاييږي چي ناز وکړې، خو ته يې گرم په نياز
اې! که ته په خپل حقيقت اوسې خبردار
نه به روسيا يې نه به بيا يې سياه کار

# د سحر پیغام

## (د لانگ فیلو نه اخستی)

له تندي د شپې د ناوې برېقا لاړه د "افشان"
د ژوندون باد وکړه زېرى، د سحر صبا خندان

خوش آواز بلبل يې وېښ کړه، چې يې ورغی په جالې
د پټې خوا کښې اوږه يې، وخوزوله د دهقان

د **والنور** په سورت کوز يې، کړه جادو د توري شپې
تروږمۍ کښې ناج راکوز کړلو، د شمع شبستان

په اودو د بت خانو يې، چف منتر د بيدارۍ کړ
بامبړانو ته يې وويل، لمر راوخاتی ځلان

چې په بام د حرم راغی، نو ګويا شه مؤذن ته
انديښنه دي زړه کښې نه شته، د راتلو د لمر تابان

د ګلشن د دېوال سر نه، يې آواز په زوره وکړه
ګل غوټۍ راولړزېږه، وکړه بانګ په ګلستان

په صحرا کښې يې ږغ وکړ، قافلو ځئ! راونيږئ
لکه اور اورکی چي برېښي، کل ذرې د بيابان

د ژوند په کلي تېر شو، بيا يې مخ کړو مقبرې ته
دا يې وويل ويده شوو، ته د شهر خموشان

لا پراته په آرام اوسئ، زه به بيا دلته راځمه
دا جهان به ټول ويده کړم، بيا به تاسو پاڅومه

## عشق او مرگ

### (د ټينيسن نه اخستی شوی)

ښه لحظه وه چي دنيا پيدا کېدله
د ژوندون غوټۍ ړومبی ځل خندېدله
چيرته لمر ته تاج د زرو ورکېدای شو
چيرته مياشتي ته رڼا بخشش کېدله

قمیصونه تور ماښام ته اغوستی شو
د ځلقا خبره ستورو زده کوله
چیرته پاڼي ټوکېدې ښاخ د هستۍ کښې
چیرته وه غوټۍ د ژوند سپړدې کېدله
فرښتو ژړا شبنم ته ورښودله
او د ګل ړومبی ځل خندا کوله
د شاعر زړه لره درد بخشش کېدلو
لا خودي په بېخودۍ نه پوهېدله
اول ځل تورې وریځې داسي راغلې
لکه حوره چي کوڅۍ یې پرانستله
مځکې دا دعوه کوله چي اسمان یم
او مکان لا ویل دا چي لا مکان یم

لنډه دا دومره ښایسته وه نظاره
ننداره‌چي وو سر تر نوکه ننداره
ملایکو الوتل خپل ازمایل
په تندوی یې د ازل نور وو ښکاره
فرښته وه یوه، عشق د هغې نوم وو
رهبري یې وه د ټولو سهاره
فرښته وه که پتلی د بېتابۍ وه
فرښته وه که په ځان لکه پاره
د جنت سیل لره تلله وه روانه
چي قضا ورته شوه لار کښې دوچاره

وویل دې چې څه دي نوم دی، څه دي کار دی؟
بده لګي ستا د شکل ننداره
د قضا فرشتې ورکړه دا جواب
زه اجل یم کار مي هر چاته ښکاره
د هستۍ ټوکي شلوم کړم یې رېښانګې
مړه کومه د ژوندون زه شراره
زما سترګي دي جادو د ورکولو
د فنا پیغام د دوی ده اشاره
خو یوه هستۍ دنیا کښې داسي شته دی
چي یې مخ دی لکه اور زه یم پاره
یو بڅری دی په زړه کښې د انسان
چي د خدای د مطلق نور دی ستاره

ترخې اوښکي شي له سترګو نه را څاځي
خو تریخوالی یې په زړه وي ګواره
عشق چي واورېدې خبري له قضا نه
نو په شونډو یې خندا شوله ښکاره
دا خندا ده د قضا دپاره تندر
د تیارې کله وي نور کښې ګذاره
د قضا هستي فنا هم په قضا شوه
قضا خود په خپله ځان لره قضا شوه

# زاهدي او رندي

قيصه درته كوم، يو مولوي وو روحاني
غرض نه دى ښودل، د طبعيت يې راواني
روح د بزرګي يې، په دنيا كښې وو خور شوى
وو ټول يې تابعدار، كه اعالي كه اداني
هغه به وېل چې پټ دى، شريعت په تصوف كښې
څنګه چې الفاظو، كښې وي پټې معاني
د زهد له شرابو نې، د زړه كوزه وه ډكه
خو خيرې يې په تل، كښې وو خيالي همداني
په خپله بې كاوه، بيان د خپلو كراماتو
مطلب يې وو چې زيات شي، مريدان زما ځاني
له ډېري مودې راسي، وو زما په چم ګاونډ كښې
د رند او د زاهد، ليده كاته وو پخواني
يو وار يې داسي ووېل، يو زما پېژندګلو ته
اقبال يوه قمرې ده، په شمشاد د معاني
د شرع د احكامو، پابندي يې شته كه نشته
په شعر كښې اوچت دى، له كليمِ همداني
اورمه زه دا، چې كافر نه وايي هندو ته
اثر په عقيده لري، د فلسفه داني
څه لږ شان شيعه توب يې، هم دى پروت په طبعيت كښې
تفضيل مو د علي، ترې اورېدلى زباني

دی وایي چي راګونه، عبادت کښې دي داخل
خندا کول مذهب، پوري مطلب یې دی ځاني
هیڅ شرم نه ورځي، چیري د ډمو له مجلس نه
دي دا د شاعرانو، عادتونه پخواني
سندرې د شپې اوري، او سحر کړي تلاوت
تر اوسه موږ پوه نه شو، په دې رمز معاني
خو دا مي اورېدلي، دي له خپلو مریدانو
بې داغه یې د سپین صبا، په شاني ده ځواني
اقبال! وایه چي نه دی، مجموعه ده د اضدادو
دفتر د حکمت زړه کښې، طبعیت خفقاني
رندی نه هم خبر دی، شریعت نه هم واقف
په لار د تصوف کښې، د منصور دی، دی ثاني
اصلي حقیقت نه دی، رامعلوم د دې سړي
ښکاریږي چي بهٔ وي، چیرته د بل اسلام باني
سر څه ته خوږومه، خو دا وعظ یې کړه اوږد
تر ډېره پوري وو، د ده دا نفزِ بیاني
دې ښار کښې چي خبره، چیرته وشي زر خوریږي
نو ما هم واورېدله، له یو دوست نه زباني
ناڅاپه یوه ورځ، چرته په لار مخي ته راغی
ظاهر یې په خبرو، کښې خیالات کړل پخواني
ویل یې ها ګیله، خو وه زما له ډېري میني
غرض د شریعت، لاره ښودل وو ایماني

ما عرض وکړو دا چي، څه ګیله مي درنه نه شته
چي حق وو د ګاونډ، او دا وه ستا مهرباني
زما سر په تسلیم، او رضا تیټ دی ستا په مخ کښې
پیري ده د لحاظ، په سبب دا زما ځواني
که نوي معلوم تا ته، حقیقت زما د ژوند
ښخي ده بې قصوره، په دې ستا همه داني

په خپل حقیقت خپله، زه هم ښه خبردار نه یم
ژوره د خیالاتو، د سیند ده مي رواني
زما هم تلوسه ده، چي اقبال مي وای لیدلی
چي ومي کړ فرقت کښې، د دا اشک فشاني

اقبال هم داقبال، له حقیتقته آګاه نه دی
دروغ په دې کښې نه شته، آګاه نه دی والله نه دی

# شاعر

قام لکه جوڅه ده، او کسان یې اندامونه دي
لاس او پښې چي خوځي، نو هاله شوي کارونه دي
نظام د حکومت یې، د پی مخي مخ خالونه دي
قام کښې شاعران، د بینا سترګو نظرونه دي

اندام چیرته درد مند، که شي نو وژاړي دا ستر۠که
خوږمنه څومره ده، چې تل یې خیر غواړي دا ستر۠که

# زړه

د رسۍ او دار قیصه ده، زړه ته لوبه طفلانه
ارنی لفظ عنوان دی، د دې زړه په افسانه
د دې خولې تر خولې پیالې به، شراب څنګه وي اې خدایه!
چې د ملک د بقا لار ده، خط د زړه په پیمانه
دا وریځ وه د رحمت، او که د عشق تندر وو خدایه!
کرونده چې د زړه وسوه، نو شنه شوه د زړه دانه
خزانه د بې بها، حسن به لاس ته وای درغلی
اې فرهاده! که کشتۍ دي، د زړه وای ویرانه
زه په دې باندې تېروځم، چې دا عرش دی که کعبه ده
چې د چا مقام دی خدایه! د دې زړه په کاشانه
د ده خپل یو لېونتوب دی، او زما خپله سودا ده
زړه د بل چا دېوانه دی، زه د زړه یم دېوانه
ته نادان یې اې زاهده! ته په دې راز څه پوهېږې
زار شه سل سجدې د زړه نه، چې خطا شي مستانه
چې د خاورو له ډېریو، جوړوي تل اکثیرونه
اثر داسي دی ایره کښې، د زړ۠کي د پروانه

چي د عشق په دام کښې ګير شي، نو هاله خو دی آزاد شي
تندر پرېوزي نو دا بوټی، هاله شين هاله آباد شي

# د درياب څپې

بې قراره، بې آرامه، مي لري دا زړه بېتاب
عين ژوند ځلبلاندی دی، دا په شاني د سېماب
موج مي نوم دی دريابونه، مي په هر ځای دی پاياب
ځنځير شوی چيرې نه دی، دا کړۍ کړۍ ګرداب
د هوا په شاني زغلي، په اوبو کښې مي توسن
په ازغو کښې د ماهي مي، چيرې نه ښنلي لمن
په ټوپونو شم سپوږمۍ، د څوارلسم چي و وينم
کله جوش کښې د سيند غاړي، سره خپل سر جنګوم
لاروی يمه او مينه، د منزل سره لرم
څوک دي وپوښتي زما، زړه ځلبلاندی ولي يم؟
د دې تنګ سيند د تنګ ژوند نه، يم تنګ شوی ګرېزان يم
د ارت ژوند د سمندر، په بېلتانه کښې زه پرېښان يم

# رخصت دی اې جهانه!

## (د ایمرسن نه اخستی شوی)

رخصت دی اې جهانه! ځم وطن ته روانېږم
دې ورانه آبادي کښې، زه افسوس دی چې وېرېږم
زه ډېر په زړه غمجن یم، لایق ستا د محفل نه یم
نه ته زما قابل یې، او زه هم ستا قابل نه یم
شاهي دربار هم قید دی، شبستان هم د وزیر
د سرو زرو ځنځیر نه، به ځان خلاص کاندي اسیر
که ډېر ستا د مجلس، په های و هوی کښې خوند لذت دی
بیا هم په اشنایي کښې، دي ښکاره اجنبیت دی
زه ډېره موده ستا، د غاورانو په صحبت وم
د سیند د موج په شان زه، بېقراره په صورت وم
کړه ډېره موده تېره، ما غوبلونو د عشرت کښې
لټون مي کړه رڼا پسې، تل تل په دې ظلمت کښې
لټوله په مودو مي، نظاره د ګل په خار کښې
خو آه! هغه یوسف، په لاس رانغی ستا بازار کښې
اوس دا حیران نظر، په خیال د بلې ننداري دی
اوس ما طوفان وهلي، ته ارمان د کناري دی

د بوی په شان سلام مي، دی چمن ته روانېږم
رخصت دی اې جهانه! خپل وطن ته روانېږم
ما جوړ کړلو خپل کور، چوپه چوپتیا کښې د کوهسار
اې! دا لذت وي کله، تنګ ټکور کښې د ګفتار
او ناست یم د نرګس، سره ملګری یم د ګل زه
وطن مي دا چمن دی، ګواندی یم د بلبل زه
ماښام مي سرودونه، د چینو ویده کوي تل
سحر د کبل فرش نه، توریانۍ مي ویښوي تل
محفل کښې د ژوندون، د هرچا خوښ وي مجلسونه
خو زړه کښې د شاعر، د تنهایي خوښ دی کونجونه
دې دا مي لېونتوب چي، آبادۍ کښې زه وېرېږم
زه نن د چا لټون کښې، د غره کندو کښې ګرځېږم
دا ده مینه د چا چي، سبزه زار کښې ګرځوي مي؟
پر غاړه د چینو چي، په قرار ویده کوي مي
پېغور دی چي مین زه، په کونجونو د عزلت یم
غافله! ترجمان زه، د بزمونو د قدرت یم
شمشاد مي وطن دار دی، د قمرۍ یمه همراز
چمن د خاموشۍ کښې، مي غوږ ایښی په آواز
هرڅه چي زه اورم نو، د نورو اورولو ته
هرڅه چي زه وینم دا، د نورو دي ښودلو ته
مین په تنهایي دی زړه، په خپل کور زه نازېږم
تخت د سکندر او، د دارا پوري خندېږم

ملاستی د اوني لاندي، دا جادو لري اثر
په ستوري د ماښام چي، بیا بیا خبن شي دا نظر
علم دی حیران چیرته، دی ده کښې دا نمود
پاڼه کښې د ګل ښکارېږي، راز د هست او بود

# ماشوم

ما درنه چاقو واخیست، نو ته شوې په ژړا
ته نامهربان ګڼې، ما زه مهربان ستا
ژاړې په بیا اې نوې، مبلمه ! په ملک د غم
ښخه در کښې نه شي، چیرته څوکه د قلم
آه- ولې د درد ځیز، پسې ته یې ناقراره
لوبي د کاغذ سره کړه، دا دی بې ازاره
څه دي کړه؟ پنډوس او، د چونې هغه پښو
هغه ځناور چي، شو ټوټې د سر او پښو؟

ستا په آینه نه وو، د ارمان ګرد او غبار
سترګي پرانستو سره، سم پرق شو دا شرار
د لاس په خوځولو، او کتو کښې د پنهان
اې نوې پیدا شویه! ستا ارمان دی ستا په شان

ژوند دي دی آزاد، د خپل پردي له امتیازه
سترګي دي واقفې، د قدرت دي جوړ له رازه
چیرې په څه خیز چي، مرور او په ژړا شي
دا یو تماشه ده، په ردي کاغذ پخلا شي
آه- په دې عادت کښې، زه هم یمه ستا په شان
ستا غوندي ساعت کښې، یو ساعت کښې په بل شان
زه د یو ساعت په خوند، شیدا یمه ژړېږم
ژر په غصه کېږمه، او بیا ژر رضا کېږم
سترګي دي خوږیږي، په هر حسن ظاهري مي
کمه نه ده ستا له، نادانۍ نه ناداني مي
ستا په شان زه هم، کله ګویان کله خندان یم
ښکارمه ځلمی، ولي یو طفل یم نادان یم

# د دړد تصویر

څه طاقت د اوریدلو، چا کښې نشته د داستان مي
خاموشي مي ګفتګو ده، بې زباني مي ده زبان مي
دا دستور د زبان بندي دی، جاري څنګه ستا مجلس کښې؟
دلته حرف حرف ته زیرېږي، لنده خوله کښې لوند زبان مي
کړې څه پاڼي لاله ټولي، څه ترې ګل کړې څه نرګس کړې
په چمن کښې هر طرف ته، پاڼي پاڼي دی داستان مي

رانه یووړلو قمریانو، او طوطیانو بلبلانو
د چمن عالمو لوټ کړه، دغه طرز د فغان مي
د پتنګ د سترګو اوښکه، شه او وڅاڅه اې شمعې!
سر تر نوکه یم دړدونه، له حسرت ډک دی داستان مي

خدایه! بیا لا څه مزه ده، دې دنیا کښې د استوګې؟
چې نه ژوند مي همېشه دی، نه مړېدل د ناګهان مي
دا یوائې زما نه ده، دا ژړا د ټول ګلزار ده
داسي ګل یم چې خزان دی، د هر ګل خزان په ځان مي
"مودې وشوې دلته پټه، د جرس ټنګا لرمه"
د ترپا د زړه په فیض، یوه بې ساه غوغا لرمه
د دنیا په دغه باغ کښې، نااشنا زه د عشرت یم
خوشحالي راباندي ژاړي، زه محروم له مسرت یم
ګویائي زما په دې، بدقسمتۍ باندي په ویر ده
چې د شونډو لاندي حرف یم، شرمنده د سماعت یم
موټی خاوره ځلبلانده، یم خو هیڅ نه ده معلومه
سکندر یم که آینه یم، یا یو ګرد د کدورت یم
دا هرڅه وي خو هستي مي، یو مقصد دی د قدرت
حقیقت یې چې نور نور وي، سر تر پښو هغه ظلمت یم
خزانه یم چې کړم پټه، موټی خاورې د صحرا زه
څوک پرې څه خبر چې چیرته، یم پرته د چا دولت یم
په نظر باندي مي نشته، د جهان د سیل احسان هیڅ
زه هغه وړه دنیا یم، چې په ځان خپل ولایت یم

نه شراب یم نه ساقي یم، نه مستي نه پیمانه یم
د هستۍ دې میخانه کښې، د هر څیز زه حقیقت یم
راز د دواړو جهانونو، مي آئینه د زړه ښیي
وایم هغه مخامخ چي، څه مي سترګو ته راځي
شاعرانو کښې یې ما ته، کړه بخشش داسي بیان
چي د عرش د منارو، مارغان زما شو همزبان
د قضا په رازدارانو، کښې زما د زړه آینه شوه
اثر دا هم دی زما، د لېونتوب فتنه سامان
هندوستانه! نظاره ستا، ژړوي مي په دې باندي
عبرت ناکه افسانه ده، افسانو کښې د جهان
چي ژړا یې راته راکړه، ګوا هرڅه یې راته راکړل
د ازل د قلم لیک دی، چي دي یمه نوحه خوان

د ګل پاڼې هم پرې نه ږدې، په دې باغ کښې اې ګلچینه!
دغه ستا خوش قسمتي ده، چي په جنګ دي باغوانان
تندرونه پټ لستوني، کښې اسمان ورته نیولي
بلبلان د باغ دي نه کښېني غافله په آشیان
اې غافله! زما واوره، دا صدا مي داسي شی دی
وظیفه ده چي یې لولي، د باغونو ټول مارغان
مشورې د بربادۍ دي، اسمانونو کښې نن کیږي
د وطن فکر دي وکړه، مصیبت دی راروان
لږ وګوره نن څه کیږي، او صبا دي څه کېدونکي
زوتوې به ته ترکومه، پخوانی دی دا داستان

دا د چوپ عادت تر کومه، د فریاد لذت پیدا کړه
وي استوګه دي په مځکه، او صدا دي په اسمان
که پوه نه شوئ نو به ورک شئ، واورئ اې هندوستانیانو!
شي به ورک له دې دنیا نه، هم مو نوم هم مو داستان
د قدرت هم دغه لار ده، د فطرت هم دا عادت دی
د عمل په لار چي څوک ځي نو، محبوب آ د فطرت دی
نن به پټ د زړه زخمونه، درته زه ښکاره کومه
په سرو وینو به ژړېږم، ټول محفل به رنګومه
په دې پټ سوز هره شمع، د هر زړه به بلومه
ستا د تورو شپو تیارو کښې، به دا شان رڼا کومه
چي له درد سره اشنا زړه، را پیدا لکه غونچه شي
دغه خپله موتی خاوره، به چمن کښې خورمه
دا خورې ورې دانې به، د تسپو په تار پییمه
دغه کار که ډېر مشکل دی، دا به زه اسانومه
ته مي پرېږده همنشینه، چي مشغول یم سینه کنم
په کښې پروت د میني داغ دی، دا به زه ښکاره کومه
چي لیدلی مي دی سترګو، ورښیم بې ټول جهان ته
د ائینې غوندي په تا هم، په دې حال حیرانومه
په پردو کښې چي څه پټ دي، هغه سترګي بینا ویني
تقاضا د زمانې، د طبعیت په هر خوا ویني

زړه اشنا دي د رفعت، د خوند سره نه کړلو تا
لکه پل د پښې پر مځکه، عمر ټول تېر کړلو تا

د محفل سره همراز یې، خو دا خپل نظر دي چیري
د بهر د حیرتونو، نه واقف نه کړلو تا
د پی مخو په ادا، باندي دي زړه قربان قربان دی
دې آینه کښې د خپل ناز، دي دیدن ونه کړلو تا
تعصب پرېږده نادانه ! د دنیا په شیش محل کښې
دغه هر یو ستا تصویر دی، چې بد وګڼلو تا
دژوندون د سوز له ظلمه، سر تر پښو فریاد فریاد شه
سپېلني غوندي دانه کښې، آواز غوټه کړلو تا
د زړګي د صفایي، د تعلق رنګ سره څه دی؟
په نکریزو د آئینې، ورغوی اولړولو تا
مځکه څه چي آسمان هم لا، په کړو کتو دي ژاړي
د قرآن لار دي غلطه، کړه غضب وکړلو تا
که په ژبه دي دعوه، د توحید وکړه څه فایده شوه
د غرور او ګمان بت نه، چې مولی جوړ کړلو تا
د منبر په سر دي شوق دی، چې دي کړې خوش بیاني
نصیحت دي هم دی داسي، لکه وي قصه خواني
هغه حسن ښکاره سترګو، ته کړه سوځې چې عالم
پتنګان چې ترپوي او، ژړوي چې تل شبنم
د هوس خاونده! تشي، ننداري خو مقصود نه دي
جوړي کړی په څه خیال، خو دي چا سترګي د آدم
که یې ولید ټول عالم نو، راته وایه څه یې ولید
حقیقت ونه لیده چې، د خپل ځان په جام کښې جم

ده فرقې جوړول ونه، تعصب د دې مېوه ده
دې مېوې خو دی رایستی، له جنت نه بابادم
یوه پاڼه د ګل هم، پانسیده د لمر جذبې نه
تمنا دا د رفعت وه، چې یې والوزو شبنم
د الفت ژوبل نه ګرځي، په فکرونو د دارو کښې
د دې زخم خاوند خود، پیدا کوي ځان ته مرهم

تل د مینې په بخرکو، سر تر نوکه زړه نور کیږي
یو ذره غوندي وي تخم، باغ د طور پر زرغونیږي
د هر درد علاج په تېغ وي، د آرزو ژوبل کېدل
د پرهر علاج احسان نه، د رفو آزادېدل
په شراب د بېخودۍ مي، تر فلکه دی پرواز
چې د رنګ اولوزولو، نه مي زده کړه بوی کېدل
د وطن نوحه خوانۍ کښې، اوښکې څنګه لا درېږي
چې د سترګو عبادت دی، تل اودس کښې اوسېدل
په کوم خیال د ګل په ښاخ کښې، واچوي لا مارغه جاله
د چمن استوګه څه ده ؟ چې په کښې وي سپکېدل
که پوهېږې نو دا پوهه شه، آزادي ده محبت کښې
غلامي ده د "زما ستا په بېلتانه" کښې نښلېدل
استغنا کړه په اوبو، د بړبوکۍ پیاله نسکوره
د اوبو په غاړه ښایي، ستا حباب رنګ اوسېدل
بې پروا له خپلو مه شه، هم په دغه کښې دي خیر دی
که دنیا کښې غواړې اې، بېګانه خویه اوسېدل

محبت دی چي شراب وي، روح پروره بس انسان ته
راښیلي يې دی بې جام او بې منګي نه مستېدل
محبت نه ده میندلې، بس شفاء بیمار قومونو
کیا ہے اپنے بخت خُفتہ کو بیدار قوموں نے
بیابان د محبت دي، هم غربت او هم وطن دی
دغه شاړه هم پنجره ده، هم ده جاله هم چمن دی
محبت هغه منزل دی، چي منزل دی هم صحرا ده
هم جرس او هم کاروان دی، هم رهبر او هم رهزن دی
ټول عالم يې مرض بولي، ولي دا داسي مرض دی
چي علاج د حادثاتو، يې پټ نغښتی په لمن دی
سوځول د زړه ګویا کښې، سر تر پښو دي نور کېدل
سوځېدو د دې پتنګ، باندي روشن دا انجمن دی
حسن هم هغه یو حسن، دی خو ښکاري په هرڅيز کښې
ګویا دا ده شېريني هم، بې ستون دی هم کوهکن دی
د ملت او د آئین، تمیز قومونه کړل برباد
اې زما وطندارانو، څه مو غم هم د وطن دی
اوږدوالی د داستان مي، راښيي راته سکوت
ګني ژبه لرم خوله کښې، راکښې تاب هم د سخن دی
د معنی رېنګه مې پرېکړه، چي کوتاه رانه نه شوله
دا قیصه ډېره اوږده وه، نو په چوپ مي وويله

# د بیلتانه ژړا

## (د ارنلډ په یاد کښې)

لاړ استوګنې په مغرب کړه، اې مکانه ستا مکین
آه- ارمان چې خوښ یې نه شه، د مشرق دا سر زمین
راغی نن دې صداقت، باندې زما د زړه یقین
رڼا ورځ هم تیاره شپه وي، د مهجور او اندوهګین
"چې له غېږې د رخصت یې، د حیرت داغ دی اخستی
لکه مړه شمع مې سترګو، کښې نظر دی خوب راوستی"
آبادئ کښې زه بوګنېږم، ځان له ګټ یو خوښوم زه
سودايي یمه سودا کښې، ځم له ښار څخه ووزم زه
په یاداښت د تېرو ورځو، باندې خپل زړه تړپوم زه
ستا طرف ته تسلیٰ دپاره زر در دو کوم زه
که مې ستا در او دېوار، سره د سترګو بلدتیا ده
خو پیدا بېګانګي اوس، قدمونو کښې زما ده
دا ذره د زړه زما وه، لمر سره اشنا کېدونکې
ماته شوې ائینه مې، د عالم وه راښودونکې
کرونده د امیدونو، زما وه راټوکېدونکې
آه- خبر نه وم چې څه نه، راته څه ده پېښېدونکې
زما باغ نه د رحمت، وریځ لمن راښکله لاړه
په غوټو د امیدونو، لږه اووريده لاړه

ته یې چیرته اې کلیمه! پاس د علم په سینا
ستا د ساه موجونه علم، ته هوا وه روح افزا
اوس مې شوق د منزل چیرته، دی د علم په صحرا
ستا تر دمه زموږ سر کښې، هم د علم وه سودا
"شور د حسن د لیلا، کوم دی چې بیا سودا پیدا کړي
د مجنون خاوره ګرځونه، مینځ ومان کښې د صحراکړې"
د وحشت لاس به مې پرې کړي، دغه غوټه د تقدیر
در رسېږم به شلوم به، د پنجاب دغه ځنځیر
ګوري دا حیراني سترګې، ستا تصویر ته په ځیر ځیر
تسلي مې په دې نه شي، چې عاشق یم د تقریر
"د وینا طاقت یې نشته، بې زبانه دی تصویر
خو په چوپه چوپتیایي کښې، هم ګویانه دی تصویر"

## سپوږمۍ

د کندړ نه په کروهونو، زما لیري ستا وطن دی
خو دریاب زما د زړه ستا، په کشش باندې موجزن دی
کوم محفل ته یې روانه، او راځې له کوم محفل نه
مخ دې زیړ دی تښتېدلې، جوړ یې سترې له منزل نه
پیدایښت د کایناتو کښې، ته نور یې زه ظلمت یم
خو سره د توربختۍ هم، تا سره زه هم قسمت یم

د دیدن د ارمان سوز نه، آه- زه سوځم په ځیګر
او ته سر تر نوکه سوځې، د منت په داغ له لمر
که قایم یوه حلقه، باندي دی ستا دغه رفتار
خو زما هم ګرځېدل، لکه ګردش دی د پرکار
د ژوندون په لاره ته یې، سرګردانه زه حیران یم
په محفل کښې د هستۍ ته، کړې رڼا او زه سوزان یم
ته هم لاره د منزل یې، زه په لاره د منزل کښې
خاموشي مو هم یوه ده، زما زړه دی ستا محفل کښې
که ستا خوی دی د سوالګرو، نو زما هم دا دستور دی
که ستا نور دغه رڼا ده، نو زما هم مینه نور دی
که په خپل بزم کښې ته یې، بس یواځې په خپل ځان کښې
زه هم یم یکې یواځې، په دې دومره لوی جهان کښې
ستا دپاره پلوشې که، دي د لمر باد د اجل
زما حق کښې ده برقا، برېښنا د حسن د ازل
خو ایې سپینې سپوږمۍ بیا هم، زه یم بېل ته ما نه بېله
په سینه کښې چې مې درد وي، هغه وي هرچا نه بېله
"که ته سر تر پایه نور یې، زه ظلمت یم سر تر پایه
خو چې ځان نه خبر نه یې، ټول ښایست دي دی بې ځایه
کوم مقصد د پیدایش چې، زما دی ما ته معلوم دی
دا رڼا داسي برېښنا ده، چې تندی ترې ستا محروم دی"

# بلال رض

ستا د مقدر ستوري، شغلې چي برېښېدې
حبش نه يې اوچت کړې، او حجاز تې راوستې
هم دی نه غمکده کښې، دي شوې جوړي آبادئ
قربان دي غلامئ نه، شه زرګونه آزادئ
خلاصه درنه نه شوه، يوه لحظه هغه درشل
خوندونه دي د ظلم، د چا شوق کښې اخيستل
په عشق کښې چي جفا، کيږي هغه نه وي جفا
مينه کښې ستم چي، نه وي هيڅ نه وي مزا
په شان د سليمان، اداشناس وو ستا نظر
شرابو د ديدن کښې، به کړې نور تندی اوتر
سودا د نندارو وه، د کليم رض غوندي ستا هم
اويس رض په دې ارمان وو، چي ديدن ته يې وی زغم
دغه مدينه وه، ګويا ستا د نظر نور وو
دا د کاڼو شګو، صحرا ستا دپاره طور وو
نظر دي په ديدن کښې، د ديدن وو په ارمان
خوشحال وي په ترپا زړه، چي آرام نه کړي يو آن
ستا په بېقراره روح، چي پړق شو د برېښنا
کړه دي سياهئ، يدِبيضا پوري خندا
تاو وو د شعلې چي، ستا په زړه باندي يې وار کړو
څه د ميني برق وو، چي پر سر يې ستا ګزار وو

ادا دي د ديدن څه وه، چي سر تر نوکه نياز وو
کتل دي په يو مخ چا ته، هم دغه ستا نماز وو
اذان شه د ازل نه، ستا د مينی ترانه
د دغه نندارې، د پاره مونځ يوه بهانه
ښه وو هغه وخت چي، د هغوی ﷺ يثرب مقام وو
ښه خو هغه دور وو، چي ديدن د هغوی ﷺ عام وو

## د ادم سرگزشت

د غربت داستان مي دادی وادي وري له ما څوک
هېره کړه قيصه هغه د لوظِ اولين ما
د جنت باغ مي پرې نه ووت طبعيت ته
هر چي وڅښه د شعور جام آتشين ما
د عالم د حقيقت په لټون سر شوم
نو ښکاره کړه اوچت خيال فلک نشين ما
چي مزاج مي په يو حال نه حصاريږي
قراري چيري ونه کړه پر زمين ما
کله و ايستل بتان مي له حرم نه
او بيا کله کړل بتان حرم نشين ما

کله شوق کښې د خبرو لاړم طور ته
راوړه پټ ازلي نور چې په آستين ما

کله خپلو په صليب چې اوېزان کړم
نو آسمان ته لاړم پرېښوو زمين ما
کله پټ د حرا غار کښې په کلونو
بيا جهان ته ورکړو جامِ آخرين ما
رباني سرود مې واوروه په هند کښې
کله خوښ د يونان کړلو سرزمين ما
هندوستان چې بيا زما آواز وانهورېد
نو آباد کړلو جاپان او ملک د چين ما
کله دا عالم مې جوړ کړو له ذرو نه
برخلاف د تعليماتو نه د دين ما
ډېرې مځکې مې په وينو باندې سرې کړې
چې شروع کړه جنګ د عقل او د دين ما
چې دستورو حقيقت باندې پوه نه شوم
په دې خيال کښې رونې شپې کړلې غمګين ما
د ګرجو تورو ونه شوم وېرولای
آخر پوه کړل په ګردش د دې زمين ما
د کشش راز مې ښرګند کړلو دنيا ته
چې په سترګو د خرد کړلو دوربين ما
پلوشې چې مې د برق را ونيولې
نو جنت سره کړو سيال دا سرزمين ما

خو افسوس چې د هستۍ په راز پوه نه شوم
که په عقل کړه دنیا زېرِ نګین ما
چې آخر شوې نندارچنې سترګې بېرته
نو په زړه کښې هغه ومینده مکین ما

# د هند ترانه

د ټول جهان نه ښکلې، ښه زموږه هندوستان دی
موږ يې بلبلان يو، او دا مو ګلستان دی
موږ که هر وطن کښې يو، زړه مو خپل وطن کښې دی
پوه شه چې هم دلته کښې، زړه مو اوېزان دی
غر د همالې چې دی، کړې سيالي اسمان سره
دغه څوکېدار زموږ، دغه مو پاسبان دی
کړې غېږه کښې تل لوبې، توی ګانې ولې دېرې
د دې په برکت دی، خالص جنت نښان دی
اې د ګنګا سينده، ستا هغه ورځ ده ياده؟
کوز شوی ستا پر غاړه، زموږه چې کاروان دی
نه ښايي مذهب چا ته، يو بل سره جنګ جدل
موږ ټول هندوستانيان يو، وطن مو هندوستان دی

ټول ورک شو له دنیا نه، یونان مصر که روم دی
باقي ولي تر ننه، زموږ ښه نوم او نښان دی
چل څه دی؟ ورانېږي، هستي مو له دنیا نه
پېړو راسي دښمن که، ګردش مو د دوران دی
اقباله! څوک دي نشته، رازدار په دې جهان کښې
معلوم وو چا ته کله، د ژوبل زړه نښان دی

# اور اورکَی

رڼا اور اورکی کوي، جونګړې د چمن کښې
که شمع ده بلېږي، د ګلونو انجمن کښې
راغلی له اسمانه، جوړي ستوری دی رالوتی
یا روح دی د سپوږمۍ، د پلوشو په سپین بدن کښې
یا ورځي رالېږلی، خپل سفیر دی د شپې ملک ته
ځلېږي پردي ملک کښې، چې ګمنام و خپل وطن کښې
تنۍ چیرته راپرېوتې، ده د میاشتي د قبا نه
که دا یوه ذره ښکاري، د لمر په پېرهن کښې
برېښنا چیرته کښې پټه، د قدیم حسن پرته وه
را واخیسته قدرت، خلوت نه راوړه انجمن کښې
وړه غوندي سپوږمۍ ده، کله نور کله تورتم شي
پربږدي یې کله تندر، کله یې نیسي په لمن کښې

پتنګ خو دی پتنګ، اوراورکی هم یو پتنګ دی
هغه ګرځي رڼا پسې، او دی په رڼا رنګ دی
هر څیز ته په جهان، قدرت ورکړې دلبرئ
پتنګ لره یې تاو، اوراورکي ته رڼایئ
مارغانو بې زبانو، ته یې ورکړ ښه آواز
ګل ته یې ژبه ورکړه، هم تعلیم د خاموشئ
زوال کښې چې خوبي وه، د شفق د ننداریې
نو اوېې پړقوله، دا په لړي زندګئ
رنګین یې کړ سحر، لکه چې وي پی مخې ناوې
جوړه یې سره اغوستې، د شبنم ده آینه یې
ونو ته یې سیوری، او هوا ته الوتنه
اوبو ته رواني شوې، د څپو ناقلارئ
خو دغه امتیاز، هسې خبره وه زموږ
شبتاب هم هغه ورځ شوه، چې تیاره شپه وه زموږ
پیدا د ازلي حسن، هر څیز کښې ده پړقا
خبره بنیادم کښې، او غنچه کښې ده خندا
سپوږمۍ چې پر اسمان ده، وایه زړه دی د شاعر
دلته د دړد څړیکه ده، او هلته کښې رڼا
انداز د خبرلوسو، دهوکه کوي کني نو
نغمه د بلبل بونی دی، او د ګل بونی دی چغا
پنهان شو په کثرت کښې، هغه راز چې د وحدت وو
هم هغه ګل کښې بوی دی، چې جګنو کښې ده برېښنا

بیا دغه اختلاف دي، د شرشور ولي محل وي؟
هر څيز کښې پرتې پټې، خاموشي چې د ازل وي

# د صبا سترګه

وایمه ګوانډ چې مي، د شمس او قمر پرېښوئ
او بل دغه خدمت مي، د پیغام د سحر پرېښوئ
ښه زما په حق کښې، نه دی ستورو سره ژوند
کښته مځکه ښه ده، نه چې دا مقام بلند
څه کړمه اسمان، عدم آباد زما وطن دی
څيري د صبا لمن، په سل ځای مي کفن دی
هره ورځ قسمت مي، مړه کېدل ژوندی کېدل دي
له لاسه د ساقي د مرګ شراب صبوحي څښل دي
په کار مي نه خدمت دی، نه عزت نه مي رفعت دی
یوه ګړۍ ځلقا نه، زما خوښ هسي ظلمت دی
وس که رسېدی مي، زه به نه وم ستوری شوی
په تل کښې د دریاب به، مرغلره وی پرته وی
هلته هم که جنګ نه، د موجونو وای تنګ شوی
هار کښې به د غاړي، د چا ځای وای ما نیولی
مزه شته په بړقا کښې، چې د حسن شي زیور
څنګه خوند کړي تاج کښې، د بېګمي د قیصر

بخت د کاڼي ګوره، چي را وينې شو په کوم آن
ګوته کښې غمی شولو، په لاس د سليمان
خو بيا د دې ځيزونو، چي آخر فنا کېدل دي
وي که قېمتي ګوهر، انجام يې ماتېدل دي
هغه دی ژوندون چي، خبر نه وي په اجل
څه وي هغه ژوند چي، يې وي وېره د اجل
دغه که انجام دی، د ښايست د دې عالم
ولې نه پرېوځم، چي په ګل شمه شبنم
اوسمه د چا، د سپين تندي په ستارو کښې
يا د چا مظلوم، د اسويلو په شرارو کښې

اوښکه شم په څوکو، د ښو کښې را کښې نه وځم
ولې لا د داسي، بي بي سترګو نه پرې نه وځم
وي چي يې څښتن، اغوستې زغره وي روان
ميني د وطن کښې، لټوي د جنګ ميدان
اميد او ناميندی کښې، ننداري چي دا ښيي
چوپه هم داسي وي، چي تقريرونه شرموي
طاقت ورته د صبر، چي رضا د څښتن ورکړي
نظر ته يې حيا، تاب وطاقت د ګفتن ورکړي
وخت کښې د رخصت، سره اننګي شي کور کمان
نور هم حسن رنګ راوړي، په غم کښې د هجران
ما ايساروي که، زه به کله ايسارېږم
سترګو نه د اوښکو، سره زه به راغورځېږم

خاورو کښې چې غیب شم، ابدي ژوندون بۀ وموم
سوز د محبت به، زمانې وته زه وښایم

## د هندوستاني بچو قومي سندره

چشتي چې په کوم ملک کښې، د حق وکړو بیان
نانک چې کوم چمن کښې، توحید کړ ورعیان
وطن یې ورته ووېل، چې راغلل تاتاریان
عربو نه یې هېر کړو، د خپل ملک ریګستان

هغه زما وطن دی هغه زما وطن دی

چې خپل قابلیت ته یې، حیران کړه یونانیان
په علم او هنر یې، ښه اوپاله جهان
په خاورو کښې د زرو، تاثیر ایښی سبحان
جولۍ د مرغلرو، ډکې تېر پرې شو ترکان

هغه زما وطن دی هغه زما وطن دی

اسمان نه د فارس چي، کوم ستوری وو راغلي
بیا چا چي کهکشان نه، هغه وو ځلولي
بیتونه د وحدت ترې، دنیا وو اورېدلي
بویونه يې سردار ﷺ ته د عربو رسېدلي

هغه زما وطن دی هغه زما وطن دی

بندیان يې کلیمیان دي، دي غرونه يې سینا
د نوح نبي راغلې، چي چیرته سفینا
رفعت چي يې له مځکي، اسمان ته دی زینا
ژوندون په کښې ګویا چي، جنت کښې د سینا

هغه زما وطن دی هغه زما وطن دی

# نوی درمسال

رښتیا وایم بامبړه! که ته نه کوې خفګان
دې ستا صنم خانو کښې، زاړه شوي دي بتان
دی خپلو سره بغض، تا زده کړی له بتانو
نښلولي خدای په جنګ، او په جدل دي واعظان
شوم تنګ نو آخر ما خو، درمسال او حرم پرېښو
ما پرېښو د واعظ وعظ، هم ستا قیصې داستان

د کاڼو په بتانو کښې، ګڼې ته چې مولا دی
د ملک د خاوري هره ذره، ما وته ديوتا دی
راځه د پرديوالي، چې پردې لري کړو له ځانه
بيل شوي کړو يو ځای، او د دوه والي نښه ورانه
مودو راسي د زړه چې، مو دنيا سړه پرته ده
راځه نوي شواله، چې کړو په دې ملک کښې ودانه
زيارت له زيارتونو، د دنيا چې مو اوچت وي
چې څوکه د ګنبدي، رسي بره تر اسمانه
او هر سهار به وايو، موږ خوږې خوږې منترې
ځکوو به منجاورو به، د ميني مې هر خوانه
د ميني په سندرو، کښې د زړهٔ آرام طاقت شته
د مځکي اوسېدونکو، له خلاصي په محبت شته

# داغ

مودې وشوې چې"غالب"وې،توري خاوري اغوستلې
"مېر" "مهدي" "مجروح" پخواده، دلحد دېره نيولې
ماته شوې ده مينا د مينايي، پردي وطن کښې
لاتراوسه يې د صهبا شته کيف، ککو د انجمن کښې
ولي نن په يوه چيغه، ټول چمن دی په ماتم کښې
هغه بله شمع مړه شوه، نو محفل دی په تورتم کښې

د ډيلي بلبل په هغه، باغ کښې جاله واچوله
چې د ټولو بلبلانو، د هستۍ ده هلته ډله
آه- چې لاړ له دې جهانه، داغ اوږو باندې روان دی
آخري شاعر نن چپ شه، سوړ سمخ په ده جهان دی
اوس هغه شاعري چرته، شوخي کوم ده د بيان
سپينې ږيري د پيرۍ کښې، د ځوانۍ ده پټ نيران
کوم ارمان د "داغ" په ژبه، چې وو شته دی په هر زړه کښې
د معنا ليلا وه هلته، ښکاره دلته په پړده کښې
اوس پوښتي به څوک صبا نه، د چوپوالي د ګلزار
څوک به پوه شي چې چغار کښې، د بلبلو څه دی راز
حقيقت نه غافل نه وو، د فکرونو په پرواز کښې
د مارغۀ نظر په جال وو، که ډېر به وو فراز کښې
نور به وښيي اوس موږ، ته باريکياني د مضمون
په خپل فکر اسمانونو، کښې نکتو پسې لټون

څوک به پاسي په نقشو، د تريخ دوران به مو ژړيي
ډېر به نوې دنياګۍ، د تخيل راښکاره کيي
دې چمن کښې به پيدا شي، بلبلان د شيراز هم ډېر
په سوونو سحرګر هم، صاحبان د اعجاز هم ډېر
په زرګونو آذران به، وي د شعر بت خانو کښې
هم ځښوي نوی ساقي به، شراب نوو پيمانو کښې
وو به کښلی شي د زړۀ، د کتاب ډېر ډېر تفسيرونه
وبه شي د ځوانۍ خوبه، ستا بې شماره تعبيرونه

لېکن هوبهو د عشق به، راته جوړ کاندي تصوير څوک؟
تېرانداز چي لاړ نو ولي، به د زړهٔ به موسه تېر څوک؟
زه د اوښکو دانې مځکه، کښې د شعر چي کرمه
د ډيلي خاورې! ته هم ژاړه، د داغ زه وير کومه
اې جهان آباده! پنګه، چي د شعر وسخن ته يې
په خزان نن پامال شوى، تالا شوى چمن ته يې
رنګين ګل د ګلستان نه، نن د بوى غوندي رخصت شه
آه- له "داغ" نه چي حالي اوس، د اردو کلی محلت شه
راته ښکار کشش نه وو، هيڅ په خاوره د وطن کښې
هغه مياشت د څوارلسمي، چي شوه پټه په دکن کښې
ټول ساقيان لاړه رخصت شو، ميخانه شوه خالي پاتې
د يادګار په طور د بزم، د ډيلي شه خالي پاتې
د اجل ستم په وينو، آرزوګاني ژړوي نن
د اجل ښکاري په توره، تياره غشي چلوي نن
خو ګيلې دپاره نه شي، خوځېداى چيرې زبان مو
د خزان په تلو راتلو دى، تل قائم دا ګلستان مو
يو قانون دى عالم ګير چي، دغه ټول يې دى اثر
باغ نه بوى د ګل ګلچين هم، له دنيا نه کړي سفر

# وريځ

راپورته نمر خاته نه، شوې نن بيا وريځې توري
نن بيا د سربن غر، توري جامې واغوستې نوري
چې مخ شو د لمر پټ، لمني لاندي د وريځې
سوره شوه هوا يخه، مشكي باندي د وريځې
غراره نشته او شور نشته، خاموش دى دا غروسكى
عجبه تماشه ده، وي دا بې غرا غروسكى
چمن ته د دائمي، خوشۍ حكم وركوي به
قبا باندي د ګل هم، مرغلري ټكوهي به
ګلونه چي پيتاوي ته، ويده پراته وو ويښ شو
پراته د مځكي غېږه كښې، ويده چي څه وو ويښ شو
را وختې را زياتې شوې، خورې شوې په هوا
اې ګوره ورنده شولې، وريځې دا دي دا
عجبه ده خيمه په سر، د ونو د كوهسار
په كندو ګرځېدونكي، دي هم دلته كړي قرار

# يو مرغى او اوركى

راغى يو مرغى، سري ماښام كښېنوست په ونې
سندرې يې ويلې، رنګارنګ په كښې ستاينې

ښکاره ورته په مځکه، شه یو شی وو ځلېدونکی
را والوته چي دا، اوراورکی دی پړقیدونکی
اوراورکي ووېل اې مرغیه! سندر ماره
مشوکه دي ساته، د بې وسانو له آوازه
ګل ته چي چا بوی، ورکړ او تاته يې چغار
هم هغه الله ما ته، راکړې دا پړقار
راکړی پاک الله دی، دا خلعت راته د نور
په ټولو پتنګانو کښې، زه یم لکه د طور
چغارې ستا ښېشکه، چي جنت دی د غوږونو
زما پړقا خو هم ده، یو جنت د نظرونو
قدرت زما وزرو، ته بخښلې ده رڼا
او تا ته يې درکړی، یو آواز دی دلربا
قدرت چي ورښیلې، ده سندره ستا منقار ته
زه هم هغه ورکړی یم، مشال غوندي ګلزار ته
پړقا يې راکړه ما ته، او آواز يې تاته درکړ
ښه سوز يې را کړ ما ته، چي ښه ساز يې تا ته درکړ
هیڅ کله مخالف نه وي، له سازه سره سوز
میندی شي په دنیا، همېشه ساز خوا کښې د سوز
دا بزم د هستی، په دغه دواړو دی قایم
کمال دی که زوال، د دوی په وجه دی دایم
د دواړو په سمون، باندي روان دی دا جهان
د دوی له برکته، دی سپرلی د دې بوستان

# شمع او ماشوم

څومره حیراني ده، اې ماشومه! پټنګ خویه
ګورې په پارونو، چې ته شمعې ته ګل رویه!
ناست زما په غېږه کښې، بیا بیا ولې خوځېږې؟
دا ته جوړې د شمعې، را نیوو ته هوسیږې
دغې نندارې ته ستا، وړوکی زړه حیران دی
جوړ د څه لیدلي شي، ښکاره درته نښان دی
شمع خو شعله ده، او ته سر تر سره نور یې
آه- په دې محفل کښې، دا بربنډه ته مستور یې

خدای خبر چې ولې، دا قدرت کړله عریانه
ته یې د تورو خاورو، په فانوس کښې کړې پنهانه
پټ شولو ستا نور، ستا په نقاب د آګاهۍ
ګرد وي نرو سترګو ته، حجاب د آګاهۍ
ژوند چې شي ویلاې، ورته دا فراموشي ده
خوب دی او غفلت دی، سرمستي ده، بې هوشي ده
بزم د قدرت د حسن، سیند دی بې پایان
دی یې په هر ځاځکي کښې، د حسن یو طوفان
حسن دی د غرونو، هیبتناکي خاموشۍ کښې
نور کښې د افتاب دی، او د شپې سیاه پوشۍ کښې
هم دی د اسمان، د سپین صبا آینه پوشۍ کښې
دی په تور ماښام کښې، د شفق ګلفروشۍ کښې

د تېرو ورانيدونکي، عظمتونو په آثار کښې
هم د يو ماشوم، په کوششونو د ګفتار کښې
هم د ګلشنيانو، په يو راګ آواز ايستلو کښې
هم دی د وړو، مرغيو جاله جوړولو کښې
چينو کښې دی د غرونو، د درياب په آزادۍ کښې
ښارونو کښې صحرا کښې، هم ويجاړه ابادۍ کښې
لېکن د روح په زړه کښې، د يو ورک څيز دی هوس
ګني نو ولې ژاړي؟ په صحرا لکه جرس
حسن که عام شوی دی، خو دی په کښې کرياب دی
کب چي له اوبو نه کړئ، بهر داسي بېتاب دی

# د راوي په غاړه

د ماښام چوپه چوپتيا کښې، په سندرو دی راوي
تپوس مه کړه د زړه مي، چي پرې کوم کيف دی طاري
پېغامونه د سجدو شو، دغه زېر دغه بم ما ته
تمامي جهان نظر کښې، شو اطراف د حرم ما ته
د روانو اوبو غاړه، باندي زه يمه ولاړ
خبر نه يم هيڅ له ځانه، چي په څه يمه ولاړ
رنګينه په سرو شرابو، شوه لمنه د ماښام
دی بوډا اسمان رااخيستی، رپېدلی لاس کښې جام

قافله د ورځې لاړه، آخرت ته په فرفر
دا شفق نه دی ګویا که، دا ګلونه دي د نمر
هغه لري د "يواځي، ورځي" شان چي زياتوي
منارې د مقبرې، د جهانګير دی ځان ښيي
افسانه د ناکړدو، د انقلاب دغه مقام دی
د سلف له زمانې، ځنې کتاب دغه مقام دی
دا مقام څه دی ګويا که، يو سرود دی خو خاموش دی
ونې څه دي؟ دا ګويا که، انجمن دی بې خروش دی
په سينه د سيند روانه، يو کشتۍ ده تنده زغلي
دې د موج سره په جنګ دی، دې ماښکی مټي نغښتلي
داسي سپکه ده په تلو کښې، دا کښتۍ لکه نظر
اووته د سترګو ښکار نه، نه رسي ورته نظر
د بنده د ژوند جهاز هم، ځي په تيزه ادا داسي
د ابد په سيند لاهو دی، په مخ داسي په شا داسي
د ماهي سره هيچيري، دا جهاز نه اشنا کيږي
له نظر نه هسي پټ شي، ولي نه چي فنا کيږي

# د مسافر سوال

## ((د ډيلي د حضرت محبوب الٰهي (نظام الدین رح) په دربار کښې))

فرښتې دي چې ستا نوم يې وظيفه دی
لوی دربار لرې فيضونه دي عام ستا
ستوري ستا د عشق کشش باندي قايم دي
د نظام د لمر په شان دی نظام ستا
ستا د قبر زيارت ژوند دی د زړګيو
له عيسٰیء خضرء نه لوړ دی مقام ستا
پټ دی رنګ د محبوب توب ستا محبت کښې
لوی دي شان دی ډېر دی زيات احترام ستا
که "تور زړه" يم نو داغ ستا د لاله زار يم
که "روڼ مخی" يم نو ګل ستا د بهار يم
لکه بوی د ګل را ووتم چمن نه
دی قبول ماته د صبر امتحان
خوند د علم د وطن نګارخانې نه
يم ويستلی په وچ زور راکښلی شان
لکه ونه د صحرا وريځ ته ګورم
منت بار نه کړمه خدای زه د باغوان
رابخشش ستا په دعا داسي پوړۍ شوې
چي د لمر په شان وخېژم په اسمان
شوې ملګرو د سفر نه دومره وړاندي

چې مې ځای د مقصود وګنې کاروان
د چا زړه نه شو آزار مې د قلم نه
ګیله مند نه وې هیچا نه په هیڅ شان
د ړمنځ په شان چې زړه اره اره کړي
هسې را کاندي د خپل در نه فغان
جوړه کړې چې مې وه له خسو پسو
کړی ښکاره درته چمن کښې آشیان
چې بیا راشم او د مور پلار په پښو پرېوځم
چې هغوی کړلم د مینې زه رازدان
هغه شمع د تبر د مرتضیٰ چې
د حرم په شان یې دی ما ته آستان
د آرزو غوټۍ مې ګل د ده په دم شوه
او د ده په دوستۍ شولم نکته دان
د اسمان مځکي خاوند نه دعا غواړه
چې یې بیا زه په دیدن شمه شادمان
هغه دوهم یوسف زما د عشق شمع
چې د ده په وروروليۍ ومینديځ ځان
چې د "زه او ته" دفتر یې مینې وسوه
په عیشونو کښې یې لوی کړم شومه ځوان
د دنیا باغ کښې د ګل غوندې خندان وي
دی له ځان نه راته خوږ دا جان جان
ګل دې شي د زړه غوټۍ نه چې ملوله
دا دعا د مسافر دې شي قبوله

# غزلونه

دی ګلزار د هست وبود ته، بېګانه غوندي مه ګوره
د کتلو او ليدلو، څيز دی بيا بيا يې ښه ګوره

ته جهان کښې يې راغلی، په مثال د يو بڅرکي
چي په دې نا پايښته ژوند، چيري نه شې دهوکه ګوره!

دا منم چي په هيڅ شان زه، قابل ستا د ديدن نه يم
ته زما دی شوق ته ګوره، انتظار ته مي ښه ګوره!

که ارمان د ديدنونو، وای ستا سترګي غړولې
نو په هره لار کښې پل، د خپل اشنا د پښې ته ګوره

نه راتلې به زما دې کښې تکرار څه وو
خو وعده که دي وای کړې نو عار څۀ وو

پټ رازونه دي د ټول جهان ښکاره کړل
د بنده دې کښې قصور اې سرکار څه وو؟

ډک مجلس کښې يې خپل عاشق په نظر واخيست
مستو سترګو کښې د کسې هوشيار څه وو؟

په راتلو کښې خو يې ځنډ وو اې قاصده!
ولې وايه چې يې شان د انکار څه وو؟

خود په خپله موسیٰؑ راکښلې شو طور ته
شوقه! تا کښې دا کشش د ديدار څه و؟

چرته ذکر دي هم شته دی اې اقباله!
يو جادو غوندي و نور ستا ګفتار څه وو؟

عجيبه ده دينداري د واعظ خدايه!
چې دښمن دی خامخا د ټول جهان

په دې راز باندي تر اوسه څوک پوه نه شو
چي له کومه راغی چیرته ځي انسان؟

چي رڼا ستورو له کوم ځای نه ده میندلې؟
تیاره اوموندە شپې هغلته په ځان

موږ د خپلې دردمندۍ افسانه اورو
له هغه نه چي زموږه دی راز دان

د واعظ صاحب چلونه ډېر باریک دي
وه اورپېږي چي تر غوږ یې شي اذان

راوړمه څه داسي چخچی ځالي جوړولو ته
تندر ناقلار چي د هغې وي سوځولو ته

های- نامراد قسمت یې بس هم هغه څانګه ماته کړه
ما چي وه میرلې خپلې ځالي جوړولو ته

ستړکي دي د دوه اويا فرقو سره ليدل کوي
ستا خو دی يو جام ټولي دنيا باندي ښيښلو ته

داسي يو ارمان مي خپل زړګي کښې را پيدا کړلئ
بيا چي شوی راستون اسمان زما فنا کولو ته

جوړه کړه راشه ړومبی دانه دانه راغونډه کړه
تندر به را ورسي يو خوا نه سوځولو ته

دا خو د ښکاري په نامرادۍ مي وسو زړه ګني
چرته زه او چرته مي يوې دانې راتللو ته

نه دي وايي زړه د آزادۍ غزل په دې چمن
آه- چي دا ګلشن نه دی دا رنګ غزل ويلو ته

نه پوهېږم چي زه شومه، خپل چمن نه جدا څنګه؟
ونښتمه چي په دام کښې، د حرص او هوا څنګه؟

زه حيران يم بدعمله، چې د ټولي زمانې يم
نو خلعت د شرافت بيا، ما ته شو را عطا څنګه؟

تقاضا واړه د طور وه، د ښودلو، د ليدلو
څه خبر يې اې زړګيه! چې وشوه فيصله څنګه؟

دا هم ده يو مدعا چې، مدعا مې ده څه نه وي
بيا د زړه مارغه له دامه، د آرزو دي رها څنګه؟

د نظر خاوند خو دلته، کښې دي هم په هر شان ويني
بيا د صبر ازمېښتونه، د قيامت تر صبا څنګه؟

هسي نه چې کامل حسن يې، سبب د بې ستړۍ وي
ګني پټه وه پړدو کښې، هغه شه خودنما څنګه؟

لا نسخه د مرګخو پاتې ده، اې دړده! د ښلتون مې
دا طبيب سم لېونی دی، ګني يم لا دوا څنګه؟

چيري تاسو دي کتلي، ګل ته اې د عبرت سترګو!
چې له خاورو نه پيدا شه، رنګينه يې قبا څنګه؟

د عمل په تپوسونو يې، مراد دا وو چې رسوا شم
ګني هرڅه ورښکاره وو، چې څه وشو او يا څنګه؟

ننداره د نښت کېدو مې، د ليدو قابل يو څيز دی
څه به وايم پېښه وشوه، د هغه او زما څنګه؟

دا څه بل شان خلق دی، له دين دنيا وتلي دي
خدايه! عاشقان لا، اوسېدونکي د کوم کلي دي

زه د دړد علاج کنبې، په لذت د دړد عاشق يمه
ازغي مې له تڼاکو، نه په ستيني را ايستلي دي

شېرازه دي وي ربه، دا چمن د اميدونو مې
وينو د ځيګر باندي، مې دا بوټي پاللي دي

دغه خاموشي د ستورو، تل مې ژړوي د شپې
عشق مې دی بل شان، چيغې مې بل شانې ايستلي دي

خونه چې شي ورانه، څنګه خوند کوي دا مه پوښته
جالي مې سوونه، جوړي کړې هم سوځلي دي

ښه بېګانګي نه ده، د لاري د ملګري نه
اودرېږه بڅريه! موږ خو هم کډېږ ترلي دي

ښکاري په ظاهر خو، سم ساده سړی واعظ، ولې؟
طمعې د جنت د حورو هرڅه ور ښودلي دي

ولې به په ما اقباله! خپله اشعار ښه نه لګي
ما چي له مات زړه نه د دړد چيغي را ايستلي دي

نه دي کړي د سره په سترګو تماشا څوک
د زړه سترګي دي ديدن ته کړي بينا څوک

خپلې خولې منصور راورساوه دار ته
اوس به څه د چا عشق کوي دعوٰی څوک

د ديدن ارماني سترګي دي کړه پټې
دا لېده دي چي يې نه کړي تمنا څوک

زه د مينې، ته د حسن انتها يې
ما ته وګورې که ستا کړي تماشا څوک

عذر ښه د عشق ګناه ته د يار حسن
په محشر دي عذر بل نه کړي پيدا څوک

نه پټيږي چې د شوق نظر ملګريه!
نو په کومه طريقه يې ګورې بيا څوک

په کوم خيال باندې موسیٰؑ ديدار غوښتلو؟
چې يې زور لرې نو کړي دي تقاضا څوک

د ښو ځنبل هم بار په ننداره شه
بيا دې ګورې د نرګس په سترګو تا څوک

د آرزو د شوق مزې به ورښکاره شي
که دوه ورځې تمنا وکړي زما څوک

څه ووايم چې تر کومه، عاشقي مې ده ارمان
چې رونق مې د بازار دی، تر سودا پورې د زيان

د ګل خیال مې تر هغې دی، چې ساقي نامهربان دی
که شراب يې ډېر ډېر راکړل، نو ګلزار به شم په ځان

ترهغې به ښکاره باغ کښې وي،چې ځوزه خوش آوازیم
تر هغې تندر بېتاب دی، چې مې راشي تر آشیان

موتي خاوره یم خو فیض، د پرېشانۍ کړمه صحرا زه
مه پوښته زما وسعت چې، دی له مځکې تر اسمان

یو جرس یم چې هر رګ کښې، مې ویده دي فریادونه
دغه چوپه ورځ مې چوپه، ده تر کوچه د کاروان

له سکون د زړه پیدا کړه، ته د کار ایستو سامان دي
ته سامان د کار ایستلو، کړه پیدا له اطمینان

چمن زار د محبت کښې، خاموشي مرګ دی بلبله!
دی ژوندون تر پابندۍ، پوري د رسم د فغان

ددیدن خوندتر ځوانۍ دی، د ارمان خوند تر ځوانۍ دی
آبادي زموږ د کور ده، تر هغې چې وي مهمان

زماخیال وو زما عشق، باندي خبر به بس رازدان وي
خو افسوس دی نادانیٔ چې یم رسوا پر ټول جهان

هغه څوک چې مې په مځکو اسمانونو لټولو
د خپل زړه توره کوټه کښې مې هغه هم ومیندلو

کاینات راته د خپل زړه، کوټکۍ کښې راښکاره شو
حقیقت چې مې د ځان په خپلو سترګو ولیدلو

د کعبې د درشل کاڼي، به هم ځان وای تندی کړی
که اخیستی یې څه خوند وای، د تندي د سولولو

چیرې خپله نندارہ دي، هم ده کړې اې مجنونه!
د لیلا په شان په خپله، ته هم شمېر کښې یې د ښکلو

د وصال میاشتې تېرېږي، لکه وې چې ساعتونه
بېلتانه یو یو ساعت هم، نن د میاشتو هومره کړلو

ته به څه لا بچ کوې مې، اې ماښکیه! په کښتېٔ کښې
خامخا هغه ډوبیږي، چې یې وي شوق د ډوبېدلو

هم هغه ناز افرین دی، جلوه ګر هر نازنین دی
چا چې خپل کلیم الله نه، به خپل حسن پټولو

مرې ډېوې شي بلولای، د دمونو په چوف باندي
الٰهي څه پټ پراته دي، په سینو د اهل دلو

که دي درد د زړه ارمان وي، کړه خدمت د فقیرانو
خزانو د بادشاهانو، کښې دانې دي د میندلو

مه پوښته د کند پوشانو، ارادت که دي وي ګوره
په لستوڼو کښې یې پټ، یدِ بیضا دی د لیدلو

ارماني چې نارسا، نظر د کومو نندارو دی
هغه شته په انجمن کښې، هم د دې خلوت نیولو

ته د زړه درمن په داسي، یو بځري فو فنا کړه
د قیامت لمر چې لېوال شي، ستا د وړو ټولولو

محبت دپاره ګوره، چي زړګی وي ماتېدونکی
دا شراب دي په نازکو، آبګینو کښې د ساتلو

چي عاشق دچادحسن، سرترپښو ښايست ښايست شي
زړه! بل داسي ښايسته شته دی؟ د زړګي د خوړولو

اوچت ټوپ کړو چا عاشق، د **ماعرفنا** په ادا دي
شوه رتبه اوچته پاتې، دي په ټولو نازولو

خپل جمال خو ورښکاره کړه، يو ګړی چي مودو راسي
باريک بينو کښې چرچې دي، ستا د شان معلومولو

چپ شه اې زړه!ډک مجلسکې،ايستل ښه نه دي دچيغو
محبت کښې ړومبی شرط دی، د ادب په لار د تللو

څوک چي ما باندي کړي شک، ورته زه بد ويلای نه شم
چي اقبال په ځان اړ نه دی، په شبهه او شک کولو

ستا د ميني انتها ته رسېدل غواړم
ساده توب ته مي وګوره کوم بورجل غواړم

که ستم وي او که لوظ د دیدنونو
که هرڅه وي زه خو صبر ازمېيل غواړم

زاهدانو ته جنت دي مبارک وي
زه خو بس يواځي ستا د زړه ليدل غواړم

يو پوټي غوندي زړه يم خو شوخي دومره
هم هغه **لن ترانې** زه اورېدل غواړم

د ساعت ګړی مېلمه يمه يارانو
د سحر ډيوه يم بس دی مړه کېدل غواړم

ډک مجلس کښې مي د راز خبرې وکړې
بې ادبه يمه ډېر سزا ميندل غواړم

د سخا لاس چي ور اوږد چيرې هغه بې نياز کړي
نو په خپله عاجزی به، عاجزان ولې نه نياز کړي؟

تا په عرش دی کښېنولی، راته وايه اې واعظه!
څنګه خدای دی چي، له خپلو بندګانو احتراز کړي

اې ساقي! زمانظر کښې،هغه ړوند خو هیڅ ړوند نه دی
په مستۍ اوهوشیارۍ کښې،چې څه فرق اوامتیاز کړي

تل دي غوږ زړه ته نیولی، لره دا یو داسې ساز دی
چې دی مات شي نو بیا هله، را پیدا د راز آواز کړي

دې واعظ نه تپوس وکړئ،چې ستادېکې څه تاوان دی؟
که رحمت په بې عمله، باندي هغه بې نیاز کړي

الٰهي دا سوز له کومه، په کلام کښې را پیدا شي؟
داسي شی دی دا چې کاڼی، هم د موم غوندي ګداز کړي

د لاله او ګلاب فرق دی، چې بلبل یې په ژړا کړو
دې جهان کښې دي څوک، بېرته نه چشمان د امتیاز کړي

دې غرور د زاهدۍ خو، دا واعظ ته وښیله
چې د خدای په بندګانو، پسې کومی د خولې واز کړي

اې اقباله! هوا داسي، ده په کار چې هندوستان نه
تااوچت کړي اوغبار دي، بیا په لار کښې د حجاز کړي

ټپروم سختۍ په زړه زه، او او له غير ځنې غافل يم
څنګه ښه يې دي ويلي، چې ظالم يم هم جاهل يم

زه تر هغې پوري ومه، ستا جلوې چې ښكاره نه وې
چې د حق څرګندېدو، باندي شي ورک هغه باطل يم

مرجوڼا سيند نه د علم، مرغلرې لاس کښې راوړې
بدنصيبه ټولونکی، د ټيکرو زه د ساحل يم

هم زما دا سپکه ورځ خو، څه دليل د شرافت دی
ملايک چې يې ژړېدلي، په غفلت هغه غافل يم

خپل ښايست باندي غاوره، د هستۍ محفله مه شې
تش تصوير ته د محفل يې، او زه اصل کښې محفل يم

اې اقباله! لټومه، ګرځم خپل ځان زه په خپله
ته به وايې زه په خپله، مسافر او هم منزل يم

مجنون ښار پرېښود نو ته صحرا هم پرېږده
نندارە که ښه کوې ليلا هم پرېږده

په کمال د ترک واعظه مراد میندی شې
چي دنيا دي پرېښوده عقبٰی هم پرېږده

له تقليد نه خو بهتره خودکشي ده
لار هم ګوره د رهبر سودا هم پرېږده

د قلم غوندي په خوله دي پردی حرف دی
بېګانه څيز باندي ناز بېجا هم پرېږده

مزه هله وي کلام کښې چي زړه خوږ وي
بسمل نه يې د ريا ترپا هم پرېږده

په ګل ژاړه او چمن نه ځه شبنم شه
په دې باغ کښې د قيام سودا هم پرېږده

عاشقۍ کښې دا دستور دی جدا کښېنه
هم حرم هم بت خانه ګرجا هم پرېږده

عبادت د خدای دی دا تجارت نه دی
تمنا د جزا مه کړه دا هم پرېږده

عقل ښه دی د زړګي چي پاسباني کړي
لېکن کله کله دی هم تنها پرېږده

هغه ژوند څه چي د بل په ساه تېرېږي
د شهرت د ژوندانه تکيا هم پرېږده

په بيا بيا سوال کښې شوخي ده خبرلوسه!
که رضا لټوې خواست دعا هم پرېږده

که واعظ چيري شراب څښل هم روا کړي
نو اقبال به ضد کړي دا روا هم پرېږده

# دوهمه برخه

**(له ۱۹۰۵م نه تر ۱۹۰۸م پورې)**

# محبت

د شپې د ناولې زلفې، ګل ګتې نه وې ليدلې
او ستورو لا د ټک، راتګ مزې نه وې ميندلې
سپوږمۍ نوي لباس کښې، بېګانه شان ښکارېدله
شپې ورځې د ګردش، ورباندي نه وې لا راغلې
دنيا را زومبېدلې، تش تېرو نه د امکان وه
لا پټې د ژوند لوبې، ټول عالم کښې خسېدلې
کمال د انتظام کښې، د هستۍ لا ابتدا وه
غمي ته په ښکاره، د ګوتي سترګي زيريدلې
دا اورو کيمياګر وو، يو عالم د ملکوت کښې
د جام د جم نه يې زياتي، د پښو خاورې ځلدلې
نسخه يو د اکثير وه، د عرش پښه باندي ليکلې
پټوله فرښتو به، د آدمء له سترګو غلې
لېکن د دې نسخې به، کېمياګر کړله څارنه
فايدې اسمِ اعظم نه، يې سيوا ورښکارېدلې
ور اورسېد تر عرشه، په بهانه د تسبيحاتو
آخر يې مرغلرې، د مقصود را وايستلې
بيا فکر د اجزاوو، په ميدان د امکان سر کړه
رازدار نه د حق کومي، لا خبري پټېدلې
يو داغ يې له سپوږمۍ وغوښت، او ستورو نه برېښنا ده
تېرې لګي د زلفو، نه د شپې يې ووهلې

بجلۍ ځنې يې وغوښته، ترپا پاکي له حورو
ګرمۍ پسې يې ساه ګانې، مسيحا نه واخيستلې
هم شان د بې نيازۍ يې، يو پوټی ربوبيت نه
څڅا يې له شبنم، له فرښتو عاجزۍ ښکلې
دا ټول يې چې اوبه بيا، په چينه کښې د ژوندون کړل
نامه د محبت يې، بيا له عرشه ده ميندلې
مهاوس چې دا اوبه، نوې هستۍ باندي ترمکه کړې
هنر يې د عالم، مشکلې غوټې وسپړدلې
ښکاره شو خوځېدل، او ذرو پرېښودل خوبونه
را پاڅېدې همدمو، سره غاړه غټۍ شولې
رفتار د مکېز اوميندلو، ستورو او لمرونو
غونچو غوړېدل اوميندل، او داغ لاله زارونو

# د حسن حقيقت

يوه ورځي ښايست وکړه، له الله پاک څخه سوال
تا ولې په جهان کښې، خدايه! نه کړم لازوال؟
جواب ورلره راغی، چې دنيا تصويرخانه ده
د عدم د اوږدې شپې، يوه رنګينه افسانه ده
رنګونو بدلېدو باندي، بنياد د دې دنيا دی
ښائسته هم هغه شی دی، حقيقت يې چې فنا دی

خبره دا تر غوږ چي، د سپوږمۍ ورسېدله
اسمان کښې شوه خوره، د صبا ستوري واورېدله
چي واورېدله دې ستوري، نو ويې کړه شبنم ته
خبره د اسمان ښکاره، د مځکي شوه محرم ته
اوښکې راغې د ګل سترګو کښې، چې واورېده شبنم نه
سرې وينې د غوټۍ، وړوکی زړه شولو د غم نه
چمن نه په ژړا، ژړا موده د سپرلي لاړه
ځواني راغلې سيل ته، وه خفه په زړګي لاړه

## پيغام

ته چي عشق واقف کړې، د ګرمۍ په ذوق نو ورکړه
دې محفل ته لکه شمع، خپل حاصل د سوز و ساز
دا د خدای شان دی چي ورکړي، چا ته عشق مشکل کشا
په جمات بتخانه نه ده، فضل دی د بې نياز
نوراني قبا که غواړې، تر هغې به يې وانخلې
چي ترڅو په ژړا نه شې، لکه شمع جان ګداز
په دې ستورو او سپوږمۍ کښې، هم سحر کښې جلوه ګر دی
خو ته مه اچوه سترګو، کښې رانجه د امتياز
عشق اوچت دی له رسمونو، دستورونو د دنيا نه
که ښايست په خپل ناز مست دی، جواب ورکړه ته په ناز

تش اثر د خوشحالۍ دی، د مغرب دسرو شرابو
کيف د غم نه شته په دې کښې، ما ته راکړه خانه ساز
اې ته نه يې پرې خبر څه؟ چي زوړ بزم خو بدل شو
خدای دپاره چي ورنه کړې، شراب دوی ته د مجاز

## سوامي رام تير تهه

سيند سره غاړه غړۍ شوې، لاړې څاڅکيه! بې تابه
ملغلره وې اول اوس، ملغلره شوې نايابه
آه- په څه شانې ښکاره کړو، تا د رنګ او د بوی راز
زه تر اوسه لا بندي يم، د دې دوو په امتياز
چي د ژوند غوغا شوه غلې، شور ترې جوړ شو د محشر
دا بڅرى چي شو مړ، آتشکده شوه د آذر
نېشت کول چي د هستۍ دی، کرشمه د زړه آګاه ده
چي د "لا" درياب کښې ډوبه، ملغلره "الاالله" ده
لکه ړندو سترګو نه پټه، تل معنا وي د انجام
له ودرېږي پاره چي، نو هغه شي سيمِ خام
ماتوي د هستۍ بت خو، چي وي عشق د ابراهيم[ع]
دي دارو د هوش مستي چي، وي د مينې د تسنيم

# د علیګړ کالج د لوستونکو په نوم

که د نور چا پیغام بیل دی، نو زما دی پیغام بیل
چې د عشق د دردمندانو، طرز یې وي د کلام بیل
د "دام نښتی مارغه" چیغې، خو دي تاسي اوریدلې
دا هم واورئ چې فریاد دی، د مارغه مو د بام بیل
یو آواز راتله له غره نه، چې د ژوند راز دی سکون
او کمزوري مېږي وې دا، چې دی خوند د خرام بیل
د حجاز د انجمن، رونق په مینه د حرم دی
چې مقام د هغه بیل دی، او د ده دی نظام بیل
همېشه عیش خو هم مرګ دی، خو که شوق د طلب نه وي
چې ګردش د بنده بیل دی، او ګردش دی د جام بیل
د سحر شمعې دا وویل، د ژوندون ساز خو دی سوز
غم خانه د نمایش کښې، خو دی شرط د دوام بیل
د شرابو لا کچه ده، نشه شوق دی نارسا
پرېږده سر باندي د خُم، ښښته دي وي د کلیسا

## د صبا سترګه

د صبا ستوري ژړل، او په ژړا کښې دا ویلو
راته راکړی شو نظر، خو فرصت نشته د کتلو

ژوندی شوی هر یو شی خو، دی له لمر د برکته
خو ما امن په لمن کښې، د سحر ونه میندلو
څه قدرت څه حیثیت لري، لا ستوری د صبا
د حباب هومره یې ساه ده، د بخرې شان پړقا
وویل ما چې اې کالیه! پر تندې د سپین سهار
د فنا غم وخوړلې، شه راکوز پرېږده اسمان
شه شبنم سره ملګری، دې اوچت ګنبد نه راشه
روح پروره د هوا، زما د شعر د بوستان
زه باغوان یم د هغه او، محبت یې دی بهار
بنیادونه د دې باغ، لکه ابد دې پاییدار

# حسن او عشق

څنګه چې ډوبیږي، کشتۍ سپینه د قمر
طوفان کښې ده رڼا، د لمر په وخت کښې د سحر
څنګه چې پړقا کښې، د سپوږمۍ ګل د کنول
نغښتی مخ د نور، پلو کښې ورک شي په یو ځل
څنګه چې جلوو کښې، د طور سپین لاس د کلیم وي
یا د ګلزار بوی کښې، د وږې غوټۍ شبنم وي

دغسي سېلاب کښې، ستا د مينې مې کوګل دی

ته که يې محفل نو، هنګامه زه د محفل يم
برق يې د ښايست که ته، نو زه د عشق ساحل يم
ته که يې سهار نو، زما اوښکې ستا شبنم
ته مې يې شفق که، زه ماښام يمه تورتم
زړه کښې مې اوسېږي، ستا د زلفو پرېښاني
ستا تصوير ښکاره، ښايي زما دا حيراني

ستا حسن کامل دی او، زما عشق کامل دی

ته زما د شعر باغ، ته باد يې د بهار
تا زما بې تابه، تخيل کړو په قلار
ستا مينه آباده، چې زما شوه په سينه کښې
نوې ملغلري، دي پيدا زما آينه کښې
عشق لره حسن، يو تحريک دی د کمال
تک شين مې له تا، د اميدونو شه نهال
لاړه ستوماني، د قافلې مې په منزل

# ....... په غېږ کښې د پیشو په لیدو

دا په غلا غلا د کتلو، چل در وښوده چا تاته؟
دا د میني د ړومبي سر، رمز در وښوده چا تاته؟
څنګه هر ناز او ادا نه، دي ده مینه را پیدا؟
څنګه د شنو سترګو نه، دي دغه هوشیارتیا؟
کله کله ګورې دې ته، کله کله ترې شرمېږې
کله پاڅې، کله کښېنې، کله څملې ویده کیږې
د آینې غوندي حیرانې دي، ستا سترګي په کتو څه؟
اې د نور د معرفت سره، دي شته پېژندګلو څه؟
په څنګلو یې وهې ته، عجیبه دی دغه ناز
دا خفګان دی که غصه ده، که د میني دی انداز
که شوخي کړې نو له غېږي، نه به کوزه کړې دا تا
که ګل وغورزېد سینې نه، یې نو به ووهې دا تا
ستا لټون په څه پسې دی؟ ته د څه یې ارماني؟
آه- ته هم په هغه شي، پسې ګرځېږې سودایي؟
داسي نه چي یو انسان بس، په ښایست باندي پوهېږي
دغه مینه لکه زړه دی، د هر شي منځ کښې اوسیږي
د دنیا په دې ښیښه کښې، مینه ده لکه شراب
هم دا مینه د لمر روح دی، د رګ‌وینه د مهتاب
دې د هرې ذرې زړه کښې، چي پټ پټ یې خسېدل
هغه نور دی دا چي هر شي، کښې ښکاره دی ځلېدل

دی سامان د خوښۍ چیرته، چیرته اوښکه چیرته غم دی
چیرته چیرته ملغلره، چیرته چیرته دا شبنم دی

## غوټۍ

راڅرګنده چي سهار کړي، په کوم وخت څېره رنګینه
ورته پرانېزي غوټۍ د، ګل سینه خپله زرینه
شرابونه د جلوو څښي، د صبا په میخانه کښې
زندګي د دې پرته وي، د آفتاب په پیمانه کښې
مخامخ لمر ته د څیري، څیري زړه په کښېښودلو
څومره څومره مزې اخلي، دا په دې سینه شلولو
اې زما لمره! ته خو هم، پورته کړه مخ نه نقاب
ستا دیدن ته په درزا دی، دا زما زړګی بېتاب
ستا دي ځای د اوسېدو وي، د جلوو زما سینه کښې
او آباد دي وي ستا عکس، همېشه زما آینه کښې
نظاره دي ستا ژوندون وي، دې زما زړګي دپاره
ستا رڼا خوره زانکو دي، وي دې خوړ زړګي دپاره
چي زما ذره ذره بیا، ښادي ووینې د ژوند
د فکرونو په جوهر کښې، مي پیدا سوز شي د ژوند
زه د خپل لمر نندارې چي، هم د لیري نه کوم
د غوټۍ په شاه په غېږ کښې، چي د نور یې راګېر شم

حقیقت د بې آرامه، روح چې زه کړم ورعیان
په زړګي کښې پټ خیالونه، ورته هم کړمه بیان

## ستوری او سپوږمۍ

د سهار وخت ته په ویره ویره
ستوری ګویا شو چې اې قمره!
نندارې هغه شته په اسمان
موږ په پړقا شو ستړي ستومان
شپه او ورځ کار بس زموږه تلل دي
تلل دي او تلل همېشه تلل دي
په دې جهان کښې هر شې بېتاب دی
هغه چې وايي ارام نایاب دی
په هر چا باندي بار د سفر دی
انسان که ستوری شجر حجر دی
چیرې به خلاص هم دغه سفر شي؟
منزل به چیرې مو تر نظر شي؟
وویل سپوږمۍ چې زما ملګرو!
د شپې پټۍ کښې ګویا لوګرو
په خوځېدو کښې ژوند د جهان دی
رسم له وخته دا راروان دی

په ځغلېدو دی د زمانې اس
چې کروړې خوري د "طلب" لس لس
بې ځايه دې لار کښې اودرېدل دي
که لږ آرام کړې نو ساه وتل دي
چې څوک وو تلونکي نو هغوی لاړو
او هغوی دل شو چې څوک ولاړ وو
د دغې تلو تلو انجام ښايست دی
آغاز يې عشق دی انجام ښايست دی

# وصال

بې قراره په طلب چې، د کوم ګل ومه بلبله!
چې قسمت مې مددګير شو، آخر وې مونده پخپله
ټول چمن و بې قراره، هم به خپله پرړېدلم
چې مې ته خوښ آوازی، باندې لېدې نو شرمېدلم
په سينه کښې بې آرامه، زړه مې څه و چې سېماب وو
چې د مينې په ګناه کښې، پرېوتو ته ډېر بېتاب وو
د سحر لمحه غمازه، مې د شپې د تور کاکل وه
سپين صبا مې يوه ونيزه، تورې شپې ته په اردل وه
خپله ساه مې په سينه کښې، سور په وينو يو نشتر وو
دغې چوپې ورځې کښې مې، غوغا نه ډک محشر وو

اوس جهان د تاثر کښې، نشته هغه پرېشاني مي
د ګلشن په خلګو بده، نه لګي غزل خواني مي
په ګرمۍ باندي د ميني، مي تڼاکې شوې شعلې
د بجلو سره اوس لوبې، مي کوي چيغې سورې
له غازې د محبت مي، توره خاوره ده آئينه
او آئينه کښې د همدم دی، راته عکس دېرينه
چي په قيد کښې کله راغلم، نو حاصله آزادي شوه
چي د زړه مال مي تالا شو، نو د کور مي آبادي شوه
اوس زما ستوری د هغې، لمر رڼا اخلي ځلېږي
چي د ګرځ نه يې د لاري، هېمشه سپوږمۍ شرمېږي
اوښودل په يو نظر دي، ادبونه د فنا
بختوره ورځ وه اوسولو خشاک چي دي زما

## سليمٰی

ورښکاره يې چي جلوت شه، ماهرانو د اسمان ته
په سپوږمۍ کښې او په لمر کښې، او د ستورو انجمن کښې
او صوفي چي وميندلو، د خپل زړه توره کوټه کښې
او شاعر ته ورښکاره شو، د قدرت هنر او فن کښې
چي پرقا يې را پيدا ده، خوشبويي يې هوېدا ده
د شبنم په ملغلرو، کښې د ګلو پېرهن کښې

په سکوت او خاموشۍ، باندي صحرا یې چي آباد کړه
هنګامه د چا له مخه، چي ده صحن د چمن کښې
په هر څیز کښې ښکاره هسي، خو څرګند جمال د ده
خو ستا سترګو کښې سلیمٰی دی، بېشک کمال د ده

# هر درې عاشق

(۱)

عجیبه راجمع شوي، دي اضداد درکښې اقباله!
که رونق د هنګامو یې، د محفل خو تنها هم یې
په خوږو سندرو باندي، لېونیه! ستا غوغا نه
د ګلشن زېنت که شته خو، آبادي د صحرا هم یې
د الوت په اوچت والي، دي ده ستورو سره ناسته
سولوې قدم دی مځکه، خو کچ ګر د سما هم یې
عن په شغل د شرابو کښي، تندی دي په سجدو وي
خپل مسلک کښي خو لږ شاني، هم مشرب د مینا هم یې
لکه بوی د ګل جامه دي، د رنګ نه ده اغوستلې
د حکمت خبرې کړې خو، لیږ مریض د سودا هم یې

ځې منزل ته خو د پښو پل، دي نه ښکاري لکه موج
بيا پرېوتې لکه غاړه، د درياب ته يو خوا هم يې
زنانه حسن بجلي ده، ګويا ستا فطرت دپاره
عجيبه دي عشق کښې دا ده، چې بيا ته بې پروا هم يې
نوې نوې مزې اخلې، د ژوندون دي دا آئين دی
په يوه درشل سجدو، سره ته چيرې اشنا هم يې؟
په پې مخو کښې دي نوم، د "بې وفا" دی نه خبر يې
په همېش خيال بدلولو، مشهور يې رسوا هم يې
تا را وړی دې جهان ته، د پارې غوندي عادت دی
قربان ستا بې آرامۍ نه، عجيبه دي دا حالت دی

(۲)

چې د ميني پرېشاني، ترې جوړه کړې ده صبا
موتی خاوره هسي پټه، مي ده لاندي تر قبا
دي زرګونه يې اړخونه، رنګ د هر اړخ بدل دی
په سينه کښې مي تراشلې، ده پرته يوه هېرا
دشاعر زړه نه دی دا، ده هنګامه د کيفياتو
ته لا څه يې پرې خبر چي، څه سينه کښې دي زما
ارمانجن هر کيفيت دی، د يوې نوې جلوې چي
بې قرار يم زړه مي نه دی، له قرار سره اشنا
هر ساعت مي که مطلب، د نظر دی نوی پی مخې
خو ښايست سره مضبوط مي، لوظ او قول دی د وفا

بې نیازۍ نه پیدا شوی، دی زما د فطرت نیاز
سوز او ساز مي د لټون شته، لکه باد وي د صبا
تماشه د یو بخري، به سبب مي د آرام شي؟
دا کېدای نه شي چي زړه مي، دي له برق سره اشنا
چي د عشق د فطرت هره، تقاضا پرې په آرام شي
آه- چي هغه تجلي مي، د زړګي ده مدعا
په تلاش کښې زه دګل یم، ځکه هر جز پسې ګرځم
خو چي حسن لامحدود دی، نو مي درد دې لا دوا
په هغې الفت ژوندی یم، چي دړدونه یې انجام دی
زه آزاد ساتمه عشق خپل، له دستوره د وفا
که ربښیا پوښتې وفا خو، مفلسي د تخیل ده
هر ساعت دی په زړګي کښې، یو محشر نوی زما
د ساقي فیض لکه شبنم کړي، ظرف د زړه مي دریاب غواړي
تل یم تږی او د تندي، په اور تل یمه جلیا
چي پیدا یې کړمه زه نو، نکته چین یې خپل پیدا کړ
یو تصویر یم شته له خپله، مصوره مي ګیلا
په محفل کښې د هستۍ چي، وه جلوه د حسن لیږه
نو بیا ولې تخیل لا، زه لرم بې انتها؟
د طلب په بیابان کښې، په یو نیب کوشش کوم زه
لکه موج د سیند شکست خپل، پر اوږو باندي لرم زه

# نیمګړې هڅه

سباوون دی نا قراره، په فراق کښې د افتاب
شفق ژاړي په سرو وینو، غواړي ستوري د ماښام
د ماښام لیلا ته ستر ګي، دي د ورځي د مجنون
ځلبلاند د صبا ستوری، دی ژوندون ته د دوام
د دې ستورو قافلو ته، ویل دا د قطب ستوري
چي ملګرو زه زیرېږم، دې مزو ته د خرام
د چینو شوق دی خوځونو، ته خوځونه زغلي سیند ته
په ټوپونو د موجه چي، ونیسي د سپوږمۍ بام
ازلي حسن چي پټ دی، د لاله او ګل پردو کښې
بې قرار دی دې دپاره، چي دیدن یې شوی زر عام
د ژوند راز معلومې نو، وکړه خضر نه پرسش
هر یو شی په دې ژوندی دی، که نیمګړی وي کوشش

# د غم فریاد

زما ژوند دی داسي شان، لکه رباب چي وي خاموش
چي د هر قسم نغمو نه، یې ژۍ تر ژۍ ډک وي آغوش
په دې چپه ورځ یې زار، د کاینات دي نوبتونه
په هر تار کښې د سوونو، نغمو دي پراته قبرونه

د شورونو د محشر، امانتګر یې بند سکوت دی
منت بار د هنګامو نه، دی دا شان د ده سکوت دی
آه- امید د محبت مي، چي تر سره نه شو چیرې
دغه ساز باندي ګذار چي، د شهباز وو نه شو چیرې
خو راځي کله نری، هوا چمن د کوهِ طور نه
د اسمان له لوري کله، راځي بوی له ساه د حور نه
غلی شان وخوځوي چي، د ژوندون مي هغه تار
پرې خلاصیږي هغه روح مي، چي په ژوند دی ګرفتار
له نغمې د نااميدی نه، روشان وخیژي آواز
چي د اوښکو قافلې ته، د جرس شي دا آواز
لکه ذوق د اضطراب چي، شبنم بوتلو تر اسمانه
دی فطرت مي اوچت ځکه، چي نوا مي ده پرېشانه

## ننني عیش

وایه مه اجل استازی دی، د عیش او د سرور
نقشې مه جوړوه ما ته، چي شراب به وي طهور
ته د حورو په فراق کښې، غم ته غېږ مه ورکوه
د الفاظو په ښېښه کښې، ښاپېری مه ګیروه
په پی مخي ساقي باندي، ته ما مه مینه وه
سلسبیل مه یادوه، ذکر د حورو مه کوه

زه منمه چي جنت خو، يو د امن دی مقام
خو ځوانۍ دپاره نه دی، موزون ستا دغه پيغام
ځلميتوب به آه- تر کومه، پوري رسي اميدوار
هغه عېش خو څه عېش نه دی، چي د کوم وي انتظار
هغه حسن څه محتاجه، چي د سترګو د بينا وي
او د ځان موجودولو، ته ممتازه د صبا وي
عجب ژوند وي د انسان چي وي احساس د زندګۍ
ننۍ عېش وعشرت دی، اعتقاد مي په ځوانۍ

# بنيادم

## ((د قدرت څه عجيبه دی دا ستم؟))

چي انسان يې جوړ په خپله کړو يو راز
له نظر يې د ده پټ کړو هغه راز
بې آرام دی ورته شوق د آګاهۍ
معلوميږي نه هيڅ راز د زندګۍ
حيرانتيا يې هم آغاز هم انتها ده
بله کومه د آيينو کور کښې بلا ده؟
ګرم ګرم دي روان د سيند موجونه
سمندر ته په ورو ورو ځغلي سيندونه
هوا لګي شي وريځ را لوزوي
په اوږو يې را سوره کړي ګرځوي

ستوري مست دي په شرابو د تقدير
په زندان کښې د اسمان پښو کښې ځنځير
دغه لمر ګوره عابد او سحر خېز
همېشه راوړي پېغام چي د "برخېز"
د قبلې غرونو کښې لاړ شي ځان پنا کړي
د شفق د سرو شرابو مشغولا کړي
هر يو شی د خپل وجود اخلي خوندونه
ټول څيزونه په دې مست چي موړ دي يونه
خو هيڅوک غم شريک نشته د انسان
څومره تريخ او سخت ګزران دی د انسان

# د حسن پلوشه

دا د حسن پلوشه ده، ارمانونه چي بېتاب کړي
او پالنه يې په غېږ، د تخيل کښې هر شباب کړي
ابدي شي په دې باندي، دا عالم په دې فاني
افسانه يوه رنګينه، ده به دې باندي ځواني
را ښيي راته هم دا چي، سر کړو ټيټ په ګرېبان
د حاضر عالم منظر نه، مو زړګی شي ګرېزان
هم د دې په برکت د، عقل ليري شي خامي
هم د دې په برکت، کړي د جذباتو غلامي

خو ارمان چي هغه حسن، په زمين هم شته که نا؟
د دنيا په ګوته خدايه! دا نګين هم شته که نا؟

## يو ماښام

### ((د نېکر سيند، هائيډل برګ، پر غاړه))

خاموشه خاموشي په رڼاګانو د قمر ده
خاموشه خاموشي په هره څانګه د شجر ده
دره کښې چيغېدونکي مرغان واړه دي خاموش
د غرونو ونې، غنې، هم شينکي بوټي خاموش
فطرت د کاينات دی داسي پروت لکه بې هوش
يا جوړې ويده غلې د شپې دي په آغوش
چف شوی په قضا د خاموشۍ داسي منتر دی
بېخي چي په قراره قرارۍ ټک د نيکر دی
اسمان کښې هم د ستورو چپ او غلی دی کاروان
دا شانې دی روان چي بې جرسه دی روان

خاموشه دي درياب دی او که غر او که بېديا
ښکارېږي چي قدرت مراقبه کښې دی ګويا

ته هم زما زړګیه! شه څه لږ شان خو خاموش
ویده شه په ارام غم دي را ټینګ کړه په آغوش

## تنهایي

شپه کښې په یوائې، ورځې ولې یې غمګین؟
ستوري د اسمان، ولي ستا نه دي همنشین؟
هرڅه تر اسمانه، ان اوچت اسمان دی چوپ
مځکه ده خوب وړې، ان چي ټول جهان دی چوپ
دا سپینه سپوږمۍ، دا بیابان او دا کوهسار
ګوره چي فطرت په، سپینو ګلو دی ګلزار
دا رنې رنې او دا، پی مخي ملغلرې
ستا د اوښکو ستوري، چي برېښنا کوي له لري
اې زما زړګیه! دا ته څه لري هوس؟
اې زما زړګیه! قدرت ستا دی همنفس

## د عشق پیغام

اې د زړه د درد طالبه! چي زه ناز یم نو ته نیاز شه
غزنوي د زړه سومنات ته یم، ته سر تر پښو ایاز شه

دا کمال یواځې سر، د سکندر پوري خو نه دی
ټول سامان دی ستا سینه کښې، ولې ته هم آینه ساز شه
د ژوند جنګ نه دا غرض دی، چې کامل شي ستا هلال
پخوانی فرض د جهاد یې، ته ادا لکه نماز شه
اې ګلېچینه صبر مه کړه، چې دي شان په دې قایم دی
ګل که زیات شي په چمن کښې، ته نور هم د امن دراز شه
هغه وخت لاړ زمانه اوس، د صحرا ګرځېدو نه ده
لکه شمع سوځېدونکې، د محفل مینځ کښې ګداز شه
حقیقي هستي د قوم ده، مجازي ده د کسانو
په ملت باندې قربان شه، اور لګونکی د مجاز شه
اې اقباله! دا د هند، فرقه سازان جوړ آذري کړي
لمن بچ کړه له بتانو، ګرد د لارې د حجاز شه

# هجران

لټون کښې د یو کونج، د تنهایي یم راوتلی
لمن کښې د یو غر دلته، پټ شوی یم راغلی
سندرې په اټکو اټکو، چینو وایي کمال دی
ماشوم غوندې دعا، په تړ تړې ژبه یې مثال دی
تخت د سور شفق باندې، ناست ستوری د ماښام
جنت د بینا سترګو، نندارہ ده د ماښام

سکوت د جدايي د ماښام، شوه بهانه ما ته
دا وښوده يارانو، د چا يار ترانه ما ته
او اوس کيفيت دا دی، د بې صبره روح زما
زه لکه ماشوم وړکوټی، يمه يک تنها
هغه چي تياره شپه کښې، سرودونه کړي آغاز
آواز د خپلې خولې ورته، د بل ښکاري آواز
خپل زړه ته نصيحت کوم، د صبر په دا شان
تېر باسمه، غولومه زه، ګويا شپه د هجران

# د عبدالقادر په نوم

راپاځه چي خور شوی دی، ظلمت په ختيز باندي
د ځيغو په شغلو راشه، چي دا مجلس رڼا کړو
بساط مو يو فرياد، لکه دانه د سپېلني دی
په دغه هنګامه، راشه محفل تهه وبالا کړو
محفل ته وښيو، اثر د عشق د صيقل
او کاڼي نني نه، آينه جوړه د صبا کړو
جلوه د ورک يوسف د محفل، خلګو ته کړو مخکښې
تاوونه را اوچت د ويني، زيات له زليخا کړو
سم وښيو سبق، د لوېدلو دې چمن ته
پوټې غوندي يو څاڅکی، د چمن نه جوړ دريا کړو

د چین د بت خانې نه، د خپل روح رخت کړو راپورته
محو ټول د مخ، د سلیمٰی او د سعدیٰ کړو
شوه ګوره په یثرب کښې، د لیلا اوښه بې کاره
راځه چې قیس یو نوي، تماشا سره اشنا کړو
شراب دي وي زاړه او وي، ګرمي دي په کښې دومره
چې ویلي پر ځیګر د، پیمانې ښیښې مینا کړو
کوم داغ چې ګرمولو، د مغرب په زمستان کښې
کړو څیري یې سینه هم، یې بلد په تماشا کړو
کړو تېر به داخل ژوند، لکه د شمعې په عالم کښې
په خپله به سوځېږو، د غیر سترګي به بینا کړو
"په ژبه وي هغه چې، په سینه کښې وي د شمعې
دا سوی خیال پټ نه دی، چې په زړه دی وي د شمعې"

# صقلیه

## (سسلي ټاپو)

اې د وینو بیونکې، سترګې وژاړه په زوره
د تهذیب د حجازیانو، هغه قبر ښکاري ګوره

د هغو صحرا نشینو، دلته ځای د هنګامو وو
سمندر یې ځای د لوبو، د لوبغاړو سفینو وو

دربارونو د شاهانو، کښې د دوی نه زلزلې وې
چې د دوی د تورو پړق کښې، د بجليو اشيانې وې
چې د دوی ظاهرېدل وو، د تازه جهان پيغام
اوخوړل زاړه دورونه، د دوی تېغ خون آشام
چې د قم چيغه يې وکړه، را ژوندی شو مړ عالم
د وهمونو له ځنځير نه، را آزاد شو بنيادم
لا تراوسه خوړې لګي، غلغلې يې په غوږونو
اې همېش دپاره چوپ شه، شور د هغو اذانونو؟

اې سسلي آه- ستا پر سر باندي، عزت د سمندر دی
د اوبو په دې صحرا کښې، ستا وجود لکه رهبر دی
ستا په خال باندي ښايسته دي، د درياب دغه رخسار وي
ستا په شمعو تسلي، د مسافرو دي بار بار وي
ستا ديدن دي بختور شي، مسافرو سترګو باندي
تل د غاړي د ګټانو، سره موج دي ګډا کاندي
چيرې چيرې د تهذيب، د داسي قوم وې ته زانګو
سوځولو چې عالم به، يې ښايست د نندارو
د شيراز بلبل په چيغو، باندي وژاړه بغداد
و ژړلو په سرو وينو، باندي داغ جهان آباد
چې دولت د غرناطی کړه، دی ظالم انسان برباد
نو خفه زړګي د "ابن، بدرون" اوويسته فرياد

غم نصیب اقبال ته، وبخښلی شولو ماتم ستا
تقدیر هغه زړګی خوښ کړو، چې وو هغه محرم ستا
ستا په نښو نشانو کښې، پټ د چا پروت دی داستان
ستا په چوپ غونډي ساحل کښې، پروت انداز دی د بیان
ما ته ووایه خپل دړد، زه هم سر تر نوکه دړد یم
ته پړاو چې د کوم یو وې، زه د هغه کاروان ګرد یم
ډک کړه رنګ په زوړ تصویر کښې، بیا یې وښیه ته ما ته
او د تېرو مشرانو، قیصې ووایه ته ما ته
دا تحفه به ستا زه یوسم، په طرف د هندوستان
زه خو دلته ژاړم هلته، ژړوم به پرې دوستان

# غزلونه

د انسان ژوندون يو دم دی، بې له دمه بل څه نشته
دغه دم د هوا موج دی، بې له دمه بل څه نشته

ګل ويل دی موسېدل، زما په خيال د انسان ژوند خو
شمعې اووې دلته، بې ژړا له غمه بل څه نشته

د هستۍ راز تر هغو وي، چې تر څو څوک محرم نه وي
چې کوم دم کښې راز معلوم شي، بې محرمه بل څه نشته

اې اقباله! د حاجيانو، نه دي دا تپوس څوک وکړي
پېشکشونو د حرم کښې، بې زمزمه بل څه نشته؟

وښيه لږ لېونتوب خو، دې بزرګعقل ته مې خدايه!
د ده شوق دی د بخيو، زما نشته پېرهن

چي د ميني سوز يې راكړ، د ازل فرښتو اووې
لكه شمع د مزار يې، چي دي نشته انجمن

دلته چيرته دي ملګري، اې زړګيه! ناشنا ملک دی
چي ته غواړې موندای نه شي، هغه ځيز په هيڅ چمن

ټول جهان نه په بل شان دی، عربي معمار جوړ کړی
د قومي حصار بنياد مو، قايم نه دی پر وطن

چيرته تلل چيرته راتلل دي، د عقبٰی بېلتون فرېب دی
په هرڅېز کښې موږ ښكارېږو، چيرته نشته مو وطن

څوک مدير ته دمخزن دي، دا پيغام د اقبال يوسي
کوم قومونه چي عمل کړي، نه کوي شعر وسخن

اوبه ويني زړه چي پورته، کړي محشر مي د وينا
دا زما خاموشي نه ده، قبر دی د تمنا

د سیند موج اووې قایم دی، په سفر باندي مي شان
ملغلرې وېل ناستی دی، د سیپۍ آبرو زما

طبعیت چي قابل نه وي، په پالنه نه سمیږي
چي زرغون د سروې سیوری، په اوبو اولیدو چا

ربه! دا جهان دي څه دی، د ارمان نګارخانه ده
داسي زړه نشته ویده چي، په کښې نه وي تمنا

ما وېل دا خاکي بدن څو، د امید د کوڅې ګرځ وو
پس له مرګه شوه معلومه، وم طلسم د هوا

که څه ځیزرانه پټ نه دی، نو تالاش کښې یې یم ولي؟
نظر غواړي نندارې مي، د لټون زړه کښې سودا

غوټۍ اووې اې ګلچینه، انسان ولې دې بې دړده؟
ماتېدو ته د پیالې مي، تا نوم کښېود د مسکا

که دګل په حقله پوه شوې، دا هم لوظ د رنګ بوی دی
د هستۍ هرې ذرې نه، مینه مینه ده پیدا

که هنر مي چاته ښکاري، دا دی عیب د عیب جویانو
مضمونونه مي زاړه دي، او کلام مي دی خطا

پوتې زړه دي راکړ بيا هم، دی تېروتی په ارمان
له ادب ویلای نه شم، چي ستم دی کرم ستا

د وحدت کمال ځرګند دی، که نشتر د ګل په رګ کړې
د انسان د وینې څاڅکي، به اوځي یقین دی دا

د تقلید زمانه لاړه، اوس مجاز دي کډه واخلي
حقیقت چي شو ښکاره نو، څو کولای شي وینا

چي له کوره اقبال لېري، وي خپلوان دې خفه نه شي
لال وطن نه چي شي لېري، نو عزت يې شي پیدا

پلوشې دي په پړقا دي، اور بجلي او شراره کښې
او برېښنا دي ده ځرګنده، په سپوږمۍ لمر ستاره کښې

بلندي دي اسمانونو کښې، پستي دي مځکو کښې ده
رواني دي په دریاب کښې، او پرتا دي کناره کښې

د شاعر مرۍ ته لاس به، شریعت اچوي څه ته
پټوم د زړه مطلب زه، همېشه استعاره کنبې

چې کوم شی وینې دی انسانکې،نوهغه په خوب ویده دی
کاڼي، بوټي، ونه، ګل کنبې، هم حیوان او ستاره کنبې

زه د میني څاڅکي اوښکي، وسوځلم وې لوزلم
د غضب اور و د دغه شان، اوبو په شراره کنبې

د ثواب د آخرت مي، څه امید او ارمان نشته
زه خو داسي سوداګر یم، نفع وینم خساره کنبې

د سکون نااشنایي، ورله سامان د ژوندانه دی
د کوم زړه تړپا ده ناسته خدایه! پټه په پاره کنبې

په آواز د **لن ترانی**، اقبال چوپ دی څه نه غواړي
طاقت کوم دی ماغوس شوی، د هجران په کټاره کنبې

د جهان محفله خوند خو، ډېر وو ستا په هنګامو کنبې
خو پوټي غوندي خفه وو، تماشګیر ستا تماشو کنبې

هغه خاورې آرام ومیند، په کوڅه د محبت کښې
په مودو چې سر وهلی، د حکمت وو په میرو کښې

اې شرابو! څومره خوښه، مو دا ستر او پړده ده
اووتئ انګور نه لاړئ، د مینا په تهخانو کښې

په تاثیر د ښایست علم، غلبه نه شوه میندلی
دومره حد ته ناداني وه، د هوشیارو په مغزو کښې

اې اقباله! په یورپ کښې، ما عبث ولټوله
چې خبره کومه شته، د هندوستان په معشوقو کښې

لکه عکس د شرابو، چې طواف د جام کوي
دغه لمونځ دی چې عاشق یې، په صبا ماښام کوي

نشته اې کلیمه! دې کښې، ستا څه بیل خصوصیت
ونې، بوټي کاڼي هم خو، خدای سره کلام کوي

بل جهان لټوه شمعې، دې جهان کښې دا دستور دی
چې نامراده نيمه خوا ترې، نه تله خاص وعام کوي

که غرض د خوشحالۍ وي، د شرابو څښنو دپاره
نو ګويا کښې دغه خلک، حلال څيز حرام کوي

اې واعظه! ګزاره به، څنګه وشي ستا زما چې
ما په شانې خلک مينه، محبت چې عام کوي

په کند پوشو فقيرانو، کښې دی څنګه اثر خدايه!
چې په تش يو نظر باندي، ځوانان زړونه رام کوي

د محفل نه د عشرت، د هغو خلګو په ربړدان يم
چې کورونه خو فنا کړي، په دې ځان نېکنام کوي

ميدانونو! د وطن، د مازني شېرازه اوسئ
د جهاز له بره سره، مسافر سلام کوي

اې اقباله! بېلمانځان چې، چيرې نېت د لمانځه وکا
بتخانې نه مي راغواړي، وړاندي ما امام کوي

# مارچ ۱۹۷۰ء

زمانې پلو ښنګزن کړ، اوس به عام دیدار دیار وي
چې سکوت یې پړده دار وو، هغه راز بۀ اوس آشکار وي

هغه دوراوس ساقې تېرشو،چې پیاله به ښنبی شوه پټه
ټول جهان به میخانه وي، او هرڅوک به باده خوار وي

لېونتوب په مخه کړی، به بیا راشي آبادۍ ته
هغه شان به وي پښې یبله، ولې نوی به خارزار وي

د حجاز خاموشۍ ووېل، آخر غوږ د منتظر کښې
صحرایانو سره شوی، لوظ به بیا را استوار وي

سلطنت یې د روما چې، په بل مخ وو اړولی
له قدسیانو نه زه اورم، هغه شېر به بیا بیدار وي

چې ساقي مي ذکر وکړو، انجمن کښې د میخوارو
اووې پیردمیخانې زر،خوله یې سورده دی به خواروي

واورئ اې د مغرب خلګو! د خدای ملک خو دکان نه دی
کره زر چې ورته وایي، دا به زر کوټ او بنګار وي

دا تهذیب ستاسو په خپله، به په خپل خنجر ځان وژني
په کچه څانګې د جالې، عمر خود ناپائیدار وي

قافله د مېړو خوارو، به کښتۍ پانه د ګل کړي
په درياب به پوري وځي، که زر موجه په غړمبار وي

لاله ګرځي په چمن کښې، داغ ښيي هرې غوټۍ ته
د ده خيال دی چي په دې به، دې په زړه سوو کښې شمار وي

اې نظره دوکه بازه! تا خو يو ما ته يو زر کړه
که هم دا چيرې ستا خيال وي، نو د چا به اعتبار وي

ما قمرئ ته يو ورځ اووې، د دې ځای آزاد هم قيد دی
غوټو اووې د چمن مو، به هم دا سرې رازدار وي

عاشقان خودخدای ډېر دي، چي ځنګل په ځنګل ګرځي
زه تابع يم د هغه چي، د بندګانو مينه دار وي

اې زړګيه! دلته سترګه، رپول هم ګناه شمار ده
څه حيا به مو شي پاتې، که ستا حال د ناقرار وي

په دې تکه توره شپه کښې،خپلکاروان به مات ګوډبوځم
اسويلي به مي بڅري، نولي ساه به شعله بار وي

بې ښيوې نه که دي بله، د ژوندون مدعا نه وي
نو يوه لحظه به ستا، فنا کېدل لکه شرار وي

د اقبال د ځای تپوس مه کوه، هغه زوړ يې حال دی
چرته لاره کښې به ناست وي، هم به پروت په انتظار وي

# درېیمه برخه

## (له ۱۹۰۸ء نه بيا تر......پوري)

# اسلامي ملكونه

د ډيلي مځكي ته مينه، د غمګين زړه په سجده ده
چي زموږ د مشرانو، وينه هلته کښې ويده ده
د دې وران ګلستان ولې، به لا نه وي پاکه مځکه؟
خانقاه چي د اسلام ده، د عظمت پر دغه مځکه
دي دې خاوره کښې شاهان، ويده د دې خيرالامم
چي د دوی په حکومت، قايم نظام وو د عالم
لا تراوسه ګرموي زړونه، د دغې محفل ياد
چي حاصل يې سوی دی خو، دی محفوظ د حاصل ياد
د زيارت کولو ځای، بېشک که دی جهان آباد هم
خو هم دغومره حقدار دی، د عزت حرمت بغداد هم
دا چمن هغه چمن دی، چي کولو به يې ناز
دا تهذيب په هغه ګل چي، وو سپړدلی په حجاز
د دې ښار خاوره به ولي، سيالي نه کړي د ارم
چي ليدلی يې د نبي صلی الله علیه وسلم، د جانشينو دی قدم
چي چمن يې هر غونچه ده، نو هم دا هغه ګلشن دی
رپېده به چي روما ترې، د هغو هم دا مدفن دی
قرطبه ښاريه هم ده، د مسلم د سترګو نور
په تيارو کښې د مغرب په، مثال شمع وه د طور

هغه شمع مړه شوه قام، د مسلمان یې کړو پرېشان
د حاضر تهذیب ډیوه یې، بله کړله په ښه شان
دئ د هغه تهذیب قبر، پروت په دغه مځکه پاکه
د یورپ د ګلشن ځیله، چې هغې نه ده نمناکه
دا ټوټه د قسطنطیه، د قیصر چې و دیار
د "فاتح" د شجاعت چې، دی محکم نښان پایدار
لکه خاوره د حرم ده دا، رنګ پاک دا سر زمین دی
جانشین د پېغمبر دلته، پر تخت مسند نشین دی
لکه بوی د ګل صفا، او پاکیزه یې ده هوا
چې له قبره د ابوبِ انصاري راځي صدا
مسلمانه! د ملتِ اسلام زړه دی دغه ښار
چې حاصل د کشت و خون دی، له صدیو دغه ښار
هغه مځکه یې ته، اې چې خوابګاه د مصطفٰی ﷺ
چې کعبې ته دي دیدن، حجِ اکبر نه دی سیوا
ته په ګوته د هستۍ کښې، یو غمی یې ځلېدونکی
چې زمورِ عظمت شوکت دی، ستا په غېږ کښې زېږېدونکی
آرام تا کښې اوموند، هغه شهنشاه معظم
چې لمنه کښې یې آرام، اوموند قامونو د عالم
غلامان د دروازې یې، بادشاهان شو د عالم
د قیصر جانشینان شول، وارثان د تخت د جم
قومیت که د اسلام، چیرې پابند وي د مقام
نو نه هند د ده وطن دی، نه فارس دی او نه شام

مينه ته يې وطن ته يې، هم يې ته ځای د پناه يې
پلوشو د تاثر نه، د کشش نقطه هر ګاه يې
چې تر څو ته يې دنيا کښې، نو باقي به مسلم هم وي
چې سحر شته نو چمن کښې، به ګوهر د شبنم هم وي

# ستوري

په تا ويره د سپوږمۍ ده، که خطر کړې له سحر؟
او که نه د خپل ښايست شوې، په انجام باندي خبر؟
د خپل نور دلوټ کېدو، درته پيدا شو څه خطر؟
وار خطا که د فنا نه، يې په مثل د شرر؟
دې مځکې نه ډېر ليري، در عطا کړو اسمان در
او دروايې اغوستله، قبا عين لکه قمر
بيا غضب دی دا وړوکی، غوندي ځان دی چې ويرېږي
دا څلور پاره شپه ټوله، په رڼږدان کښې دي تېرېږي

ځلېدونکې مسافره! عجيبه دغه بستي ده
په کوم ځای چې يو عروج کا، هغه بل لره پستي ده
د يو نور په پيدايش کښې، د لکهونو ستورو مرګدی
د ژوندون مثال د ميو، د فنا خوب يې مستي ده

د غوټۍ په سپړېدو کښې، راز د ګل د غوړېدو دی
دا عدم چې ورته وايي، ښکاره دغې کښې هستي ده
ناممکنه قراری دی، د قدرت په کارخانه کښې
ثبات یو د تغیر په، نصیبه دی زمانه کښې

# دوه ستوري

د دوو ستوریو یوه شپه اوشه قران
نو یو ستوری بل ته داسي شو ګویان
که دا وصل مو مدام وای څه به ښه وای
د تلو تلو مو دا انجام وای څه به ښه وای
که لږ شان په موږ اسمان شي مهربان
نو پړقا به وي د دواړو جاودان
وو لېکن یې د وصال دغه ارمان
وو پیغام د جدایي او د هجران
ګردشونه دي د ستوریو مقدر
د هر یو دپاره لار ده مقرر
دا یو خوب دی چې وي تل دي اشنایي
د جهان قانون دی بس یو جدایي

# شاهي گورستان

اغوستلې د وريځ، اسمان خرقه ده پخوانۍ
څه خړوالی غوندي ښکاري، تندي باندي د سپوږمۍ
په دې چوپه ننداره کښې، تته ده رڼا
او د شپې غبږ کښې ويده ده، هغه شان لا لوی صبا
حيرانتيا زياتوي څومره، د دې ونو خاموشي
د قدرت په رباب باندي، ده سندره خاموشي
د عالم هره ذره کښې، سر تر نوکه دي دړدونه
او پر شونډو د هستۍ، د خاموشي دي يخ آهونه
آه- هغه د جولان ځای، د عالم ګير هغه حصار
په اوږو يې د صديو، د عمرونو پروت دی بار
په ژوندون چيري معمور وو، او اوس سوړ سمخ دی وران
چي د ده د هنګامو دا، خاموشي ده ګورستان
دی په خپلو تېرو خلکو، دی مين او جان نثار
دی ولاړ د غره پر سر، باندي په شان د څوکېدار
د وربځي په سوري کښې، پورته چت نه دی اسمان
ګوري ستوري غلي غلي، په طرف د دې جهان
دي د خاورو لوبي دوی ته، ننداره د دې دنيا
ورته يادې دي قيصې، د بنيادم د نيمګړتيا
له ازل نه مسافر دی، خپل منزل په لور روان
ګوري تل انقلابونه، د ګردش د دې جهان

ممکن نه دی قراری که، د دې ستورو په دنیا کښې
خو لړ شان دلته ولاړ دي، اديرې ته په دعا کښې
په ګلونو د ژوندون، د مځکې ډکه ده لمن
د سوونو قتل شوی، تهذيبونو دې مدفن
ځای د خوب د باچهانو، دا مقام دی د حسرت
د سرو اوښکو قلنګ ورکړئ، ورته سترګو! د عبرت
ګورستان دی خو دا خاورې، دي اوچتې په پايه
آه- چي دا د بدقسمته، قوم ده پاتې سرمايه

په دې شان يې د قبرونو، بنده دومره حيرانيږي
چي له ډيري حيرانتيا يې، يو بانه هم نه رپيږي
کيفيت د نامردئ دی، داسي شان په دې تصوير کښې
چي راتلی نه شي هيچرې، په لمنې د تحرير کښې
هنګامو نه پراته ليري، نن خاموش دي په خوبونو
چيري وو چي بې آرامه، له ناصبرو اميدونو
په تيارو د لحد دي، هغه لمرونه درخشان
په درشل به يې موږلو، چي تندی چيري اسمان
اې هم دا دی د هغو، شهنشاهانو اخير حال؟
چي تدبير د حکومت نه، به يې ترهه کړه زوال
که رعب داب وي د فغفور او، که لوی شان وي د قيصر
له حملې نه د مرګنشته، دې خلاصی د هيڅ بشر
د شاهانو د ژوندون د، کروندې حاصل هم ګور دی
د عظمت د لوپې لاري اخيري منزل هم ګور دی

که د عیش د مجلس شور وي، او دعوه که لا تقریر وي
د درمنو د جهان چیغې، سورې او که شوګیر وي
په میدان کښې د جنګونو، هنګامه که د شمشیر وي
او د وینو تودوونکې، لا نعره که د تکبیر وي
اوس د هیڅ قسم آواز، ویده لا نه شي ویښولای
د سینې نه یو ځل تللی، روح خو بیا نه شي راتللای
موتې خاوره کښې ګیر روح، په کړاوونو د بیداد دی
سا چې تاوشوله شپېلۍ کښې، نو راوتی ترې فریاد دی
د انسان ژوندون په مثل، د مارغه دی خوش آواز
راغی کښېناسته په څانګه، وچغېد لاړ په پرواز
آه- چمن د دنیاګۍ ته، موږ څه راغلو او څه ځو ترې
د ژوند شاخ باندي غوټۍ شو، او بیا ګل شو مړاوي شو پرې
د هر شاه او هر ګدا، د خوب مرګی یو سم تعبیر دی
په ستم د ستمګر کښې، د انصاف دغه تصویر دی
د هستۍ دا سلسله، یو سمندر دی بې حدونو
یو په دې کښې بیا موجونه، سلسله ده د قبرونو

اې هوسه! ژاړه ژاړه، په دې ژوند نشته اتبار
ژوند مسکا ده د بڅري، یا خسنې پر انګار
دا سپوږمۍ چې د هستۍ، د کاریګر دی یو اعجاز
سیمابي قبا اغوستې، دا روانه ده په ناز
که د بې ستورو آسمان، په بوږنوونکو میدانونو
څوک وګوري بې کسۍ ته، یې په هنګام د سحرونو

د پوټي غوندي وريځې، ده ټکړه، مهتاب وو دا
اخيري ځاځکی د اوښکو، چي راپرېوځي شوه فنا
د قامونو دور دوران هم، دغه شان بې اعتبار دی
د الوتي رنګ تصوير، غوندي د دوی وار د بهار دی
د زيانونو په دې کور کښې، که يو قام وي ډېر نامدار
دا کېدای نه شي چي وي دي، تل تر تله د ده وار
د قامونو بربادۍ سره، ولد دومره جهان دی
چي سم هم ورته څه ګوري، او لا نه يې پرې څه خفګان دی
په دنيا کښې په يو حال، باندي هيڅ شی نه پاتې کيږي
د جهان دغه مزاج دی، نوی نوی دی زېږيږي
تل ليکلی په غمۍ شي، د دنيا نوي نومونه
تل په ګېډه وي د مور، د زمانې نوي قامونه
په زرګونو قافلې دي، اشنا شوی د دې لار
کوه نور غمي ليدلي، دي تاجونه څو څو وار
وران شو مصر او بابل، پاته يې هيڅ نه دی نوښان
ان دفتر کښې د هستۍ يې، هم نه شي داستان
د ماښام اجل مرۍ نه، ونيوو لمر د ايران
زما يې عظمت تالا کړ، د روما او د يونان
آه- ارمان چي زمانه، د مسلمان هم داسي لاړه
د سپرلي وريځ راپورته، شوه او ووريده لاړه
پلوشې ته د مرګ پرخې، اچولې دي کړې
يا د لمر پلوشې نښتې، د شبنم په جال جولۍ

تجلو د لمر دپاره، د درياب سينه زانګو ده
د اوبو پر غاړه وګوره، جلوه يې د ننداړو ده

په سنګار باندي لګيا دی، صنوبر سيند يې آئينه ده
د غوټۍ د زړه دپاره، د سپرلي ورمه آئينه ده
کوئل سر په نعرو باندي، د باغ په کاشانه کښې
د انسان له سترګو پانو، کښې پټ ناست خلوت خانه کښې
بل بلبل رنګين آوازه، سندر مار د ګلستان
دی د ده په دم ژوندی، ګويا بهار د ګلستان
چي د عشق د هنګامو دی، الوتونکی يو تصوير دی
د قدرت قلم نه څنګه، وتی ښکلی شوخ تحرير دی
د مارغانو په باغ باغ کښې، غلې غلې دي جلسې
د کوهسار د دې سخوبۍ، نه د شپونکو راځي نعرې
څنګه ډک بک له ژوندون نه، دی د خاورو دا جهان
چي مرګهم لري په زړه کښې، د دې خوږ ژوندون ارمان
د ګلونو پانې رژي، په خزان کښې په دا شان
د ويده ماشوم له لاسه، چي پرېوځي ګوډاګيان
دې جهان د خوشحالۍ کښې، که يې شانه ډېر دی عېش
خو يو غم، غم د ملت دی، چي تازه وي دی همېش
زړه د تير وختونو ياد نه، مو نه دی خالي کېدونکی
هم د خپلو باچهانو، دا قام نه دی هېرېدونکی
دغه وران در او دېوار مو، سببونه د ژړا دي
په يو مخې ژړاګانو، باندي سترګي مو بينا دي

موږ د اوښکو ملغلري، نن دنیا ته ورښیو
د تېر شوي طوفان موږه، اخیري وریځې یو
لا د دې وریځ په غېږ کښې، ملغلري شته سوونه
لا باقي يې په سینه کښې، پراته پټ دي تندرونه
جوړولای د صحرا خاورو، نه داشي ګلستان
ویښولای شي له خوبه، امیدونه د دهقان
او بېشکه چې تېر شوی، مو د قوم هغه جلال دی
ولې پاتې لیږ څه هغسې، لاشان مو د جمال دی

# د سحر تېغون

## (د سحر ښکاره کېدل)

را ښکارېږي د افق، لمنې لاندي نه رڼا
د شپې وار په تېرېدو دی، راختو کښې دی صبا
اسمان کښېناسته اوزګار شه، لو د فصل نه د ستورو
په مشرق کښې لمر لګیا دی، خوروي خپله جلوا
چې اسمان دې نه خبر شه، چې لمر راغی را روان دی
نو په خره کښې يې رخصت، کړله د شپې توره لیلا
دا شعلې د لمر حاصل، ګویا د هغې دهقانی دي
چې د ستورو د بخرو، اسمان کړې وه بېګا

لکه ټوله شپه عابد، عبادت وکړي او روان شي
داسي وروستو دي روان، ټولو نه ستوری د صبا
څه عجبه ننداره ده، لکه څنګه څوک چي ورو ورو
را وباسي له تور تیکي، سپینه توره د پړقا
په مطلع د لمر کښې داسي، د صبا مضمون دی پټ
له څنګه سره شراب، پراته په تل کښې د مینا
د سحر باد ګډ وډ کړي، آوازونه دي خوریږي
د ناقوس آواز جهان ته، ورکړه غبږ د مشغولا
د کوئل په اذان باندي، سندرمار مارغان را ویښ شول
د سحر قانون رِغیږي، هر یو تار یې دی لګیا

# د انیسي شاملو په شعر تضمین

د صبا د باد په شانې، زه همېش په الوتو یم
محبت کښې له قیام نه، ښه دی ګشت د بیابان
ناقراره زړه بوتللم، در د پیرِ سنجري[رح] ته
چي د درد د بې صبرۍ، هلته کښې شته دارو درمان
لامي شونډي اشنا شوې نه دي، حرف سره د سوال
لا به ژبي د وینا، د طاقت اخیسته احسان
عاشقانو د حرم ته، له مرقد نه اواز راغی
ګیله تانه ده چي پرې دي، ښوو د پلار نیکه قرآن

اې مجنونه! ولي يخ شو، ستا دننه تاو د زړه؟
چې ليلا کښې خو لا شته دی، ناز انداز په هغه شان
ښوره مځکه کښې زرغون، تخم د لااله دي نه شه
دا نازوېګنده فطرت دي، شه بدنام پر ټول جهان
ته خبر يې اې غافله! چې ستا ژوند په څنګه حال دی
د ګرجې يوه باجه يې، ړغوي دي عيسايان
تربيت خو ستا دی شوی، په زانګو د بيت الله کښې
سودايي زړه ګرځوي دي، بتخانو کښې پرېشان
"تا زمونږ نه وفا زده کړه، او د نورو دي په کار کړه
ملغلره وه زمونږ او، په نورو باندي دي نثار کړه"

## د غم فلسفه

### (د لاهور د میان فضل حسین صاحب بیر سټرایټ لا په نوم)

سر تر نوکه عېش عشرت دی، که شراب د ژوندانه
اوښکي هم لري لمنه، کښې حساب د ژوندانه
د غم موج باندي ګډېږي، هم حباب د ژوندانه
د "الم" سورة هم جز دی، د کتاب د ژوندانه
که يوه پاڼه وي کمه، په کوم ګل کښې نو ګل نه دی
کې خزان نه وي ليدلی، کوم بلبل نو بلبل نه دی

ده د زړه قيصه رنګينه، په خونونو د ارمان
د انسان انسانيت نه، کامليږي بې فغان
د هوشيار نظر کښې داغ، د غم ډيوه ده په سينه
او د روح ښايسته کولو، دی سامان دا آئينه
د انسان فطرت د غم، په حادثو مومي کمال
د آئينې د زړه دپاره، دی صيقل ګرد د ملال
د ځوانۍ د خوب مزو نه، غم ځوانۍ را ويښوي
او هم دا د غم شهباز دی، چې تل ساز بيداروي
د زړګي مارغه دپاره، غم شهپر دی د پرواز
د انسان زړه که يو راز دی، غم تشريح دی د دې راز
غم ته مه وايه چې غم دی، ده د روح غلې سندره
د هستۍ د رباب سُر، سره په ځنګ ده برابره
چې ماښام يې د "يارب"، چيغې سره نه وي اشنا
او د شپې د اوښکو ستوري، چې يې نه کاندي رڼا
چې د زړه جام يې مات شوی، چيري نه وي په څه غم
او د عيش عشرت شرابو، باندي مست وي په هردم
هغه لاس د چا ګلچين چې، پر ښخ شوی نه وي خار
د چا عشق چې ناخبره، د بېلتون وي له ازار
که يې نه وي په ټول عمر، کښې د غم تکليف ليدلی
نو د ژوند راز يې له سترګو، نه هم پټ وي او هم غلی
اې چې پوه ته په هر شان، په انتظام د دې دنيا يې
نو بيا ولې د غمونو، دی څپو ته وار خطا يې

محبت خو دی تمهید، د ابدي ژوند د کتاب
د انسان عقل فاني دی، عشق ژوندی دی په دې باب
پلوشو د لمر د عشق نه، د اجل ماښام شرمېږي
مینه سوز د زندګۍ دی، تر ابده چې پایېږي
د محبوب رخصتېدو، مقصد که چرې وي فنا
د عاشق د زړه نه هم، په جوش د مینې وي فنا
د معشوق په مړکېدو باندې، خو عشق چېرې مري نه
غم ترې جوړ شي زړه کښې کښېني، ولې هيڅکله تر ځي نه
د دې مینې له بقا نه، د محبوب بقا پیدا ده
د معشوق زندګاني تل، بې خبره له فنا ده
د غره سر نه را روانه، ده واله څه په سندرو
چې مارغانو د اسمان ته، هم ښیې چل د سندرو
ځلېدونکې آئینه ده، لکه سپین مخ چې د حور وي
چې په کنده ګټه ولګي، نو سمدستي چور چور وي
د دې نهر ملغلري، په کوم شان پې مخې ګوري
یعني وي راپرېوتو کښې، د اوبو نه جوړ شي ستوري
څنګه اوشلېد پرېشان شو، د پارې نهر روان
او ښکاره شولو د څاڅکو، بې قراره یو جهان
دغو څاڅکو ته هجران، وایه تعلیم شه د وصال
مخکښې دوه قدمه بیا، هغه واله شوه په خپل حال
اصلیت کښې ژوند هم یو دی، لکه نهر دی روان
چې له پورته نه راخلاص شه، نو شه جوړ ترې نه انسان

د دې خاورو په عالم کښې، موږ وصال ته جدا کېږو
عارضي ښېلتون ګڼو موږ، ابدي ځکه ژړېږو
خاوندان د مرګ مړه کېږي، ولیکن نه فنا کېږي
حقیقت کښې دوی له موږه، نه هیڅیري جدا کېږي
د دنیا په آفتونو، کښې چي څه وخت عقل ګیر شي
د ځوانۍ د شپو تېرې یا، چي د ده نه راچاپېر شي

د زړګي لمن میدان شي، چي د جنګ د خیر او شر
توره تېه وي په لار کښې، شي مشکل ځای ته سفر
د همت خضر چي لاړ شي، له امید نه ګوشه ګیر شي
او چي فکر شي عاجزه، او آواز چپ د ضمیر شي
د هستۍ کنډو کښې مل یې، هیڅوک نه وي د سفر
لار ښودلو ته د اوراورکي، هم نه وي شرر
نو د مرګد خاوندانو، تندی روڼ وي دې تیارو کښې
لکه ستورې چي ځلېږي، همېشه د شپې تیارو کښې

# د گل په سوغات کېدو

هغه مسته چي ګلشن ته، په مکېز مکېز کښې راشي
د غوټۍ غوټۍ له ژبي، نه جاري هسي دعا شي

خدایه! دې دومره ګلونو، کښې یو زه يې غوره کړلې
چې د لمر ګل هم زما، غوندي غوټۍ نه زېږېدلی
تا له ښاخ نه شو کوي، نو زورور دي دی نصیب
ارمانونه باغ کښې خاورې، شولو ستا د هر رقیب
د هجران درد چې دي تېر کړو، نو ته ورغلې وصال ته
ستا د ژوند چې څه جوهر وو، هغه ورسېد کمال ته
زما ګل چې ترې د سترګو، خاوندان صدقه کیږي
او ګلشن مې د ځوانۍ پرې، تل تر تله ډېر نازيږي
پوره نه شوه د دې ګل مي، چیري خپله مدعا
نه شو دی چیري د چا، رنګین قمیص سره اشنا
وبه نه کړای شي تازه، يې چیري هم وخت د بهار
چې خفه يې تل ساتي، د شوکونکي انتظار

# ملي ترانه

چین زموږ عرب زموږ دی، هم زموږ دی هندوستان
موږ چې یو مسلمانان، نو دی وطن مو ټول جهان
پروت زموږه په سینو کښې، امانت دی د توحید
اسان نه دی چې څوک ورک، کاندي زموږه نوم نښان
د دنیا په بتخانو کښې، چې ړومبی کور د الله دی
د هغه موږ پاسبانان یو، او هغه زموږ پاسبان

موږ د تورو سیورو لاندي، یو لوی شوي ځوانان شوي
د خنجر او د هلال دی، جوړ زموږ قومي نوښان
په درو کښې د مغرب چې، مو کړنګا اذان پیدا کړه
نو بیا چا ایسارولای شو، زموږ سېلاب روان
اې اسمانه! چیري سر خو، مو باطل ته نه دی ایښی
په سل ځله تا اخیستی، دی زموږه امتحان
وایه اې د اندلیس باغه! هغه ورځې دي دي یادي
چیري ستا په ونو څانګو، چې زموږه وو آشیان
د دجلې موجه ته هم خو، موږه پېژنې چې څه یو؟
لا تراوسه پوري سیند دي، دی زموږ افسانه خوان
د حجاز اې پاکې مځکې! ستا حرمت باندي موږ مړه یو
دی تراوسه مو د وینې، ستا رګونو کښې دوران
چې د کوم نوم له طفیله، زموږ روح دی په آرام کښې
هغه دی "میرحجاز" چې، دی سالار مو د کاروان
د اقبال ترانه څه وه، چې آواز د لوی جرس دی
راپاڅیږي روانیږي، زموږ بیا هغه کاروان

# وطنيت

## ((په حيثيت د سياسي تصور))

په دې دور کښې شراب نور دي، او جام بل دی او جم بل
بنا کړی دی ساقي، قانون د لطف او ستم بل
مسلمان هم دی جوړ کړی، ځان ته نوی حرم بل
د تهذيب آذر تراشلی دی، دې دور کښې صنم بل
او په دې تازه خدايانو کښې، لوی ټولو نه وطن دی
د وطن چې کوم څادر دی، د مذهب هغه کفن دی
دا بتان چې دي تراشلي، درته نن نوی تهذيب
لوټ کونکی مو د کور دي، د پاک دين د پاک حبيب
ستا په مټو کښې طاقت خو، د توحيد دی ستا نصيب
نو اسلام دي دی وطن ته، مصطفٰی ته يې قريب
ننداره دي پخوانی، ښکاره کړه اې مصطفوي
دغه بت خاوره کښې خاورې، کړه چې تل به خاوره وي
يو مقام کښې که راګېر، شوې نتيجه ده تباهي
د وطن قيد نه آزاد شه، لکه سيند کښې وي ماهي
د وطن پرېښول سنت دی، د محبوب الٰهي
ورکړه ته د نبوت، په صداقت هم ګواهي
په ګفتار د سياست کښې، وطن نوم دی د بل څيز
په ارشاد د نبوت کښې، وطن نوم دی د بل څيز

په قامونو د جهان کښې، رقابت دی هم د دې نه
اخستل د ملک مقصود، د تجارت دی هم له دې نه
که خالي له صداقت نه، سیاست دی هم له دې نه
د کمزوري پر کور باندي، که غارت دی هم له دې نه
د خدای یو شانې مخلوق که، قام قام کیږي هم له دې نه
د اسلام د قومیت جرړې، پرېکیږي هم له دې نه

# یو حاجي د مدینې پر لار

قافله صحرا کښې لوټ شوه، او منزل دی رانه لیري
دا وچ سیند یعنې د دې بېدیا، ساحل دی رانه لیري
په خنجر د رهزنانو، رفیقان مي شهیدان شو
چي څوک بچ شولو بې زړه، د بیت الله په لور روان شو
څنګه ساه په روڼ تندي، ورکړله دې بخاري ځوان
وې مونده د مرګ په زهرو، کښې ژوندون د جاودان
د رهزن خنجر ګویا کښې، ده ته میاشت وه د اختر
"های یثرب" زړه کښې، پر شونډو باندي الله اکبر
وېره وای چي یثرب ته، "چیري مه ځه ته یواځې"
مینه وایي "مسلمان یې، څه بېباکه څه یواځې"

بې زيارت کولو بېرته، بيت الله ته وګرځم زه؟
په قيامت کښې عاشقانو، ته به مخ نه ورښيم زه؟
ويره يې نه وي مسافر چې، په بېديا وي د حجاز
په هجرت کښې د سردار، د مدينې وو پټ دا راز
د شامي محمل سره تلل، که د امن او امان وي
خو لذت د محبت او، مينې ويره کښې د ځان وي
آه- دا عقل څه فکرونه، کړي د زيان څومره چالاک دي
او بيا عشق د بنيادم ګوره، چې څه قدر بې باک دی

# قطعه

يو عاشق پرون روضې ته، د نبي ﷺ داسي ژړل
مسلمان د هند او مصر، د ملت بېخ نړوي
د مغرب دا زائران مو، که زر ځله رهبران شي
هم زمونږ ورسره هيڅ نه، چې له تا ځان پرېکوي
دا مغروره مرشدان اُف! خداى، دي ستا قام ترې نه بچ کړي
ورانوي مسلمانان ستا، خپل عزت پرې جوړوي
دا محفل هدهو بدل دی، اې اقباله! څوک بې اوري
څوک چې نوې زمانې ته، زوړ بيان ور اوروي

# شکوه

ولې شمه زه زیان کاری، د فایدې کار کړمه هېر؟
د صبا فکر دي نه کړم، ډوب په غم د پرون تېر
د بلبل فریاد دي اورم، او بس اورم دي ډېر ډېر
اې ملګرې! خنګه چوپ شم، زه هم یم د ګل په څېر
د وینا او د خبرو، خپل طاقت زړور کړمه
خوله مي ډکه شه له خاورو، زه ګیله خدای نه لرمه
دا ربښتیا دي چي په خوی کښې، د رضا یو مشهور
خو قیصه ځکه د درد وایو، چي موږه یو مجبور
ساز مو چوپ دی ولې موږ یو، فریادونو نه معمور
که تر شونډو چیغه راشي، نو موږ دې کښې یو معذور
خاوندانو د وفا نه، څه شکوه هم واوره خدایه!
آموخته وو له ثنا نه، ته ګیله هم واوره خدایه!
له ازل نه خو موجود وو، دغه ستا ذاتِ قدیم
چمن هم په ګل ښایسته وو، خوې خور نه وو شمیم
انصاف شرط دی اې صاحبه! د کرم احسان عظیم
بوی د ګل به څنګه خور وای؟ که موجود نه وای نسیم؟
زموږ دغه پرېشاني وه، چي د زړه پرې جمعیت وو
ولې ستا د حبیب ﷺ هسي، لېونی ګنی امت وو؟
موږ نه وړاندې عجیبه وې، ننداړې د دې جهان
چیرته کاڼو ته سجدې وې، چیرته بوټې وو خدایان

آموخته په ښکاره بت، باندي نظر و د انسان
بيا به څنګه ناليدلی، چا مانه رحيم رحمان؟

دا خو تا ته ښه معلومه، ده چا نوم ستا اخيستلو؟
دا وو زور د مسلمان د مټ، ستا کار يې وييستلو
هم په دې مځکه آباد وو، سلجوقيان هم تورانيان هم
د چين خلک وو په چين کښې، په ايران کښې ساسانيان هم
هم د دې مځکي د پاسه، استوګن وو يونانيان هم
مېشته دلته يهوديان وو، وو هم دلته نصرانيان هم
ولې ستا په نامه توره، راته وايه چا کړه پورته
هغه ورانه چي خبره وه، چا جوړه کړه هر لور ته
بس هم موږه وو يوائې، ستا دپاره جنګياليان
جنګېدو کله په وچه، کله سيند مو وو ميدان
وې به کله په ګرجو کښې، د يورپ موږه اذان
کله وو د افريقې، په تودو شګو به روان
د جهان له باچهانو نه، مو هيڅ سترګه نه سوله
او د تورو سوري لاندي، کليمه به مو ويله
که ژوندي وو نو ژوندي وو، د جنګونو مصيبت له
او همېش به مړه کېدلو، واړه ستا د نوم عظمت له
هېچري زموږه نه وه، تېغ زني خپل حکومت له
ګرځېدو سر په تلي کښې، ولي دا ګني دولت له؟
زموږ قوم که د دنيا، په مال او زر سر ورکولی
بت خانې بې ورانولې، نه بتان بې خرڅولی

که بهٔ اړ شو موږ په جنګ کښې، پښې مو نه وروسته کېدلې
په میدان کښې د زمرو هم، رانه پښې تل ښویېدلې
په سرکښو پسې ستا به، موږه توري راخیستلې
تېغ لا څه موږه به توپو ته، سینې هم وې نیولې
په هر زړه کښې موږه ستا، د توحید نقش دی کښېنولی
د خنجر د لاندې هم مو، دا پیغام دی اورولی
وایه وایسته له بېخه، دروازه د خیبر چا؟
ته ووایه چې کړو فتحه، هغه ښار د قیصر چا؟
د کفارو بتان وایه، رېز مرېز کړل کسکر چا؟
د مولو په شان کوتره، کړو د کفارو لښکر چا؟

یخه پخه ایره چا، آتشکده کړه د ایران؟
چا ژوندۍ کړله له سره، تذکره بیا د یزدان؟
هغه کوم قام قبیله ده، چې بس ستا شوه طلبګاره؟
چې یې راکښل زحمتونه، د جنګونو ستا دپاره
د چا توره وه، چې شوله جهانګیره جهانداره؟
او د چا په تکبیر باندې، ستا دنیا شوه رابیداره؟
راتوندۀ غلي له هیبته، به له چا واړه بتان وو؟
او په پړمخ په هوالله احد په دوی ګویان وو
ان په جنګ کښې که به وخت، د عبادت او د نماز شو
مخ قبلې ته هغه وخت به، په سجده قوم د حجاز شو
برابر به په یو صف کښې، څنګ پر څنګ محموداياز شو
د بنده سره به یو شان، ستا په در بنده نواز شو

ستا دربار ته چې به راغلل، نو هرڅوک به سره یو شول
ورې، موږ، خاوند، مریی هم، د هرتوک به سره یو شول
په محفل د کون مکان کښې، ګرځېدو سحر ماښام
د توحید شراب په لاس کښې، وو ګردش لکه د جام
موږ په غرۀ او بیابان کښې، رسولو ستا پیغام
او خبر یې چیري موږ هم، راستون شوي یو ناکام؟
دشت خو څه چې پاتې نه شولو، زموږ نه دریابونه
ان دریاب کښې د تېرو به، زغلول موږه اسونه
دروغ ورک کړو موږ دنیا نه، موږ تر لیري کړه باطل
د انسان د شا نه کوز، د غلامۍ مو کړلو ځل
وه پر سر تندو زموږه، ستا کعبه آباده تل
ستا حکمونه د قرآن به، موږ سینو کښې ځایول
بیا هم موږ نه دا ګیله ده، چې موږ نه یو وفادار
که موږ نه یو وفادار نو، ته خو هم نه یې دلدار
امتونه خو نور هم شته، شته هغو کښې ګنهګار هم
عاجزي کونکي شته هم، د غرور په مۍ سرشار هم
په هغو کښې شته دي مست هم، غافلان او هم بیدار هم
په سوونو په کښې شته دي، ستا له نوم ځنې وېزار هم

خو وریږي پر کورونو، د اغیار دي رحمتونه
او پر کور د مسلمان دي، تل غورزیږي تندرونه
بتخانو کښې بتان وايي، لاړل بس مسلمانان اوس
خوشحالیږي چې بس نشته، د کعبې نګهبانان اوس

له دنيا نه لاړل تېر شول، د اوښانو "حدي خوان" اوس
هغه لاړل چې په ترخ کښې، به يې وو همېش قرآن اوس
په دې شان کفر خندا کړي، څه خبر پرې يې که نا؟
او د خپل توحيد دي هم، ته څه خاطر کوې که نا؟
ګيله نه ده زموږ دا چې، خزانې يې دي معمور
د هغو چې يې د ګنې، د ګفت نه لره شعور
غضب دا دی چې کافر له، ورکوي حور او قصور
او بې څو که مسلمان لره، وعده تشه د حور
ستا په موږ هغه احسان، نشته نه هغه عنايات
څه خبره ده چې نشته، د پخوا شان مدارات؟
د دنيا دولت دی ولې، مسلمان سره ناياب
ستا قدرت خو داسي دی چې، نه بې حد شته نه حساب
که ته وغواړې راپورته، به صحرا نه شي حباب
مسافر ته به څپيږې، ورکړي هر موج د سراب
پېغورونه دي د غيرو، رسوايي ده ناداري ده
چې دي ځان په نامه وژني، نو عوض يې دا خواري ده؟
اوس مينه په اغيارو، باندي شوله دا دنيا
او زموږ په حق کښې پاتې، بس خيالي ده دا دنيا
موږه لاړلو ترلاسه، نورو کړله دا دنيا
بيا ونه وايې توحيد نه، خالي شوله دا دنيا
موږ ژوندي يو دې دپاره، چې ستا نوم دي وي مدام
خو کېدای شي چيري دا چې، ساقي نه وي او وي جام؟

ستا محفل لاړو تالا شو، ورسره دي عاشقان هم
هم د شپې اسويلي لاړل، د سحر چيغې سوران هم
زړه بې درکړه مزدې واخستو، شول رخصت دي شيدايان هم
لا راغلي ناست هم نه وو، وې ويستی شو په ارمان هم

عاشقان راغلل او لاړل، لوط يې واخيست د صبا
اوس يې ګوره لټوه يې، په ډيوه د مخ زيبا
د ليلا دړد دی هم هغه، او هم څنګ د مجنون هغه
او د نجد په غر او دښت کښې، هوسۍ کاندي هم يون هغه
هم هغه د مينې زړۀ دی، د ښايست هم افسون هغه
د احمد امت هم هغه، او هم ته يې بېچون هغه
بيا بغير له څه سبب نه، د خفګان لا څه معنا ده؟
عاشقانو باندي دا، د غضب شان لا څه معنا ده
ته موپرېښوې که نه پرېښو،ستارسولعربيﷺ موږه
بت سازي مو را شروع کړه، پرېښوه بت شکني موږۀ
عشق مو پرېښو که نه پرېښو، له آشفته سري موږه
لاره پرېښوه د سلمان او، د اويس قرني موږه
د تکبير اور مو سينو کښې، لا ساتلی دی مدفون
د حبشي بلال[رض] په شانې، دی زموږه هم ژوندون
خير د مينې که زموږه، پخوانی شان ادا نه وي
او که تلل زموږ په لاره، د تسليم او رضا نه وي
بې قراره که سينو کښې، زړونه قبله نما نه وي
پابندي د قانونو، که د پټې وفا نه وي

**کله موږ او کله نورو، سره ستا ده اشنايي**
**د وينا خبره نه ده، خو ته هم يې هرجايي**
**د فاران د غر دپاسه، هغه دين چي کړو کامل تا**
**په يوه اشاره زړونه، په زرګونو واخستل تا**
**سمدستي ولګولو اور، د ميني په حاصل تا**
**په يو دم والوزولو، د مخ تاو باندي منزل تا**
**نن سينې زموږه ولي، په شرر نه دي آبادي؟**
**موږ هم هغه لوغړن يو، ولې تاته نه دي يادې؟**
**پاتې نه دی د نجدسخوبي کښې، شرنګ شرونګ د سلاسل**
**لاړو قيس چي لېونی، په نندارە و د محمل**
**حوصلې نشته هغه نه، موږ هغه، نه آ ګوګل**
**وران ويجاړ دی نن دا کور چي، رونق نه يې د محفل**

**بختوره ورځ به وي که، ته په ناز و ادا راشې**
**په خرګنده مو محفل ته، که يو ځلې ته بيا راشې**
**د ولې پر غاړه ناست خښبي، په ګلشن کښې نن اغيار**
**دي جامونه يې په لاس کښې، د مرغو اوري چغار**
**يو طرف ته ليري ناست دي، هنګامو نه دګلزار**
**لېوني دي هم لېواله، ناست د "هو" په انتظار**
**پتنګانو ته دي ورکړه، خوند د ځان لمبه کولو**
**ورکړه حکم دي زوړ برق ته، د ځيګر د سوځولو**
**اواره قام دي راکښلې، واګې بيا مخ په حجاز**
**بې وزرو بلبل والوزوه، بيا ذوق د پرواز**

بې آرامه دی د باغ، هره غوټۍ کښې بوی د نیاز
ته خویې وچېره لیږ شانې، ساز دی تړی د شهباز
په تارونو کښې نغمې دي، نا قلاره را وتو ته
بې آرامه غر د طور دی، هم په دې اور سوځېدو ته
ګران کاروانه چې دي څومره، د مرحوم امت اسان کړې
خوار مېږی او بې بساطه، ته هم سنګ د سلیمان کړې
هغه جنس د محبت چې، دی نایاب بیا یې ارزان کړې
دا د هند درمسالیان ټول، ربه! ته مسلمانان کړې
ارمانونو پخوانو نه، مو ولې څاڅي د وینو
د سینو نشترخانو کښې، مو دي چیغې په ټوپونو
له چمن نه باهر یوړه، بوی د ګل د چمن راز
څه قیامت دی ګل پخپله، د چمن شولو غماز
موسم تېر شو د ګلونو، او شو مات د چمن ساز
لاړل والوتل له څانګو، د چمن چې وو دمساز
یو بلبل دی پاتې شوی، غزل خوان دی لاتراوسه
د نغمو یې په سینه کښې، یو طوفان دی لاتراوسه
قمرې لاړې له شاخونو نه، د ونو والوتلې
د ګلونو پاڼې ورژېدې، باغ کښې خورې شولې
زړې لارې د باغونو، سراسر ویجاړې شولې
او د پاڼو قمیصونو نه، بربنډې څانګې شولې

خو له قید د موسمونو نه، د ده زړه دی آزاد
آه- ارمان چې په ګلشن کښې، څوک یې پوه شي په فریاد

نه په مرګکښې څه مزه شته، نه څه خوند شته په ژوندون کښې
که مزه څه قدر شته دی، نو په څښو د جګرخون کښې
بې قرار څومره جوهر دی، د آئينې مي په لړمون کښې
په ټوپونو مي جلوې دي، د سينې په اندرون کښې
خو افسوس دی چي خالي دی، له کتونکو ځنې باغ
نه لالا ګلونه شته دي، چي سينې لري داغ داغ
څيرې زړونه شوې په چيغه، د دې يو بلبل تنها
بيا را ويښ شوې ويده زړونه، په آواز د دې درا
بيا ژوندي شوي دا مړه زړونه، په لوظ نوي د وفا
زړونه تږي شوي په مينه، د زړو شرابو بيا
څه که خم مي عجمي دی، خو شراب مي حجازي دي
که سندره مي هندي ده، خو سرونه حجازي دي

## سپوږمۍ

اې سپوږمۍ دغه ښايست دي،دفطرت عزت اوشان دی
چا پيرچل چورلی له مځکې، دا دي خوی دا دي ګرزان دی
دغه داغ ستاپه سينه کښې، چي ځرګندځرګند ښکارېږي
ته مينه يې په چا جوړ؟ دغه داغ دی د ارمان دی؟
نا قرار يم زه په مځکه، نا قراره ته اسمان کښې
ته هم ګرځې په لټون کښې، زما هم لټون په ځان دی

انسان چې يې ده شمع، نو هم هغه ستا محفل دی
زه چې کوم طرف ته ځمه، نو هم هغه ستا منزل دی
هغه څوک چې لټوې ته، د دې ستورو خاموشۍ کښې
راته ښکاري چې جوړ پټ دی، په غوغا د زندګۍ کښې
په ولاړه سرو کښې دی، او يا ويده دي په سبزه کښې
په بلبل کښې سندرمار دی، اوچت ناست دی په غوټۍ کښې

راشه وښيمه تاته، هغه روڼ مخ چې ته ګورې
د نهرونو په ښيښو کښې، د شبنم آئينه دارۍ کښې
په صحرا دښت او درياب کښې، په کوهسار کښې هم هغه دی
د انسان زړه کښې هغه دی، ستا رخسار کښې هم هغه دی

# شپه او شاعر

## (۱) شپه

ولې ته زما رڼا کښې ګرځې، دا رنګ پرېشان؟
چې د ګل په رنګه چوپ يې، او پرېشان د بوی په شان
جوړ د ستورو د لالونو، راته ښکاري جوهري يې
يا زما د نور په سيند کښې، ته په شانې د مهي يې

یا پرېوتې له تندي نه، مي یو ستوری یې ښکارېږې
چې اوچت مقام دي پرېږدئ، لاړې کندو کښې اوسېږې
غلی شوی او چوپ شوی، د هستۍ تار د رباب دی
دا زما په آئینه کښې، د هستۍ تصویر د خواب دی
د ګرداب سترګي خوب یوورې، لاره تل کښې د دریاب
د ساحل خوا کښې ویده شو، موج چې سترې شو بېتاب
د دې مځکې پر سر څومره، هنګامې را پیدا کیږي
هغه داسي شوې ویدې چې، آبادي نه معلومیږي
خو بس یو د شاعر زړه دی، نااشنا دی له سکون نه
ته آزاد پاتې شوې څنګه؟ لا زما دغې فسون نه؟

## شاعر (۲)

په باړې کښې د سپوږمۍ ستا، ملغلرې زه کرمه
او ژړا پټه له خلګو، د سحر په شانې کړمه
چې د وریځې په شور ږوږ، کښې له باهر وتو شرمیږي
نو د شپې په تنهایي کښې، زما اوښکي راڅڅیږي
ما کښې پټ چې کوم فریاد دی، هغه چاته واورومه؟
تاؤ د شوق د ننداړو مي، زه وچاته وښیمه
د یمن د کسۍ برق مي، په سینه پروت دی ژړیږي
کومه سترګه چې غړیږي، هغه کله ویده کیږي؟
لکه شمع یم د قبر، آ چې مړ زما محفل دی
آه- څه وایمه شپې! چې، زما ډېر لیري منزل دی

راسته نه ده په محفل مي، دا هوا د دې دوران
خو څه وکړم نه پوهېږي، دی په خپل نفع نقصان
د پیغام د مینې زغم نه، چې څه وختی اوترهېږم
پړقیدلو ستورو تا ته، له ناکامه وویېږم

# بزم انجم

مازیګر لمر په تلو تلو کښې، د ماښام تورې قبا ته
سره ګلونه له تالي نه، د افق ور اوویشتل
ور امبار شفق کالي کړل، د سرو زرو چې وو څومره
او قدرت د سپینو زرو، کالي ځان نه ویېستل
په محمل د خاموشۍ کښې، د تیارې لیلا هم راغله
او غمي د شپې د ناوې، په شان شان وپړقېدل
هنګامو نه د جهان چې، هغه ډېر لیري اوسیږي
او انسان ورته په خپله، ژبه ستورې وویل
لا هر خوا ستورې لګیا ؤو، په اسمان ښایسته کولو
یو آواز د فرشتې پورته، له عرش نه پرې راتللو
اې د شپې څوکیدارانو، او اې ستورو د اسمان
ستاسو ټول قام ځلېدونکی، عزتمن دی لوی مو شان

را شروع داسي سرود کړئ، چي ويده واړه را ويښ شي
لار ښيونکې قافلو ته، ستاسو دی جبين روښان
د دوی خيال دی چي يې تاسي، يئ آئينې د قسمتونو
او شايد چي واوري ستاسي، آوازونه ادميان
خاموشي لاړه رخصت شوله، د ستورو له فضا نه
وسعتونه د اسمان شولو، معمور له دې نوا نه
د ازل حسن برېښنا کوي، د ستورو دلبرۍ کښې
لکه عکس د ګل ښکاري، د شبنم اينه دارۍ کښې
وېرېدل نوي قانون نه، په زوړ طرز ټينګېدل هم
سخت مشکل دغه مقام دی، د قامونو زندګۍ کښې
د هستۍ کاروان په داسي، تېز قدم باندي روان دی
چي قامونه چيخښي پيخښې، شو د ده په رهروۍ کښې
زموږ سترګو نه په ډډه، په زرګونو ستوري نور دي
خو هغوی هم موږ سره دي، راشريک په ورورولۍ کښې
په دې پوه نه شو ډېر عمر، کې د مځکې اوسېدونکي
لکه څنګه چي موږ پوه شو، په دې لړې زندګۍ کښې
له يو بل سره په جذب، نظامونه ټول قايم دي
دا نکته پټه پرته ده، د دې ستورو زندګۍ کښې

# د اسمان سېل

ملګرتیا د تخیل کښې، په سفر شومه روان
او په پورته پورته تلمه، تېرېدمه په اسمان
په یو نیب الوتم تلمه، او هیڅوک هلته کښې نه وو
چې زما پېژندګلو وې، څه دي نوم څه دي نښان
دا سفر زما پټ راز ؤو، چې هيچا ته معلوم نه وؤ
ستورو هم راته کتل، په وازو سترګو وو حیران
ووتمه له قیدونو، د صبا او د ماښام نه
لاړم ووتم بهر شوم، زه د دغې زوړ نظام نه
جنت څه دی؟ څه ووایم، خو چې څه سترګې غوړ غواړي
هغه ټول هلته پوره وو، پاتې نه وؤ څه ارمان
د طوبٰی د ونې ښاخ باندې، مرغۍ وې سندر مارې
بې پلوه بې پردې وې، د جنت حورې غلمان
را څښوه، را اچوه، د شرابیانو شور او زور ؤو
او پې مخې ښایسته مخې، جام په لاس کښې وو ساقیان
له جنت نه بېرته لیرې، مې یو ځای راغی په سترګو
سوړ سمخ توره تیاره، چوپه چوپتیا وه په یو شان
دومره تور چې د مجنون، طالع خو هم جوړ ورسره وو
ورسره غاړه غړې هم، د لیلا وو تور زلفان
یخ ؤ دومره چې یخنۍ به، د جهان ترې وشرمېږي
او کره د زمهریر به، ترې نه وغواړي امان

ما تپوس وکړو دا څه دي؟ او د دې څه کیفیت دی
نو حیران پاتې شوم دېر، د فرښتې په دې بیان
دغه یخ مقام چې وینې، جهنم هم دغه ځای دی
نه یې اور شته نه یې نور شته، یو تور تم خوشی میدان
او لمبې چې یې ستایه شي، نو هغه یې خپلي نه دي
د عبرت خاوند بنده چې، ترې نه تل دی په لړزان
له دنیا نه هر چیري، چې خلګ دلته کښې راځي
خپل انګار له هغه ځای نه، ځان سره دلته راوړي

## نصیحت

یوه ورځ د نصیحت، په طور مي وویل اقبال ته
چې نه تا چیري روژه کړه، نه پابند یې د نماز
د ریا د خاوندانو، طریقه کښې هم کامل یې
د لندن هوس دي زړه کښې، په خوله ذکر د حجاز
دروغ هم د مصلحت دپاره، شته دی ستا عادت کښې
ستا انداز د خوشامندو، سر تر نوکه دی اعجاز

هر تقدیر چې دي خلاصیږي، نو په مدح د سرکار
ستا دې روڼ فکر پیدا کړه، طریقه نوې د نیاز

دې محمود مقام و تاته، دروازه د حاکمانو
پالیسي دي الوول ده، لکه زلفې د ایاز
د خدمت د دین پرده کښې، ته خو هم لکه د نورو
رانغښتی شی پټوي د، مرتبو د هوس راز
د اختر په ورځ لمانځه ته، په جمات کښې هم لیدای شې
او په وعظ د واعظ دي، طبعیت شي هم ګداز
هم د ملک د اخبارونو، سره لاس کوې ته ډېر
ږغوي لکه د فرضو، ځکه ستا د شهرت ساز
دا لا بله په دې باندي، چي دي شعر هم ویلی
د خبرو په مینا کښې، دي شراب دي د شیراز
د لېدر ټول صفتونه، چي په تا کښې دي موجود
نو لازم دی په تا باندي، چي را واخلې ټګ و تاز
د ښکاري دي هم غم نشته، او وزر دي هم سالم دي
نو بیا ولې دي دماغ کښې، راځي نه خیال د پرواز
"عاقبت چي ادیرې ته، زمونږ تله دي نو اوس زر شه
کړنګهار په ګنبدونو، د اسمان کښې کړه آغاز"

## رام

ژۍ په ژۍ دي له شراب، د حقیقت نه جام د هند
فلسفیان ټول د مغرب دي، تابعدار او رام د هند

دا د هند د اوسېدونکو، د رسا فکر اثر دی
له اسمانه هم اوچت دی، په دې وخت کښې بام د هند
دلته تېر دي له زرګونو، فرښتو په شان چې خوی وو
د هغو له برکته، مشهور دی نام د هند

هندوستان کوي فخرونه، تل د رام په وجود باندي
د نظر خاوندان وايي، ورته ټول امام د هند
او هم دا خو معجزه د، هدايت د دې ډيوې ده
د سحر نه چي زيات روڼ دی، په دنيا ماښام د هند
وو په توره مېړنی او، په مېړانه بې مثاله
هم د مينې محبت، پاکيزګۍ کښې باکماله

# موټر

جګندر پرون خبره، څنګه وکړه د نکتې
روان دی موټر څنګ، د ذوالفقار علي خان چوپ
په مکيز مکيز روان وي، پوټی هم نه کوي شور
د بجلۍ په شانې تېز ځي وي، روان د باد په شان چوپ
ما ويل چي دا موقوفه، څه موټره پوري نه ده
چي د ژوند په لار دی هر يو، تېز قدمی روان چوپ

له عادت نه د فرياد دي، د جرس غريب پښې ماتې
د صبا د باد په مثل، د وړمې ځي کاروان چوپ
چې مدام شور د قلقل کا، بوتل تل ختو کښې بوخت وي
ولې جام چې په ګردش دی، نو څنګ ځي خرامان چوپ
د شاعر فکر پرواز کا، په وزر د خاموشۍ
او آواز ګرځي پيدا کا، په هنر د خاموشۍ

# انسان

منظر د چمنونو، که ښايسته وي او که نه وي
نرګس دی بې عمله، نو مجبور په تماشا دی
خبر چې له خوندونو نه، د ټک راتک هيڅ نه وي
فطرت د صنوبر دی، چې محروم د تمنا دی
عادت دی په رضا باندي، هر شی د دی دنيا
انسان دی هر طاقت يې، چې اخته په تقاضا دی
دا يوه پوټۍ ذره ده، چې هوس د خوربدو کړي
ذره نه غونډه صحرا ده، او که دا خو څه بلا دی
که غواړي نو بدل به، کړي صورت د چمنونو
دانا دی هم بينا دی، ورسره هم توانا دی

# د اسلام ځوانانو ته خطاب

چیري فکر دي د دې کړی، اې ځلمیه مسلمانه!
هغه ثرنګه اسمان ؤو، چي یې ته وې ستارا
ته خو داسي قام پاللی یې، په غېږ د محبت کښې
چي په پښو کښې مږلی، تاج د سرو وو د دارا
تمدن پیدا کونکی، آئین ساز د بادشاهت وؤ
وه زانګو د سربازانو، د عرب یعني صحرا
د"**الفقر فخري**" رنـګ یې، وؤ په شان د امیری کښې
څه په کار وي خال وخط، د هغه مخ چي وي زیبا"
فقیری کښې هم د خدای، بندګان دومره غیرتمند وو
چي فقیر نه هم بخشش کي، وېرېدل به اغنیا
غرض دا چي څه اووایم، هغه څنګ صحرا نشین وؤ
جهانګیر او جهاندار وؤ، جهان بان جهان آرا
که زه غواړم نو الفاظو کښې، به کړمه نقشه جوړه
خو ده ستا د تصور نه، باهر هغه نندارا
هیڅ نسبت د خپله پلاره، سره ستا نشي کېدلای
ته وینا هغه عمل وؤ، ته ثابت آسیارا
چي د خپلو مشرانو، میراث موږ تالا ترغه کړو
نو په مځکه باندي وویشتو، اسمان له ثریا
حکومت عارضي څیز ؤو، د هغې خو څه غم نشته
د دنیا د مسلم آئین، بغیر ده ګزارا

خو د علم ملغلري، کتابونه د نيکونو
چې يې وګورو يورپ کښې، زړه مو شي اره آرا
اې غني ته "بدبختۍ ته، د کنعان د پير وګوره!
چې د سترګو نور يې کړئ، د زليخې سترګې رڼا"

## د اختر مياشت

د اختر مياشتې! اې نوره! د نظر د روژه دار راشه! وو مسلمانان دي، سر تر نوکه انتظار ستا تندي باندي ليکلی، ښکلی زېری د اختر دی او ماښام دي لکه اصل، کښې د عيش د صبا سر دی ته آئينه يې ښکاره تا کښې، تېر دوران مو د ملت دی نوې مياشتي د پخوا راسي، مو تا سره الفت دی چې د کوم بېرغ په سيورو، کښې مورِ توري ازمايلې په سرو وينو د دښمن مو، قباګانې رنګولې هم د هغې بېرغ غېرړه، دي ليکلې په قسمت ده ستا د ورځ په زياتي حسن، کښې آبرو مو د ملت ده زمورِ قام اشنا پرست دی، او وفا ستا طريقه ده دا قميص د سپينو زرو، دي د مينې يو چينه ده د اوچت اسمان له چت نه، وګوره کوزې دنيا ته خپل اوچت ځای نه زمورړه، د دې وران کور خوا اوشاته

قافلې روانې ګوره، او د دوی تېز رفتارۍ هم
او دا سترې مسافر هم، له منزل نې ویزارۍ هم
ملغلرې په نوستې مو، چیرې ته چې به لیدې مو
خو اې تشې پیالې ګوره، نن زموږه نادارۍ هم
ځنځیرونو د فرقو کښې، راګیر شوی مسلمان دی
ګوره خپله آزادي دي، او د دوی ګرفتارۍ هم
د تسپو شلیدلې مزې، ته د شېخ جمات کښې ګوره
د بامبړ زنار ته ګوره، شلیږې نه په کټارۍ هم
نندارہ کوه کافر، د مسلمان طریقه اخلي
او زموږ د مسلمان، د مسلمان دل ازارۍ هم
تماشه کوه د کاڼو، د باران د حوادثو
د مرحوم امت وګوره، د آئینو چاردیوارۍ هم
خاوندان چې د عزت وو، خوشامندو ته یې ګوره
بې ابرو چې وو وګوره، د هغوی دا خودداری هم
د خبرو چل چې چاته، چیري موږ ؤو ورښیلی
د هغو بې ژبو ګوره، چالاکي او طرارۍ هم
د عشرت اوره سازونه، له ماڼیو د مغرب نه
او ایران کښې د ماتم، لیږې وګوره تیارۍ هم
ګارې ویتې کړه قبا، د خلافت نادانه ترک مو
ساده توب د مسلمان، ګوره د نورو عیارۍ هم
هرڅه وینه د اینې غوندي، اوچت سر په زنګون شه
د نن ورځ په شور و شر، ډوبه، سرود کښې د پرون شه

# شمع او شاعر

(فروري ۱۹۱۲م)

بیګا شپه مي د خپل وران کوډکي، و شمعې ته دا وویل
له وزرو د پتنګ نه، ستا د زلفو ده شانه
په دنیا لکه ډیوه، د ججوئ یمه په صحرا کښې
نه محفل مي په نصیب شو، نه قسمت کښې کاشانه
مودو راسي ستا په شاني، ما هم دی تېر سېځلی
په طواف مي د شعلو نه، وهي پر یو پروانه
روح مي روست کړو امیدونو، سل جلوې پکښې ځلیږي
پیدا نه شو دې محفل کښې، یو زړګی هم دېوانه
د دنیا رڼا کولو، اور دي کوم ځای نه راوړلی؟
بې بساطه یو چنجي ته، د کلیم سوز دی بښلی

## شمع

هغه موج د سا چي ما ته، راکوي پیغام د مرګ
نو دي شونډې سندرماري، هم په هغه موج د سا دي
زه خو سوځم په دې وجه، چي فطرت کښې مي پټ سوز دی
او ته سوځې په دې خیال، چي پتنګان شي په سودا دي

ژاړم ځکه چې لرمه، یو طوفان د اوښکو زړه کښې
وروې ته پرخه ځکه، چې شي ګلو کښې چرچا دي
زه په شپه ژاړم په وينو، په صبا مي لمن سره وي
او دا ستا ننني ورځ ده، صبايي سره ناشنا دي
دا منمه چې ته روڼ يې، خو دننه سوز دي نشته
په ميره کښې د لالا، د ډيوې شانې ده رڼا دي
فکر وکړه چې لقب، د ساقي تا سره جوړيږي؟
انجمن دی درنه تږی، پيمانه ده بې صهبا دي
ستا د کار طريقه بيله، د قام ژوند روان په بله
ستا د مخ له بدرنګۍ نه، هم آئينه شوله رسوا دي
چې کعبه دي ده په ترخ کښې، سودايي د بتخانې يې
ګوره څرنګي سروانبي، دي شوقونه بې پروا دي

نامکنه ده پيدا چې، چيري قيس شي ستا محفل کښې
ستا ميرې دي لنډي تنګي، او محمل دی بې ليلا دي
اې د موج غېږ کښې پاللې، ملغلرې ځلېدونکې
له مزو د طوفانونو، سره سيند دی نااشنا دي
اوس به څه کړې فريادونه، شوه باغچه دي رنګه سمه
بې موقعې ستا ترنم دی، ده نغمه دي بې موسمه
چې شوقيان د تماشې وو، هغه ټول لاړه رخصت شو
که د "عام ديدار"په خوله دي، اوس پيغام راغی نو څه
انجمن نه پاڅېدل، هغه زاړه شعله نوشان چې
نو ساقي که اوس په لاس آتشي جام راغی نو څه؟

آه- افسوس چې د ګلشن دي، جمعيت تالا ترغه شو
نو که ګل ته د سپرلي، د ياد پيغام راغی نو څه
لړسپ د حلال شوي، آخر شپه کښې د ليدو وو
سحر وختي که څوک په، سر د بام راغی نو څه؟
چې د هر پتنګ مقصود وه، لاړه هغه شمع مړه شوه
سودايي که څوک په زړه د، سوز تمام راغی نو څه؟
فرياد وکړې او که نه کړې، دي ګلونه بې پروا
بې دمه کاروان پروت دی وي، که نه ړوړ د درا
ته چې وې د محفل شمع، او بيا هم درکښې سوز نه وؤ
ځکه پاتې بې خبره، د دې خوند نه پروانې شوې
چې په مزي د الفت کښې، تا پيرلی شوای نو ولې؟
تار په تار او ابشته ببشته، د تسپو درنه دانې شوې
بې پروا شوقونه لاړل، اسماني فکرونه لاړل
ليونو او د هوشيارو، نه خالي هم استانې شوې
نه هغه جګرسوځي شته، نه هغه شعله نوشي شته
څه فايده ده بيا که شمعې، نه چاپيره پروانې شوې؟
خير دی ته هډو ساقي شوې، نو څښونې به په چا باندي
نه هغه شراب خواره شته، او نه پاتې ميخانې شوې
چې د کوم ساقي له لاسه، تر پرونه په ګردش وې
يوه ماته مينا ژاړي، چې څه هغه پيمانې شوې؟

نن هغه میرې شوې شاړې، مجنونان به یې پالل چې
چې لیلا او لېونی یې، ګډېدل به ویرانې شوې
های! افسوس نامرادییه، چې له کاروانه سامان لاړه
او ارمان چې د کاروان، د زړه نه خیال هم د زیان لاړه
چې د چا د هنګامو نه، به آبادي ویرانې وې
د هغو ښارونه وران شول، آبادۍ شوې ځنګلونه
دبدبه چې شوه قایمه، د توحید په کوم مونځونو
شو په هند کښې د بامبړ، د سره زار هغه لمنځونه
په دنیا هېمشه عېش خو، پابندۍ کښې د آئین دی
آزادیانې موج دپاره، د فغان شوې سببونه
تجلي چې په آرزو وه، چې زما به ننداره کړي
ناامید شو د ایمن له، نوره هغه نظرونه
الوتل به په رزګونه، بلبلان دي په ګلزار کښې
دا په زړه کښې یې څه راغلل، چې یې خوښ شولو کورونه؟
په دې ارت پراخ اسمان کښې، به یې ترټکو څومره خوند کړو
اوس اویده به درمندونو کښې، شو هغه تندرونه
چې په وینو ژاړي سترګي، منت ولې د ګلزار کړي؟
چې جولۍ کښې د نظر یې، شته همېش اوښکې ګلونه
او لېکن د غم ماښام خو، راوړي زېری د اختر
تیاره شپه کښې پلوشه، د امید راغله په نظر
اې ساقي! د خمستان، د حجاز زېری مې درباندي
چې د ډېري مودې پسته دي، په خود شو بیا رندان

ننګ غیرت یې ووَ ورکړی، په شرابو د اغیارو
بیا له شور د "څنبه څنبوه" نه، ژی په ژی دي دی دوکان
بیا نظر د سلیمٰی دی، ورکوي پیغام د شور
او ورو ورو په کوزېدو کنبې، دی جادو د هندوستان
بیا غوغا ده دا "اې ساقي، چې کورني شراب راډک کړه"
د مغرب شرابو چوپ کړې، هنګامې د دل وجان
بیا نغمې دي را شروع کړه، نه دی وخت د چوپ کېدلو
چې په لاس د لمر مینا، د سباؤن کنبې د اسمان

سوځه غم کنبې ته د نورو، او نور هم وسوځوه
ما واضحه درته اووې، غور کړه ته په دې بیان
هسي وايي شاعري هم، ده یو جز پیغمبري
واوروه د قام محفل ته، دي د خوند دغه فرمان
رابیداري کړه بیا سترګې، په لوظونو د دیدار
او ژوندی کړه زړه په سوز، د جوهرونو د ګفتار
ستا همت باندي داړه، ځان اساني وغوزوله
په ګلشن کنبې یو لبنتی شوې، چې دریاب وې په صحرا
ته چې وې خپل اصلیت کنبې، جمعیت دي هم قایم وُو
بوی چې ګل پرېښو کاروان یې، پرېشان شو په هر خوا
کله اوښکه کله پرخه، نو شي کله ملغلره
ژوند د څاڅکي ښيي راز، د ژوندانه په دې دنیا

چیرته یا یې راپیدا کړه، چې هم دغه لوی دولت دی
هغه ژوند څه وي چې زړه وي، له سینې نه نااشنا
ستا عزت ؤو تر هغې چې، دې ملت کښې اتفاق ؤو
اتفاق چې درنه لاړه، نو دنیا کښې شوې رسوا
فرد ملت باندې قایم وي، او یواځې هیڅ هم نه وي
موج په سیند کښې وي بهر ګوره! بېدیاه کښې هیڅ هم نه وي
په پړدو کښې دې د زړه لا، محبت بند پټ ساته ته
یعنې خپل شراب دې مه کړه، د مینا غوندې رسوا
په شعلو د تحقیقونو، دې خپل کور اوسوځوو
خېمه بنځه کړه کلیم غوندې، سخوبې کښې د سینا
د پتنګ په خاکستر، باندې تعمیر د سحر وکړه
چې شي شمعې ته معلوم لیږ، انجامونه د جفا
که خوددار او غیرتي یې، نو منت د ساقي مه کړه
ان په سیند کښې کړه نسکوره، د حباب غوندې پیالا
هیڅ مزه چې پاتې نه ده، په زړو غرو او رغو کښې
لېونتوب چې دې دی نوی، صحرا نوې کړه پیدا
نصیبې که ته د خاورو، سره کړې خاورې ایرې
نو ته هم زرغونه ونه، شه د دانې په شانې بیا

اوا! په دغې زړې څانګې، باندې یا جوړه کړه جالا
ګلشنیان دې کړه په خپلو، مستانه نغمو شیدا

یا مرید شه د بلبل او، یا شاګرد د ګل چمن کښې
یا خو سر تر سر شه چیغه، یا چې سنړ ونه کړې بیا
بې آوازه کړې چمن کښې، د غلا تله لکه شبنم
شوندې پرانیزه سرود ته، د بربط یې د عالم
اې دهقانه! لیږ اشنا خو، شه له خپله حقیقته
دانه ته یې، پټی ته یې، باران ته یې، حاصل ته یې
آه! افسوس دی در په در دې، ګرځوې د څه لټون؟
لاره ته لاروی ته یې، ریبار ته یې منزل ته یې
د طوفان له ویرې ولې، دې زړګی په ریږدېدو دی؟
ماښکی ته یې، دریاب ته یې، کښتۍ ته یې ساحل ته یې
راشه وګوره کوڅه کښې، دې د څیرې ګرېوان چیرې
قیس هم ته یې لیلا ته یې، صحرا ته یې محمل ته یې
های! افسوس په نادانۍ دې، ته محتاجه د ساقي شوې
شراب ته یې مینا ته یې، ساقي ته یې محفل ته یې
ځان نه جوړه کړه لمبه، د غیرالله خشاک ایره کړه
له باطل نه څه ده ویره؟ غارت ګر د باطل ته یې
بې خبره! له جوهره، د آئینې د دې دنیا یې
اخیري پیغام د خدای ته، زمانه کښې د بقا یې
اې غافله! ځان آګاه کړه، ته له خپله اصلیته
څاڅکی یې خو ستا مثال، د یو دریاب بې پایان هم دی
ولې یې په دې جادو کښې، ګرفتار چې "زه څه نه یم"
وخو ګوره پټ په تا کښې، یو دبدب د طوفان هم دی

امانت ستا په سینه کښې، د هغه د ناز پیغام دی
چي نظام د دې دنیا کښې، ظاهر هم دی پنهان هم دی
چي بې توري او بې توپې، هفت کشور پرې تابع کیږي
که پوهیږې نو موجود، درسره هغه سامان هم دی
د فاران د غر سکوت چي، لا تراوسه پرې شاهد دی
اې غافله! یاد څه تاته، هغه عهد وپیمان هم دی؟

په یو څو غوټو چي صبر، شوې کم عقله دا خو ته بې
ګني باغ کښې د لمنې، د تنګوالی درمان هم دی
په پرده کښې د تقریر مي، کیفیت د زړه پیدا دی
د مینا جامه کښې تن د، میو پټ هم پنهان هم دی
آتشینو آوازونو، مي لمبه کړمه سوځیږم
او زما د ژوندانه دا، سرمایه او سامان هم دی
راز د دغې آتشي آواز، مي وګوره سینه کښې
د تقدیر جلوه مي وګوره، د زړه په آئینه کښې
آئینه پوش به اسمانونه، شي په نور د سحر باندي
او تیاره د شپې په شان بهٔ، د پارې شي په هوا
ترنم په هسي شان بهٔ، د سپرلي باد راپیدا کړي
له ویده بوی د غوټۍ نه، به آواز شي راپیدا
سینه چاودي د چمن بهٔ، سینه چاودو سره یو شي
شي ملګري به مجلس، سره د ګل باد د صبا

د شبنم دا ورول به، زما سوز و ساز پيدا کړي
د دې باغ هره غوټۍ به، شي د دړد سره اشنا
د درياب د دبدبې، د تګ انجام به هم ښکاره شي
شي به پښو ته ځنځيرونه، يې موجونه واړه دا
بيا به زړونو ته راياد شي، پيغامونه د سجدو
پابندي به شي د خاورو، د حرم سره اشنا
د مرغانو د آواز سامان، به چيغې د ښکاري شي
د ګلچين وينه به سره کړي، د غوټۍ وړه قبا
څه چي سترګيويني هغه، مي راتلای نه شي تر شونډو
حق حيران يم چي د څه نه، به څه جوړه شي دنيا
اخير شپه به شي په تېښته، په جلوو د لمر ضرور
د نغمو نه د توحيد به، دا چمن شي بيا معمور

# مسلمان

(جون ۱۹۱۲م)

هره سا دي اې اقباله! اسويلو کښې ده مستوره
دغه ستا سوې سينه ده، فريادونو نه معموره
څه نغمه د اميد نشته، دی په ساز د زړه کښې ستا
مورِ خو وايو ستا محمل کښې، جوړه نشته دا ليلا

غوږ هغې ساز ته لرې، ته کوم تېر شوی چې پخوا دی
زړه دې هم د دې حاضرو، هنګامو نه بې پروا دی
دا ملګري د چمن خو، قیصه نه اوري د ګل
نه ږدي غوږ په زوږ اواز، دي خاوندان د دې محفل
د ویده کاروان جرسه! بس دی مه ږغېږه چپ شه
ستا آواز نه مایوسي، را پیدا کیږي پرېږده چپ شه
کېدای نه شي چې ژوندی دي، پخوانی محمل شي بیا
کېدای نه شي چې په شمع، تیاره شپه به شي رڼا
اې ملګرې! مسلمان یم، د توحید یمه حامل
له ازله یم د داسي، صداقت شاهد، عادل
نبض کښې د موجوداتو، حرارت دې نه پیدا دی
تخیل د مسلمان کښې، جسارت دې نه پیدا دی
پیدا کړی خدای عالم خو، دی همدغې صداقت له
او بیا زه یې هم پیدا کړمه، د هغې حفاظت له
په دنیا تالا کوونکې، د باطل پرستۍ زه یم
حقه دا ده محافظ چې، د ناموس د هستۍ زه یم
دا زما هستي قمیص دی، بربنډوالی د عالم ته
ده زما په ورکېدو کښې، رسوایي بني آدم ته
د جهان د قسمت ستوری، مسلمان دی ځلېدونکی
د سحر جادو د ده، له رڼایۍ دی شرمېدونکی
زما سترګو کښې ځرګند، ښکاري اسرار د ژوندانه
مه مې بوله ناامیده، له پیکار د ژوندانه

کله ماشي وېرولای، عارضي د غم منظر
چې يقين مضبوط لرمه، د خپل قام په مقدر
دی آزاد نااميدي، ځنې زما کار او روزګار
د کامل بري خبر، راکوي جوش مي د کارزار
دا رښتيا دي چې په تېره، زمانه نظر لرمه
او زړه قيصه زه خلګو، ته محفل کښې اوروم‌ه
ياد د تېرې زمانې خو، زما خاورې ته اکسير دی
هغه تېره زمانه مي، مستقبل لره تفسير دی
مخکښې ږدم ځان ته هغه، دور دوران د خوشحالۍ
د پرون په آئينه کښې، ګورم ورځه صبانۍ

## د پيغمبر صلی الله علیه وسلم په حضور کښې

هنګامه د زمانې چې، په ما بده لګېدله
نو مي کډه د سفر، له دې جهانه وتړله
د سحر او د ماښام، په قيد بندي ومه لېکن
زوړ نظام د دی عالم، سره ياري مي نه کوله
فرښتو واخستم بو يې تلمه، بزمِ رسالت صلی الله علیه وسلم ته
او حاضر يې په دربار کښې کړم، د کل عالم رحمت صلی الله علیه وسلم ته
نو هغوی صلی الله علیه وسلم وفرمايل: "وېل د حجاز د باغ بلبله
ستا په ګرمو آوازونو، تانده هره غوټۍ شوله

همېشه دي زړه دی مست، په جام د مینې د شرابو
عاجزي دي داسي ده، د نیاز سجده یې شرموله
په طرف چي د اسمان، را والوتې کښته دنیا نه
ملایکو درته دا، بره ختنه وښیله
د جهان د باغ نه ته یې، لکه بوی هسي راغلی
موږ دپاره څه پیکښ دي، هغی ځای نه دی راوړی؟
په جهان ستا نه قربان شم، هیڅ آرام نه شې موندلی
چي د کوم ژوندون لټون دي، په هیڅ شان نه شې میندلی
په زرګونو شته ګلونه، د دنیا د هستۍ باغ کښې
د وفا د ګل غوټۍ یو، په بوستان نه شي میندلی
ولې ما په نذرانه کښې، ده یوه ښیښه راوړې
چي په دې کښې کوم یو څیز دی، په جنان نه شي میندلی
ننګ ناموس ستا د امت، ورکښې له ورایه نه ځلېږي
وینه سره د طرابلس، د شهداء پکښې ښکارېږي

# د حجاز هسپتال

د قام یو مشر وکړله، اقبال ته دا خبره
جده کښې جوړېدونکی، د حجاز دی هسپتال
ذره ذره د خاورې، دي یو دم شي نا قراره
چي واورې چیري چانه، د حجاز قیصه احوال

دا لاس د لېونتوب دي، کړه لږ جېب پله ور کښته
چي مينې د حجاز کښې، يې ور تېر تر سرومال

په کار شفاخانه ده، يوه خوا کښې د بطحا
بايد چي د رنځور، په نبض لاس وي د عيسیٰ

ما ويل چي په پړده کښې، د مرګي پروت دی ژوندون
ببخي لکه چي پټ، په حقيقت کښې وي مجاز
تريخ ګوټ کښې د اجل، چي عاشقانو دی ميندلی
ميندلی خضر نه دی، د ژوند ميو کښې دا راز
پيغام د ژوندانه ورکړه، دا نورو ته صاحبه!
د مرګ په تلوسه يم، زه پر مځکه د حجاز

تا ما لره راوړی، دی دا زېری د شفا
لېکن د خاوندانو، د درد څه په مسيحا؟

# د ګيلې څواب

چې له زړه څنې خبره، راوځي لري اثر
بې وزره وي طاقت، د الوتو لري مګر
پاک يې اصل وي نو څکه، يې په بره وي نظر
را اوچته شي له خاورو، په اسمان لري سفر

عشق زما چې فتنه ګر وؤ، هم سر وابنه هم چالاک
نو فرياد مي څکه څيرې، کړه اسمان لاړه بيباک

دا آوازچې شو تر غوړه، د اسمان وې چيرته دی څوک
ستورو اووې چې د عرش، د سر دپاسه پورته دی څوک
سپوږمۍ اووې چې نه نه، دا خو د مځکې مېشته دی څوک
کهکشان اووې چې نه، که خيريي پټ دلته دی څوک

که څه پوه شو په ګيله مي، نو وو بس هغه رضوان
وې چې دا دی ويستې شوی، له جنت هغه انسان

فرښتې هم وې حيرانې، چې دا څرنګه اواز دی؟
پوهېدل نه د عرش خلک، هم وې دا لا څنګه راز دی؟
ان ترعرشه پوري هم لا، د بندیانو ټک و تاز دی؟
چوندۍ خاورې ګني هم زده، کړې چل بيا د پرواز دی؟

ګورۀ څومره بې ادبه، دا د مځکې ساکنان دي
بې لحاظه او بې مخه، دا د کښته ځای بندیان دي

اې نو دومره ډېر بې مخه، چې د خدای نه هم خفه دی؟
ملایک چې په سجده وو، ورته دا هغه بنده دی؟
په دا څه که دی عالم، د کیف و کم دی داننده دی
چې د راز د عاجزی، باندې ناپوه ناغیجه دی

د وینا په طاقت ګوره، څومره ناز کوي انسان
نه ورځې چل د خبرو، تر دې حده دی نادان

آواز راغی چې له غمه، نه ده ډکه افسانه دي!
شوه له اوښکو ناقرارو، ځنې ډکه پیمانه دي!

په اسمان ګوره! هاوي شوه، دغه چیغه مستانه دي!
څومره تېز دی په ګفتار کښې، لېونی زړه جانانه دي!

په ګیله کښې دي شکرونه، په ښه شان سره ادا کړل
چې د پاک الله سره هم، په خبرو بندیان تا کړل

موږه تل کوو کرم خو، هډو نشته څوک سایل
چاته لار اوښیو نشته، لاروی څوک د منزل
تربیت خو زما عام دی، خو جوهر نشته قابل
چې آدم ترې نه جوړېږي، نشته هغه آب وګِل

چي قابل وي څوک نومور، ورته بخښو ځو ځو شانونه
ورکوو مور لټوونکو، ته هم نوي جهانونه

بې طاقته مو لاسونه، دي او زړونه کافران
رسوايي د پيغمبر لره، سبب دی امتیان
بت شکن خو لاړل تېر شول، اوس دي پاتې بت ګران
د دوی پلار ؤ ابراهيمع، اوس يې ځامن دي آذران

شراب څښونکي نوي راغلل، شراب نوي خُم هم نوی
بت هم نوی تاسو نوي، د کعبې حرم هم نوی

هغه هم چيري وې ورځې، چي وه فخر ګدايي
د سپرلي به همېش ناز، په ججويي ؤو صحرايي
مسلمان پر ځای فقط، د يو الله وؤ سودايي
چيري وختو کښې محبوب مو، وؤ هم دغه "هرجايي"

څه کنه چا "يکجايي"، سره دی وشي غلامي
شي امت د محمد ﷺ دي، په يو ځای کښې مقامي

ځومره ګران دي ويښېدل، درته په وخت د صبايي
کله ما سره مو مينه، ده د خوب يې شيدايي
د رمضان د مياشتې قيد ته، مو خوی کله ښه وايي
او بيا داسي رنګی خوی، څوک به وفا کله ستايي

دا ملت په دين ولاړ دی، چې دين نه وي مسلم نشته
چې کشش تر منځه نه وي، بيا محفل د انجم نشته

چې د چا څه هنر نه زده، هغه تاسو په دنيا يئ
هغه قام يې چې د ځای، د اوسېدو نه بې پروا يئ
چې پر تندر خوشحالېږي، هغه درمن د بېديا يئ
د نيکونو مو قبرونه، خرڅوئ او خورئ لګيا يئ

د قبرونو تجارت، باندي چې يئ تاسو نېکنام
خرڅ به نه کړئ که د کاڼو، چرته وموميئ اصنام؟

د دنيا له مخه اووايه، باطل برباد کړو چا؟
او انسان له غړوندو، د غلامیِ آزاد کړو چا؟
د کعبې کور د تندو، په سجدو آباد کړو چا؟
او زما قرآن سينو، سره جخت کړی ياد کړو چا؟

هغه ستاسو وو نيکونه، ولې څه يئ؟ وايئ تاسو
لاس په لاس ناست انتظار کښې، د صبا اوسېږئ تاسو

دا دي څه وېل؟ چې تش، لوظ دي مسلمان سره د حور
که ګيله بې ځايه هم وي، نو په کار دی څه شعور
د خالق د هستیِ عدل، له ازله دی دستور
چې کافر کار د مسلم کړي، خود به مومي حور قصور

نشته تاسو کښې څوک داسي،چي د حورو يې سودا وي
پلوښې د طور خو شته، ولې هله که څوک موسیٰ وي

د دې قام فايده يوه ده، او هم يو لري نقصان
د دې ټولو نبي ﷺ يو دی، يو يې دين يو يې ايمان
پاک الله يو پاک حرم يو، او هم يو يې دی قرآن
نو وه دا خبره ګرانه، که وای يو مسلمانان؟

چېرته دي ډله بازۍ مو، او دي چرته کښې ذاتونه
په دنيا د ترقۍ، دپاره دا وي حالتونه؟

چا دی پرېښی شريعت، د محمد ﷺ نبي مختار؟
او دا څوک دی چلوي چي، د وخت وخته سره کار؟
د چا سترګو کښې ښه لګي، تهذيبونه د اغيار؟
څوک د خپلو مشرانو، طريقو نه شو وېزار؟

زړه کښې سوز نشته په روح کښې، څه احساس نه معلومېږي
د پيغام د محمد ﷺ لحاظ، هم تاسو نه نه کيږي

جماتونو کښې صفونه، ودروي که نو غريب
زحمتونه د روژې هم، تېروي که نو غريب
چېرته ذکر مي په خوله، د نوم کوي که نو غريب
او پړده په تاسو څو، را اچوي که نو غريب

امیران رانه غافل دي، مست نشه کښې د دولت
دغه روڼ دین خو ژوندی دی، د غریب په برکت

په واعظ د قام کښې شته دی، پوخوالی د خیال
نه کمال شته دی د پوهې، نه کلام کښې څه جلال

اذان پاتې دی تش رسم، نشته روح لکه بلال[رض]
فلسفه مو لري نه، د غزالي په شان کمال

جماتونه په ژړا دي، وايي نشته لمونځ ګزار
يعني هغه حجازي، صفته خلګ د وقار

شور دی دا چې لاړل ورک شول، له دنيا مسلمانان
موږه وايو چې موجود هم، چېرته وو مسلمانان؟
په ډول ډال کښې فرنګيان يئ، دود دستور کښې يئ هندوان
دغه دي مسلمانان چې، ترې شرميږي يهوديان

يئ په نوم خو سيدان هم، مرزاګان هم افغانان هم
هرڅه هرڅه يئ خو وايئ، تاسو يئ مسلمانان هم؟

د تقرير په وخت بې باک، د مسلمان ؤو صداقت
او انصاف يې دومره صاف چې، په کښې نه ؤو مخ مروت
په حيا باندي ؤو تاند، د مسلم بوټي د فطرت
وه د عقل نه بهر يې، تورزني او شجاعت

د شرابو کیف یې دا وؤ، چې بې ځان ویلي کولو
د بوتل رنګي بې ځان، د بل دپاره تشولو

د باطل د رګ دپاره، مسلمان هر یو نشتر وؤ
د هستۍ په آئینه باندي، د ده عمل جوهر وؤ
که د ده په څه باور وؤ، نو په ﷲ یې باور وؤ
تاسو مرګ‌نه په خطر یئ، د هغو خدای نه خطر وؤ

که زده کړی چیري نه وای، د چا ځوی علم د پلار
نو بیا څنګه هغه ځوی شي، د میرث د پلار حقدار

هر یو مست دی غلبه ده، پرې د ځان تن اساني
تاسو یئ مسلمانان؟ او، دا مو ده مسلماني؟
نه شته فقر حیدري مو، نه دولت شته عثماني
مشرانو سره ستاسو، څه نسبت دی روحاني؟

عزتمن هغوی دنیا کښې، وو چې وو مسلمانان
تاسوسپک شولئ هم خوارشوئ، چې موپریښودو قرآن

په غضب تاسو یو بل ته، وو هغوی رحم کوونکي
تاسو یئ عیب لټونکي، وو هغوی عیب پټوونکي
هسي ټول غواړئ چې موره، د اسمان وای اوسېدونکي
اول هغه څوک پیدا کړئ، چې سلیم زړه وي لرونکي

د فغفور تخت د هغوی ؤو، د هغوی ؤو د کی تخت هم
هسي قرېتې دوړوئ که، درکښې شته هسي غیرت هم؟

تاسو ځان په خپله وژنئ، او هغوی وو غیرتیان
تاسو کړئ له وروره ډډه، هغوی وو په ورور قربان
تاسو یئ تشې خبرې، د عمل هغوی ځوانان
تاسو رېږدئ یو غوټۍ ته، هغوی غېږ کښې ګلستان

لا تراوسه یادوي، حکایتونه یې قامونه
د هستۍ په پاڼه نقش، دي د هغوی صداقتونه

په افق د قام راڼه شوئ، لکه ستوري د اسمان هم
د هندي صنم په مینه، محبت شوئ بامبړان هم
هم په شوق د الوتو کښې، شوئ وطن نه مهجوران هم
بې عمله خو ځوانان وو، شو له دینه بدګمان هم

د هر بند او پابندئ، ځنې یاران تهذیب آزاد کړل
د کعبې له منځې راوړل، بتخانه کښې یې آباد کړل

کړاوونه دي مجنون اوس، تېروي نه په صحرا
ښاریو کښې دي دې ګرځي، نه دي ګرځي په بېدیا
هسي هم خو لېوني دي، په آباده وي که نا
ولې دا ده ضروري چې، مخ بربنډ وي د لیلا

د ستم ګیلې چې نه وي، او مانې د بېداد نه وي
عشق آزاد دی نو ښایست دي، وایه ولې آزاد نه وي؟

دغه نوی اور دی تندر، سوځي هر یو خروار
نه صحرا ترې نه بچ کیږي، نه بچ کیږي ترې ګلزار
د دې اور زاړه قامونه، دي خشاک سوځي په وار
دا ملت د پیغمبر ﷺ دی، په لمن پوري انګار

که نن هم چرته پیدا شي، ابراهیمؑ غوندي ایمان
نو دا اور پیدا کولای شي، انداز د ګلستان

اې مالي! د چمن رنګ، باندي چې اونه کړې خفګان
ځانګې نوې غوټۍ نیسي، د غنچک ستورو په شان
خالي کیږي جارو کیږي، له خزلو ګلستان
سره ګلونه دي د وینو، هر خوا شیندي شهیدان

د اسمان رنګ ته وګوره، چې یې غاړې عنابي دي
دا د لمر د ختو نخښې، په افق کښې افتابي دي

په ګلشن کښې د هستۍ شته، امتونه میوه دار هم
بې مېوې په کښې هم شته دي، او خزان زیلي خوار هم

په سوونو بوټي مړاوي، دي شته ډېر شنه په بهار هم
د چمن په نس دننه، پټ پراته دي لا بې شمار هم

دا اسلام بوټي مېوې کښې، د نيولو نمونه ده
صدو راسي د چمن دا، د پاللو نتيجه ده

د وطن له ګرځه پاکه، دي لمن ده په هر شان
ته هغه يوسف يې تا، لره هر مصر دی کنعان
ورانېدونکی، ړنګېدونکی، چيري نه دی ستا کاروان
نه لرې بې له آوازه، د جرس هډو سامان

د محفل شمعې! باتې کښې، دي شعلې وهي دو دونه
د کارونو عاقبت ته، نظر نه کړي ستا فکرونه

ته به چيري نه ورکېږې، د ايران په ورکېدو
د شرابو د نشې څه، په جامونو په پيالو
ده څرګنده افسانې نه، دا د ترکو د حملو
بيا موندلي پاسبانان چې، دي کعبې له بتخانو

د کښتۍ د حق دپاره، ته ماڼکی يې په دنيا
د دې نوي دوران شپه کښې، يې تت ستوری د رڼا

دغه شور چې را اوچت دی، له حملو نه د بلغار
غافلانو لره دی، خبرداری چې شي بيدار
ته جوړ وايې چې سامان دی، دا زموږه د ازار
امتحان د خود داری دي، دی ازمېښ ستا د ايثار

له هنره هاري د اسونو، د دښمن ولې وېرېږي؟
د حق نوره! د دښمن، په پوکو ته کله مړ کېږي

پټ له سترګو د قامونو، د دنيا ستا حقيقت دی
لا محفل کښې د هستۍ خو، ستا بې شانه ضرورت دی
چې ژوندۍ پرې زمانه اوسي، هغه ستا حرارت دی
په قسمت کښې د امکان ستوری، هم ستا د خلافت دی

باقې پروت درته ډېر کار دی، چيرته دي اوزګارېدل
ستا پر غاړه د توحيد، د نور دی سر ته رسول

لکه بوی غوټۍ کښې قيد يې، او خه خور شه پر جهان
په اوږو د هواګانو، شه ور سپور د ګلستان
که په کډه کوډه سپک يې، شه ذرې نه بيابان
د موجونو له نغمو نه، هنګامه شه د طوفان

په طاقت باندي د مينې، هره کوزه ته بالا کړه
ته په نوم د محمد ﷺ باندي، دنيا ټوله رڼا کړه

که دا ګل نه وي نو نه به، د بلبل وي ترنم
د دنيا به په چمن، د غوټو نه وي تبسم
دا ساقي که نه وي نه به، دا شراب وي او نه خُم
د توحيد محفل به نه وي، وي به نه مسلمانه هم

د دې نوم په روی ولاړه، ده خېمه د اسمانونو
د دې نوم په روی هم نبض، د هستۍ دی په ټوپونو

دغه نوم دی چې موجوددی، په بېديا غراو ميدان کښې
په درياب کښې د موج غېږ کښې، هم څلېږي په طوفان کښې
هم د چين په ښاريو، د مراکش په بيابان کښې
دغه نوم دی چې پټ پروت دی،په ايمان دمسلمان کښې

تر قيامته دي قامونه، ننداره کوي ببشک
شان دې ګوري په لوی د، "**رفعنا لک ذکرک**"

هغه ملک د مځکې سترګه، کښې چې تورتکی ښکارېږي
چې غازيان ستاسو پالل يې، او په نوم حبش ياديږي
هلالي دنيا په تاؤ کښې، د لمرونو چې پائيږي
د عاشقو په محفل کښې، بلالي[رض] دنيا نوميږي

نا قرار دی د پارې غوندي، د دغې نوم په تاؤ
لکه ګاتی چې د سترګې، غوټۍ خوري نور کښې غرقاؤ

دغه عقل ډال دی ستا او، دغه عشق دی شمشير ستا
خلافت زما ملنګه، پاڅه ! دې جهانګير ستا
ما سيوا د خدای هر شي، د پاره اور دی تکبير ستا
په رښتيا که مسلمان شوې، نو تقدير دی تدبير ستا

محمد ﷺ سره که وکاندې، وفا نو زه يم ستا
دا جهان لا څه جهان دی، وي به لوح وقلم ستا

# ساقي

د نشې په ورکولو، غورځول ورځي هر چاته
خوندهله کا غورځېدونکی، چي را ټينګ کړې ته ساقي
ميخواران چي کوم زاړه وو،هغوی ورووړو رخصتيږي
را پيدا کړه له څه ځايه، د "تل ژوند" او به ساقي
شپه خو تېره شوله ستا په، هنګامو په غوبلونو
را نزدې دی سحر واخله، د خدای نوم په خوله ساقي

# تعليم او د هغه نتيجې

## ((د ملا عرشي په شعر تضمين))

د ځوانانو ترقۍ باندي، خو موږه يو خوشحاله
خو خندا سره له شوندو، نه مو وځي فرياد هم
زما خيال وؤ چي تعليم بهٔ، دا نيستي زموږ کړي غوڅه
څه خبر وؤ چي راځي به، ورسره سم الحاد هم

په راتلو د شېرينۍ خو، د پروېز کره رښا شوه
خو راوړې يې په ترخ کښې، وه ترخځ د فرهاد هم
"تخم بل موږه پيدا کړو، چې له سره يې اوکرو
دا کرلی خو له شرمه، اوس رېبلی هم نه شو"

# د باچا نزدېکت

د حاکم او د محکوم، تميز به ليري چيري نه شي
څه مجال دی چې باچا، سره به سم کښېني ګدا
د باچا پرستشونه، خو کمال د غلامۍ دی
د هغه په رضا ځه، رنګينه اغونده قبا

خو دا هم ده که مطلب دي، وي رضا د حاکمانو
نو خطاب د قام فروش، عهده پرست دی در عطا
د عمل په زړه لاره، کښې زرګونه مشکلات دي
چې خالي د فکر غېږ ده، د دې نوي اصول لا
مزه دا ده چې همداسي، د اسمان لاندي اوسېږې
"زر خبرې که وي خوله کښې، خو خوله بنده له وينا"
د قراري د ژوند د پاره، بس هم دغه ښه اصول دي
"يې فقير ګوشه نشين، حافظه مه کوه غوغا"

او که غواړې چې ښکاره شوې، پر دنیا نو بسم الله کړه
"او صفا شراب را واخله، څښه يې په ډول او په سُرنا"
د امير او د وزير او، د باچا مجلس کښې ګډ شه
د هوس په کانې ماته، کړه ښيښه د ننګ حيا
خو خبره د شيراز، د مرشد هم لږ شانې واوره
دې ضمير د فرشتې کښې، پوشيده غوندي يو راز دا
"د باچا راى يو ځاى دى، د پاک رب د تجلو
که ته وايې چې نزدې شوې، ورته نيت لره صفا"

# شاعر

په سندرو ده راځي، واله له سر نه د کوهسار
سره شراب يې څښلي دي، شرابخانو نه د بهار
د مکېز په راتلو مستو نه، لږ دا زېرى هم واوره
ژوندى هغه دى قرار، باندي چې هيڅ نه لري کار
د ورېځو پېغلې ګرځي، په درو کښې څه په ناز
او کوي د مينې لوبې، په شينکي د مرغزار
پاس د غره له خمخانو نه، جام راوړي، راډکوي
ځي په لوړو په ژورو، او پټي اوبه کوي
که خوږ لوظى شاعر چيري، رښتيا وکاندي خبره
نو د ده په فيض راشنه به، کرونده د ژوندون شي

ځرګندېږي له کلام نه، يې شانونه د خليل
چيري قوم يې راشروع چي، طريقې کړي آذري
دا د مځکې اوسېدونکو ته، اصول د تل ژوندون دی
چي په وينو د زړه خپله، شاعري ځوک وپالي
که واله د شعر نه وي، د دنيا په دې ګلشن
نه به ګل نه به غوټۍ وي، نه شينکی او نه چمن

# د سحر زېری

(۱۹۱۲م)

په مشرق چي هنګامه شي، او جولۍ کښې وي سحر
له دنيا نه غلي غلي، خاموشي کاندي سفر
له محفل نه د قدرت هم، آخر لري شي سکوت
هر يو شی ورکوي دغه، وخت د خپل ژوندون ثبوت
په چيغا شي هر مارغه چي، واوري دی پېغام د ژوند
په ګلشن کښې هم ګلونه، وتړي احرام د ژوند
اې ويده مسلمه! پاځه ته هم جوړې هنګامې کړه
افق هغه دی رڼا شو، ته هم ګرمي تقاضې کړه
ته په دې فراخ عالم کښې، شه د لمر غوندي روان
چي داغونه د وريځو، پاتې نه شي په اسمان

جنګ کړه ګرم پلوشه بیا، رابهر کړه د خنجر
د باطل تیارې ته وښیه، د تېښتي رو ګودر
ته خو سر تر نوکه نور یې، ډېر دی ښه څرګندېدل دي
او چي مخ ښه را ښکاره کړې، بیا لازم دي خورېدل دي
را ښکاره د شاپېرک سترګو، ته پړق غوندي روښان شه
اې د کون او مکان زړه کښې، چي پټ راز یې نمایان شه

# دعا

خدایه! زړه د مسلمان ته، ورکړه هغه تمنا
چي زړګی پرې باندي ګرم، کړي او روح کړي په ترپا
بیا د سخوبي د فاران، هره ذره اوځلېده
ورکړه شوق د تماشې بیا، ورکړه ذوق د تقاضا
بیا محروم د تماشې ته، بینا سترګي ورعطا کړه
هم یې نورو ته وښیه، څه چي دي لیدلي ما
دا بې لارې بې ګودره، هوسۍ بیا حرم ته بوزه
د ښارونو آموخته ته، وښیه پلنه صحرا
بیا په دغه وران زړګي کښې، را پیدا شور د محشر کړه
دې خالي محمل ته، ورکړه معشوقه یعني لیلا
د دې دور په تیارو کښې، ته و هر پرېشان زړه ته
هغه داغ د میني ورکړه، چي پیکه کړي سپوږمۍ دا

خود داري د ساحل ورکړه، ازادي د درياب ورکړه
مقصودونه دې وي پورته، څنګ په څنګ د ثريا
بې غرضه دي وي مينه، او بې باک دې صداقت وي
په سينو کښې يې رڼا کړه، هم يې زړه لکه مينا
پوهه ورکړه چې دوی پوهه، په آثار د مصيبت شي
ننني شورش کښې ورکړه، ورته فکر د صبا
يو بلبل د وران ګلشن، يمه په چيغو باندي سر
د تاثير سوالګر يم، وکړه له محتاج سره سخا

# د اختر په ورځ

## د شعرونو ليکلو د فرمايش جواب

شالامار کښې يوه ورځې، وچې پاڼي دا ويل
لاړو تېر هغه سپرلی شو، چې يې زه يمه راز دار

د چمن دا سيلانيان دي، ما په پښو کښې نه راکاږي
يمه زه د دوی د جالې، د ښاخونو يو يادګار
دې يوې پوټې شنې پاڼې، مې زړه کړلو بې ارامه
باغ ته راغلم سر تر نوکه، پوري شوم غم د بهار

د سپرلي را يادېدل مي، په خزان کښې ژړوي
د اختر خوشحالي څه کړم، چې زه يم پر زړه پرهار
د زړې زمانې لاړې، ميخانې شولې ويجاړې
زه د تېرو شرابيانو، پاتې شوی يم يادګار
دا د عيش او خوشحالي، زېری چې مورِ ته اوروې
دغه مياشت د اختر مورِ، پوري خندا وشتی کوي

# فاطمه بنت عبدالله

## (د عربو يوه نجلۍ چې د طرابلس په جنګ کښې غازيانو ته په اوبو ورکولو کښې شهيده شوه. ۱۹۱۲ء)

فاطمې! ته يې ابرو، د دې امتَ مرحومه
ستا ذره ذره د خاوري، خو ده پاکه معصومه
د صحرا حوري! هم دغه، نېکبختي وه ستا قسمت کښې
د ملت د شهيدانو، سقايي وه ستا قسمت کښې
دا غزا ستا د الله، په لار کښې بې تورې بې ډاله
څومره شوق د شهادت دی، زړه ډاډه لرې اې لاله!
دا غوټۍ لا په دې باغ وه، د خزان په ننداره کښې
خدايه! داسي يو بخری، هم لا ؤو زمورِ ايره کښې
ډېر هوسۍ دي چې لا پټي، شته زمورِه په صحرا کښې
تندرونه دي ويده، تشو وريځو د هوا کښې

فاطمې! اګرکه ستړګي، مو لوندې دي ستا په غم کښې
خو نغمه د عشرت هم شته، زموږ چيغو د ماتم کښې

کوي خاوري دي ګډا، د خوشحالۍ نه ده معموره
او ذره ذره د سوز، د زندګۍ نه ده معموره
هنګامه غوندي څه شته دي، ستا د چوپ لحد په رنګ کښې
را لوئيږي را روان دی، يو تازه قام دی په غيږ کښې
زه اګرکه بې خبره، يې له لويو ارادو يم
خو له دې قبره د دوی، پيدا کېدو ته په کتو يم
تازه ستوری راختونکی، دی پر څنډه د اسمان
چي موجونه يې د نور نه، ويني ستړګي د اسمان
چي دي اوس را ځومبېدلي، له تيارو نه د دنيا
چي رڼا يې خبر نه ده، په ماښام او په صبا
په رڼا کښې اندازې يې، نورې هم شته زړې هم شته
ستا د ستوري د تقدير په، کښې يو ځای پلوشې هم شته

## ستوري او شبنم

يوه شپه په شپو کښې ستورو، وويل شبنم ته دا
نوې نوې ننداري دي، چي کوې يې هر صبا

خبر نه یو چې څو ځله، تا لیدلی دی جهان
دشته شوو او نیشت شوو، تا لیدلی دی نوښان
دا خبر چا فرښتې نه، اورېدلی دی زهرا
چې "اسمان نه ډېره لیري، د بندیانو ده دنیا"
د هغې ښکلي وطن، ووایه موږ ته افسانه
چې سپوږمۍ تل د هغې، د مینې وایي ترانه
تپوس مه کوئ اې ستورو، د چمن د دې جهان
ګلشن نه دی، دی یو کلی، د چیغو هی سوران
د صبا باد که را والوزي، نو راشي بېرته تلو ته
که غریبه غوټۍ ګل شي، نو فقط مړاوي کېدو ته

څه ووایم درته څه چې، په غوټۍ ښایسته چمن دی
څه وړه غوندي شعله ده، چې بې سوزه بې بدن دی
د بلبل د چغو شور، چیري ګل نه شي اورېدلای
له لمن نه ملغلرې، زما نه شي ټولولای
خوش آوازه مارغان هلته، رانیوای شي دا غضب دی
د ګل خوا کښې سم ازغی، راټوکیدای شي دا غضب دی
د رنځور نرګسي سترګي، تل تر تله لوندې اوسي
دي محرومي له کتو ګني، بې زړه کښې ننداري دي
په تاوونو د فریاد، باندي زړه سوی د شمشاد دی
سم قیدي دی حقیقت کښې، خو په نوم هسي آزاد دی
د انسان په ژبه ستوری، دی بځري د اهونو
ژړا زه هم د اسمان یمه، په خوله د ګلشنونو

دا چې مځې نه چاپېره، سپوږمۍ چورلي لېونۍ ده
د ځيګر د داغ دا وايي، چې هم دلته کښې پټۍ ده
د دنيا د کور بنياد دی، ايښی شوی په هوا
يو تصوير د فريادونو، په کاغذ دی د فضا

# د ا درني محاصره

پورپ کښې چې د حق، او باطل پېښه شوه جګړه
په توري ازمېيلو، باندي حق شولو مجبور
د صليب ګرد له سپوږمۍ نه، ګېره جوړه کړه چاپېره
د ادرنه په قلا کښې، شه شکري پاشا محصور
د سپايانو د اسلام، ذخيرې ټولې شوې تمامې
د مدد اميد مخ، سمدستي شولو له سترګو نه مستور
اخير حکم دا جاري کړو، د ترکانو سرلښکر
چې "د جنګ ائين" له دې نه، پس د ښار شولو دستور
هر يو شی په ذخيره کښې، د لښکر شولو داخل
او دا نې ته د مرغۍ شو، د شاهين حاجت ضرور

قاضي د ښارېې چې، دا خبره واورېدله
راګرم شو له جوشه، لکه تندر وي د طور

"د ذمي مال په لښکرو، د اسلام باندي حرام دی"
د فتوٰی دغه آواز، په ښاریه کښې شو مشهور
د یهود او نصارٰی، مال ته فوځ نه ورورې ګوتې
مسلم د خدای په حکم، باندي ځان کړلو مجبور

# غلام قادر روهیله

رهیله څومره ظالم ؤو، جفاکار او کینه ور
له شاه تیموري یې سترګي وکښې په خنجر
زنانو د حرم تې، ورکړ حکم د ګډا
دا ظلمونه څه کم نه وو، هیڅ له نخښو د محشر
دا د شرم بې ننګی، حکم به څنګه شو منلی
چي نازک او نازنین ؤو، د شاهي حرم ټبر
های! افسوس جوړ دی بې درده، کړو سامان ترې د ګډا
چي لیدلی چیري نه ؤو، حسن ستور سپوږمۍ لمر
نازک زړونه په ژړا، قدم مجبور ؤو په حرکت
سیند روان د شهزادګیو، وؤ له سترګو نه در در
دغه شانې ترڅه وخته، وؤ مشغول په تماشا
په تلوار یې بیا راکوز کړو، لرې یې کښېښوو خول د سر
بیا یې توره خونړۍ له ملا نه اوکښله او کښېښوه
لکه ستوری پړقېدلو، چي بې سترګو ته جوهر

دا خنجر يې مخکښې کښېښو، او د فکر نه پس سملاست
لکه خوب چې وي ورغلی، او وي دروند ورباندي سر
چې د خوب اوبو يې د سترګو، د غضب سکروټې مړې کړې
د دې ظلم نندارو ته، سم کتی نه شو نظر
بيا را پاڅېدو او دا يې، تيموري حرم ته ووېل
چې ګيله ونه کړئ تاسي، له خپل ليک د مقدر

دا زما د مسند خوب، هسي د چل وؤ تکلف وؤ
غفلت نه ښايي هغو ته، جنګوي چې څوک لښکر
مطلب دا ؤو چې راپاڅي، د تېمور د کور نجلۍ څوک
او ما مړ کړي په ويدو، باندي په خپل تېره خنجر
خو معلومه دا خبره، شوله ټولې زمانې ته
د تېمور له کوره، لاړه غيرت ووتو بهر

# يوه مکالمه

د کورونو يو مارغه اووې، مارغه ته د هوا
که دي شته وزر نو څه پرې، ګڼې زه يمه پردار؟
که ته ګرځې هوا ګير يې، زه هم ګرځم په هوا کښې
او که ته وايې آزاد يم، زه هم نه يم ګرفتار

د وزرو د خاوند خو، خاصیت دی الوتل
د هوا مارغان دي ولي، بیا مغروره په دې کار
د هوا مارغه ته ودرېد، غیرت په دې خبره
نو ځواب یې ورته ورکړ، د هغه د دې ګفتار
او بېشکه چي ته هم، په الوتو کښې یې آزاد
ولې ستا حد د وزر دی، بس تر سره د دېوار
د مارغانو د هوا، همت نه ته نه یې خبر
ته په مځکه یې د دوی، دی له اسمانه سره کار
د کور کلي مرغه یې، ته دانه خاورو کښې ګورې
ټونګه کړم زه دانې پسې، د ستورو په انبار

# زه او ته

نااشنا که مي نظر دی، له خوندونو د دیدن نه
ستا نظر د فطرتونو، که رازدان شو نو پرې څه؟
که ګیلې د زمانې دي، زما هر وختې پر ژبه
ستا په مرسته د مرادونو، که اسمان شو نو پرې څه؟
که یې زه په دې چمن کښې، سرګردان لکه صبا کړم
او که تاته در بخشش، ښکلی مکان شو نو پرې څه؟
ستا که پنګه د ژوندون ده، زیاته شوې په سودونو
او نصیب کښې که زما لټون، د زیان شو نو پرې څه؟

جهازونه ستا هوا کښې، که لامبو وهي او ګرځي
او جهاز زما محروم که، د بادبان شو نو پرې څه؟
که توانا شوم نو څه وشو، که ناتوان شو نو څه وشو؟
که مي دا شانې شو حال، که هغه شان شو نو پرې څه؟
دا د دې بوستان دستور دی، چي قرار پکښې عنقا دی
که بهار شو نو پرې څه، او که خزان شو نو پرې څه

## د "ابو طالب کليم" په شعر تضمين

ښه لحاظ ته د سنت، او شريعت د پيغمبر کړې
ستا ژوندون همدغه وايي، چي ته نه يې مسلمان
سليمانه! ستا غفلت له، تانه ورک هغه غمی کړو
چي د ګوتي په حلقه کښې، يې راګير به وؤ اسمان
لکه ستوری چي پړقا، برېښنا يې هر خوا ځلېدله
ستا تندي باندي اوس نشته، د سجدو هغه نوښان
لږ دي وګوره عمل ته، ته په سترګو چيرته وينې؟
صداقت هغه حيران چي، بېباکۍ تې وؤ جهان
ستا د پلار نيکه نظر چي، تندر ؤو د څه دپاره
هم د هغه باطل ستا، د زړه په کور کښې دی مکان

اې غافله! راشه بیا دي، خپله ځاله کړه اباده
د معنا په طور "کلیم"، د دې نکتې دی نغمه دان
"چي د چا نه یاغي شوی، یې باید چي یې تابع شې
چي یې تللې له کوم ځایه، هلته کښېنه هغه شان"

# شبلي او حالي

یوه ورځ یو مسلمان نه، اقبال وکړه دا پوښتنه
په عالم د جز وکل دی، بې نظیره وجود ستا
دا علمونه نوي نوي، ستا د تېر سرود نغمې دي
دا تهذیب ستا د زړو، قافلو ګرځ دی په دنیا
د انسان د ننګ ناموس، ښیښه خو دومره ده نازکه
چي د کاڼي غوندي سخته، ورته ده پوکی هوا
عاقلان ګرځي اسباب، د حادثاتو لټوي
د ظالم اسمان د ظلم، کوي تل دارو دوا
رازدارانو پخوانو نه، د چمن ته تپوس وکړه
خزان ولي دې ګلشن ته، د جنګ و ترله ملا؟
مسلمان زما په دې، خبره شولو ناقلاره
د دننه زړګي غم یې، اسویلي کړه برملا
راتې اووې کیفیت ته، د خزان ته نظر وکړه
د ژوندون د ونې پاڼې، تکي زیړي دي هر خوا

رازداران د ګلستان، خاموشه شوي نن زما دي
چي بهٔ زړه ویلي کولو، په دردناکو چیغو چا
د ګلشن خلکو په چیغو، چیغو لا "شبلي" ژړلو
چي "حالي"هم ترې نه لاړو، د جنت په لوري بیا
اوس د چا دومره مازغه دي، چي پرس وکړي له باغوانه
بلبل څه اووې؟ ګل څه واورېد؟ او څه وکړه صبا؟

# ارتقا

د ازل نه تر دې ورځي، په جنګونو او پټنو دی
د ډیوې د مصطفٰی ﷺ، سره شرار د بولهب
دی دا ژوند شعله مزاج، او غیرتمن او شوره پښت
زغم کړاو د دې خمیر دی، دی همېش جفا طلب
د ماښام چوپې چوپتیا نه، د سحر تر نغمو پوري
په زرګونو پړاوونه، دي د چیغو د نیم شب
کشاکش دی د تاودوغ، تراش خراش ساړه غارمه
توري خاورې نه یې را واخله، ښیښې پوري د حلب
جوړېدل او شوکېدل، نچوړېدل او اینښېدل دي
واخله څاڅکي د پګنړ نه، تر شرابو د عنب
هم په یو نیب کشاکش، باندي قامونه دي ژوندي
هم دا راز ؤو د طاقت، او جوش ملت کښې د عرب

له انګورو نه شراب چي، را وباسي شراب ګر
دا د ستورو غنچکونه، شو کوي جوړوي لمر

## صدیق رض

یوه ورځي پاک رسول ﷺ ووېل اصحابو ته دا شان
مال دي ورکړي د خدای لار کښې، چي څوک وي دركښې مالدار
دا ارشاد چي عمر رض واورېد، خوشحالۍ نه اوچت پاڅيد
هغه ورځې چي درهم، لرل څو زره ده په شمار
زړه کښې دا ويل چي نن خو، د صديق رض نه به ضرور
په دې کار کښې مخکښې کيږي، په قدم زما شهسوار
لنډه دا چي مال يې راوړ، د رسول ﷺ د خدای په وړاندي
هر يو کار په اول سر کښې، لاس ته ګوري د ايثار

نوسرور ﷺ ددواړوکونو، ترې تپوس وکړو عمره! رض
اې په جوش کښې چي د حق دي، زړه ميندلی دی قرار
څه دي پرېښول د عيال، دپاره هم وايه که نا
مسلمان خو دی د خپلو، اقرباوو حق ګزار
هغه عرض وکړو چي نيم، مال مي د ښځي او ځامنو
او باقي چي دی هغه دی، په ملت باندي نثار

دی کښې راغی په تلوار، د نبوت هغه ملګری
چې بنیاد د عشق او مینې، دی مضبوط په دغه یار
راوړه هغه نارینه، ډک له وفا له ځان سره
یو یو شی چې ؤو په سترګو، د دنیا کښې څه د کار
غلامان، مینځې، دینار، درم، او رخت سره د جنسه
اس او اوښ خچر او خر، خو چې په څه یې وؤ اختیار
حضرتﷺ وویل چې په کار، د عیال غم او فکر هم دی
وویل هغه د عشق، او محبت چې ؤ رازدار
اې چې سترګي دي د ستورو، او سپوږمۍ په تا رڼا
اې چې ستا په مخ پیدا کړو، کل عالم پروردګار
پتنګانو ته ډیوه او، بلبلانو ته ګل بس دی
او غریب صدیق رض دپاره یو د خدای رسول ﷺ بس دی

# موجوده تهذیب

## ((د فیضي په شعر تضمین))

د حاضر تهذیب شرابو، کښې ګرمي ده دومره ډېره
چې پرې اور واخیست لمبه، شو خاکي تن د مسلمان
له ذرې نه یې د سوال، په رڼا جوړ اوراورکی کړو
څوک خو یې وګورئ شوخي، د پلوشو د لمر په شان

نوی رنګ طبیعتونو، د ځوانانو دی اخستی
رنګ په رنګ د آزادۍ او بېباکۍ واړه سامان
تغیر په تدبر او، تخیل کښې هسي راغی
چې خندا ورته ښکاره شوه، د غنچو خیري ګرېوان
دی تازه ؤ الوتونکو، خپله ځاله کړله ورکه
خو پې مخي نندارې، ورته ښيي جادوګران
نوی ژوند څه څه خوندونه، ځان سره راوړل چې دوی پرې
رقیبان شو خود فروش شو، بې صبران او هوسیان
پړق رڼا په نوې شمع، خو محفل د مسلمان شو
ولې وايي پتنګانو، ته پوخ فکر مي دا شان
اې پتنګه! دا ګرمي دي، ده په شمعې د محفل
که دی سوځي زړه کښې، ما غوندي په ځان دي کړه اور بل

## د مور په یاد کښې

د دنیا ذره ذره ده، بندیوانه د تقدیر
مجبورئ او ناچارۍ، باندي پرده ده د تدبیر
دا اسمان هم دی مجبور، او هم مجبور شمس و قمر
په خوئیدو لکه پاره، ستوری مجبور دی په سفر
د غونچې د جام په باغ کښې، یو انجام دی ماتېدل
د شینکي او د ګل هم په، مجبورۍ دي ټوکېدل

که نغمه ده د بلبل که، چوپ آواز دی د ضمیر
هم په دغه عالمګیر ځنځیر، کښې هر شی دی اسیر
دغه راز د مجبورۍ چي، چیري سترګو ته عیان شي
نو روان سېلاب د اوښکو، زړه کښې وچ هغه زمان شي
د انسان په زړه کښې نه وي، بیا ګډا د عیش او غم
تشه پاتې شي نغمه، نه وي مزه د زېر وبم
حکمت علم لوټ کوي، سامان د اوښکو او د آه
د الماس یوه ټکړه شي، هغه زړه چي شي آګاه
که هر څو زما په باغ، د شبنم نشته شادابي
نه مي سترګو کښې څه، پنګه شته د اوښکو عنابي
آه پوهیږم په رازونو، د انسان د مصیبت
خو آواز نه د ګیلې مي، دی خالي ساز د فطرت
زما خوله باندي قیصه، د جادو نشته د دوران
زما زړه نه دی حیران، نه دی خندان نه دی ګریان
ولي ستا تصور ما ته، یو قاصد دی د ژړا
آه په دې باندي مي رد شوه، د حکمت هغه وینا
په ژړا د بېخودۍ باندي، د ژوند ښخ پاینده دی
د عرفان د درد په مخکښې، سنګدل عقل شرمنده دی
په لوګو د اسویلو، ده آئینه رڼا زما
او د اوښکو خزانونه، ده لمن ډکه زما
تصور کښې د تصویر دی، معجزې ته یم حیران
چي یې مخه کړه بدله، په بل مخ د وخت روان

موجوده او تېر وختونې، سره وتړل ګویا
زمانه د ماشومتوب یې، راسره اشنا کړه بیا
ستا په غېږ کښې لویېدو چې، چیري هغه تن ناتوان
په خبرو چلېدله یې، لا ژبه په ښه شان
اوس هغه دی چې چرچې یې، دي د شعر پر دنیا
دي د سترګو ملغری، یې ملغلري بې بها
د حکمت درنو خبرو، او د عمر پوخ شعور نه
د دنیا عزت شوکت نه، د ځوانۍ هغه غرور نه
د ژوندون پورته پوړو نه، چیري موږ چې راکوزېږو
نو د مور مخکښې هم هغه، یو ساده ماشوم درېږو
په خندا بې تکلفه، له فکرونو نه آزاد یو
بیا په هغه پاتې شوې، جنتونو کښې آباد یو
اوس د چا به په وطن کښې، آه زما وي انتظار؟
څوک زما په نه راتلو، د خط به اوس وي ناقرار؟
ستا پر قبر به د خاورو، زه راوړمه دا فریاد
چې د نیمې شپې دعا کښې، به اوس چاته شم وریاد
تربیت ستا وؤ چې ستورو، سره هم زما قسمت شو
د نیکونو کور زما، ډک په عزت او برکت شو

په دفتر کښې د هستۍ، زرین ورق وؤ ستا حیات
سر تر سره د دنیا، او دین سبق وؤ ستا حیات
محبت ستا همه عمر، وؤ زما خدمت ګزار
چې زه شوم ستا د خدمت نو، لاړې ته په لویه لار

هغه ځوان چې لکه سروې دی، اوچت قدوقامت کښې
تر ما زیاته یې اخیستې، نصیبه ستا په خدمت کښې
هغه څنګ پر څنګ زما، چې دی د ژوند په هر یو کار کښې
محبت کښې ستا تصویر او، هغه مثې مې هرکار کښې
تا پسې لکه ماشوم، بې دست وپا ژاړي هغه
صبر نه پېژني هر، صبا بېګا ژاړي هغه
تا کرلی چې زموږ د، ژوند پټي کښې دی الفت څه
هغه نور هم شو مضبوط محکم، د دې غم په شرکت ښه
آه- دنیا! دغه دنیا، ماتم کده د زوړ او ځوان
د صبا بېګا منتر کښې، راګیر شوی دی انسان
څومره ګران دی په کښې ژوند، او په څه شان اسان دی مرګ
په ګلشن کښې د هستۍ، لکه د باد ارزان دی مرګ
زلزلې دي تناکانې، او قحطونه او جنګونه
څنګه څنګه زمانې دي، پیدا کړې اولادونه
په کوډۍ د غریبۍ کښې، د دولت په کاشانه کښې
بیابان دریاب او ښار، او په ګلشن او ویرانه کښې
دغه مرګ‌دی چې جوړ کړی، یې غوبل دی په قلزم
چې کشتۍ ببړۍ ډوبیږي، د موجونو غېږ کښې هم
نه مجال څه د ګیلې شته، نه طاقت د څه ویلو
ژوندون څه دی تېزندۍ ده، د مرۍ خپه کولو
قافله کښې بې فریاد نه، د جرس نشته نور هیڅ
یو متاع دی د لوندو سترګو، او بس نشته نور هیڅ

لېکن ختم به اخیر، دا امتحان شي او دغه درد هم
د اسمان نهو پړدو نه، شاته شته دورونه نور هم
که دی باغ کښې سینه څیري، دی لاله او ګل څه وشو؟
دی په چیغو او فریاد باندي، مجبور بلبل څه وشو؟

هغه ژاړي چي پنجره کښې، يې ګير آه دی د خزان
دوی به شنې شي که پرې راغی، د سپرلي باد جاودان
فاني خاورو کښې سپېکی که، مو ویده ده پروا نشته
موتې ګرځ مو د څو ورځو، کجاوه ده پروا نشته
د ژوندون د اور انجام نه، دی هرګز ایره کېدل
هغه لال نه دی دا لال چي، دی تقدیر يې ماتېدل
زندګي ډېره محبوبه، ده په سترګو د قدرت کښې
شته د ژوند د حفاظت جذبه، د هرڅه په فطرت کښې
ورانېدی که شوای د مرګ، له لاسه نقش د حیات
نو عام کړی دومره نه به وای، نظام د کاینات
مرګکه دومره ډېر ارزان دی، نو ګڼه اجل څه نه دی
لکه څنګه چي ژوندون، دپاره خوب خلل څه نه دی
آه- غافله! د مرګي راز، خو دي پټ پنهان څه بل دی
د نقشونو ناپایښت نه، خو مطلب عیان څه بل دی
د اوبو په سر څه، ښکلې ننداره ده د هوا
چي چپې د موج کړي ماتې، بړبوکۍ کړي را پیدا
بیا لمنه کښې د موج يې، سمدستي راپټوي
دا په څومره ناترسۍ سره، خپل نقش ورانوي

که بیا نه شوې جوړولای، برېښوکۍ چیري هوا
ماتولو کښې به نه وه هوا دومره بې پروا
د تعمیر په کارخانه کښې دا تخریب لري تاثیر
دا دلیل دی چي هوا کښې، پټ قوت دی دا تعمیر
هسي نه چي د هستۍ د، فطرت زړه کښې دا ارمان وي
چي د دې پې مخي شکل، په لټون پسې روان وي
آه- دا ستوری سیماب رنګي، چي ښایسته پر دا اسمان دی
شوخ ښځري چي په سوز یې، همېشه د شپې احسان دی
د دوی عمر او مودې ته، فکرمن عقل حیران دی
یو ساعت ګړی د دوی، مخکښې ټول عمر د انسان دی
بیا انسان چي اسمانونو، نه یې هم بره نظر دی
د مقصود پاکیزګۍ کښې، فرښتو نه بالاتر دی

لکه شمعه ده بلیږي، په محفل کښې د قدرت
دا اسمان یوه نقطه ده، په وسعت یې د فطرت
نادانی یې صداقت، پسې بې تابه په پرواز
د هستۍ رباب رږیږي، چي کړي نوک ورته شهباز
دا شعله ده ګني کمه، د اسمان له شرارونه؟
دا خپل لمر مو ګني کم، قیمت لري له ستارونه؟
خاورو لاندي هم د ګل، د تخم سترګه ده بې خوابه
ټوکیدو او لویېدو، د پاره ځومره ده بې تابه
د ژوندون کومه شعله چي، دې دانه کښې ده مستوره
ځان ښیو ځان زیاتوو، د پاره ده هغه مجبوره

د لحد ډېره يخني هم، هغه نه شي يخولای
ښخ په خاورو کښې هم سوز خو، هغه نه شي ورکولای
ګل ترې جوړ شي او له خپل، قبر نه بيا را وزي دا
ګويا مرګ نه د ژوندون، نوې قبا بيا مومي دا
دا لحد دی د هغه، پرېشان قوت شېرازه بند
د اسمان د ځټ د پاخه، چې ور اچوي کمند
دغه مرګ‌چې ورته وايي، د ژوند خوند نوی کېدل دي
په پرده د خوب پيغام، د بيدارۍ ور رسېدل دي
الوتونکو ته خطر، د الوتو نه نه وي هيڅ
دې ګلشن کښې مرګی بې، وزرو تلولونه نه وي هيڅ
خلګ وايي د دنيا د، اجل درد دی بې دوا
د ببلتون زخمونه مومي، په ملهم د وخت شفا
خو دا زړه دی چې د تللو، خلګو غم په کښې آباد دی
له کړيو د ځنځير نه، د صبا ماښام آزاد دی
قراريږي په جادو، د وخت خو نوی ماتم نه
د ببلتون په توره غوڅ، د پاره وخت دی ملهم نه
چې راپرېوځي پر سر باندي، مصيبت څه ناګهان
په يو مخ بهوي رود، د اوښکو سترګي د انسان
ژړاګانو او فرياد سره، د زړه تړون پيدا شي
د زړه وينو بهيولو، باندي سترګي رالګيا شي

که د صبر له طاقت نه، دی بنده هر څو محروم
خو فطرت کښې د ده دغه، يو احساس دی نامعلوم

د انسان فطرت عدم، سره هیڅ شان نه اشنا کیږي
مړ له سترګو غائبیږي، ولې نه چې فنا کیږي
غم لمبه ده چې سامان تول، د هستۍ ایرې کوي
خو د دې لطیف احساس اوبه، دا اور لیږ سړوي
آه! چې آه ایسارول مې، خاموشي ده غفلت نه دی
زړه که صبر کړم بیدار یم، ما هېر کړی فرقت نه دی
له پړدو نه د مشرق چې، په جلوو خیزي صبا
د افق د کنارو نه، داغ د شپې وینځي صبا
زوړند سر خفه لاله ته، سره قبا په غاړوي
بې زبانه مارغان ګوره، په چیغار یې مستوي
قیدخانې نه د بلبل، د سینې دی سرود آزاد
په سوونو نغمو باندي، د صبا باد دی آباد
تول ویده د دریابونو، د لمرو د لاله زار
اخیر راشي د ژوندون ناوې، په غاړه کشې شي هار
که قانون د هستۍ دا وي، چې د هر ماښام صبا وي
نو د قبر د دې شپې به، هم اخیر انجام صبا وي
د زرین خیالاتو دام مې، دي ګیر کړي تول ګوټونه
هم هغې کنبې راګیر کړي، دي ما ستا واړه یادونه
دی د دړد سره اشنا زړه، مې معمور ستا په یادونو
لکه وي چې د کعبې، فضا درنه شان په سوالونو
تسلسل د فرایضو، چې نامه یې وه حیات
شته لکهونه جهانونه، د جلوو یې بې ثبات

مختلفه رسم وراه ده، د هستۍ د هر منزل
آخرت هم ژوندانه ته، یو میدان دی د عمل
هغه مځکه نه ده جوړه، د اجل د کښت دپاره
ده هغه آب وهوا، د عمل تخم ته سازگاره
په تیارو کښې د صورت به، نه وي تل روح په زندان
دومره تنګه خلقه نه ده، د فکرونو د انسان

ستاژوندون وؤزیات سپوږمۍ نه، په پړقا او په برېښنا
ستا سفر هم په ستاینې، زیات له سترګې د صبا
ستا لحد لکه مانۍ دی، د سحر وي سپین روښان
وي د نور نه دي معموره، ستا د خاورو شبستان
ستا پر قبر باندي تل دي، اسمان پرخه وروي
شنیکی نوی ټوکېدلی دي، د کور څوکۍ کوي

# د لمر پلوشه

سودایي د ننداري چي، وو سحر زما نظر
په اسمان وه بې سرواخه، پلوشه یوه د لمر
ما تپوس وکړو شعلې! چي، سر تر نوک يې بې آرامه
دا په څه بې صبره ځان، باندي ته ګرځې بې آرامه

ته هغه وړه بجلۍ یې، چې ساتې یې اسمانونه
لویوې دی سوځوې پرې، د قامونو درمندونه
دا ترټکي دي که خوي دي، له ازله دي که څه دی؟
دا ګډا کړې که نه خوشي، شوې لټون کوې که څه دي؟
او دې ډېرې هنګامې دي، دې زما چوپې هستۍ کښې
لویه شوې د سحر یمه، په غېږ کښې په ځولۍ کښې
ناقراره بې آرامه، مې ساتي زما تقدیر
ګرځوي مې په لټون کښې، لذتونه د تنویر
یم بچی د اور خو نه هم، لکه تندر سوځونکې
را رسوم پیغام د نور، یم د عالم بیدا رونکې
زه په سترګو د انسان کښې، به رانجه شم را به شم
څه چې شپې ترې نه پټ کړې، دې هغه بهٔ ونښیم
ستا مستانو کښې هم شته څوک، چې طالب د هوشیارۍ وي
په ویدو خلګو کښې شته څوک، چې بې شوق د بیدارۍ وي؟

# عرفي

د عرفي تخیل داسي، یو محمل دی آباد کړی
شه قربان حیرت خانه ترې، د سینا او فارابي
په فضا باندي د عشق، داسي سندره یې تحریر کړه
چې تراوسه ترې په سترګو، کښې دي اوښکي عنابي

یوه ورځ د ده د قبر، نه مي زړه دا ګیله وکړه
د دنیا په هنګامو، نشته اوس څه بېتابي
د دنیا د خلکو طبع، کښې دا رنګ تغیر راغی
له دنیا نه هغه حال، لاړه چي ؤ به سېمابي
د شاعر د نیمي شپې، فریاد غوړونو باندي بار وي
د مجلس سترګي چي، ونه ویني چېرته بې خوابي
د فریاد شعله د چا لا، څنګه لیري کړه تیاره؟
چي دی بار ویدو باندي، د سحر اسمان تابي
آواز راغی له لحد نه "ګیله کمه کړه له خلکو
ترخه وایه که د خوند وي، په نغمه کښې کیمیابي
حدي لا په زوره وایه، که محمل درته درونډ ښکاري"

# د یو خط په جواب کښې

که هوس مي شته هم ما کښې، همت نه شته د دوونو
مرتبې خو دي په ډېرو، خوشامندو کوششونو
هزار شکر طبعیت مي، باریک بین دی کاریګر دی
شکر دا دماغ پوه نه دی، د فتنو په هنرونو
په خبرو او شعرونو، مي بارې د زړونو شنې دي
زه وربځ یم وروونکې، په جهان د دریابونو

دغه غوټي ول په ول، د سیاست دي مبارک شه
ګروم د میني فیض نه، سینه خپله په نوکونو
د باچا د نژدېکت خیال، علامه د مړ ضمیر ده
دغه راز حافظ صاحب دی، څرګند کړی په رمزونو
که دي خوښه وي چي کښېني، څنګ پر څنګ د خضر خوا کښې
له آبِ حیات پټ شه، سکندر نه په ګوتېونو

## نانک

قام پوتی هم د ګوتم، د پیغام ونه کړه پروا
پوه نه شو دوی په قدر، د دې درِ بې بها
آه! شو پاتې بدنصیب، د حق آواز نه بې خبره
لکه وي خپلي خوږې، مېوې نه اونه بې خبره
څه هغه چي دي ښیلي، د ژوندون وؤ هغه راز
ولېکن د هندوستان وؤ، په خیالي فلسفه ناز
چي د حق په شمع روڼ شي، هغه نه وؤ دا محفل
د رحمت باران خو وشو، خو پټی نه وؤ قابل
آه! افسوس چي د شودر، د پاره هند دی غم خانه
زړه د دی وطن دی دردِ انساني نه بېګانه
په شرابو د غرور بامبړ، تر اوسه دی سرشار
د ګوتم شمع بلېږي، په محفل کښې د اغیار

خو مودو نه پس ته بيا، په بتخانه کښې يو نور خور شو
لکه نور د ابراهيمؑ چي، پرې رڼا د آذر کور شو
د توحيد آواز اخير شو، را اوچت بيا د پنجابه
هندوستان نومړنی کامل، را ويښ کړلو له خوابه

# کفر او اسلام

## ((د مير رضي دانش په شعر تضمين))

يوه ورځ اقبال کليم نه، د طور وکړه دا پوښتنه
اې په نقش چي دي د پښو شو، جنت واديئ سينا
د نمرود د اور تر اوسه، پر جهان لمبې خورې دي
ولې ستا هغه زوړ سوز، ولي شو ستر ګو نه فنا؟
د سينا صاحب ووې "واوره په رښتيا که مسلمان يې"
غايب مه پرېږده، او مه کېږه حاضر باندي شيدا
که ديدن ته دي زړه کيږي، د خليل ايمان پيدا کړه
او که نه وي نو ايره ده، د ژوندون دي دا بقا
لېونی که د غائب وې، نو بيا هيڅ پروا اونه کړې
انتظار کښې اوسه ښخه، په فاران کښې کړه خيما
د حاضر شان دي ځو ورځي، د غائب دبدب مدام
لکه روح او تن وي داسي، محبت او دا رښتيا
د نمرو د اور شعلې، که دي دنيا کښې نو څه وشو

"شمع څان ویلي کوي، په انجمن کښې د رڼا
لکه اور بکر کښې پټ ښه، دی نظر نه نور زما"

# بلال رض

د مغرب یو حق شناس، سړي لیکلي دي د ده چې
د قلم په خاوندانو کښې، ډېر زیات ؤ احترام
د سلطانِ سکندر د جنګ میدان ایشیا وؤ
که اسمان نه یې اوچته، مرتبه وه او مقام
تاریخ داسې راته وایي، د رومي مخکښې دعوٰی چې
وه پورس او دارا کړی، هغه ؤو خیال یو خام
د دنیا دې شهنشاه ته، چې سپایان یې وو بې شماره
دې اسمان په حیرانۍ کتل، کتل به یې په پام
ولې نه پېژني هیڅوک، په ایشیا کښې هغه نن
لري تشه تاریخیان یې، خبرو هم لمن
خو بلال چې په حبش کښې، زېږېدلی وؤ حقیر
او فطرت یې وؤ د نور، د نبوت نه مستنیر
هغه څه وؤ چې له ازله، په سینه کښې د بلال رض
د هغې آواز محکوم دی، شهنشاه او هم فقیر

دا آواز چي تور او سپین پرې، سره خپلو کښې خلط کيږي
ودروي هم کښېنوي، غریب په خوا کښې د امیر
چي تر ننه دی تازه، هغه آواز ځيګر څیرونکی
له صديو راسې اوري، غوږ د دغې اسمان پیر
اې اقباله! دا د چا، د ميني فيض دی داسي عام؟
چي رومي لاړو فنا شو، او حبشي شولو دوام

# مسلمان او نوی تعلیم

## ((د ملک قمي پر شعر تضمين))

اې ناپوهه مسلمانه! دا تعليم وؤ د رهبر
په دنيا کښې راه روي ته، دی لازم رخت د سفر
هوا شوه د زمانې، بدله داسي تغیر راغی
قېمتي شی چي وؤ اوس، ورته څوک نه کوي نظر
هغه ستا رڼه شعله چي، به تیاره ترې تښتېدله
شوه له تت ستوري نه تته، پوتۍ شوه لکه شرر
ناليدلي باندي مه شه، په ليدلي شه مين
پر قامونو اوس غالب دی، د حاضر معبود اثر
ممکن نه دی چي دې باغ کښې، کوششونه دي کامیاب شي
دام دي وروست دی، او مرغی دی ډېر زیرک او تیز وزر

**په دې دور کښې مرضونو، ته د قام تعليم دارو دی د ګنده ويني د پاره، دي تعليم لکه شرر د ريبار په اشارت مي، د تعليم سودا پيدا شوه ځوک چي ګرځي په ميرو دي، مثل حق پرې د خضر خو نظر د نکته بين دي، دا زما بدبختي ويني کښېناستم اغزي ايستو ته، محمل غيب شو له نظر "يو ساعت شومه غافل، د سلو کالو لار اوړده شوه"**

# د ګلونو شهزادګۍ

**يوه ورځ د ګل غوټۍ ته، پرخې وېل د ګلستان څه موده يم اوسېدلی، زه په باغ کښې د رضوان ستا د باغ دا کيفيت خو، په نشه داسي سرمست دی نندارو ته يې زما، د سترګو کسي دي حيران د دې باغ مي اورېدلي، شهزادګۍ ده ځوک حاکمه چي ټوکيږي د قدم، لاندي يې ګل پر بيابان چيري ما خو ځان سره ته، د هغې درشل ته بوځه پټ مي ونغاړه لمن کښې، لکه بوی په برجل بوځه غوټۍ ووېل پر تخت، ناسته زموږ هغه شهزادګۍ ده په تيندک يې کاڼي هم شي، په ځلقا لکه نګين**

خو فطرت دی ستا پرېوتی، او رتبه د بېګم پورته
ناممکن دی چې ور ورسې، زمورِ شې همنشين
ولېکن ته رسېدای شې، تر زمورِ د شهزادګۍ
د خاوند د دړد د اوښکې، که شي څاڅکی اتشين
د هغې نظر غمجنو، ته دی زېری د اختر
د هر ژوبل زړه له اوښکو، نه کړي چور هغه ګوهر

# د صائب په شعر تضمين

اې اقباله! په کوم ځای کښې، خپله ځاله دي کړه جوړه
چې دي باغ کښې د بلبل، آواز دی سمه رسوايي
د ايمن د سخوبي ته، کرې بڅري خو دا واوره
زرغونيږي نه دې مځکه کښې، تخمونه سينايي
چې غوټۍ د سا په زور هم، هلته نه شي ګل کېدای
چې هر شی کوم ځای کښې مړ وي، نه کوي خود نمايي
قيامت دا دی چې فطرت، د باغ د خلګو دی ويده
نه بيدار د پير يې زړه نه، همتناکه ده ځواني
خبردار زړونه چې هر، کله ويده شي په سينو کښې
شي د زهرو ګوټ شاعر ته، د شکرو ګويايي
چوپ کولای که آواز نه شې، نو دې باغ نه والوزه
دې محفل نه ډېره ښه ده، په ميرو کښې تنهايي

دا بهتره ده لیلا دي، بیابان کښې جلوې ښیي
زغمی نه شي د ښار تنګي، کوڅې حسن صحرایي

## جنت کښې یوه مکالمه

هاتف اووې راته دا چې، په جنت کښې یوه ورځ
شېخ سعدي بابا حالي ته، په دا ډول وویل
اې! چې تته دي ډیوه کړه، د سپوږمۍ سره د ستورو
چې تابناک لعل وګوهر دي، د خپل شعر وپېيل
څه خو حال د هندوستان، د مسلمان راته ووایه
سترې پاتې دی منزل نه، که یې تاخت دی په منزل
د مذهب حرارت هم یې، په رګونو کښې څه شته دي
چې ګرمۍ به د آواز یې، اسمانونه چیري سول

دې خبري د شېخ داسي، په حالي وکړو اثر
په ژړا ژړا یې داسي، په ځواب کښې وویل
زوړ اسمان د انقلاب چې، زموږ پاڼه واړوله
آواز راغی چې عزت دی، په تعلیم باندي مېندل
خو تعلیم باندي راغلې، عقیدو کښې زلزلې دي
دنیا راغله خو مارغه، د دین مو وکړه الوتل

چي دين وي نو مقصودونو كښې، پيدا شي اوچتوالى
خو فطرت دى د ځوانانو، بس ايله مځكه نيول
په مذهب باندي هركس كښې، اتفاق او يو آواز وي
د قام جمع يو رباب دى، دين يې وي شهباز وهل
كه بنياد د دېوالونو، د چمن چيري وخوځي
نو ښكاره ده چي د باغ به، وي بيا څه انجام كېدل
د ملي زمزم اوبه چي، ورته ونه رسېدلې
نو په نوي بوزغلي كښي، دي د كفر زومبېدل
دا خبره د يثرب، د باچا مخكښې چي ونه كړې
هسي نه مسلمانان چي، راته ووايي چغل
وه به نه نيسي كجوري، چي ازغي مو وي كرلي
وه به نه شي كېمخابونه، كه وړى مي وي وريشلې

(سعدي)

# مذهب

## ((د ملا بېدل پر شعر تضمين))

د مغرب د فلسفې د پير، دى نن دغه تعليم
دى كم عقل هغه څوک چي، د غائب كوي تالاش
يو صورت كه اشنا نه وي، له نظر سره نو څه
شېخ صاحب خو هم په مثل، د بامبړ دى بت تراش

د دې نوو تعلیمونو، دی بنیاد په محسوساتو
دې دوران کښې خو ښيښه، د عقايدو شوه پاش پاش
د کوم څيز چي مذهب نوم دی، هغه خوشي لېونتوب دی
تخيل د بنيادم کښې، دي هغه نه انتعاش
لېکن ما ته فلسفه، د ژوندانه څه بل څه وايي
د کامل مرشد وينا نه، دغه راز شو راته فاش
"باهر کمال اندکی آشفتگي خوش است
هر چند عقل کل شده بې جنون مباش"

## د جنگ يرموک يوه واقعه

صف تړلی د عربو ؤو، ځلمی توره تر ملا
انتظار کښې د نکريزو، ناوې مځکه وه د شام
يو زلمی ښايسته صورت، لکه پاره وؤ بې آرامه
د لښکر امير ته راغی، ورتې وکړ دا کلام
اې ابو عبيده راکړه، اجازت د جنګ ته ما ته
ژۍ تر ژۍ راغی تويېږي، د صبر سکون جام
ناقرار او بې ارام يم، په بېلتون کښې د رسول ﷺ
يوه ساه ژوندون خو هم، په محبت کښې دی حرام
ځم روان يم په حضور د پيغمبر ﷺ کښې حاضرېږم
زه بې ډېر په خوشحالۍ ورمه، که ستا وي څه پيغام

دغه ذوق او شوق چې ولید، هغه سترګې شوې نمجنې
چې نظر يې لکه توره، وؤ دښمن ته بې نيام
ورته اووې د فوځونو، امير ته خو داسي ځوان يې
په زړو باندي واجب دی، ستا د میني احترام
دغه مراد دي ستا تر سره، کړي پاک خدای د محمد ﷺ
څومره ستا د محبت او، ميني دی اوچت مقام
چې ته ورسې دربار ته، د رسول ﷺ د پاک الله
نو دا عرض وکړه زما پس، ته چې ووايې سلام

چې په موږه باندي فضل، غیرتمن الله دی کړی
وعدې ټولې شوې پوره چې، کومې کړې وې حضور ﷺ

# مذهب

## (دملا بيدل په شعر تضمين)

د مغرب د فلسفې د پير دی نن دغه تعلیم
دی کم عقل هغه څوک چې د غائب کوي تالاش
يو صورت که اشنا نه وي له نظر سره نو څه
شيخ صاحب خو هم په مثل د بامبڼ دی بت تراش

د دې نوو تعلیمونو دی بنیاد په محسوساتو
دې دوران کښې خو نښینه د عقایدو شوه پاش- پاش
د کوم څیز چې مذهب نوم دی هغه خوشې لېونتوب دی
تخیل د بنیادم کښې دي هغه نه انتعاش
لېکن ما ته فلسفه د ژوندانه څه بل څه وایي
د کامل مرشد وینا نه دغه راز شو راته فاش
"باهر کمال اندکی آشفتګي خوش است
هر چند عقل کل شده بې جنون مباش"

# د جنګ یرموک یوه واقعه

صف ترلی د عربو ؤ ځلمی توره تر ملا
انتظار کښې د نکریزو ناوې مځکه وه د شام
یو زلمی ښایسته صورت لکه پاره ؤ بې آرامه
د لښکر امیر ته راغی ورتې وکړ دا کلام
اې ابو عبیده راکړه اجازت د جنګ ته ما ته
ژۍ تر ژۍ راغی تویېږي د صبر سکون جام
ناقرار او بې ارام یم په بېلتون کښې د رسول<sup>ص</sup>
یوه ساه ژوندون خو هم په محبت کښې دی حرام
ځم روان یم په حضور د پیغمبر<sup>ص</sup> کښې حاضرېږم
زه بې ډېر په خوشحالۍ ورمه که ستا وي څه پیغام

دغه ذوق او شوق چې ولید هغه سترګې شوې نمجنې
چې نظر یې لکه توره ؤ دښمن ته بې نیام
ورته اووې د فوځونو امیر ته خو داسې ځوان یې
په زړو باندې واجب دی ستا د مینې احترام
دغه مراد دې ستا تر سره کړې پاک خدای د محمدص
څومره ستا د محبت او مینې دی اوچت مقام
چې ته ورسې دربار ته د رسولص د پاک الله
نو دا عرض وکړه زما پس ته چې ووایې سلام
چې په موږه باندې فضل غیرتمن الله دی کړی
وعدې ټولې شوې پوره چې کومې کړې وې حضورص

# مذهب

خپل امت چیري قیاس نه کړې، په قامونو د مغرب
په یو خاص ترکیب دی جوړ قام د رسول ﷺ عربي
د هغوی دی جمعیت، ملک او نسب باندي ولاړ
د مذهب په قوت ستا ده، مضبوطیا کښې برتري
که د دین لمن له لاسه، لاړه بیا جمعیت چېرته
جمعیت که شو رخصت نو، ملت هم ورپسې ځي

# ونې پوري نښتی اوسه، په امید کښې د بهار

کومه څانګه چي د ونې نه، را ماته شي خزان کښې
ناممکنه ده چي شنه شي، په وریځو د بهار
دغه عمر د خزان به، پرې هیڅیري نه تېریږي
دا خبره به ونه شي، چي به واخلي چیري بار
ستا په باغ باندي راغلی، هم دوران دی د خزان
جېب خالي له سوچه زرو، نه د ګل دی په بهار
کوم مارغان چي به د پاڼو، په خلوت کښې په نغمو وو
ستا له ګڼې ګورې ونې، نه رخصت شو وار په وار
دغه شان پرېکړی ښاخ نه، عبرت ونیسه چي ته
نا اشنا یې له قاعدو، او طریقو نه د روزګار

د ملت سره مضبوط، د رابطې وساته تار
ونې پوري نښتې اوسه، په امید کښې د بهار

## د معراج شپه

له اسمان نه د ماښام، د ستوري دا راځي آواز
چې سهار ورته سجده کوي، نن شپه ده هغه دا
ان تر عرشه پوري لاره، ده یو ګام همت دپاره
د معراج شپه مسلمان وته کوي ښوونه دا

## گل

ګله! ولې د بلبل، د څېرې زړه کوې فکرونه
ړومبی خپل څیري قمیص خو،دي خپل ځان ته کړه رفو
په ازغوکښې ځانراګیرکړه،دغه ژوندکړه په ځان خوښ
که په باغ د دې هستۍ کښې، څه امید کړې د ابرو
صنوبر باغ کښې آزاد دی، هم په خټو کښې دی بوخت
هم په داسي پابندیو کښې، آزاد اوسه خوشرو

دا پوتي پوتي بخشش په، بې نيازۍ وشرموه
منت بار د شبنم مه شه، کړه نسکور جام او سبو
داڅه شان دخود دارۍ نه دی، له ښاخ نه چي پرېکيږي
څوک پټکی پرښايسته کړي، څوک ښايسته په تاګلو
په چمن د ګل غوټۍ نه، پرښه والوته او وې وېل
ارماني که د ګلچين يې، نو پيدا کړه رنګ وبو
که ته غواړې چي دنيا کښې، د خزان نه نااشنا شې
د جهان له رنګ او بوی نه، ړومبی قطع کړه ارزو
هم په دې کښې ګوره پټ دی، ستا کمال د ژوندانه
چي زينت دي د لمن کړي، چيري څوک آئينه رو

# شکسپير

سور شفق ته د سحر دی، د درياب خرام ائينه
د ماښام نغمو دپاره، دی دا چوپ ماښام آئينه
د ګل پاڼه ښکلي مخ ته، د سپرلي ده آئينه
د شرابو شاپېرۍ ته، کجاوه ده جام آئينه
ښايست حق ته دی آئينه، او د ښايست آئينه دی زړه
د انسان د زړه دپاره، دی ستا خوږ کلام آئينه
ستا له فکر نه ښکاره، راته کمال دی د هستۍ
اې دا روڼ فطرت چي ستا دی، دغه مآل دی د هستۍ؟

د دیدن طالبو سترګو، دي چي ته ولټولې
نو د لمر سپینه رڼا کښې، یې صحي کړه لمر پنهان
د جهان د ټولو سترګو، نه خو ستا هستي ده پټه
او ستا سترګي وې لېدلو، چي یې ټول عالم عریان
د اسرار په تحفظ، د فطرت داسي ده سودا
چي رازدان به چیري نه کړي، بیا د ده په شان پیدا

# زه او ته

نه هنر مي د کلیم شته، نه انداز دی د خلیل
د آذر په ادا مړ ته، زه په چف د سامري
زه آواز مرۍ کښې سوی، تا نه رنګ او بوی الوتی
زه د غم ارمان قیصه یم، او ته ژاړې دلبري
عیش مي غم شهد مي زهر، او هستي مي ده عدم
زړه ګانه دي په عجم دی، دین دي شولو کافري
سا د ژوند ده ټک د ژوند غم، دی د ژوند زهر د ژوند
غم د ټک زهر د غم، مه خوره دا ده قلندري

که دي خاوره کښې شرر شته، خیال د فقر غنا مه کړه
د وربشو په ټوک باندي، ده قایمه حیدري

طريقه د طواف داسي، وښيه د حرم شمعې
چي پتنګ ته دي بيا ورکړای، شي فطرت سمندري
د حرم خلګو نه څومره، ګيله من چي نن حرم دی
بت خانه کښې که مي ووېل، بت به وايي "هري- هري"
نه دی نوی ځای د جنګ، نه دښمن نوی هغه رنګ دی
اسد اللهي فطرت هم مرحبي هم عنتري
د عرب د عجم شاهه! د کرم دي انتظار کښې
ګدايان هغه چي تا، ورکړ دماغ سکندري

# قيد

زياتوي قيد عزتونه، خو فطرت چي وي بلند
د پګړ د باران څاڅکی، شي سيپۍ کښې ارجمند
دا اعلیٰ مښک دي څه څيز دی، خو يو څاڅکی دی د وينې
مښک ترې جوړ شي چي راغونډ شي، د هوسۍ په نوم کښې بند
د هرچا تربيت نه کوي، قدرت په داسي شان
ډېر دي کم هغه مارغان چي، له پنجرې دي بهره مند
د کارغه تيوس وزر، ترلي نه دي چا تر اوسه
په قسمت سره شهباز دی، او شاهين سعادتمند

# د خلافت گدايي

که ملک لاړو له لاسه لاړ دي شي
خدای سره مه کوه ته بېوفايي
ته جوړ نه يې خپل تاريخ نه څه خبر
که کوې د خلافت ته ګدايي
چي تر څو په خپلو وينو يې وانه خلې
مسلمان ته ننګ دی هغه باچهي
په مات هډ باندي زه دومره نه شرمېږم
لکه سوال باندي له بل نه موميايي

# همايون

## (مسټر جسټس شاه دين مرحوم)

همايونه ډک له سوزه، سر تر نوکه وؤ ژوند ستا
ستا بڅرى ؤ آئينه چي، انجمن پرې وؤ رڼا
ستا خاورين بدن هر څو که، وؤ کمزورى او دردمن
خو دماغ دي لکه ستورى، ځلېدلو پر وطن
دې ناتوان صورت کښې څومره، طاقتمن زړه وؤ بېباک
جوړ ايره کښې وه شعله، راګيرونکى د افلاک
خو هوښيار او عقلمند زړه، د مرګ نه لري پروا

چي د شپې په خاموشۍ کښې، هنګامه ده د صبا
غافلانو ته مرګ ، ښکاري اختتام د ژوندانه
د همېش ژوندون صبا دی، دا ماښام د ژوندانه

# خضر راه

## شاعر

يوه شپه د سيند پر غاړه، وومه ډوب په ننداړو کښې
پټ د زړه مي تهخانو کښې، يو جهان د اضطراب
شپه خاموشه هوا غلې، سيند روان ووُ په ارام
ووُ حيران ورته نظر چي، دا تصوير دی که درياب
لکه ځنګه چي ځانګو کښې، وي ويده د تي ماشوم
ناقراره موج ووُ چېرته، ژور تل کښې وړی خواب
په جادو د شپې قيد شوي، ووُ په جالو کښې مارغان
ستوري تت تت ګرفتار ووُ، په طلسم د مهتاب
ګورم څه هغه قاصد، جهان ګشته حضرت خضرυ
چي پيري کښې ؤو ښکاره، لکه سحر رنګ د شباب
راته وايي اې طالبه! د رازونو د ازل
که وي سترګي د زړه خلاصي، نو تقدير دی بې حجاب
دا مي واورېده نو زړه کښې، مي راپورته شو محشر

په لټون پسې خو يې مړ وم، په خبرو شوم راسر
اې چې ستا دوربينې سترګې، وينې هغه طوفانونه
چې اوده يې هنګامې دي، لا په تل کښې د درياب
هغه پاک ماشوم کښتۍ، هغه دېوال د يتيمانو
چې موسیٰ هم وؤ حيران، درته له هوشه وؤ کرياب
ابادۍ دي واړه پرېښوې، او تل ګرځې پر صحرا
ستا ژوندون بې ورځې شپې دی، بې مهتاب او بې افتاب
څه دی راز د ژوندانه، او سلطنت د څه شي نوم دی؟
او د پنګې او د ميني، دا زوړ شور دی په څه باب
د ايشيا زړه خلګۍ ده، څيري کيږي په يو نيب
په دولت پسې روان، نوي قامونه په شتاب
که سلطانِ سکندر آبِ حيات اونه موندلی
خو فطرت سکندري دی، لا مشغول په چنګ رباب
خرڅوي چې هاشميان، ناموس د دين د مصطفٰی ﷺ
او ترکان په خاورو خړ، ډوب دي د وينو په درياب
اور دی اور دی او اولاد، د ابراهيمؑ دی او نمرود دی
ولې بيا د چا ازمېښت، او امتحان د چا مقصود دی؟

# د خضر خوب

## ((صحرا گردي))

دا زما صحرا ګردي، عجبه ولي درته ښکاري؟
دا دوونه دم په دم دی، د دنيا د ژوند دليل
اې په کور باندي مينه! هغه سيل دي نه دی کړی
چي کړنګېږي بيابان کښې، اوازونه د رحيل
بې پروا په هوسۍ زغل، کوو د شګو په کمرو
هم مقام وي بې سامانه، هم سفر بې سنګ او ميل
راختل هغه د ستوري، د پارې په شان سحر کښې
لکه ښکاري د اسمان، پر چت تندی د جبرائيلؑ
د صحرا هغه چوپتيا کښې، د ماښام لمر ډوبېدل
چي پرې اوغړېدې سترګي، جهان بيني د خليلؑ
او پر غاړه د چيني چي، کډه واړوي کاروان
پرې راغوندۀ لکه جنت کښې، ايماندار په سلسبيل
سودايي د محبت، لټوي ګرځي نوې ښاړې
وترلې ته ځنځير کښې، يې د کر او د نخيل
په ګردش باندي پخيږي، نور هم جام د ژوندانه
خبر نه يې ته له راز نه، د دوام د ژوندانه

# ژوند

ډېر په پورته له فکرونو نه، د سود او زیان دی ژوند
دی دی کله ځان او کله، قرباني د ځان دی ژوند
ته په تله د صبا او نن یې چیري مه تله
دی دایم په زغل په یونېب، او هر وختِ ځوان دی ژوند

که ژوندو کښې یې نو ځان نه، دنیا خپله را پیدا کړه
د آدم د فطرت روح دی، راز د کن فکان دی ژوند
له کوهکن له زړه وپوښته، چې معنا څهٔ ده د ژوند
د دروند کانې د تیښې او، نهر د پیو شان دی ژوند
غلامۍ کښې په کمي شي، د اوبو لښتی ترې جوړ شي
آزادۍ کښې بې پایاو، لکه د سیند روان دی ژوند
په قوت د تسخیر باندي، دی ښکاره دی په دنیا کښې
که هر څو دي موټې خاورو کښې، هم پټ پنهان دی ژوند
د هستۍ له سمندره یې، راپورته برېبوکی شان
د دنیا په زیان خانه کښې، خو ستا امتحان دی ژوند

ته کچه یې تر هغې چي، ته تر څو یې موټی خاوره
چیري پوخ که شوې نو بیا، بې پناه توره یې آبداره

صداقت دپاره مرګ‌ته، چې کوم زړه دی بې آرامه
نو اول خورین بدن کښې دي، ژوندون د ځان پیدا کړي
اودي سوځي د څو ورځو، دغه مځکه او اسمان
بیا ایرو نه دی پخپله، ځان ته خپل جهان پیدا کړي
قوتونه هغه پټ، د ژوندانه دي راښکاره کړي
دا بخرې چې رڼا، د همېشه په شان پیدا کړي
لکه لمر دی وځلیږي، د مشرق پر خاوره باندي
بدخشان چې بیا لعلونه، بې بها بې شان پیدا کړي
واستوي د اسمان لور ته، د ژړا د شپې سفیر
چې د شپې ځلاندو ستورو کښې، د ځان رازدان پیدا کړي

دا ګړۍ ده د محشر او، ته ولاړ يې په محشر
اې غافله! عمل پېش کړه، که لرې فرد په دفتر

## سلطنت

د **ان الملوک** رازونه، درته ووایمه راشه
سلطنت د زورورو، ده یوه جادوګري
رعیت که یو پوتې ساعت، له خوبه رابیدار شي
کړي ویده یې سمدستي بیا، د حکامو ساحري

د محمود د جادو شندې دي، چې سترګو د اياز ته
طوق د څټ نه چارچاپېره، ښکاري ښکلې دلبري
دا هم ده اسرائيلي وينه، اخير راشي به جوش کښې
څوک موسٰی راشي او کوز کاندي، طلسم سامري
سرداري خو بس هم هغه، يو الله لره ښاييږي
حکمران بس هم هغه دی، نور بتان دي آذري

شرموه مه غلامي باندي، دا خپل آزاد فطرت دي
بل مولا نيول خو زياته، ده بامبږ نه کافري
د مغرب جمهوري نظم، خو هم هغه زوړ رباب دی
چې تارونو کښې يې ده نغمه، هم هغه قيصري
دېو د ظلم او د زور دی، جمهوري جامه کښې ګرځي
ته جوړ وايې چې دا ده، د آزادۍ نيلم پري
آئين ساز مجلس اصلاح، رعايتونه او حقونه
د مغرب خوږه نسخه ده، چې د خوب اثر لري
د کونسل د ممبرانو، تود مجلس نه امان غواړه
د پيسو د خاوندانو، دا يو جنګ دی زرګري
دی سراب د رنګ او بوی ته، ته جوړ وايې چې ګلزار دی
حيف پنجرې ته جاله وايي، ستا په حال رحم په کار دی

# پنگه او محبت

لاړشه یوسه ته زما، مزدور بنده ته دا پیغام
دا پیغام د خضر څه، دا دی پیغام د کائنات

اې چې وخوړه ستا څټه، چلولې سرمایه دار
تر صدیو پوري ستا ؤو، د هوسۍ ښکر کښې برات
مزدوري د ګټندوی، ورکوای شوه په دا شان
لکه ورکاندي شتمن چي، غریبانو ته زکات
د الموط ساحر په تا، د بنګو پاڼه وڅښله
بې خبره! ته جوړ وایې، دا ده څانګه د نبات
قومیت، ګرجې او نسل، سلطنت، تهذیب او رنګ
باچهۍ څه راټول کړي، دي چوڼ کړي مسکرات

اې کم عقله! عبادت کښې، د خیالي خدایانو مړ شوې
د نشې په خوند دي لوټ کړه، خپله پنګه د حیات
د مکرونو په چالونو، بازۍ یووړه دولتمندو
خوار مزدور له ساده ورځي، وخوړه لوبه کښې مات

پاڅه اوس چي د مجلس، د جهان بل شان دی انداز
په مشرق او په مغرب کښې، ستا د دور دی آغاز

په نظر د لوړ همت کښې، دریابونه هم څه نه وي
د غوټۍ په شان لمن کښې، په دي وي شبنم تر کومه؟

دی لذت هغه نغمه کښې، چې جمهور پرې راویښېږي
نو د خوب خوړېې قیصی، د سکندر او جم تر کومه؟
د ګردش د زمانې، له ګېډې نوی غر پیدا شه
اې اسمانه! د پرېوتو، ستورو دی ماتم تر کومه؟
د انسان فطرت خو وشلول، اوس واړه ځنځیرونه
د جنت په جدایي کښې، په ژړل آدم تر کومه؟
چاره ګر باغوان ته وایي، نن سپرلی په هسي شان
د ګل زخم ته به ګورې، د تدبیر ملهم تر کومه؟

نادانې مه کړه پتنګه، ځه له شمعې نه آزاد شه
ځه په خپله تجلي کښې دي، د خپل فطرت آباد شه

# اسلامي دنیا

اوروې داستان د ترکو، او عربو راته څه؟
رانه پټ نه دی هیڅ شان، د اسلامیانو سوز او ساز
د خلیل میراث تر لاسه، فرزندانو د تثلیث کړو
د ګرجې د ردي خښته، شوله خاوره د حجاز
سره کوله چې وه د ترکو، شوه رسوا په زمانه کښې
چې ؤو سر تر نوکه ناز نو، نن مجبوره دی په نیاز

د یورپ له مۍ فروشو، ځني اخلي پارس هغه
سره شراب چي له ګرمۍ نه، يې بوتل شي په ګداز
د مغرب په حکمتونو، د ملت دا کيفيت شو
لکه پاڼه د سرو زرو، چي ذرې ذرې کړي ګاز
د اوبو غوندي ارزانه، وينه شوه د مسلمان
ته پرېشانه ځکه يې چي، زړه دي پوه نه دی په راز

رومي وايي زوړ مکان چي، سر نه څوک ابادوي
نه پوهېږي؟ چي اول، هغه له بېخه ورانوي

ملک چي لاړ له لاسه، سترګي د ملت وغړېدې
خدای درکړې درته سترګي، لږ خو وکړه پرې نظر
موميايي په سوال غوښتو نه، ښه ده دا چي ملا وي ماته
حاجتمن د سليمان مه شه، مېږيه بې وزرا!
د مشرق نجات دی پټ، په اتفاق د مسلمان کښې
لا تراوسه ايشيا نه دی، دې نکتې باندي خبر
په کلا د دين کښې راشه، سياست دي پرېږده بيا
د حرم د حفاظت خو، مال او ملک دی يو ثمر
مسلمان دي شي يو موټی، د حرم وپاسبانۍ ته
خاص د نيل د غاړې واخله، ان تر خاورې د کاشغر
که هرچا بېلتون د رنګ او، وينې وکړلو تباه شو
که درانه په ځان عرب دي، که ترکان شاهي ټبر
پر مذهب د مسلمان باندي، که نسل مقدم شو
د دنيا نه ورک شوې خاوره، وې د پښو د مسافر

دې د پاره خلافت چي، په دنيا کښې بيا مضبوط شي
چيرته ولټوه راوړه، د زړو زړه او ځيګر

اې چي پوه نه په خفي، نه په جلي يې ته هوشيار شه
اې اسير د ابوبکر رض او، علي رض يې ته هوشيار شه

چي فرياد لازم په مينه ؤو، نو هغه خو هم وشو
اوس په زړه دي ليږ لاس کښېږده، د فرياد ګوره تاثير
تا ليدلی دی ختل د، دبدبې د سيند په تلو کښې
ناقراره موج جوړيږي، څنګه اوس ګوره ځنځير
چي د عامي آزادۍ چيري اسلام وؤ خوب ليدلی
مسلمانه ته د هغې، خوب نن وګوره تعبير
سمندر لره سامان دی، د وجود خپله ايره
مړ شي بيا شي را پيدا، ګوره د دې جهان تعمير
سترګي وغړوه خپلي، په آئينه کښې د وينا مي
د راتلونکي وخت څه تت، تت غوندي وګوره تصوير
يوه بله ازميلې، فتنه شته د اسمان ترخ کښې
د تقدير په مخکښې ګوره، رسوايۍ ته د تدبير

مسلمان يې په سينه کښې، اميدونه کړه آباد
د نظر لاندي هر وخت لره، **لايخلف الميعاد**

# طلوع اسلام

چي د ستور رڼا تته شي، دلیل دا د صبا دی
لاړو تېر شو د خوب وخت، د لمر راوختہ رڼا
مړو رګونو د مشرق کښې، د ژوند وینه شوه په دوو
نه پوهېږي په دې راز، که فارابي دی که سینا
قبلئیزو طوفانونو، مسلمان هم مسلمان کړ
په موجونو د دریاب شي، ملغلره په پړقا
دبدبه ترکماني، ذهن هندي، عربي نطق
ور کېدونکی بیا مومن ته دي، له دره د مولا
په غوټو کښې که اثر، د خوب وي پاتې نو بلبله!
راګپه زوره کړه که خوند، د نغمې کم وي چیري ستا
تړپېدل دي، که چمن وي، او که ځاله که ښاخونه
د پارې تقدیر به چیري، له پارې نه شي جدا
پاک نظري سترګي نه ګوري، ښایست د زین او ځل ته
چي ښکارېږي د غازي، ورته د کلک ایمان رڼا

په زړګي کښې د لاله، بله ډیوه کړه د ارزو
د چمن ذره ذره، شهیده کړه په جستجو

را پیدا د مسلم اوښکو، کښې اثر شو د نیسان
په دریاب کښې د خلیل به، را پیدا شي بیا ګوهر

شیرازه تړلی بیا شي، د کتاب مو د ملت
هاشمي څانګه راسپړي، بیا غوټۍ ګل او ثمر
د تبریز او د کابل زړه، یوړو ترکي د شیراز
د صبا باد د ګل بوی، اخلي ملګری د سفر
د غم غر که عثمانیانو، باندي پرېوته څه غم دی
د سل زرو ستورو خون نه، پیدا کیږي یو سحر
د جهان ابادولو نه، لا سخت جهان ساتل دي
د ځیګر په خون پیدا شي، د زړه سترګو کښې نظر
په زرګونو کالو ژاړي، نرګس خپلې بې نورۍ ته
ډېر په ګرانه پیدا کیږي، په چمن کښې دیده ور
اې بلبله! داسي راګ، واخله چي ستا د ترنم نه
په کوتره کښې پیدا شي، د شاهین په شان ځیګر

پټ سینه کښې چي دي دی نو، د ژوندون هغه راز وایه
مسلمان لره قصې، د ژوند د سوز او د ساز وایه

ته د خدای د قدرت لاس او، د کلام یې زبان ته یې
کړه پیدا یقین غافله! چي مغلوب د ګمان ته یې
د دې شین اسمان نه پورته، دی مقام د مسلمان
چي د لاري ګرځ یې ستوری دی، نو هغه کاروان ته یې
ازل ستا دی ابد ستا، مکان فاني مکین آني دی
اخیري پیغام د خدای ته، او هم جاودان ته یې

د لاله ناوې ته پوري، شوې نکريزي ستا د وينو
ستا نسبت ابراهيمي دى، چې معمار د جهان ته يې
ستا فطرت امانت ګر، د ممکناتو د ژوندون دى
د جهان پټ جوهر وايه، چې بس امتحان ته يې
دې فاني جهان نه هغه، همېشه جهان دپاره
نبوت چې ځان سره يووړ، هغه ارمغان ته يې
ستا د تېرو مشرانو، سرګذشت نه ده معلومه
د اېشيا په خوره مځکه، د قامونو پاسبان ته يې

سبق بيا د عدل صدق، وايه هم د شجاعت
اخيستى به شي له تا کار، د دنيا د امامت

د فطرت مقصود هم دا دى، هم دا ده مسلماني
ورورولي د ټول جهان، د محبت فراواني
دا د ويې او د رنګ بتان کړه، مات ملت کښې ګډ شه
چې بيا نه وي توراني، نه ايراني نه افغاني

کړي په ځانګو د چمن به، د بلبل صحبت تر کومه
ستا په ځانګ کښې شته الوته، د شاهين قهستاني

دې دنیا کښې داسي دی، کامل یقین د مسلمان
لکه وي ډېوه د خوشي، خوشیا شپه کښې رهباني
د قیصر او کسریٰ ظلم، چي يې ورک کړو هغه څه وؤ
د حیدر رض زور د بوذر رض فقر، او صدق سلماني رض
د ملت احرار په کوم شان، او شوکت سره روان شول
تماشګیر دور د چادو، د مودو دی زنداني
په مضبوط ایمان دنیا کښې، محکمتیا ده د ژوندون
الماني نه زیات را وختو، پایښت کي توراني

چي د خاورو دې انګار کښې، چیري شي یقین پیدا
نو پیدا کړې دی وزرې، د روح الامین پیدا

غلامۍ کښې په کاریږي، چیري توري نه چلونه
د یقین خوند چي پیدا شي، هله شليږي ځنځیرونه
څوک کولای اندازه شي، د هغه د مټ زور لا؟
د مومن سړي نظر، باندي بدلیږي تقدیرونه
ولایت او باچهي او، د اشیاوو کل علمونه
واړه څه دي؟ د ایمان، د یک یو ټکي تفسیرونه
خو نظر د ابراهیمؑ، راپیدا کیږي ډېر په ګرانه
غلي غلي جوړوي هوس، سینو کښې تصویرونه
د مریي او د آقا، تمیز فساد د سړیتوب دی
و ویریږئ ظالمانو، د حق سخت دي تعذیرونه

که خاکي دی، که نوري دی، حقیقت د هر شي یو دی
څاڅي وینې ترې د لمر که، د ذرو او څیري زړونه
کلک یقین یو نېب عمل او، محبت بری میندونکی
د نرانو د ژوندون غزا، کښې دي هسي ډالونه

نارینه ته ښایي وي دې، خوی اوچت مشرب صفا تل
ګرم زړه نظر پاک بین او، روح بې تابه په تړپا تل

چې د باز به یې غوتې وې، نو هغوی بې بال وپر شو
د ماښام ستوري په وینو، د شفق کښې ډوب اوتر شو
لامبوزن د دریابونو، د دریاب په تل کښې ښخ شو
چې خوړلې چا چپېړې، د موجونو نو ګوهر شو
چې کېمیا باندي چا ناز کاوه، هغوی شو ګړځ د لاري
چې تندی بې خړ په خاورو ؤو، نو هغه اکسیرګر شو
زموږ رو تلونکی قاصد خو، راوړو زېری د ژوندون
چې تنا به پرې خبر، کولو هغه بې خبر شو
د حرم پیر کم نظره ؤو، حرم ځکه رسوا شو
تاتاري ځوانان وګوره، په څه شاني تېز نظر شو
ملایک چې به له مځکې، نه اسمان ته تلل ویل بې
دا خاکیان خو ډېر ژوندي، ډېر پائنده او ډېر زړور شو
په دنیا کښې ایماندار، لکه د لمر هسي اوسیږي
دلته ډوب هلته ختلي، هلته ډوب دلته ظاهر شو

د بیل بیل کس ایمان پنګه، د تعمیر د خپل ملت ده
مصاله دا جوړونکې، د تقدیر د خپل ملت ده

ته یې راز د **کن فکان** نو، خپلو سترګو ته عیان شه
د خودۍ اول رازدان شه، بیا د خدای پاک ترجمان شه
بنیادم ټکړې ټکړې کړو، هوسونو د دنیا نن
ته بیا ن د وروروڵۍ شه، او د مینې خوږ زبان شه
دا هندی، خراسانی، دا افغانی، دا ایرانی دی
اې په غاړو کښې ګیر سینده، راشه ټوپ کړه بېکران شه
ستا د رنګ او د نسبت، په ګړځ لړلي دي ځانګونه
او وځنده له ځانګو، بیا وزر وکړه روان شه

اې غافله! د ژوند راز خو، په خودۍ کښې ډوبیدل دي
د صبا بېګا ځنځیر نه، ځان وکاږه جاودان شه
د ژوندون د جنګ میدان کښې، د فولاد خوی را پیدا کړه
د ریښمو غوندي پوست، د محبت په شبستان شه
تېزاوتندسیلاب شه تیرشه، ته له سمې غره نه تېر شه
ګلستان که راغی مخکښې، نو لښتی شه نغمه خوان شه

ستا د علم او دميني، چېرته نشته انتها نن
دفطرت په ساز کښې نشته، دی بل راګتا نه سيوا نن

لا تراوسه بنيادم يو، عاجز ښکار د بادشاهت دی
چې انسان د انسان ښکار، کوي نو بس دغه قيامت دی
د حاضر تهذيب پړقا ده، نظرونه برېښوي
مګر دی کالي کښې شوی، د جوټه غمو صنعت دی
نازېدل په کوم حکمت چې، د مغرب عقلمندان به
د هوس لاس کښې د جنګ، خونړی تېغ هغه حکمت دی
هيچيري به محکم نه شي، په دم چُف د تندبيرونو
چې د کوم مدنيت بنياد، په پنګه د دولت دی
په عمل باندې جوړېږي، ژوند جنت هم او دوزخ هم
نه نوري نه ناريوالی، د خاکي بدن فطرت دی
چيغار وښيه بلبل ته، د غوټۍ غوټې کړه خلاصې
چې دې باغ ته لکه باد، د سپرلي ستا وجود رحمت دی
بيا راپورته د ايشيا، د زړه بخري شو د ميني
د خدای ځکه د ترکانو، ځای د جنګ او د غيرت دی

راشه- راشه! دا پيدا شو، خريدار د روح ناتوان
پس له ډېري مودې راغی، پيښ په موړه شو کاروان

راشه اې ساقي چي، د بلبل له شاخسار راغی
بهار راغی، نګار راغی، نګار راغی، قرار راغی
د سپرلي وريځو راکښلې، خېمې پر غره پر سمه
پاس اوچت د غره له سر نه، بيا آواز د ابشار راغی
ساقي جار شم هله زرکړه، د پخوا په شان يې راکړه
چي لښکر د سرودګرو، ګڼ قطار په قطار راغی
زاهدانو نه په ډډه، شه بې باکه پياله وڅښه
مودو پس له دې زوړ ښاخ نه، د بلبلو چيغار راغی
مشتاقانو ته د بدر، او حنين د خواجه ﷺ وايه
چي پټ زور د تصرف يې، په نظر مي په جار راغی
د خليلؑ ښاخ دوباره زموږ، له وينو نه نو اخلي
کره مال زموږه نن، د محبت په بازار راغی
د لاله د ګلو پاڼې، د شهيد پر قبر ويشنم
چي اثر د ده د ويني، په ملت مي سازګار راغی

څه چي وشيندو ګلونه، او مۍ واچوو پيالې کښې
اسمان اچوو او بله، طرح کښېږدو په سيالۍ کښې

# غزلونه

د شړۍ خاوند ﷺ ته باده، د صبا! دا پیغام یوسه
د غریب امت له لاسه، دین هم لاړو دنیا هم

د سیند غاړو موج ته اووې، سمندر دی ډېر لا لیري
ته یې وصال ته ناقرار یې، او لا یې وارخطا هم

عزتونه دي قایم، د محبت قیسه! محمل نه
چي محمل لاړ، عزت لاړو، غیرت لاړ او لیلا هم

خوشي دوچي څاڅکي پرېښو،نویې شان دګوهربیا موند
د فطرت آواره توب لاړ، کشمکش د سیند په دا هم

ده خبره د اقبال خو، خدای خبر د چا آواز دی
د سکون پیغام دی هم، د محفل زړې کړ په تړپا هم

د بلبل او د قمرۍ، په سرودونو تېر خوري ګوش
په ظاهر دی غوبلونه، د چمن باطن خاموش

اثر ستا د پيمانو دی، اې شرابو د مغرب!
چې ساقي ګډ په خندا دی، انجمن دی ټول بېهوش

د دنيا په غم خانه کښې، پته نه لګي ستا چېرته
پيدايښت هم ؤو څه جرم چې، شوې ته ترې نه روپوش؟

چې دنيا څه ته زړه وايي، آه! چې نه دی هغه زړه
يو غال بول دی چې په اړخ، د انسان کښې دی خاموش

ځه د ژوند پر لاره ځه خو، لږ په ډډه ډډه ځه
هسې وګڼه چې روغه، ميخانه لرې په روش

چې د چا په برکت، لاهور ډيلی سره يو شان شو
اې اقباله! آه! افسوس، هغه بلبل هم دی خاموش

ستا بلبله ځلبلانده! فريادونه دي خام لا
وې ساته سينه کښې لېږ، غونډي نور هم په آرام لا

چيري عقل که کوې فکر، او غور نو پرې پخېږي
خو که عشق غور او فکر، کړي نو دی هغه خام لا

بې خطره په ډاډه زړه، ټوپ کړ عشق د نمرود اور ته
حق حيران په تماشه دی، ورته عقل پر بام لا

عشق په حکم د قاصد، د عمل ګام واخستو تېز
عقل پوه قطعي نه دی، په معنا د پیغام لا

آزادي او انقلاب، د زمانې د عشق دستور دی
خو یو ته یې زناري، د بتخانې د ایام لا

د پرهېز عذر چي وکړم، نو ساقي خفه شي وایي
چي په زړه کښې دي تېرېږي، جوړ خلش د انجام لا

د ژوندون د کم وکیف تله، ده سعي په یوه نېب
او ستا تله ده شمېرنه، د سحر او ماښام لا

د پګړې وریځې! شابه، دا پوټي پرښه تر کومه؟
چي د غره د سر لاله مي، لري تش هسي جام لا

میخوران دوی عجمي دي، دي زما مۍ د عربو
له پیالې نه مي کړي ترهه، ورته نه کوي پام لا

نري باد د صبا باغ نه، د اقبال دا خبر را وړو
نوې نښتې دي پرړیږي، الوول دی په دام لا

پلو لیري کړه له مخه، انجمن دي کړه رڼا
د سپوږمۍ او لمر او ستورو، سترګي کړه په تماشا

چي تنا يې سترګکونه، به پټ پټ وهي تر کومه؟
په څرګنده په ښکاره شه، زما زړه سره اشنا

په توده سا کښې تاثير، د معجزې دی د ژوندون
په سينه کښې که دي شته نو، وکړه کار د مسيحا

د کليم په شان تر کومه، به په طور کو ې چړونه
هم له دې خپلې هستۍ ښکاره، شعلې کړه د سينا

ستا د هرې ذرې خاورې، نه آباد دي شي حرم
بېګانه کړه زړه دستور نه، د انداز د کليسا

په دې باغ کښې وتل حد نه، بهر ښه خبره نه ده
ناز که هم کوې نو دومره، چې ته څومره يې رعنا

ځان اول خو کړه خوددار، لکه سلطانِ سکندر
بيا کوه هوس جهان کښې، د شوکت لکه دارا

اې اقباله! يوه ورځ به، د ليلا په منزل ورشې
يو څو ورځې مزلونه، وکړه نور هم پر ببديا

بيا باد د بهار راغی، اقباله! غزلخوان شه
غوټۍ که يې نو ګل شه، که ګل يې نو ګلستان شه

یو موتی یې د خاورو، ګرمۍ نه د اجزاوو
په قهر شه اوتر شه، او ویړ شه بیابان شه

یې جنس د محبت ته، ډېر ګران یې په قیمت کښې
کم ماله سوداګر دي، په دې ملک کښې ته ارزان شه

پردو کښې د ساز ولي، ستا نغمه دي وي مستوره؟
سندره رنګینه یې، ته هر غوږ ته بیان شه

هوښیاره رهرویه! که لاره کښې دي مخکښې
ګلشن که وي شبنم شه، صحرا که وي طوفان شه

په مینه د سامان کښې، پرته ځان اساني ده
مقصود دي که منزل وي، لوټ مار دي د سامان شه

منتظر اې حقیقته! را ښکاره شه په مجاز کښې
بې ارامه مي زړګونه، دي سجدې تندي د نیاز کښې

د شور خوند سره اشنا شه، یې آواز غوږ ته رسا شه
څه سرود وي لا هغه چي، پټ وي پروت سکوت د ساز کښې

ته یې په ډډه ډډه مه ړده، ستا آئینه هغه آئینه ده
ما ته هم ښه قیمتي ده، په نظر د آئینه ساز کښې

پتنګ شمعې ته طواف کښې، اووې زوړ اثر خو نشته
نه قصه کښې ستا د سوز، او نه زما په دې ګداز کښې

چیرته یې اونه مونداامان،اوکه یې اوموند،چیرته یې اوموند
زما جرم سر خوړلی، ستا بخشش بنده نواز کښې

نه هغه ګرمي شته عشق کښې،نه هغه شوخي ښایست کښې
ناقلاره غزنوي نه، نه خم زلفو د ایاز کښې

چې مې سر په سجده کېښو، دا آواز راغی له مځکې
ستا زړه بت سره اشنا دی، څه به اومومې نماز کښې

څه که دام لاندي غزلې، د چمن وایي مارغان
چې له شونډو بهر نه شو، کوم چې زړه کښې وؤ فغان

د ناصبره زړه ونه کړای، شوه جلوو دې تسلي
هم هغه دی د شپې آه هم، د سحر هغه سوران

نه د خدای نوم نه د بت شته، نه رقیب د دیر حرم شته
نه څه رنګ د بولهب شته، نه علي په شانې ځوان

ساز اګرکه مې مظلوم دی، د عجم په شهبازونو
د وفا هغه شهید یم، عربي مې دی بیان

ته اګرکه يې په قيد کښې د اسبابو
لېکن زړه دي لره لږ غوندي آزاد

عقل نه دي دی آوزګار نکته چينۍ نه
ته په عشق د عملونو ږده بنياد

مسلمانه! هر ساعت د نظر لاندي
دا آيات لره **لايخلف** **الميعاد**

د اکبر لسان العصر دا پيغام دی
لره **ان** **وعدالله** حق ياد

# ظریفانه

دې خوا مشرق کښې اصول د دين جوړيږي
ولې مغرب کښې همېش مشين جوړيږي
موږ سره يو هم نه پاتې کيږي
هلته د يو نه، تين تين جوړيږي

اوس له خيره جينکۍ انګريزي لولي
وميندله قام د خير او برکت لار
د مغرب په ډول ډال باندې نظر دی
د مشرق طريقه شوه ورلره عار
دا ډرامه بۀ ور ته څه ننداره ښيي؟
د پړدې اوچتېدو دی انتظار

شيخ صاحب هم، د پړدې پره دار نه دی
کالجيان تر ځنې هسي، بدګمان شول
وې ويل پرون په وعظ کښې صفا ده
ستر چا ځني چې ټول سړي زنان شول

د څو ورځو ده خبره، دې اې سړیه عقلمنده!
نه به تا کښې څه غیرت وي، نه به ښځه غواړي ووټ
هغه دور دی راتلونکی، چې عوض کښې د اولاد به
د کونسل د ممبرۍ دپاره دا وغواړي ووټ

د یورپ تعلیم خو ډېره، زړه ورتیا پیدا کوي
ړومبنی سبق دی کښېنه، په کالج کښې وهه ټړي
هندوستان کښې اوسېدونکي، چې بس تش خریداران دي
نو راوړي ورله له ملکه، آغاجان هنجه هر چیري
زما حال دا دی په ژبه، بې د بوټ څوکه ښتمه
د هغه حکم ته ګوره، وایي "په فرش مه رغړه لیري"
ویل اوښ ماما ته ګوره، دا لا څنګه ځناور دی
خوندناکه خو دا غوا ده، لري څنګه تیرې ښکري

غم هیڅ نه شته که مي لاس، د واعظ تنګ دي
د دې نوي تهذیب مخکښې، دي سر خم کړي
د جهاد رد کښې، خو ډېر څه دي لیکلي
رساله دي د حج رد کښې، هم رقم کړي

د تهذیب مریض د پاره، څه فایده ده د ګولو نه؟
دې مرض دفع کولو له، په کار دی چي بِل پیش کړئ
هغه هم وخت وُو استاذ ته، په عوض کنبې د خدمت چي
زړه به دا غوښته هدیه کنبې، چي هم زړه ورته خپل پیش کړئ
زمانه داسي بدله شوه، شاګرد پس له سبق نه
خپل استاد ته داسي وايي، چي ماسټر صاحب بِل پیش کړئ

اخیر یې څرته حد هم شته، چي اخلو به تر کومه
څترۍ، رومال، مفلر او، قمیصونه له جاپان نه
غفلت مو دغه شان، که څیري پاتې شي راځي به
کابل ځني غاسل او، کفنونه له جاپان نه

د مشرق د مسکینانو شو، مغرب کنبې زړوند زړونه
هلته لوښي بلوري دي، دلته دي خاورین مټونه
په دې دور کنبې به ورک شي، ټول هغه به پاتې کیږي
چي قایم په خپله لار وي، او پاخه یې وي نیتونه
اورې اې شېخه بامبړه!، څه د سترګو خاوند وايي؟
چي اسمان ځومره له پورته، نه را وویشتل قامونه
یا د میني وې جلسې، قایم دستور د محبت وُو
یا اوس دي د قربانۍ، جټکۍ، اردو، هندي بحثونه

"د شهود او د شاهد، او د مشهود اصل دی یو"
د غالب قول که رښتیا دی، نو بیا ذکر د غیر څه
اې زما شېخه صاحبه! تا هم دي څه اورېدلي
چې پرون د کعبې خلکو، ته وې خلکو ته ډېر څه
مورِ تپوس له مسلمان، عاشق مزاج نه دا کوو
په بتانو چې مین یې، نو بامبړ سره بیر څه؟

د دنیا لمنه خلاصه، چې له لاسو شوه زمورِ
نو له زړونو نه رخصت شو، غم او خیال د معاد هم

چې د وقف د قانون، په سر جنګونه کول شېخ به
وې پوښتیِ وقف دپاره، پاتې شته څه جایداد هم؟

چې مې نیت د ځان وژلو کړو، ښکاره هغې مس ووېل
مهذب که یې عاشقه، ځان بهر نه کړې له حده
نه دی زړه شته نه دي توره، بیا به څنګه ځان ووژنې
دا منم چې نامرادي دي، ده په درد کښې ډېر بده
ما ویل د زړګي سره، څه نغدي مال راته راکړه
په کرایې باندي به وغواړم، پښتون څوک له سرحده

د عربو يې قدر ونه پېژند، دومره وو کم عقل
نتيجه اخير هم دا شوه، چې بچ نه شو له "مارپيټه"
د اوښ نوم دی مغربيانو، کښې جهاز د بيابان
خو ترکانوکاروانه خيستی، شو هيڅ هم له دې "فليټه"

په هند کښې کونسلونه، دي يو جز د حکومت
دا په سياست کښې، مو آغاز دی د کمال
مونږ خو فقيران وو، دا زمونږ پخوانی کار وؤ
زده دي طريقه کړي، اميران هم اوس د سوال

د کونسل د وائيسرای، ممبري نه ده مشکله
رابه شي په لاس ووټونه، راکوي به پيسې هم څه؟
خدای دي وبخښي غالب چې، څه په ځای ېې دي ويلي
"منم اوسم په ډيلي کښې، بارې وايه زه به خورم څه؟

دې نه زيات د محبت او، د وفا دليل به څه وي؟
که مين نه وای پر تا، ستم به ولي مو زغمه
د حلقې ووټران وايي، څه خو وايه کمېټۍ کښې
خو رضا د کلکټر که، وي هله به وايو څه

واخو خولې ترې نه سند مو، د ځامنو به په کار شي
هغه نن دی مهربان صبا به، وي او که يا نه
د هنديانو خو په سر، د مځکي ځای چېرته کښې نه شته
خو خالي کښته تلونه، د سيندونو دي پراته
تابعدار لکه کښتۍ يو، که تړي مو په ګودر ښه
او که وايي بهيدو ته، يو اوبو کښې په واته

شېخ په وعظ کښې ويل، په طريقو د عمل باندي
کافران د هندوستان دي، تجارت کښې محنتيان
مشرکان دي چي ساتي څوک، د مشرکو سره لين دين
خو زمورِ د ملک دي خلک، عقل هوش نه محرومان
د کافر له لاسه هر يو شی، ناپاکه وي پليت وي
وا دي وري که اوري حق، خبره غورِ د مسلمان
په محفل کښې د واعظ صاحب، يو ناست ؤو شرابي هم
په غورِونو يې يو بار ؤو، د واعظ وعظ بيان
ده ويل چي دا دی ظلم، چي په دا رنګه قيدونو
د سامان د خوراک څښاک، تجارت بند وي په دا شان
ما ويل چي ستا دپاره، خو خبره ګرانه نه ده
د شرابو خرڅوونکي، خو هم شته مسلمانان

د مشرق تجارت ګوره، چي چليږي به تر کومه
د ښيښې د دين عوض کښې، اخلي دی کوزه او جام
لېونتوب لره علاج دی، د جديد تعليم نشتر
او جراح زما له رګه، اخلي سره وينه د قام

يوې غوا يوه ورځ اوښ ته، دا خبري راشروع کړې
په يو حال باندي دنيا کښې، د هيڅ څيز نه شته قرار
زما نوم خو شو بدنام چي، تېر سرې مي وشلولو
ولې اوښه! اورم دا چي، تا هم وشلولو مهار
ته اهم د سياست تر مخه، يې په هندوستان کښې
خو د رېل په چليدو شوې، په عربو کښې بېکار
تر پرونه ګرځېدې، د غوا د ګنې نه په ډډه
وو په څوړند اوږدو شونډو، دي ټکی د انکار
دا نن څه خبره ده چي، په موږ دومره مهربان يې؟
پاتې نه شو په آئينه دي، د زړه هغه زوړ غبار
اوښ چي واورېدو تقرير نو، سترګې يې کښته کړې او وې وېل
چي دی ستا په عاشقانو کښې، زموږه خو هم شمار
د اوښ سل ټوپونه زار شه، ستا له يو ټوپ نه د ناز
چي د دې ناز او نخرو خو، موږه يو زاړه بيمار
په ځنګل کښې دي تاثير، د هنګامو داسي خور وور شو
چي بې زبانه مال کښې هم شو، راپيدا خوند د ګفتار
مودې وشوې چي يو ځای، سره اوسېږو په ځنګل کښې

چي هیڅ هم راسره نه شته، ګیا هم خورو په ادهار
اوښ ګډوری، غویی، پړانګ وي که خر ګډ وي
په یو رنګ کښې که شو رنګ نو، وي زموږه به وقار
که باغوان راته سبق، را زده کوي د یک رنګۍ
نو نه کیږو یوه خوله، ولې مارغان ټول د ګلزار
هغه جام موږ ته هم راکړه، مناسب د وخت هم دا دی
چي ته هم اوسې سرشار، او ستا ملګری هم سرشار
د حافظ کند خو هیڅ څیز دی، په شرابو یې لړه
بیا یې مست خراب تراب، نیسه راکاږه په بازار

ښکا ما ته اووې ماشي حال د خپلي نیمګړتیا
راکوي یو څاڅکی وینه ټوله شپه کښې په بنګا
نائک راکښه بې کړاوه له سامۍ وینه ویړیا

رانازل شو جېلخانې نه، دا ایات نوی پر ما
چي ګیتا کښې دی قرآن او، په قرآن کښې ده ګیتا
څنګه ښه وشوه دوستي، په منځ د شېخ او د بامبڼ
په دې جنګ کښې نه څه بایله، ده او نه هغه "جیتا"
درمسال نه خو ویزار ؤو، له اوله نه "بدري"
خو جمات نه نه راوځي، ضدي ډېر دی "مسیتا"

که سرځي نولاړ دي شي، خونه دي ځي لاس نه طاقت
ده هم دا په هر مذهب کښې، خلاصه د حقیقت
دیو باغ مولی، درې واړه،وي په خوندرنګ اومزه کښې
شوکاري، زمینداري ده، او دریم یې سلطنت

پنګه او محنت سره، دنیا کښي مخامخ شولو
ګورو چي به کیږي اوس، د چا د ارمان خون

دا شر او دا غوبل، په حکمتونو تدبیرونو
جاروځي نا "**و قد کنتم به تستعجلون**"
لښکري راخورې شوې، د یاجوج او د ماجوج
ګوري مسلمان دي اوس تفسیر د "**ینسلون**"

هغه پوخ شرابي لاړو، سرحدونو نه د شام
دود دستور د میخانې یې، ټول اوچت کښیښو پر طاق
که رښتیا وي دا نو څومره، د عبرت مقام دی دا
چي د سترګو رپ کښې واوړي، رنګ د دې نیلي رواق
اوس غرور په کار کرزن ته، دې چي بند د علاج وکړي
په معده د انتداب کښې، دی سخت درد چي لا یطاق

چي جرګه له هندوستان نه، آغاخان په تلوار غواړي
جوړ چونډۍ د هضم ده، د فلسطين او د عراق

یوه ورځ ؤو د دهقان، او د مالک منځ کښې تکرار
دوی کښې هر یو ځان له ځان له، وؤ د مځکي دعويدار
يو ويل چي کر کوي ثوک، نو پټی هم د هغه دی
بل ويل ورته چي ته خو، يې له عقل نه اوزګار
ما تپوس وکړو له مځکي نه، چي ته يې د چا مال؟
هغې وېل زما خو، بس په دی خبره دی اتبار
دا مالک دی که بدحاله، مزارع دی حال يې دا دی
دې اسمان لاندي چي هرڅه، دي نو دی د مځکي مال

اخله اوله يې بهر د کوڅې منځ ته
دی د نوي تهذيب واړه اګۍ سخا
انتخاب او ممبري او صدارت او کونسلونه
دي دامونه آزادۍ جوړ کړي دا
وتوړلی شو لرګي سره ترکانږ هم
چي تيرې دي د يورپ رندې بلا

یو سړی د کارخانې خاوند دی، هیڅ نه کوي کار
په عشونو کښې تل ډوب دی، له محنت نه دی وېزار
چې د خدای حکم دی **لیس للانسان الا ماسعٰی**
د مزدور د محنت ولي خوري، مېوه سرمایه دار

اورېدلې مې پرون دي، دا خبري کارخانه کښې
چې استوګه ده زړو، کورونو کښې د اوستاکار
څو سرکار هم څنګه ښه، د کونسل هال په مزه جوړ کړ
چې دې ښار کښې تکیا نه وه یوه هم د پنګه دار

ایماندارو له خپل جوشه، یوه شپه کښې جمات جوړ کړ
خو زما زوړ ګناهګار زړه، چیري نه شو نمازي
څنګه ښه امیر فیصل ته، سنوسي دا پیغام ورکړ
نوم نسبت دي حجازي دی، زړه دي نه دی حجازي
هسې سترګې خو لوندی شي، خو څه خوند وي دې ژړا کښې
چې په وینو د ځیګر، د اوښکو رنګ نه شي پیازي
لوی واعظ خو دی اقبال چې، په خبرو کړي زړه نرم
د وینا خو دی غازي دی، د عمل نه شو غازي

# بالِ جبریل

## ژباړه

**قاضي عبدالحلیم اثرافغاني**

پاڅه! چي وتړو خورشید وته سامان د سفر
چي را ژوندۍ کړو سوې ساه يې د ماښام د سحر

اقبال رح

# فهرست

| شمېر سرلیک | مخ |
|---|---|
| ۱۵۴. .غزلونه | ۳۵۲ |
| ۱۵۵. .درې درې شعرونه | ۴۳۰ |
| ۱۵۶. .قطعات | ۴۳۱ |
| ۱۵۷. .دعا | ۴۴۳ |
| ۱۵۸. .د قرطبې جمات | ۴۴۴ |
| ۱۵۹. .په قیدخانه کښې د معتمد فریاد | ۴۵۰ |
| ۱۶۰. .د عبدالرحمان اول د لاسه نهاله کړل شوې د کجورې اولنۍ ونه | ۴۵۱ |
| ۱۶۱. .هسپانیه | ۴۵۳ |
| ۱۶۲. .د طارق دعاء | ۴۵۴ |
| ۱۶۳. .لینن | ۴۵۵ |
| ۱۶۴. .د فرشتو سندره | ۴۵۷ |
| ۱۶۵. .د خدای فرمان | ۴۵۸ |
| ۱۶۶. .ذوق او شوق | ۴۵۹ |
| ۱۶۷. .پتنګ او اوراورکی | ۴۶۳ |
| ۱۶۸. .د جاوېد په نامه | ۴۶۳ |

| | |
|---|---|
| ۱۶۹..ګدايي | ۴۶۳ |
| ۱۷۰..ملا او جنت | ۴۶۴ |
| ۱۷۱..دين او سياست | ۴۶۵ |
| ۱۷۲..الارض للّٰه | ۴۶۵ |
| ۱۷۳..د يو زلمي په نوم | ۴۶۶ |
| ۱۷۴..نصيحت | ۴۶۷ |
| ۱۷۵..د ريدي ګل | ۴۶۷ |
| ۱۷۶..ساقي نامه | ۴۶۸ |
| ۱۷۷..زمانه | ۴۷۷ |
| ۱۷۸..فرشتې له جنته آدم رخصتوي | ۴۷۹ |
| ۱۷۹..د مځکې روح د آدمؑ هر کلی کوي | ۴۷۹ |
| ۱۸۰..پير او مريد | ۴۸۲ |
| ۱۸۱..جبرايلؑ او ابليس | ۴۸۹ |
| ۱۸۲..اذان | ۴۹۱ |
| ۱۸۳..محبت | ۴۹۲ |
| ۱۸۴..د ستورو پيغام | ۴۹۲ |
| ۱۸۵..د جاوېد په نوم پيغام | ۴۹۳ |
| ۱۸۶..فلسفه او مذهب | ۴۹۴ |
| ۱۸۷..د يورپ نه يو خط | ۴۹۴ |
| ۱۸۸..ځواب | ۴۹۴ |
| ۱۸۹..د نپولين پر مزار | ۴۹۵ |

۱۹۰..مسوليني ۴۹۵
۱۹۱..سوال ۴۹۶
۱۹۲..د پنجاب کاشتکار ته ۴۹۷
۱۹۳..نادرشاه افغان ۴۹۷
۱۹۴..د خوشحال خان وصیت ۴۹۸
۱۹۵..د تاتاري خوب ۴۹۹
۱۹۶..حال او مقام ۵۰۰
۱۹۷..ابوالعلا معري ۵۰۱
۱۹۸..سپنما ۵۰۱
۱۹۹..د پنجاب پیر زادګانو ته ۵۰۲
۲۰۰..سیاست ۵۰۲
۲۰۱..فقر ۵۰۳
۲۰۲..خودي ۵۰۳
۲۰۳..جدايي ۵۰۴
۲۰۴..خانقاه ۵۰۴
۲۰۵..د ابلیس عرض داښت ۵۰۵
۲۰۶..وینه ۵۰۵
۲۰۷..پرواز ۵۰۵
۲۰۸..د مکتب شیخ ته ۵۰۶
۲۰۹..فلسفي ۵۰۶
۲۱۰..شاهین ۵۰۷

| | |
|---|---|
| ۲۱۱..باغي مريد | ۵۰۸ |
| ۲۱۲..د هارون وروستی نصيحت | ۵۰۸ |
| ۲۱۳..د نفسياتو ماهر ته | ۵۰۹ |
| ۲۱۴..يورپ | ۵۰۹ |
| ۲۱۵..د افكارو آزادي | ۵۰۹ |
| ۲۱٦..زمرى او خچر | ۵۱۰ |
| ۲۱۷..مېږى او عقاب | ۵۱۰ |

غوځ به شي په پاڼه د ګل باندي د الماس ځيګر
نه کړي په نادان خبري نرمۍ او پستۍ اثر

((بهرتری هري))

# غزلونه

## (۱)

دا زما د شوق نعرې دي، دی ترې شور حريم د ذات کښې
غلبلې د الامان دي، بت خانه يې د صفات کښې

فرشتې، حورې بندي دي، په دنيا د تخيل مې
له نظر ځنې زما دی، خلل ستا تجليات کښې

د حرم او دير نقشونه، که سبب مي د لټون دي
دی قيامت مي له فغانه، په کعبه په سومنات کښې

کله تېز نظر زما خو، د وجود زړګی کړي څيرې
کله پاتې الول شي، دې زما توهمات کښې

دا دي څه ناپسندي وکړې، زه دي هم اخير ښکاره کړم
ومه نغښتې په پړدو کښې، زه يو راز وم کاينات کښې

(۲)

که په ترخ چلږي ستوري، دا اسمان ستا که زما دی؟
د جهان فکر کړم ولې، دا جهان ستا که زما دی؟

که د شوق د هنګامو نه، لامکان دي تا خالي دی
دا خطا د چا ده ربه! لامکان ستا که زما دی؟

د ازل په صبا څرنګ، ده جرآت د انکار وکه
ترې نه زه لا څه خبر یم، دی رازدان ستا دی که زما دی؟

محمد صلی الله علیه وسلم ستا جبرئیل ستا، او قرآن دا واړه ستا دي
مګر دغه شیرین ټکی، ترجمان ستا که زما دی؟

په ځلا د دغه ستوري، دا جهان روښانه ستا دی
د آدم په پرېوتو کښې، زیان تاوان ستا دی که زما دی؟

په ښیښه کښې دي شراب نه دي باقي
ولې وایه ته زما نه یې ساقي

سمندر نه ترې مومي ایله پرخه
دا شومتیا ده دا خو نه شوه رزاقي

(۳)

ول په ول زلفې دي ياره، پېچ وخم په څو څو وار کړه
عقل وهوش له مانه يوسه، اوس مي زړه نظر هم ښکار کړه

وي دي مينه په پړده کښې، وي ښايست دي هم پړده کښې
يا ته ځان خپل راښکاره کړه، يا خو ما ښکاره په جار کړه

ته درياب يې بې پايانه،، زه وړکوټې شان واله يم
يا مي کړه ځان ته تر غاړه، يا خو ما هم بېکنار کړه

مخ رونې مي د ګوهر دی، ستا په لاس که زه صدف يم
که په مثل يم ټيکرکی، ته و ما ګوهر شهوار کړه

که نغمه د نو بهار مي، په نصيب کښې چيري نه وي
دا نيمګړی اسويلی مي، تنکی چتی د بهار کړه

د جنت له باغه ولې، د سفر حکم دي راکړ
د دنيا چارې اوږدې دي، اوس ته ما ته انتظار کړه

د حساب په ورځ چي پېښ شي، د عمل د فتر مي تاته
هم کچه شه پرې پخپله، او هم ما پرې شرمسار کړه

(۴)

که اثر کوي که نه کړي، څه خو وا مې وره فرياد
يو آزاد غوندې بنده يم، له چا نه غواړمه داد

وېر اسمان او هوا تېزه، او دا موټی غوندې خاوره
دا دې مهر که کرم دی، په دې خوند کښې د ايجاد

د چمن تېزي سيلۍ ته، خيمه ټينګه د ګل نه شوه
وايه داسې پسرلی وي، وي دا رنګ باد د مراد؟

قصور وار يمه بې شکه، له وطن نه بې وطنه
مګر دا ويجاړ جهان ستا، فرښتو نه کړه آباد!

نن زما خواري کښيې ته، دعاګانې کوي ګوره
ستا د شاړو بېدياګانو، آ جهان دی بې بنياد

چې مدام خطرې غواړي، په هغې طبع راس نه وي
داسې باغ چې پکښې ده ته، ساؤ کښې پټ نه وي صياد

دې اوچت مقام د شوق ته، فرښتې رسېدای نه شي
دغه کار د هغه چا دی، چې په لوړ همت وي ياد

( ۵ )

څه به عشق د هغه ژوند وي، چې وي خپله مستعار
څه به عشق د فاني کس وي، له هغه چې وي پائيدار

هغه مينه چې مثال يې، په پوکي د اجل مړ شي
هيڅ مزه نه وي هغې کښې، د زړه سوی او انتظار

څه به زه څه به مي توان وي، تاؤ ګرمي د يو ساعت يم
د شعلو سره چې نښلي، د بڅرو څه دی کار

اول وبخښه وماته، هغه ژوند چې تل تر تل وي
تماشه د ذوق وشوق کړه، بيا د دې زړه بې قرار

ازغی هغه راته راکړه، چې څرخيږي تل تر تله
داسي خوږ راکړې يا ربه ! چې درديږي تل تر تله

مرکز زموږ زړونه، کړې د مهر د وفا
دربار د کبريا نه، يې يا ربه! کړې اشنا

کوم چا ته چې دوډۍ دي، اوربشينه ده بخښلې
حيدري متې هغوی، لره هم ته کړې ورعطا

(۶)

بیا د خورې خاورې نه مي، زړه چېرته پیدا نه شي
ګرانه چي ده اوس هغه، راپېښه راته بیا نه شي

حوري مي جنت کښې، په نوا باندي مجبور نه کړي
سوز نه د سینې مي، بیا محفل کښې ګرمي را نه شي

کله لاروي وته، پرې اېښی پړاو هم شي یاد
څرېکه د سینې مي، د منزل جوړه سودا نه شي

میني یو بې غاړې لوی، دریاب راځنې جوړ کړلو
دا ځان ته کتنه مي، ساحل چېرته زما نه شي

هسي نه بې رنګ او بوی، جهان کښې هم لټون زما
هغه د قیس منډې و، قاصد ته د لیلا نه شي

ویره کوي ستوري، د عروج نه د خاکي ادم
دې پریوتي ستوري نه، سپوږمۍ چېرته بِنا نه شي

## (۷)

تېز ګردش د ستورو دی، بل شان ده دنیا ساقي
زړه کښې د ذرې ذرې، حشر په غوغا ساقي

پنګه د دنیا او دین، لوټ د بزرګانو شوه
کړې دا خوني غمزه، کوم کافر؟ ادا ساقي!

رنځ هم هغه زوړ دی، هغه ناټینګتیا د زړه
ورکړه آ د خوند اوبه، جوړ به شي پرې دا ساقي!

زړه کښې د حرم ځکه، سوز د ارزو نشته دی
پټ چې په پړدو کښې دی، "شته" تراوسه ستا ساقي

بیا د عجم لاله زار، بل رومي پیدا نه کړو
خاوره د تبرېز ایران، ده هم هغه لا ساقي!

نه دی نااميد اقبال، خپل سبزلي کښت ځنې
دې خاوره کښې نَو که وي، ده شېراز بلا ساقي

ور يې سلطاني اسرار، کړل فقیر د لارې ته
ده مې د پروېز دولت، بیه د نوا ساقي

## (۸)

راوړه هم بیا هغه شراب، هغه جام اې ساقي!
چې راشي لاس ته مي، زما آ- مقام اې ساقي

درې سوه کاله راسې بندې میخانې دي د هند
اوس مناسب دی چې خپل فیض دې شي عام اې ساقي

لږ غوندي پاتې په مینا کښې د غزل ووځ زما
شېخ راته وايي چې دا هم دی حرام اې ساقي

بې د څېړنې شو خالي له شنو زمريانو ځځه
تش د صوفي او ملا پاتې غلام اې ساقي

زيګرور تېغ د عشق پوهه نه يم چا پټ کړو؟
لاس کښې د علم شو تش پاتې نيام اې ساقي

وي چې روښانه سينه سوز د ژبې عين حيات
وي که تياره نو کلام مرګ د دوام اې ساقي

چې توره شپه مې د سپوږمۍ ځنې محرومه نه کړي
کامله مياشت دې ده راګېره په جام اې ساقي

(۹)

هغه دنیا د زه او ته، ورانه ساقي کړه زما
می یې د لااله الا هو، چي کړل را عطا

نه می، نه شعر، نه ساقي، نه شور د چنګ و رباب
چوپتیا د غره د ولې غاړه، ریدي ګل د بېدیا

د میکدې د ګدا شان، د بې نیازۍ ووینه
آبِ حیات چینه چي مومي، کوزه ماته کړه بیا

ګودړۍ خپله غنیمت ګڼم، په دې زمانه
په خانقا کښې دي کدوان، د صوفیا و صفا

نوی نیازمند یم پرده ښه ده، که زما ځني شي
زړګي نه زیات له واکه وتی، دا نظر دی زما

که په موجونو د دریاب کښې، خپل مقام لیري دی
د مرغلرې دی اودس هم، خپله خټه صفا

ګل و لاله یې له فیضانه، لا ښایسته وینمه
رنګین نوا شاعر نظر خپل کښې جادو لري دا

## (۱۰)

درد او سوز د تمنا ده، عجب پنګه قيمتي
وه به نښلمه پر ځای، د بندګۍ خداوندي

بندګان آزاد چي ستا دي، نه یې دا دنیا نه هغه
پابندي دلته د مرګ ده، د ژوند هلته پابندي

ده پرده اکسیر پرېشان له، په کوڅه د محبت کښې
ولې اور تازه کوي مي، چي اوږديږي جدايي

چېرته غرۀ په بيابان کښې، خپل اوقات تېرول غواړي
دی شاهين لره ذلت چي ځان له ځاله جوړوي

د نظر دغه فيضان ؤو، کرامت که د مکتب ؤ
اسماعيلؑ وته ښودلې هسي چا وه فرزندي؟

زما قبر زيارت ګاه دی د همت لرونکو خلکو
چي مي خاورو ته د لارې راز ښودلی الوندي

د سر سنې مي محتاجه د معنا ښايست هيڅ نه دی
چي نکريځې فطرت خپله ريدي ګلې لره رډي

(۱۱)

آيا تا ته په ياد نه ده، د زړګي مي زمانه
آ د مينې د ادب ځاى، آ د سترګو تازيانه

دا بتان د نوي عمر، چي رغ شوي مدرسو کښې
نه آذر غوندي تراشلي، نه يې ناز کافرانه

يو ګوښه د فراغت هم، نه شته دى ارته فضا کښې
دا جهان عجب جهان دى، نه پنجره نه آشيانه

د انګور رګونه تږي، د کرم باران دي غواړي
د مغان شراب خلاص شوي، د عجم په ميخانه

همنوا چي څوک زما دى، د بهار اثر ګڼي دا
دوى خبر نه دي چي څه وي، لا نوا عاشقانه

تا زما له خاورو وينو، دا جهان دى پيدا کړى
د شهيد انعام څه څيز دى؟ تاؤ ګرمي جاودانه

دا خو ته بنده پرور يې، چي مي شپې ورځې تيرېږي
نه ژړا له زمانې کړم، نه اشنا ځنې مانه

## (۱۲)

د لاله د زړه پیاله چي، د شرابو ډکه شوله
صوفي مات کړلو پرهېز خپل، اشاره یې بس غوښتله

په کوم ځای کښې چي عشق خپله، بچاوڼه وغوړوله
و ګدا ته وارثي يې، د پرویز ور وبخښله

دغه ستوري ټول زاړه دي، دا فلک هم دی مبتلی
غواړم زه د ځان دپاره، يوه ځوانه دنيا بله

خبر څوک دي له دې رازه، په قيامت کښې به څه حال وي
ما دپاره خو قيامت دی، چي نظر دي واوړي کله

د سحر د اسویلي خوند، چي زما ځنې وانه خلې
تغافل سره نظر کښې، التفات ګډوې څله؟

غنجن زړه سره سم نه دی، دا موسم د سرو ګلونو
"د مارغانو د بڼ هر څو، که خوندناکه ده بدله"

دا وينا ده د ناپوهو، چي جوړښت له زمانې کړه
"زمانه که سمون نه کړي، ورسره ورسره نښله"

## (۱۳)

ستا هغه بې پروايي ده، زما هغه نصيب خوار
د شپېلۍ د رېغولو، مي کمال نه شو په کار

زه يم چېرته ته يې چېرته، دا مکان که لامکان دی؟
دا دنيا زما که ستا، د عجائبو دی اظهار؟

په دې کشمکش کښې ټولې، شپې د ژوند مي شولې تيرې
وي مي سوز د رومي کله، د رازي مي اضطرار

هغه باز دهوکه خوړلې، ټپوسانو کښې چي لوی وي
څه خبر هغه چي څرنګ، د بازونو وي روزګار

نه مي ژبه د غزل ده، نه خبر يمه له ژبي
عربي که عجمي وي، خو يو خوږ دي وي ګفتار

فقيري په سلطنت کښې، کوم يو فرق څه داسي نه شته
د سپاهي ګزار دی دغه، د نظر هغه ګزار

څوک شو پاتې قافلې نه، د چا زړه له حرم خړ شه
په ساتنه يې د زړونو، چي خبر نه دی سالار

## (۱۴)

له اسمان لاندي زما، د زغل وؤ خپل میدان ګڼلی
لوبه د خاورو د اوبو مي، خپل جهان ګڼلی

پرده چي پورته کړله، تا جادو د سترګو شو مات
او ما اودي غوندي خادر وؤ بس اسمان ګڼلی

کاروان شو ستړی د فضا په اړو پیچ کښې حصار
ما مشتري، سپوږمۍ او لمر وؤ هم عنان ګڼلی

عشق په یو ټوپ مزل رالنډ کړلو قیصه خلاصه شوه
ما دغه مځکه او اسمان وو بېکران ګڼلی

پرده دار یې د شوق ټول راز د محبت کړو بیان
خپله فغان ؤو ما چي ضبط وؤ د فغان ګڼلی

د یو ناتوانه لاروي دردمند فریاد وؤ هغه
ما چي آواز د لېږدېدو وؤ د کاروان ګڼلی

## (۱۵)

یوه پوهه د دلیل ده، بله نور ځني پیدا
زیاتوي د دلیل پوهه، که یې ګورې حیرانتیا

ددې ختې په کالبوت کښې، دی یو ځیزهغه هم ستا دی
ډېره ګرانه د دې ځیز ده، ما دپاره سنبالتیا

که فریادمي اوس تر ستورو، ورسیږي په دې څه شي
د غزل ویلو چل چي، راښودلی دی هم تا

د باطل نقشونه بیا بیا، جوړولو کښې مطلب څه؟
د آدم دغه سپک والی، وایه ښه لګي په تا؟

خیر ما ته خو ښولې، فیرنګیانو زندیقي ده
خو اسلام شرموي ولې، دا د نن صبا ملا؟

هغه کس چي ناپوهان یې، د تقدیر بندیوان بولي
د تقدیر د ماتولو، قوت شته دی په کښې لا

ته خاوند د بت خانو یې، زما هم بت خانې شته دي
هم خاکي دي هم فاني دي، بتان واړه زما ستا

(۱۶)

دا فاني جهان دي ښه دی، ولې خدایه! هسي وایم
ولې خوار دي بندګان دي، دي سپین سپېځلی هنرمند

که هرڅو دي په خدایي کښې، د بنیا هم څه لاس شته دی
خو دنیا واړه ګڼي، چې فیرنګی دی خداوند

د ګیاه یوه شنه پاڼه، ستا پیرزو په هوشیار نه شي
هغه خرونو ته باغ ورکړې، چې په ګلو وهي شخوند

په ګرجه کښې هرڅه ډېر دي، سره شراب او کبابونه
ستا جمات کښې وایه څه دي؟ فقط وعظ دی یا پند

ستا حکمونه واړه حق دي، ولې دا تفسیر کوونکي
جوړوي په تاویلونو، د قرآن ځنې پاژند

ستا فردوس چې کوم یادیږي، هیڅا هم نه دی لیدلی
د افرنګ دی هر یو کلی، د فردوس هسي د خوند

اسمانونو کښې مي فکر، مودې وشوې سرګردان دی
بویه اوس یې کړی په سمستو، د سپوږمۍ کښې نظر بند

**فطرت ما وته بخښلی، دی جوهر د ملایکو**
**یم خاکي ولې له خاورو، زما نه شي هیڅ پیوند**

**درویش مست د خدای په مینه، نه شرقي وي نه غربي وي**
**ځای ځایګی مي نه ډیلي دی، اصفهان نه سمرقند**

**هم هغه خبره وایم، چي یې زه حقه ګڼمه**
**د جمات ساده هم نه یم، د تهذیب نه یم فرزند**

**خپل هم ما ځني خفه دي، پردي هم له ما ناراضه**
**هلاهل زهرو ته کله، ما ونه وېلای شو قند**

**په حق پوهه حق لیدونکی، بنده کله داسي کړای شي**
**چي ډیري ته د خشاکو، ووایي غر د ماوند**

**د نمرود د اور شغلو کښې، هم خاموشه به اوسیږم**
**زه د خدای مومن بنده یم، دا نه نه یم د اسپند**

**ډک له سوزه نظرباز یمه، نېک دل او کم آزار یم**
**هم آزاد هم ګرفتار یم میانۍ تشه او خورسند**

دا زما زړګی بې قیده، په هر حال کښې دی خوشحاله
د غونچې څنې تروږلی، څوک شي ذوق د شکرخند

په حضور د پاک مولا کښې، هم اقبال چوپ پاتې نه شه
په کار ؤو چې دی کاواک له، چا خو کړې وای خوله بند

**داعلیحضرت شهید امیر المؤمنین نادرشاه رح د مهربانۍ له برکته په نومبر ۱۹۳۳ء کښې مصنف ته د حکیم سنایي غزنوي رح د مزار مقدس زیارت نصیب شو، دا یو څو پریشانه افکار چې په دې کښې هم د دغه نوموړي حکیم د یوې مشهورې قصیدې پیروي کړې شوې ده، د دغه بختور ورځې د یادګیرنې په طور د قلم ژبې ته حواله شوی ؤو.**

"ماز پئې سنائي و عطار آمدیم"
ما د عطار او سنائي پسې ده لار نیولې

د فطرت په ارتـکا کښې، ځای زما نه شوه سودا
لیونتوبه! درسته نه وه، اندازه دي د صحرا

په خودۍ موږ دا جادو، د رنګ اوبوی شو ماتولې
دا توحید ؤو چي پوی نه شو، فکر ستا نه پرې زما

نظر بویه اې غافله! تجلي عین فطرت دی
بېګانه له خپله موجه، کېدای کله شي دریا

تربګني علم و عرفان کښې، د منبر ځان خطایي ده
د منصور دار چي رقیب خپل، ګڼي دغه نا رسا

نېک بندیان چي د پاک رب وي، حکمران وي که مربونه
چي پرې بچ وي هغه زغره، دوی لره ده استغنا

ته د جذب د مستۍ مي، پیروي مه کړه جبریله
تن اسانه فرښتو له، ښه تسبیح ذکر و ثنا

ما لیدلې میخانې دي، په مشرق په مغرب ډېرې
ساقي دلته موندای نه شي، پیکه هلته ده صهبا

پاتې نه شول په ایران کښې، نه شول پاتې په توران کښې
هغه خلق قیصر کسرٰی له، چي یې فقر وه فنا

هم دغه شېخ د حرم دی، چي يې پټ کړی خرڅوي يې
د اويس، بوذر، ګودړي، کند که څادر وي د زهرا

اسرافيل د خدای حضور کښې، شکايت دی په ما کړی
دا بنده د وخت نه وړاندي، قيامت نه کړي په دنيا

آواز راغی دا څه کم دي، د قيامت له هنګامې نه
"دي چينيان احرام تړلي، مکي خوب کړي د بطحا"[1]

د تهذيب نوې ښيښه ده، خولې تر خولې شراب د **لا** نه
مګر لاسو د ساقي کښې، پياله نه شته د **الا**

دا چستي د رباپي ده، چي دا ترنګ يې دی ورکړی
ډېره لاندي نري سُر کښې، د يورپ ده واويلا

هم له دې درياب خوټېږي، هغه موج غولی وهونکی
ټکاؤنړی د نهنګانو، کښته پورته ولي دا

محرومي ذوق د ښکلا نه، غلامي بللی کيږي
چي آزاد يې ښکلی بولي، بس هم هغه دی زيبا

---

[1] دا مصرعه د حکيم سنائي ده: "گرفته چينيان احرام و مکي خفته در بطحا"

څوک په عقل د مریانو، هیڅ باور نه شي کولای
چې دنیا کښې فقط سترګې، د آزادو وي بینا

د نن وخت مالک که ګورې، دی هغه چې په همت خپل
سمندر د زمانې نه، ګوهر بود کړي د صبا

فیرنګیانو ښیښه ګرو، په هنر کانې اوبه کړه
او زما اکسیر ښیښې له، سختي ورکړه د خارا

لا پخوانه څو کښې ناست دي، فرعونیان راته تر اوسه
خو غم څه دی‌چې لستوڼي، کښې لرم یدِ بیضا

آ سپرغۍ به څنګه مړه شي، خس خشاک که پرې انبار شي
چې د ټانګ سېزل د پاره، پاک خاوند یې کړي پیدا

محبت خپل ځان لیدل دي، محبت د ځان ساتل دي
د قیصر کسرٰی له دره، محبت وي بې پروا

څه عجب که مي پېروني، یا سپوږمۍ په ښکار راکښېوزي
"د صاحب دولت په بیاسته، خپل سر وتړلو ما[1]"

(۲) دا مصرعه د صائب ده، په دې کښې اقبال یو لفظي تغیر کړی دی، مصرعه دا ده: "که بر فتراک صاحب دولتی بستم سر خودرا"

خبردار له واړو لارو، پیغمبر مولا یې کل دی
ګرد د لارې له یې ورکړه، د سینا وادي ځلا

د مستیِ او عشق نظر کښې، هم اول، اخیر هغه دی
هم هغه قرآن فرقان دی، هم هغه یٰسین، طهٰ

ؤو ادب د سنائي چې، مرجوڼا نه شوم که نه وای
لا دي پاتې دي دریاب، کښې مرغلرې بېش بها

(۲)

دغه څوک سندره وایي، خوندوره سوځوونکې
اندېښنې د هوشیارانو، لېونتوب ته رسوونکې

که په شان د باچهانو، لارې چارې دي د فقر
پرویزی بې سلطنته، د پروېز ده ړنګېدلې

د صوفي په خلوت ګاه کښې، هغه فقر پاتې نه شو
چې سند یې د زړه وینه، د زمرو ده بهېدونکې

اې جرګې! د فقیرانو آ ځوانمرد د خدای وي څنګه؟
چې ګرېوان کښې هنګامه یې، د قیامت وي لړزوونکې

چې د ذکر په ګرمۍ کښې، د شعلې په شان روښان وي
چې یې یون د فکر تېز وي، لکه تېزه برېښنا تلونکې

له شاهۍ ځنې آثار، د لېونتوب راپېدا کیږي
تېمور خان، چنګېزخان هر یو، دی نشتر خدای رالېږونکی

په دا رنګې مې ستاینه، کړي عراق پارس د شعر
دا کافر هندي په تش لاس، دی د وینو تویونکی

(۳)

د راز ټکی چې کوم ما ته، راښودلی دی جنون
خدای که توان د جبریل راکړي، کړم له خولې به یې بېرون

د تقدیر احوال زما به، ستوري ما ته څه وښایي
فراخۍ د اسمانو کښې، خواران خپله دي زبون

ژوندون څه دی څه ته وايي، مجذوب توب د خيال نظر دی
او خودی لره چي مرګوي، اندېښني دي ګونا ګون

د خودی مزه يې راکړه، څه عجب مزه دار څيز دی
او بيا غواړي چي خبر دي، نه يم زه له خپل ژوندون

پاک زړګی اوچت نظر هم، ورسره مستي د شوق
له فکرت د افلاطون ښه، هم دولت نه د قارون

له معراج د مصطفٰی ﷺ نه، دا سبق ميندلی ما دی
انساني چي کوم عالم دی، دی په زد کښې يې ګردون

معلوميږي کاينات دي، لا تراوسه نا تمام دي
دم په دم چي ترې نه خيژي، ږغ د **کن** او **فيکون**

د رومي د اور په سوي کښې، ستا علاج ميندل کېدای شي
ستا په عقل غالب شوی، د افرنګ چي دی افسون

دغه فيض هم د هغه دی، دي پرې سترګي مي روښانه
هم له فيضه يې په جام کښې، ما ځای کړی دی جيحون

(۴)

د عالم د اوبو خاورو، راز عیان ته یې که زه؟
له نظر چي پټ دی هغه، بل جهان ته یې که زه؟

درد او سوز او غم نه ډکه شپه، چي ژوند ورته وایه شي
زه که ته د دې سحر یو، او اذان ته یې که زه؟

دا د چا څرګندولو ته، ماښام سحر په یون دي
په اوږو د زمانې هم، بار درووند شان ته یې که زه؟

موتی خاوره بې بصر ته، موتی خاوره خودنګر زه
د وجود دې کروندې له، آب روان ته یې که زه؟

(۵)

## ((په لندن کښې ولیکلی شو))

لا د لارې لاروی یې، ته د قید له مقام تېر شه
تېر له مصر له حجاز شه، له پارس او له شام تېر شه

څوک چي کار کړي بې غرضه، د هغوی اجر څه نور دی
باغ او حورو ځنې تېر شه، له شراب او له جام تېر شه

که څو ډېر خوشحالوي زړه، د فرنګ د بهار حسن
مرغوکيه لوی وزريه، له دانې او له دام تېر شه

غر شلونکی ګزار ستا دی، شرق او غرب فتح کوونکې
د هلال د تېغ په شانې، ته له عېش د نيام تېر شه

ستا امام دی بې حضوره، ستا لمانځه کښې سرور نه شته
له دې هسي لمانځه تېر شه، له دې هسي امام تېر شه

(۶)

راز ساتونکې د آزادو، ځوانمردانو درويشي ده
جبرئيل سرې نسبت دی، له هغه سره سې خيښي ده

څوک له دې نه څه خبر دی، کښتۍ څو بې ډوبې کړې
د فقيهه، صوفي، شاعر چي، يو تر بله بدخواهي ده

هغه ګرم نظر غواړم، د زمرو هوش چې پرې تښتي
نه سوړ آه چې دغه چا ده، یا د ګډې د وري ده

د طبیب د عشق بیان ؤو، چې نظر یې پر ما پرېوت
رنځ دي دا دی چې ارزو دي، دنشې ځنې خالي ده

هغه شی ګوره څه نور دی، چې پاک روح ورته وایه شي
وینه، نم او رنګ خو وجه، د خوراک ښباک د زیاتي ده

(۷)

د ریدي مشال روښان کړه، بیا لمنې دي که غرونه
بیا مارغان د چمن ما ته، د نغمو کوي ستونه

دي ګلونه د صحرا که، شاپېرۍ قطار قطار دي
چې اودي او شنه او زیړ یې، دي اغوستې قمیصونه

صبا کښېښوه مرغلره، د شبنم د ګل پر پاڼه
پلوشو نه د لمر دغه، مرغلره خوري پړقونه

بې پروا حسن دپاره، چې خپل ځان پکښې ښکاره کړي
که ځنګل خوږ وي له ښاره، ښه ځنګل شو که ښارونه

خپل زړګي کښې ورغوټه شه، چې د ژوند په درک پوه شې
ځان خو خپل کړه که خپل یې ته، زمانه کړې هوسونه

نوره څه د زړه دنیا ده؟ شوق جذبه سوز او مستې ده
او د تن دنیا ده واړه، سود سودا چل ول مکرونه

د زړګي دنیا چې لاس ته، کله راشي نو بیا نه ځي
او د تن دنیا ده سوری، ځي راځي یې دولتونه

د زړګي دنیا کښې راج مي، د فیرنګ نه دی لیدلی
نه مي دې کښې د بامبړ، د شیخ لیدلي دي مخونه

زه له شرمه کړم خولې، د قلندر دغې خبري
که مو سر کښته کړ وغیر ته، خپل مو زړونه نه تنونه

## (۸)

## (په کابل کښې ولیکلی شول)

سلیقه د زړه لمانځلو، دی فطرت د مومنانو
مروت عالمګیر حسن، بلل کیږي د غازیانو

شکایت مي دی یا ربه! د مکتب له خاوندانو
خاکبازي سبق کښې ښايي، دوی بچو ته د بازانو

له مودو مودو ښکار شوو، د نظر انداز بدل وؤ
چي ښکاره کړه ما په ډاګه، طريقه د باتورانو

بې دوه ټکو **لاالٰه** نه، قلندر سره هيڅ نه شته
جمع کړي لغتونه، حجازي دي عالمانو

خبر نه يمه چي څه دي، د مينا او جام خبري
کار مه غواړه کاڼی ټک نه، د ښيښې د ماهرانو

دروېشي دغه زده کړې، تا له کومه ده اقباله!
چي دي ږغ د بې نيازۍ دی، په دربار کښې د شاهانو

**(۹)**

په نوا د زندګۍ کښې، عشق پيدا کړ زېر و بم
تصويرونو کښې د خاورو، سوز له عشقه دم په دم

د بنده په بېل بېل رنګ کښې، ننوځي عشق دا هسي
شاخ د ګل کښې د سحر باد، لکه نه باسي نم

چي رازق نه پېژني خپل، نو محتاج وي د شاهانو
او که وپېژني ستا دي، ګدايان دارا او جم

آزادي د زړه شاهي ده، او د مرګ‌سامان ده ګېډه
فيصله ده ستا په لاس کښې، خوښوې زړه که شکم

خپل زړه وپوښته مسلمه، له ملا نه تپوس مه کړه
د الله له بندګانو، خالي ولي شه حرم

(۱۰)

دی ستا زړه خالي له سوزه، هم نظر دي نه دی پاک
بيا حيران ولې په دا يې، که ته هم نه يې بېباک

پټ په دې خاوره کښې پروت دی، کوم چي ذوق د تجلٰی دی
مګر اې غافله! تا کښې، هډو هيڅ نه شته ادراک

په رنجو د فيرنګيانو، د چا سترګي چي شي روڼې
وي چالاکي ژبه ورې خو، افسوس نه وي نمناک

که صوفي دی که ملا دی، له جنون مي څه خبر دی
چي يې پيسکې د لمنې، لا تر اوسه نه دی چاک

د دې ستورو په ولقه کښې، به تر څو وي زما خاوره
يا خو زه په دنيا نه يم، يا ګردش بۀ د افلاک

زه به مثل د برېښنا يم، بيابان غر مي نظر کښې
کله ما سره ښاييږي، دغه خس د غه خاشاک

دا عالم فقط ميراث دی، د مومن چي وي جانبازه
مومن هغه خلق نه دی، هرچه نه لري لولاک

(۱۱)

که هزار ځله وي ويره، ژبه مل بويه د زړه
له ازله په دې لاره، قلندر خلګ کړي تله

دا په څه شراب خانه کښې، ګنه ګونه هسي رنګ ده
فقط ده دومره خبره، پير مغان دی په خوی ښه

د يقين د کمزورتيا هيڅ، علاج دغې باندي نه شي
د رازي نکتې باريکې، که عجبې شي ليده

دا ساده مريد خو ګوره، په ژړا ژړا تائب شه
خدای دي کا چي شېخ وومي، توان توفيق د داسي کړه

په هغې زوړ طلسمات کښې، بنديوان لا بنيادم دی
لا تر اوسه يې منډلي، دي په ترخ بتان زاړه

ما لا يو اقرار د ژبې، هم هر ګوره چي ډېر خيز دی
زر شکرونه چي ملا مي، د تصديق خاوند ليده

چي وي عشق نو بيا ته پوهه شه، کفر هم مسلماني ده
که عشق نه وي مسلمان بيا، دی کافر زنديق هر څه

## (۱۲)

و پوښته دې چي مقبوله، فطرت ده ګواهي
آ يا ته د کور خاوند يې، که لا ورکی شان راهي؟

که کافر وي مسلمان نو، بيا شاهي نه فقيري شته
که مومن وي يا شي کړی، په فقيري کښې هم شاهي

چي کافر وي د ده ډاډ بهٔ، وي فقط په خپله توره
چي مومن وي نو بې تېغه، جنګېداى شي سپاهي

چي مسلم کله کافر شي، نو تابع به د تقدير وي
چي مومن وي دى په خپله، وي تقدير د الٰهي

ګوره ما خو د رازونو، پرده کړله درته څيرې
خو ته نه لرې پخوا نه، لا د سترګو رڼايي

## (۱۳)

## (په قرطبه کښې وليکل شو)

دغه حورې دا فرنګ دي، زړه نظر له حجاب
دى جنت د مغربيانو، څو جلوې پښه پر رکاب

ته د زړه سترګو کښتئ دي، مخکښې بوځه ښه سنباله
د وجود درياب کښې ګوره، سپوږمۍ ستورى دي ګرداب

د آواز او ساز جهان کښې، ګوره کله ځائيداى شي
ازلي شان لطيفه ده، دا ژړا د چنګ رباب

د خانقا ټولې ښیوې دي، همه ده ورته ښایلې
دا صوفي دی چي فقیه بې، د ښاربې کړلو خراب

آ سجده چي ترې نه روح به، د دې مځکې په لړزا وؤ
هم هغه روح ته پسخیږي، نن منبر دی که محراب

ما په مصر، فلسطین کښې، اذان وانه وریډ هغه
چي راوستی بې په غرو وؤ یو لړزان لکه سیماب

اې هوا د قرطبې جوړ، دغه ستا ښکلی اثر دی
سوز سرور مي چي پیدا شه، په نوا کښې د شباب

## (۱۴)

خاوند د ویښ زړه لکه فاروق دی، خاوند د ویښ زړه لکه کرار
مس د آدم نه به سره زر جوړ کړي، هغه کیمیا ده زړګی بیدار

زړګی بیدار د ځان پیدا کړه، په خوب ویده چي تر څو زړګی وي
بېکار تر هغې هم ستا ګذار دی، هم دی بېکاره زما ګذار

درک يې هله په دښت ميندای شي، شامه چي تېزه ورسره هم وي
آهو به کله ګير د تاتار کړي، ګمان اټکل نه که اخلې کار

له دغې ورځې ځنې تر څو بهٔ، حصارومه زه خپل آهونه
رانه تر لاس يې مخ بچه نه کړې، چي ستا په برخه دی کوم انکار

لويه خاونده کوم خوا ته لاړ شي، دا ساده زړي ستا بندګان
درويشي ټوله نن عياري ده،، سلطاني هم ده عياره چار

ده نن تهذيب آزادي داسي، راته عطا کړې
چي په ظاهره آزاد ښکاريږو، خو حقيقت کښې يو ګرفتار

اې د يثرب چي مولا ياديږي، کړې ته زما هم څه چاره جوړه
پوهه زما ده د افرنګيانو، ايمان راوړی ما په زنار

## (۱۵)

د خودی، شوخی، تندی کښې، نه شته نه شته کبر ناز
او که ناز په کښې څه هم شته، يې لذت نه دی له نياز

دی د عشق نظر لېواله، په لټون کښې د ژوندي زړه
مړ ښکار هيڅ مناسب نه دی، چي په برخه شي د باز

هیڅ ادا د محبوبۍ مي، په نوا کښې پاتې نه ده
چې آواز د اسرافیل، د شپېلۍ نه دی دلنواز

زه ساقي نه د فیرنګ به، د شرابو سوال ونه کړم
چې دا لاره هغه نه ده، چې پرې درومي رند پاکباز

حکومت د عشق هیڅ کله، په جهان عام شوی نه دی
سبب دا چې نه دی نه دی، محبت زمانه ساز

پرېشاني شامدامي ده، که غیاب دی که حضور دی
که په خپله یې درته وایم، دا داستان نه دی دی د راز

که دي ذوق شته نو خلوت کښې، ته زبور عجم لوله
چې ژړا د نیمې شپې وي، بې نوا نه وي له راز

## (۱۶)

میر د فوځ چې نالایق شي، لښکریان یې وران کړي صف
های په هغو نیمکښ غشو، چې هیڅ نه لري هدف

چېرته هم ستا سمندر کښې، د ژوندون یو ګوهر نه شته
ماهر موج یې لت په لت کړ، ومي کوت هر یو صدف

د بتانو مينه پرېږده، په خودئ خپله کښې ډوب شه
ته د دير نقش ونګار کښې، ځيګرخون نه کړې تلف

درته راز دمرګ اوعشق، دجهان څنګ ښکاره بيان کړم
بې شرفه ژوندون مرګ دی،عشق دی مرګ سره له شرف

د رومي پير له صحبت نه، دغه راز ما ته معلوم شه
حکيمان سر په ګرېوان سل، او کليم يو سر په کف

د کليم هسي که نن څوک، د جنګرېز ميدان ته وزي
کوهِ طور له ونې اوس هم، خيزي ږغ د لاتخف

برېښ يې سترګې زمانه کړې، د فيرنګ شغلو د عقل
زه رانجه لرم د خاورې، مدينې او د نجف

## (۱۷)

### ((په يورپ کښې وليکل شو))

په هوا کښې که د ژمي، وه د تبغ په شان تېزي
ما لندن کښې هم پرې نه ښوو، خپل دستور سحر خيزي

چېرته دومره خبر لوڅ چي، سرمايه به د محفل وم
ګهه باعث د پرېشانئ يې، شوه زما کم اميري

که د کار واګې په لاس کښې، د مزدور شي په دا څه شي
کوهکني کښې هم هغه دي، حيلې ټولې پروېزي

که جلال د باچهي دی، تماشه که جمهوري ده
سياست او دين چي بيل شي، نو شي پاتې چنګيزي

دلته رومة الکبرٰی کښې، دېلی ما ته را په ياد شو
آ عبرت، هغه عظمت، هغه شان د لاويزي

## (۱۸)

دا زوړ دير وايه چي څه دی؟ يو انبار د خس خاشاک
ګران په دې کښې تېرېدل دي، يو آه بويه اتشناک

محبت کښې د ښکار شوي، قيصګۍ څه اوړده نه ده
خوند د غشي څرخېدو دی، او آرام يې د فتراک

چي ورک شوی په مطلب کښې، ته د دوه اويا فرقو يې
پوهېدای نه شې چي نه وي، سپين سپېڅلی ستا ادراک

**یوه شرعه د اسلام ده، او بل جذب د اسلام دی**
**د اسلام جذب ته وايي، راز د فلک الافلاک**

**اې هوښياره لارويه! بې له جذب د اسلام نه**
**نه به تاند د يقين ښاخ کړې، نه به لار د عمل ژواک**

**گستاخي که بېباکي ده، دا د مينې دي رمزونه**
**خو هر شوق هم گستاخ نه وي، نه هر جذب وي بېباک**

**وزگارنه شي کښېنستلای، په محشر کښې لېونتوب مي**
**يا به خپل گرېوان پاره کړي، يا گرېوان د يزدان چاک**

## (۱۹)

**جدايي له اوبو خاورو، هيڅ د ترک نه دی کمال**
**چې خاکي نوري تسخير کړي، داسي ترک وي بې مثال**

**شوم بېزار له داسي فقره، اې د دې ډلې ملگرو!**
**ستاسي فقر رنځوري ده، هم بېخي خلاصی له مال**

**نه موزون دی فقيري له، نه موزون دی سلطنت له**
**هغه قام چې يې ورک کړی، د تيمور جاه وجلال**

که زما ساقي پې مخی، دا وانه وري نو لا هم ښه
د مجلس ګرمي کتله، ما د عذر په دې قال

که حکيم، عارف، صوفي دی، په ظهور باندي ټول مست دي
تجلي ده عن پټوالی، څوک خبر دی له دې حال

که يې بام په ما د ښو وي، نو پنجره هم آزادي وي
ګنې ځای د مجبورۍ وي عن که باغ شي په مثال

ته بد مه ګڼه په دغې، ازمايښت وکړه پرې لږ شاني
فيرنګ زړه ځني خراب دی، او په عقل مالامال

(۲۰)

که هر څو يې له درګاه عقل دور نه دی
خو ليکلی يې تقدير کښې حضور نه دی

زړه بينا هم له خپل خدای ځنې وغواړه
نور د سترګو په معنا د زړه نور نه دی

په ظاهر علم کښې شته سرور خو هم دا
جنت داسي چي د حور و قصور نه دی

څه غضب دی چې په دې نن زمانه کښې
یو بنده هم څوک خاوند د سرور نه دی

یو جنون هغه خاوند چې د شعور دی
بل هغه چې هیڅ خبر د شعور نه دی

بې صبري په حقیقت کښې ژوند د زړه دی
آه- هغه زړګی چې دی ناصبور نه دی

د مرګ راز دی پنهان ستا بې حضورۍ کښې
که ژوندی یې ژوند دي بې له حضور نه دی

ګوره هر ګوهر ته مات یې خپل صدف کړ
خو یو ته یې چې دي نیت د ظهور نه دی

**ارنی** زما پر ژبه هم راځي خو
دا بیان مي د کلیم او د طور نه دی

## (۲۱)

خودي هغه سمندر دی، چې هیڅ نه لري کنار
که واله ده تا ګڼلې، نو زه څه وکړمه چار

د اسمان د ګنبد خدایګو، پرې جادو شي ماتېدلی
عمارت دا د ښیښې دی، نه چې دی له سنګ خار

د خودۍ سیند کښې غوټه شي، بیا هم بېرته را وخیزي
ولې دا حوصله غواړي، د ځوانمرد نه د بېکار

نجومیان پېژني کله، ستا مقام چې کوم اوچت دی
ته ژوندۍ خاوره یې، نه یې ته، د ستورو تابعدار

شته جنت په دې دنیا هم، حورې شته دي جبرئیل هم
مګر ستا سترګو کښې نه شته، لا شوخي یې د دیدار

لېونتوب مې پېژندلی، په ښه رنګ دا زمانه ده
آ قمیص بې رابخښلی، چې لا نه دی تار په تار

غضب دا دی چې په حال کښې، د کرم فطرت بخیل دی
په سوچه لعل کښې اور شته، ولې نه لري شرار

## (۲۲)

دا پیغام دی رالیږلی، ما ته باد د صبایي
عارفان چې د خودۍ دي، دی مقام یې باچاهي

ستا ژوندون دی هم له دې نه، ستا عزت دی هم له دې
که خودي لرې شاهي کړه، او که نه بیا مختوري

اې حکیمه! تا را نه کړه، ما ته نخښه د منزل خپل
څه ګیله به کړم له تا نه، ره نشین یې نه راهي

تربیت اخلي لا اوس دوی، په مکتب زما د شعر
ګدایان هغه چي پوهه، په دستور دي د شاهي

معاملې دي دا نازکې، چي رضا دي وي هغه کړه
خوښي نه دي طریقې مي، په خلوت کښې د ناستي

د هما ښکاري هم ته یې، ولې ستا لا ابتدا ده
دا جهان د زنده سرو، له څه راز نه دی خالي

ته عرب یې که عجم یې، ستا د لااله الا
نااشنا ټکي دي څو چي، زړه دي نه کړي ګواهي

(۲۳)

ستا کمکی غوندي نظر دی، هم لاسونه لنډ دي تا
ګناه ستا شوه که د دې شوه، چي کجوره د بالا

خاوندانو د مکتب خو، مری تا لره خفه کړه
ږغ د لااله به راشي، راته وایه له کوم خوا

خدایي ورکه ده خودۍ کښې ، شه مومه یې غافله!
په دې جوړ به دي کار سم شي، لاره تا لره هم دا

کوم درویش چې کندی نه وي، ترې د زړه په حقله واوره
خبردار له خپل مقامه، پاک الله دي کاندي تا

اوچت عزم راپیدا کړه، که پر باندي سر تور یې
فقط سر له د شاهین دی، دلته تاج چې وي زیبا

نه ګردش دی دا دستورو، نه دا لوبه د افلاکو
د نامې جامې زوال دي، د خودۍ ګنه فنا

د مکتب او د خانقا نه، ډېر غمګین شومه را پورته
دلته ژوند معرفت مینه، او نظر دی ټول عنقا

## (۲۴)

عقل تش خبر دی نور څه نه دی
خو علاج دي بس نظر دی نور څه نه دی

له هر یو مقام نه وړاندي ستا مقام دی
دا ژوندون ذوق د سفر دی نور څه نه دی

قېمتي يې که خودي ساتې که نه وي
د ګوهر خو بس جوهر دی نور څه نه دی

ګرځي وينه که رګونو کښې ترې سود څه؟
څه دی ژوندی؟ خو ځيګرخون دی نور څه نه دی

د رېدي ناوې! پرده ما نه نه ښايي
تن نسيم مي د سحر دی نور څه نه دی

تاجران چي دا فيرنګ يې کوټه بولي
هغه څيز مال د هنر دی نور څه نه دی

بې نوا اقبال سخي دی خو څه وکړي
د شغلې بخښښ شرر دی نور څه نه دی

# (۲۵)

شان شوکت د سکندر نه، بالا تر ده فقيري
چي په خواست غواړي باجونه، نو بيا څه شوه قيصري

له بتانو امیدوار یې، له خپل خدای نه نااميده
لرِ خو وښايه ته ما ته، نوره څه ده کافري؟

هغو خلګو ته بخښلې، باداري دغه اسمان ده
د مريانو د پالنې، چې هيڅ پوهه نه لري

بس په يکې يو نظر هم، فيصله د زړه کېدای شي
د نظر شوخي چې نه وي، نو بيا دا څه دلبري

ځکه زه يمه ګير شوی، په عتاب د ملوکانو
چې خبر يې په انجام يم، دا چې ده سکندري

هسې څوک دی چې يې زړه کښې، مينه نه وي سروري ته
خو خودي چې پرې مړه کيږي، څه ده هغه سروري

دنيا ټولې خوښه کړې، دا زما قلندري ده
ګني شعر زما څه دی، او لا څه ده شاعري

# (۲۶)

نه ته مځکې ته پيدا يې، نه دپاره د سما
تا د پاره دا جهان دی، ورله ته نه يې پيدا

عقل زړه دواړه بخري، د شغلې د محبت دي
په يو خاروخس سوځيږي، بل اور بل کا په دنيا

دا چمن ځای د پالنې، د فرياد او اسويلو دی
نه دی سيل له د ګلونو، او نه ځالو لره دا

په راوي، نيل او فرات کښې، به ايساره وي تر کومه
دا کښتۍ ويړ سمندر له، جوړه شوې چې ده ستا

چې نوښان به چا د لارې، مدام ستورو ته ښودلو
اوس په خپله دی لېواله، د رهبر د رهنما

لوړ نظر، روح ډک له سوزه، او خبره زړه راښکونکې
تل امير د قافلې له، د سفر سامان وي دا

وه پوتۍ غوندي خبره، اندېښنو د عجم دغه
کړه اوږده د دې دپاره، چې داستان شي پرې زيبا

جبریل را لړزونکې، نغمه زه لرم مرۍ کښې
چې سمباله ایښودلې، لامکان لره ده ما

## (۲۷)

لېري ته نه يې له لامکانه، اې په مکان کښې ګيره دلې
د خاورين کور نه دي ليري نه دی، ځای چې يادېږي کوم د جلوې

آمرغزار چې په کښې هيڅ نه شته، د خزانونو نه ويره ترهه
ګذار غمونه واړه کړه شاته، ليري دي نه دي له اشيانې

دفقيرانوعلم دی داسي، په يو څو ټکو کښې بيان شوی
ژونددی په شانې د اړتاؤ غشی، خو ليري نه دی لا له ليندې

سپوږمۍپېرونوځنې چيتېرشي شروع له دېنه به ستافضا شي
اسمان نه ليري دا مقام نه دی، قدم را واخله که ورله ځې

رهبرته هسي نه چي ووايې چيمايواځې پرېږده ته لاړشه
آ لاروی چې وي پوهېدوکی، طمع کېدای شي ترې نه د دې

# (۲۸)

## په یورپ کښې ولیکلې شو

عقل ما ته رابخښلی کړ یو نظر حکیمانه
هم را وښودلی ما ته عشق خبرې رندانه

نه شراب نه صراحي ده، نه ګردش د پیمانې دی
بس رنګین په یو نظر دی، دغه بزم جانانه

دا زما نوا پرېشانه، شاعري ونه ګڼې ته
د پردې رازدار یې زه یم، چې څه دي په میخانه

د سحر نسیم ته ترې، منجری دی ورته ګوره
هم په دې کښې مې پرته ده، د زړه ټوله افسانه

څوک دي وښيي و ما ته، دا غیاب دی که حضور دی
واړه دلته اشنایان دي، په کښې یو زه بېګانه

په فیرنګ کښې لاڅو ورځې، زه ایسار به شمه نور هم
که توانیږي چې جنون مې، کړي سنبال دا ویرانه

له مقام ځنې د عقل، په اسانه اقبال تېر شه
و لیکن مقام د شوق کښې، ورک شه دغه فرزانه

## (۲۹)

د فریاد یو ځلي راشي، له اسمان څخه ځواب
اخر سر شي په خطاب، اخر پورته شي حجاب

تفاوت څه داسي نه شته، په احوال د محبت کښې
سر له سوز او تب وتابه، بس په سوز او تب وتاب

زه در ښایمه و تاته، تقدير څه دی د قومونو؟
توره غشی ابتدا کښې، ورپسې طاؤس رباب

دي عجب شان دستورونه، د یورپ په میکدو کښې
سرور مخکښې را پیدا کا، وروستو ورکړي بیا شراب

دبدبه که د نادر ده، یا شوکت که د تیمور دی
اخیر هم دغه دفتر یې، شي غوپه په می ناب

د خلوت وختونه تېر شو، د جلوت زمانه راغله
د برېښنا نه خلاصېدو کښې، اخیر غېږ ده د سحاب

ؤ سیلاب د معانیو، ډېر مشکل چي لا حصار شي
قلندر اخیر بیان کړه، ټول رازونه د کتاب

## (۳۰)

هر څیز مسافر هر شي دی راهي
څه سپوږمۍ ستوري څه مرغ و ماهي

ته مردِ میدان یې سر د لښکر
نوري حضوري ټول ستا سپاهي

هیڅ پوی څه نه شوې په ځان قدرولو
بې ملکه والې وکړه نګاهي

تر څو به یې دنیا ته ته دا رنګ لاندي
خو یا راهبي کړه ځه یا باچاهي

سترګو لیدلی پیر د حرم دی
بې سوزه کردار پوچ ګویه واهي

## (۳۱)

هر څیز لګیا دی ځان څرګندوي
ښایي هره یو ذره کبریایي

بې له ذوقه د نموده ژوندون مرګ دی
د خودۍ تعمیر کښې پټه ده خدایي

د خودۍ په زور دا نه د اوري غر شي
غر او ری شي چې کمزوري شي خودي

ستوري خوشي یو تر بله کم ګډېږونه
د وجود تقدیر کښې لیک ده جدایي

دا سپوږمۍ زېږه ګونه په روستي پار کښې
راز او نیاز د اشنایي ځنې خالي

دغه ستا سترګي هم تا لره مشال دی
ته په خپله د خپل ځان یې رڼایي

هغه ته یې چې یې حق په دې دنیا کښې
باقي هر څه یو ځلا ده سېمیایي

دي اغزي د صحرا غوټي پرانستونکي
ګیله کمه کړه پښې ابله که دي بیایي

# (۳۲)

دا ګردش د زمانې دی، که اعجاز دی دا د چا
لاړ جادو د فیرنګیانو، ایشیا کښې شو عنقا

جوړولو نه د ځالي، دغه راز مي ومیندلئ
اشیانه شي ور له تندر، چي خاوند وي د نوا

بندګي یوه ګدا ده، بندګي بله خدایي ده
یا بنده دزمانې شه، یا بنده شه د مولا

غافل مه شه د خودۍ نه، د خپل ځان کوه څارنه
استانه بهٔ د حرم وي، دا وجود په خپله ستا

اې د لاالٰه وارثه! باقي پاته تا کښې نه شو
نه کردار د قاهري هیڅ، نه خوندناکه شان وینا

ستا نظر نه په سینو، کښې همه زړونه لړزېدل به
خو جذبه قلندري ده، ورکه شوې اوس له تا

دا کېداى شي چي د راز نه، د حرم اقبال خبر وي
د حرم په شانې دول، چي لري دی د وینا

## (۳۳)

هوښیاران به تپوسم څه، چې زما ابتدا څه ده
زه تل وړی یم دې فکر، چې زما انتها څه ده؟

خودي دومره کړه اوچته، چې تر هر تقدیر له مخه
خدای په خپله و پوښتې چې، اې بنده ستا رضا ده؟

ته په دې ولې حیران یې، فرض کړه زه که کېمیاګر یم
هم دا سوز مې د نفس دی، زما نوره کېمیا څه ده؟

په نظر راغلې و ما ته، د تقدیر ژورې دې کښې
تپوس مه کړه ستر ګه توره، د رنجو هسې دا څه ده؟

که ژوندی په نن زمان کښې، وې "مجذوب فرونګی" [1] هغه
نو اقبال به ؤو پوه کړی، مرتبه د مولا څه ده؟

دا نوا د صبحدم ده، چې یې وینې کړ ځیګر مې
دا سزا که د قصور ده، خدایه هغه خطا څه ده؟

---

[1] د جرمني مشهور مجذوب فلسفي نطشې چې هغه د خپلو قلمي وارداتو صحیح اندازه ونه کړه، نتیجه دا چې هغه د خپلو فلسفینانه افکارو د لاسه پر غلطه لاره باندې سم شو.

## (۳۴)

چي له ځانه خبرېدلو، چا ته عشق وښايي لار
غلامانو ته ښکاره شي، د شاهين واړه اسرار

که عطار وي که رومي وي، که رازي که غزالي وي
بې اهونو د سحر نه، نوره هيڅ نه لري چار

اې هوشياره لار ښودونکيه! چي له ده نااميد نه شې
بې ذوق نه دی لاروی، خو کړاؤ نه کوي بسيار

هغه رزق نه مرګښه دی، اې مارغه! د لاهوت تا له
کوم يو رزق کموي چي، د الوت درله رفتار

آ فقير د سکندر او، د دارا ځنې هم ښه دی
چي د چا په فقيرۍ کښې، خوی او بوی وي د کرارؓ

بيباکي که حق ګويي ده، دا آئين دی د ځوانمړدو
د الله د زمري نه زده، د ګيدړ زيست و روزګار

## (۳۵)

آه- فغان د نيمي شپې نه، ما ته بيا دا پيام راغی
لارويه! لږ ايسار شه، شايد بيا سخت مقام راغی

ژورتیاوو د تقدیر کښې، ورشه ته هم لږ غوپه شه
دی جنګرېز ځنې وجود مي، لکه تېغ بې نیام راغی

په محراب د جماعت دا، مصرعه کوم شوخ ولیکله؟
"ناپوهان سر په سجده شو، عن چې وخت د قیام راغی

څه زما د غریبۍ کړې، تماشه ودرېږه مه ځه
آ محفل خو لاړو خور شو، تر ما وار چې د جام راغی

دې اقبال هندي مسلم ته، ګوره سوز وؤ خپل بخښلی
تن اسانه غوندي دی وؤ، د تن اسانو په کام راغی

هم د دې اقبال لټون کښې، ومه سر زه له کلونو
اخر پس له زمانو نه، هغه باز مي په دام راغی

(۳۶)

که غورځنګ نه وي د شوق، نو ناممکن مي ده بقا
چې هم دا غورځنګ د شوق دی، حقیقت کښې ژوند زما

فطرت ما ځنې په بیا بیا، د نوا کوي غوښتنه
شاید اوس هم وي لا پاتې، په محفل کښې درد اشنا

هغه اور ایرې کواې شي، دغه ستا ټکاؤنه هم نن
ګیله مه کړه له ساقي ته، طالب نه یې په رښتیا

د فیرنګ اندازه مه کړه، د هغه له پړقه پړوقه
د بجلۍ په قمقمو کښې، دا جوهر کوي ځلا

څنګه زړونو کښې پیدا شي، ولولې جهان نیوونکې
څو په سترګو کښې انداز چې، افاقي نه شي پیدا

په خزان کښې هم په ګیر کښې دښکاري راتللی نه شوم
کومې پاڼې ښاخ د ځاله، کښې شوې ما لره بلا

تدبیرونه به نسکور شي، تقدیرونه به بدل شي
دا تخلیق مې د خیال نه دی، حقیقت وګڼه دا

# (۳۷)

څه فطرت له خپله عقله روبرو کړه
بیا ورځه تسخیر مقام د رنګ اوبو کړه

دا چې تا خپله خودي ده ورکه کړې
د ورک شوي څیز د پاسه جستجو کړه

د دې ستورو دا فضا چي حد يې نه شته
ته هم دې نه جوړ مقام د آرزو کړه

د چمن حورې دي واړه دي بربندې
چاک د ګل او د لاله ورشه رفو کړه

که هر څو فطرت خالي له ذوقه نه دی
چي ترې ونه شول هغه ته په هاهو کړه

## (۳۸)

پیران دکلیسااوحرم،ګوره په څرنګ شول،های بدی مجبوری
انعام کښې دکوشش اودکاوش يې ومیندلې سینوکښې بېنوری

یقین دي کړه پیدانادانه! تا ته په یقین په لاس باندي درتلای شي
هم هغه دروېشي چي،دهغې په مخکښې تېتې همېش دي فغفوری

حیرت وي کله کله وي مستي کله وي آه،په وخت سحرګاه
ته ګوره بدلوي مي په هزارقسم رنګونه دا دړد د مهجوری

له حده د ادراک ځنې بهر دي، دا خبرې د عشق او د مستی
په فکرکښې مي داقدرته راغله،دزړه مرګسبب دېدوری

هغه هم دحپل حسن، دمستۍ ځنې مجبور دی، چې ځان کاندي ښکاره
بل خوازمادسترګو،بینایي کښې وي،راجمع اسباب دمستورۍ

پوهېدای نه شي هیڅوک، بې دتقدیرپه منطقونوکه نه وي چیري دا
په څه څیزکښې وي کمۍ عثماني ترکونه ګوره ترکانې تیمورۍ

په لاس چې د حرم، د فقیرانواقبال کښېووت، دا وایه څه سبب ووٌ؟
په لاس خونه کښېوزي،سپین بازونه دشاهانو،داڅه وي مجبورۍ

## (۳۹)

بیا د نوي دوران عقل، کړ تازه جادو قدیم
دې دوران کښې ګزران سخت دی، بې همسا نه د کلیم

دی چالاکه ډېر زیات عقل، ځان بدل کړه په سل رنګه
غریب عشق نه ملا دی، نه زاهد دی نه حکیم

د منزل عشرت حرام دی، د الفت په مسافرو
مسافر دي هم واړه، په ظاهر ښکاري مقیم

ته مته درومې په لاره، د سورلۍ توښې له غمه
له دریاب غره تېرېدای شي، سپک په شاني د نسیم

د ځوانمرد فقیر دوه پنګې، آزادي او دویم مرګدی
نور دي آ خلګ ساتي چي، څوک نصاب د زر او سیم

(۴۰)

د دې ستورو نه لا مخکښې، جهانونه شته دي نور
د دې عشق په سر لا پاتې، ازمېښتونه شته دي نور

ګوره دغه فضاګانې، له ژوندو نه خالي نه دي
په سوونو باندې دلته، کاروانونه شته دي نور

قناعت ګوره ونه کړې، په عالم د رنګ او بوی ته
ځالې شته دي ډېرې نورې، چمنونه شته دي نور

که مې یوه جونګړه ورانه، شوه د دغې به څه غم کړم
فریادونو اسویلو له، مقامونه شته دي نور

ته شاهین یې په معناکښې، کړه پرواز دغه دي کار دی
ستا په وړاندې ورته ګوره، اسمانونه شته دي نور

ددې شپوورځولانجه کښې، چرته ښکېل ته پاتې نه شې
ستا دپاره مکانونه، زمانونه شته دي نور

هغه ورځې شولې تېرې، چي وم ګوښی انجمن کښې
اوس خبر مي په رازونو، عالمونه شته دي نور

(۴۱)

## په فرانس کښې ولیکل شو

لټوي فيرنګ عيشونو، د جهان لره دوام
آه په دا کچه آرزو يې، آه په دغه اميد خام

چي يې واورېدو روداد مي، راته پير د حرم ووېل
ستا فرياد دی اوس پوخ شوی، په زړه ور نه کړې آرام

"**ارنی**" کليم ويلو، "**ارنی**" زه ويلی نه شم
تقاضا روا هغه ته، تقاضا په ما حرام

د نظر د خاوند هرځو، که فرياد افشا د راز وي
خو کېدلای نه شي دا چي، د رندۍ قاعده شي عام

د صوفي حلقه کښې ذکر، دی بې نم بې سوز او سازه
زه هم پاتې تشنه کام شوم، ته هم پاتې تشنه کام

عشق دي تا هم انتها ده، عشق زما هم انتها ده
خو لا ته هم کامل نه يې، لا زه هم يم ناتمام

آه چې ورک شولو له تانه، چې کوم راز د فقيرۍ وؤ
او که نه مال د فقيرۍ دی، سلطنت د روم و شام

## (۴۲)

علم باندې خودۍ کلکې، ته پسخيږې جبرئيل
چې په عشق شي محکمه، شي شپېلۍ د اسرافيل

يم خبر زه د عذاب نه، د دې نن صبا د عقل
اړتاؤ شوی يم دې اور ته، زه په مثل د خليل

کاروان پرېووت په فريب کښې، دمنزل که هسي نه وي
د منزل له راحت زياتي، خوشحالۍ دي د رحېل

که نظر نه لرې درومه، له حلقې مي د خبرو
د خودۍ نکتې دي داسي، لکه تېغ چي وي اصیل

رایادیږي نن و ما ته، د فرنګ هغه درسونه
د حضور خوندونه چېرته، چېرته ستر د دلیل

شپه تیاره ده او جدا یي، ته د خپلې قافلې نه
ستا دپاره ده شغله مي، ده نوا لکه قندیل

د حرم داستان عجب دی، هم ساده دی هم رنګین دی
انتها د دې حسین τ ده، ابتدا یې اسماعیل‌ع

(۴۳)

چېرته ښکلي او سپېڅلي، مدرسو کښې افکار هم شته؟
یا په دې خلوت کدو کښې، وایه خوند د اسرار هم شته؟

د منزل په لوري لاره، هم اوږده هم کنډکپر ده
څوک په دغه قافله کښې، راته وایه سالار هم شته؟

د خیبر نه هم لا زیاته، معرکه د دین وطن ده
دې دپاره څوک په دغه، زمانه کښې کرارۤ هم شته؟

چي د علم نه په آ خوا، د مومن بنده دپاره
خوند د شوق خو يې لا پرېږده، چي نعمت د دیدار هم شته

وايي پير د میخانې چي، دا ماڼۍ د فیرنګیانو
بنیادونه يې کچه دي، د دېوال يې ړقار هم شته

## (۴۴)

چي لا پټه په پرده کښې، د افلاک وي حادثه
آئینه کښې د ادراک ده، هغه ما وته ښکاره

نه په ستوري پوري غوټه، نه ګردش کښې د اسمان دی
ستا تقدیر زما د خولې نه، ناڅاپي وتې ناله

یا په آه کښې زما نه شته، یو بڅری چي ژوندی وي
یا نوجن دي کامبوری دی، چي په دې نه شوه لمبه

عجب نه ده که زما، د صبحدم له فریادونو
ستا په خاوره کښې چې اور دی، هغه بیا شي را تازه

دا د شپو ورځو جادو به، دغه خاوره اخیر مات کړي
پېچ و خم کښې د تقدیر که، اړو پړ ده څو پرته

## (۴۵)

د صوفي حلقه کښې پاتې، هیڅ د شوق نه دي سوزونه
ورسره د کراماتو، څو دي پاتې داستانونه

د سلطان ماڼۍ ده ورانه، د فقیر دېره هم ورانه
افسوس تخت که مصلٰی ده، کار د هر یوه فریبونه

د قیامت مالک به ګورې، چې یو ورځ دوی شرمنده کړي
د صوفي، ملا کتاب نن، بې معنا دي دفترونه

نه د چین نه د عرب دی، نه هغه رومي شامي دی
ځای به ځوان آفاقي نه کړي، دغه دواړه جهانونه

د بېګا شرابو لاړه، مستي ختمه شوه خو بیا هم
لا ګرځېږي مي په زړه کښې، د ساقي هغه نازونه

د نارو زما تریخوالی، په چمن کښې وزغمه ته
کله زهر هغه کار کړي ،چي کوم کار کړي تریاقونه

د امیر سلطان له پنګې، قیمتي وي په څو چنده
د برېښنا په څېر چي شعر کښې، هم سوز وي هم برقونه

# (۴۶)

هیڅ په زور باندي یې خیري، ګرېوان نه شو د هیچا
که چالاک د مغربیانو، وؤ جنون بې انتها

د ژوندون ضمیر په میو، د یقین دی ډک له سوزه
دغه آب اتشناک ربه! مدرسو ته کړې عطا

د خاکي آدم عروج ته، دغه واړه منتظر دي
کهکشان دی او که ستوري، دغه شین اسمان هم لا

بس هم دغه د دې نوې، زمانې ټول کائینات دی
روڼ دماغ نظر بې باکه، تک تور زړه بې انتها

که دي نه وي بصیرت نو، ستا نظر ته اړ کېدای شي
او که نه نو مومن اور دی، خس خاشاک دی دا دنیا

**زمانې عقل ګډلی، دی مشال د خپلې لارې**
**خو ادراک لري جنون هم، ده معلومه چا ته دا؟**

**دا جهان واړه میراث دی، د ځوانمردو مومنانو**
**د لولاک نکته واضحه ده، دلیل په دې وینا**

## (۴۷)

**آ مرغلره چې یکې یو ده، داسې راځي نه ستا په ولقه**
**چې آزادي او یکرنګي نه وي، ستا په همت کښې تر خو پرته**

**یا د سنجر او طغرل آئین دی، د ټول جهان د تسخیر کولو**
**یا د شاهانو غوندې د، مردِقلندر بویه طور طریقه**

**د فارابي د فکر حیرت دی، یا د رومي د مینې ګرمي ده**
**یا خو دی فکر د حکیمانو، یا د حکیم په دود یې جذبه**

**یا ده دعقل ویره او ترهه، او یا د عشق زړورتوب دی**
**یا چالاکي ده د فیرنګیانو، یا د ترکانو په شان حمله**

**یا خو د شرع مسلماني ده، یا بیا د دیر ځوکیداري ده**
**یا د مستانو غوندې نعره ده، وي بتخانه کښې که په کعبه**

په امیری کښې په فقیری کښې، په باچهی یا په غلامی کښې
هیڅ کار هم دې کښې کېدلای نه شي، چې جرات نه وي څو رندانه

## (۴۸)

تاج وتخت نه مي فوځونو، په لښکرو کښې کتلې
آ خبره چې دربار، د قلندر کښې ما لیدلې

دا جهان صنم کده دی، او ربتونی مرد خلیل دی
دا نکته ده چې ده پټه، **لااِلٰهَ** کښې انغښتلې

ستا دنیا هغه دنیا ده، چې په خپله یې پیدا کړې
ستا دنیا له خټو ګټو، هرګز نه ده رغېدلې

د دې ستورو او سپوږمۍ نه، چې په وړاندې یې مقام دی
هغه موتی خاوره اوس هم، ده په لاره سر وهلې

چې واکدار د بحر وبر دی، ما ته داسي یې ویلي
د فیرنګ کوډله لار کښې، د سیلاب ده دربېدلې

راشه! ته یې خپل نصیب، په فضاګانو کښې تلاش کړه
یو جهان تازه په آه کښې، د سحر دی ما ساتلی

غنيمت شمېره کدو مي، چي په دغه زمانه کښې
مى ناب نه مدرسه کښې، نه خانقا کښې شي ميندلې

## (۴۹)

اندېښنه چالاکه ما ته، فطرت نه کړي را عطا
ولې خاوره توان لري، د الوتو مي په هوا

هغه خاوره چي جنون يې، د ادراک دى پاکوونکى
هغه خاوره چي شلېدلې، د جبريل ده تر قبا

هغه خاوره چي د ځالې، جوړولو پروا نه کړي
د چمن ويره لمن کښې، ډکي نه ټولوي دا

دغې خاورې ته بخښلې، هغه اوښکې الله پاک دي
چي خوله د شرمه ستوري، کړي د دې اوښکو ځلا

## (۵۰)

صاحبان به د نظر کړي، نوى کلى نور آباد
زما ستر ګې دي په لوري، د کوفي نه د بغداد

دا ځوانان، دا مکتبونه، رعنايي او دا سرور
هم په دې د فيرنګيانو، ميخانه لري بنياد

کار غرض مي پرې نه شته، فلسفي دی که ملا دی
يو د زړه مرګ او آ بل، د انديښنې نظر فساد

کله دا زما مجال شي، چې دي وکړم فقيهه زه
تشه دا قدرې وينا چې، لټوم د زړه کشاد

د پروېز عشرت په بيعه، په دنيا کښې اخيستی شي
د خدای پاک ورکړه يې بوله، د غم پنګه د فرهاد

چې رموز د قلندر ؤو، ګوره ما واړه څرګند کړل
د خانقا د مدرسې چې، واړه فکر شي آزاد

د بامبړ چې طلسمات وو، رشي ماته نه کړل په لړو
چې همسا يې په لاس نه وي، د کليم کار بې بنياد

(۵۱)

د اقبال په سر پاک رب ته، فرشتو وکړه چوغلي
بې ادبه په ښکلا کښې، د فطرت ګوتې وهي

که خاکي دی خو کارونه، د ده واړه اسماني دي
نه رومي دی، نه شامي دی، نه کاشي، سمرقندي

فرشتو ته وښووله، د آدم ناقراري ده
او آدم ته ګوره ښايي، خوی خصلت خداوندي

(۵۲)

نه خو پاتې شو له ګونټه، نه يې پاتې شوه بازي
رومي وکړه دې کښې ګټه، او بيلات وکړه زاري

د جمشېد جام لا تراوسه، که يې ګورې دی روښان
بې دوکې او بې فرېبه، نا ممکنه ده شاهي

نه زما زړه مسلمان دی، نه خو ستا زړ مسلمان دی
ستا هم لمونځ کول عادت دی، زه بې هم يمه عادي

په انجام باندي يم پوهه، زه د هغې معرکې
چي په کومه معرکه کښې، وي ملا صاحب غازي

هم ترکي ژبه خوږه ده، هم خوږه ده عربي
حرف د مينې که بې ګورې، نه ترکي نه عربي

د آذر پېشه د کاڼي، نه بتان دي تراشول
دی دا کار د خليلانو، چي دا کاڼي پستوي

ته هم ژوندون ژوندون يې، ته هم پائندګي يې
او د دې نه علاوه، هر څه هر څه خاکبازي

## (۵۳)

سر دی په نعرو جرس، پاسه د رومي قافله
طمع د سورلو چي کړي، پاتې په ميرو هغه

بيل دي طبعيت لرې، ستا زمانه بيله ده
دا د خانقا تړون، نه خوري سمون تا سره

عقل که مريی کړې زړه، يا زړه يي شي امام د ده
سخته ده دا مرحله، اې په دې لار تلونکيه!

بنده لا خودي يې ده، قيد کښې د شام و سحر
شا مدام ګيله د ده، څرخ د زمانې نه ده

ګل کښې ده شوخي د اور، دی برکت ستا د ساه
واوره د چمن مارغه، دا دي د نعرو صله

## (۵۴)

په نوا زما ژوندي شول، عارفان دي که عامي
خوند مي دوی ته دی ښودلی، څرنګ خلک اور شومي

د حرم په خوا کښې دی څوک، عجمي سر په سندرو
چي ريشې ريشې په دغه، شوې جامې د احرامي

حقيقت دی لا زواله، لوړ مقام چي د حسین‌ؓ دی
لارې چارې تل بدلېږي، د کوفې او د شامي

زه په دې باندي وېرېږم، جوارګر پوره پاخه دي
په بايللو دي سر نه کړي، دغه ستا خپله خامي

عجب نه ده مسلمان ته، که ور وبخښي يو ځل بيا
د سنجر شوکت او فقر، د جنیدؒ او بسطاميؒ

د هنر علم بقا ده، يو خاص فضل که دا نه وي
ستا نظر کښې غړېدله، مي د تن هره خامي

## (۵۵)

له هر يو مقام نه مخکښې، شوله تېره مياشته نوې
د کمال مرتبه چېرته، بې کوششه چا ميندلې

د پوکي په زور خوره که، شوه غونچه نو په دا څه شي
چي د لمر شغله روښانه، یې څو نه وي نصیب شوې

که نظر دي چیري پاک وي، نو زړګی به دي هم پاک وي
د نظر په پیروي کښې، خدای دی زړه همېش بوتلې

په زړه سوی لاله ګوره، په چمن شیرازه نه شو
د غنم اوربشو نه ده، ښه په ده دنیا راغلې

نه دي پاتې د ایبک او، د غوري آ معرکې اوس
وي تازه به تل ترتله، د خسرو خوږې بدلې

## (۵۶)

په دې سحر ماښام کښې، نه شې ورک اې عقلمنده!
یو بل جهان هم شته چي، نه فردا لري نه دوش

د فردا د هنګامې، مقام وؤ چا وته معلوم دی
دې جمات او میخانه، او مکتب کله نه خاموش

د سحر صبا په ستړګو کښې، مي موندی غه جوهر دی
د کومي نه خالي چي، د سپي هم دی آغوش

تهذيب نوى هيڅ هم نه دى، بې قيد او تکلف نه
چي مخ د چا صفا وي، څه په کار غازه فروش

د ساز صاحب په کار ده، چي غافل او نه کاهل وي
غلط چيري آهنګ هم، کله کله شي سروش

## (۵۷)

چي وه چېرته مدرسه، د زمريتوب او بادشاهي
په هغه خانقا خونو، کښې ده پاتې روباهي

سالاران چي د کاروان دي، ومي نه ليده يو تن کښې
د موسٰی کليم الله چي، وه شروع اشباني

خوش الحان مارغه نه ويني، څه لذت خپله نغمه کښې
هاى افسوس! دې باغ کښې راغله، يې په ساه يې کوتاهي

يو حيرت سر مستي هغه، سراسر چي تاريکي ده
يو حيرت سرمستي هغه، چي ده ټوله آګاهي

لکه برق هسي ځلا کړي، لوړ فکرونه زما ځکه
چي د شپې توره تیاره کښې، چېرته ورک نه شي راهي

## (۵۸)

یو نکته مي ده په یاد کښې، له سلمانه[1] خوش آهنګه
په ځوانمردو خواري کښو هرګز نه ده دنیا تنګه

ځیګر بویه د پړانګانو تجسس د باتورانو
ښه ژوندی پرې اوسېدای شي، بې له علمه له فرهنګه

د تقلید نه توبه ګار شه، د طاؤس د بلبلانو
بلبل تشې سندرې، څه طاؤس کښې بې له رنګه

## (۵۹)

دا د فقر معجزې دي، تاج او تخت دی که سپاه
فقر میر دی د میرانو، فقر شاه دی د هر شاه

---

(۱) سلمان ـ مسعود سعد سلمان د غزنوي دور نامور ایرانی شاعر چي غالبا په لاهور مي پیدا شوی وو

دی د علم مرام دغه، چي پاکي اوکړي د عقل
مقصود فقر نه پاکوالی، دی د زړه هم د نګاه

دی فقیهه او حکیم علم، دی مسیح او کلیم فقر
علم لاره لټوونکی، فقر دی بلد په راه

دی مقام د نظر "فقر"، دی مقام د خبر "علم"
مستي فقر کښې ثواب ده، مستي علم کښې ګناه

دی د علم موجد بل څه، او د فقر موجد بل شی
**اشهد ان لا اله، اشهد ان لا الله**

د خودۍ تیغ چي تېره شي، کله باټ د فقر باندي
یو ګوزار د یو سپاهي هم کار شي کړلای د سپاه

په دې خاوره کښې که چیري زړه بیدار وي هم ژوندی وي
نو نظر ستا به کړي ماته آئینه د لمر او ماه

(۶۰)

زه په جوش د لېونتوب کښې، سخت مشغول وم په طواف
شکر خدایه! چي روغ پاته، د حرم شولو غلاف

مبارک دا اتفاق شه، د همه وو مومنانو
فقيهان د ښار يوه خوله، ټول زما دي بر خلاف

د حضور او غيب په منځ کښې، افلاطون ګوره پړ کيږي
د هوشيارو خلکو ځاى دى، له ازل ځنې اعراف

ستا پر زړه باندې تر کومه، چې کتاب را نازل نه شي
رازې ستا شک کښلی نه شي، نه صاحب يې د کشاف

د سرور او سوز نظر يې، لکه ځګ هسې کميږي
ګنې ګوټ د فيرنګيانو، د شرابو هم دى صاف

(۶۱)

د شعور او هوش او عقل، روزګار هم دى ډېر عجيب
په مقام د شوق کښې هر يو، دى د زړه نظر رقيب

زه پوهيږمه په دې چې، د جمات انجام به څه شي
د نظر په مسايلو کښې، بوخت شوى دى خطيب

که هر څو زما د ځالي، طوافونه کوي ګوره
د چمن د مارغه نه شته، په نوا کښې مي نصيب

عثماني ترکان پوهيږي، په خبرو داسي اورم
ولې څوک يې کړي تر غوږو، د اقبال شعر غريب

ګاونډي خپل دی ګڼلی، يورپ هغه چا وګوره
چي يې ستوری هم له ځای نه، ښکاره کيږي ډېر قريب

# درې درې شعرونه

انداز مي د وينا که هر څو ډېر نه دی بې باک
شايد زما خبره زړه ته پريوَځي دا ستا

يا ويړو اسمانونو کښې تکبير پرله پسې
يا غېږه کښې د خاورو عبادت، تسبيح، ثنا

دا يو په مولا مستو خود آګاه خلګو مذهب
دا بل د نباتاتو جماداتو د ملا

# قطعات

## (۱)

نا محرمه د حرم ده لاره چار
هم ادا د کلیسا د بیوپار

تبرک ګڼه زما خیري قمیص ته
نن صبا د لېونو تېر ګڼه وار

د دریاب تېرو کښې ورک شه، خو بیا هم ځان تینګوه ته
وخوره پیر او تاو را تاو شه، شابه ځان دي بدلوه ته

خپې واوره ستا قسمت کښې، د دریاب غاړه لیک نه ده
غولی وکړه په کوم لوري، چې ستا خوښه وي ورځه ته

اوسېدونکی د مکان یم، که ساکن د لا مکان؟
زه لیدونکی د جهان یم، که په خپله یم جهان

لا مکان کښې دي دی اوسي، تل تر تله په مستۍ کښې
خو په دې دي کړي ما پوهه، چي دی چېرته زما ځان

هسي زه ومه ورک شوی، خلوتونو د خودۍ کښې
ګويا نه ومه موجود زه، د پاک رب په حضورۍ کښې

پورته نه کړلې ما سترګې، چي د يار نندارہ وکړم
زه په خپله تماشه شوم، د قيامت بده سختۍ کښې

پرېشان دی که يې ګورې، کاروبار واړه د ميني
لا د دې نه ګډې وډې، غلبلې زما رنګينې

کله کله زه خوندونه، د وصال لټوم ګرځم
کله خوند د جدايي هم، خوندور وي که يې وينې

يقين څه دی؟ د خليل غوندي، په اور کښې کښېنستل
يقين دا چي په خدای مست شي، کار يې ځان غوره کول

واوره اې چي يې ګير شوی، ته د نوي تهذيب دام کښې
غلامي بې يقينۍ نه، غوره ده په څو څو ځل

د عرب په سوز کښې ساز دی د عجم
د حرم راز دی يووالی د امم

له وحدت نه انديښنه د غرب خالي ده
چې تهذيب د فيرنګي دی بې حرم

ځوک دي راشي ودي ګوري، چې شپېلۍ ځنګه وهمه
په هندي پوکي نغمه زه، د عربو غړومه

په انداز د فيرنګيانو مي، نظر دی ککړ شوی
زه په طبعه غزنوي يم، د اياز قسمت لرمه

ښکاري زړه هره ذره کښې، يو پټ پروت دی انغاړلی
هم په دې جلوت کښې دی دی، چې خلوت بې دی نيولی

دا منم چې بنديوان هم، د صبا هم د بېګا دی
خو غلام چيري ګردش، د زمانې نه دی ساتلی

نه ده نه ده انديښنه دي افلاکي
لرې نه په الوتو کښې لولاکي

دا منمه چې په اصل ته شاهين يې
ولي نه دي شته نظر كښې بېباكي

نه مومن شته او نه پاتې، د مومن شته اميري
صوفي پاتې شه ترې لاړه، د ضمير يې روښنايي

بيا له خداى ځنې وغواړه، هغه زړه هغه نظر ته
بې له فقره ناممكن ده، چې څوک وكړي اميري

نظر ګوره چې دى نښتى رنګ او بو كښې
عقل هم ګوره ورک شوى دى چارسو كښې

اې زړګيه! د سحر ژړا پرې نه ږدې
شايد بيا مومي امان په الله هو كښې

جلوتونه د خودۍ مصطفايي دي
خلوتونه د خودۍ كبريايي دي

د خودۍ نوښانه ټوله خدايي ده
كه ده مځكه كه اسمان كه عرش كرسي دي

د مستۍ او عشق جمال نې نوازي
د مستۍ او عشق جلال بې نیازي

د مستۍ او عشق کمال ظرف د حیدرؓ
د مستۍ او عشق زوال حرف د رازي

هغه څه شو؟ چې رونق مې د محفل وؤ
هغه څه شو؟ چې مې برق هم مې حاصل وؤ

د هغه مقام د زړه خلوت کدو کښې
خدایه! څه شو؟ چې زما د زړه منزل وؤ

په سینه کښې دې تش دم دی، په کښې نه شته زړه د ستا
تاؤ ګرمي را وستی نه شي، په محفل کښې دم د ستا

ته له عقله وړاندې تېر شه، چې دا نور په حقیقت کښې
منزل نه دی منزل نه دی، لیت د لار بلیږي دا

سور هیڅ کله د ناقې د محمل نه یم
تش بتکی یمه د لارې منزل نه یم

سوځونه د خشاک مي د تقدير کښې
زه بجلي يم حقيقت کښې حاصل نه يم

ستا جوهر دی روغ له نوره پاک يې ته
هم د سترګو نور د دې افلاک يې ته

فرشتې او حوري ستا وړوکی ښکار دی
چي شاهين د شهنشاه د لولاک يې ته

په محبت کښې چي جنون ؤو هغه پاته نه دی
د مسلمان زړه چي پر خون ؤ هغه پاته نه دی

زړه صفونه بېزاري د زړه بې ذوقه سجده
چي د دوی جذب د اندرون ؤ هغه پاته نه دی

د ګل ټوکی د شبنم په څاڅکو تر دی
هم رامبېل دی هم سبزه باد د سحر دی

خو بيا هم ترې هنګامه لوړېدای نه شي
چي د سوز نه د لاله خالي ځيګر دی

د خودۍ په زور طاقت، پاځه خور شه پر دنیا
پټ مقام د رنګ او بوی، دلته ووینه صفا

د دریاب غوندي اشنا، ته اوسېږه له حاصله
د ساحل له څنګ لمن، را نغاړه دي په شا

لاروي لره د سترګو دی نظر دی
عقل څه دی؟ بل مشال د رهګذر دی

هنګامې په کور دننه کوم کوم راز دی
د کوڅې څراغ له دې نه څه خبر دی

و زلمو ته زما آه- د سحر ورکړې
بیا بچیو د شاهین، ته وزر ورکړې

اې خاونده! زما دغه تمنا ده
و هرچا ته زما نور د نظر ورکړې

یو جهان د خزندو ۇ ربه! دغه ستا دنیا ده
له ژړا د سباؤون نه، جوړه دا زما دنیا ده

زه محکوم یمه، مجبور یم، اې خاونده! ستا دنیا کښې
او زما په دنیاګۍ کښې، باچهي واړه هم ستا ده

کرم دی ستا چې بې جوهر نه یم زه
مریی طغرل او د سنجر نه یم زه

جهان بینی که دی فطرت زما خو
د یو جمشېد د لاس ساغر نه یم زه

هم هغه دی چې دی، اصل د مکان د لامکان
مکان څه دی په معنا کښې، یو انداز دی د بیان

خضر خرنګه وښایي، او که وښایي څه وښایي
که ماهی پوښتنه وکړي، وایه چېرته دی عمان؟

کله کله تنهایي شي، د هر غره او د دمن عشق
کله سوز کله سرور وي، کله کله انجمن عشق

کله دی په معنا پنګه، د محراب او د منبر شي
کله دی مولا علیτ شي، یعني شي خیبر شکن عشق

اواره وي کله کله، کله وي بې خانما عشق
کله شاه وي د شاهانو، کله وي نوشېروان عشق

کله راشي و میدان ته، په جولان زغره اغوستې
کله کله ښکاره راشي، هم بې تېغ او بې سنان عشق

خدایه! اسلافو په څېر، جذب د اندرون راکړې
شمار په ټولګي کښې ته، د "**هم لا یحزنون**"راکړې

غوټۍ چې سخري څه د عقل وي، پرانستې دي ما
زما مولٰی اوس راله پنګه، د جنون راکړې

دا نکته زده کړې ما له بوالحسن[1]
چې روح نه مري پس له مرګه د بدن

لمر کښې څه رنګ به ځلا شي باقي پاتې
که له خپلو پلوشو نغاړې لمن!

[1] ابوالحسن خرمانيرح چې د حضرت بایزید بسطاميرح مرید ؤو.

عقل هیڅ نه دی خبر، له نیک او بده
ظالم تل تېری کوي، له خپله حده

خدای خبر دی چي دا څه دي، په ما شوي؟
خِرد زړه نه مي بېزار، زړه له خِرده

خدايي څه ده؟ اهتمام د خشک او تر دی
اې خاونده! دا خدايي خو دړد د سر دی

ولې ربه! پناه غواړم بندګۍ نه
دا خو دړد د سر لا څه دړد د ځيګر دی

دا آدم دی چي سلطان د بحر وبر دی
څه به يې وايمه څه شی دا بې بصر دی

نه خود بين نه خدابين نه جهان بين دی
وايه دا دی چي ښه کار ستا د هنر دی

د عارف دم خاص نسيم د صبحدم دی
هم له دې نه د معنا رېشه کښې نم دی

ځوک شعیب غوندي که چا ته په لاس ورشي
شپونکیتوب د کلیمي نه یو قدم دی

په ږګونو کښې و ما ته ښکاري وینه هغه نه
پاتې نه هغه ارزونه او نه پاتې هغه زړه

لمونځ، اودس دی، که روژه ده او که حج دی
دي دا ټول په هغه جوړ خو پاتې نه یې هغه ته

ځرګندیږي اوس رازونه پټ پنهان
لاړ د "لن ترانی" تېر شولو دوران

چې خودي د چا ځرګنده شوه اوله
دی هغه مهدي هغه اخیر زمان

دا ګردش د زمانې جاودانه
حقیقت ته یې نور واړه افسانه

چا لیدلی نه بېګاه او نه صبا دی
هم دا نن ورځ ده فقط ستا زمانه!

حکیمي نامسلماني د خودۍ
کلیمې رمز پنهاني د خودۍ

زده کړه شاهي او فقیري زما نه
کړي غریبي نګهباني د خودۍ

دا وجود ستا چي له روح سره نااشنا دی
څه عجب که اسویلی دي نا رسا دی

له بې روحه تن نه خدای ګڼه بې زاره
خدای ژوندی دی د ژوندو خلګو مولا دی

د چمن خلګو ته پرون دي اورولي اقبال
دغه اشعار ډک له نشاط او هم له سوز او مزې

د صبا لاسو ته محتاج زه لکه ګل نه یمه
جوش د جنون دی چي قبا یې کړله ریشې

# دعا

## ((د قرطبې په جمات کښې ولیکل شوه))

بس هم دغه زما لمونځ دی، هم اودس مي دا ګڼه
نواګانو کښې مي وینه، د ځیګر چي ده پرته
د پاکانو سره ناسته، نور حضور او هم سرور دی
د ولې خوا کښې لاله دی، ډک له سوزه هم نشه
څوک په اور د محبت کښې، ملګرتیا چا سره کاندي
په دې لار راسره پاتې، یو آرزو ملګرې شوه
د وزیر او میر درګاه مي، ځای د ناستې هرګز نه دی
ښاخ د ځالې مي هم ته یې، هم دا ځاله مي ستا ده
ستا پر مخ ګرېوان مطلع مي، د قیامت دسباؤون شو
اور مي بل د الله هو دی، ستا له مخه په سینه
درد او داغ سوز او ګرمي مي، په ژوندون کښې هم له تا دي
هم دا ته زما آرزو یې، هم مي ستا لټون شیوه
چي په خنګ کښې یې ته نه یې، نو ښاریه وي کل ویجاړه
چي ته یې نو وي آباده، که ماڼۍ وي که کوڅه
بیا هغه زاړه شراب دي، ته و ما ته را عطا کړه
لټومه زه هم دغه، مات مي جام کړه هم پیاله
د کرم نظر دي بویه، اې ساقي په انتظار دي
جلوتیان لوښي په لاس کښې، خلوتیان په لاس کاسه

ستا د دې لوی خدای نه، لېونتوب مي ګیله من دی
ځان له تا لا مکان خوښ کړ، په چارسو ما له دیره
فلسفه ده او که شعر، حقیقت د دې نور څه دی
د آرزو دی هغه ټکی، او ویل نه شه تا سره
د عارف دم خاص نسیم د صبحدم دی
هم له دې نه د معنا رېشه کښې نم دی

څوک شعیب ؏ غوندي که چا ته په لاس ورشي
شپونکیتوب د کلیمي؏ نه یو قدم دی

# د قرطبې جمات

## ((د هسپانیې په هېواد او بالخصوص قرطبه کښې ولیکل شول))

سلسله د ورځو شپو ده، حادثې چې رغوي
سلسله د ورځو شپو ده، مونږ د ژوند او د مرګي
سلسله د ورځو شپو ده، لکه تار رېشمین دوه رنګه
ترې صفاتو قبا ځان له، ذات لګیا دی جوړوي
سلسله د شپو او ورځو، د ازل د ساز فغان دی
ذات په دې کښې زېر وبم، د ممکناتو ښکاروي
کوي ستا کره کتنه، هم زما کره کتنه
سلسله د ورځو شپو ده، کائینات چې تنګوي

که ناقص او کوتاه ته یې، که ناقص او کوتاه زه یم
تا به هم مرګی فنا کړي، او ما هم به ورکوي
ستا د شپو او ستا د روځو، وایه نور حقیقت څه دی؟
یو حرکت د زمانې دی، شپه او ورځ چې نه لري
واړه تلونکي او فاني دي، معجزې د هنرونو
د دنیا دي واړه چاري، تیرېدونکې او فاني

هم اول اخر فنا ده، هم باطن ظاهر فنا ده
نقش نوی وي که زوړ وي، د هغې اخر فنا ده

مګر شته رنګ هغه نقش کښې، د ثبات او د دوام
چا بنده د خدای چې وي، کوم رسولی تر انجام
د بنده د خدای عمل دی، چې له عشقه فروغ مومي
عشق د ژوند اصل ریشه ده، مرګ په ده باندي حرام
که حرکت د زمانې څو، پر تندي چابک روان دی
عشق په خپله یو سیلاب دی، بل هر یو سیلاب کړي رام
د روانې زمانې نه، علاوه تقویم د عشق کښې
نورې شته زمانې داسي، چا پرې ایښی نه دی نام
عشق روح دجبرییل دی،عشق زړه دمصطفیٰ ﷺ دی
دا د پاک الله رسول ﷺ دی، دا د پاک الله کلام
په مستۍ د عشق تابناکه، نمونه د ښکلي ګل ده
عشق یو خام غوندي شراب دي، عشق کاسه ده د کرام
عشق فقیهه د دې حرم دی، عشق سالار دی د لښکرو
عشق د لارې لاروی دی، په هزار ځای یې مقام

د مضراب ځنې د عشق، د ژوندون تار کښې نغمې دي
هم له عشقه ژوند کښې نور دی، عشق د ژوند بلې لمبې دي

اې حرم د قرطبې چي، دی له عشقه وجود ستا
عشق د وخت ځنې بې غمه، عشق دوام دی سراپا
رنګ که خښته ده که کاڼی، ساز آواز دی یا که ټکی
معجزه د فن په وینو، د ځیګر په کښې پیدا
د ځیګر د وینې څاڅکی، دا وچ کاڼی نه زړه رغ کړي
د ځیګر وینه سرور دی، هم سرود سوز و صدا
ستا فضا زړه ځلوونکی، ده نوا مي سینه سوزه
دی حضور د زړونو کار ستا، پرانستل یې کار زما

نه د عرشِ معلٰی نه، د آدم سینه څه کمه
که هر څو د موټې خاورې، شین اسمان دی انتها
توان طاقت نوري وجود که، د سجدې لري نو څه شو
د سجود سوز او ګداز چي، درته نه دی مهیا
زه کافر غوندي هندي یم، شوق او ذوق ته مي وګوره
دی صلٰوة درود پر زړه مي، هم په خوله باندي مي دا

هم په غاړه کښې مي شوق دی هم مي شوق دی په شپېلۍ کښې
او نغمه د الله هو مي ده پرته په رګ و پی کښې

دی جلال او هم جمال ستا، د بنده د خدای دلیل
هغه هم جلیل جمیل دی، ته هم یې جلیل جمیل
ودانې ده ستا پائیداره، تا کښې ستنې دي بې شماره
لکه وي صحرا د شام کښې، تني ګڼې د نخیل
د ایمن د وادئ نور دي، در وبام باندي وریږي
ستا دا دنګه مناره ده، جلوګاه د جبریل
ورکېدای نه شي هیڅ کله، مسلمان بنده دا ځکه
راز څرګند د ده اذان کړ، د کلیمؑ او دخلیلؑ
د هیواد حدود یې نه شته، نه یې برید د افق شته دی
د دې بحر هر یو موج دی، یا دجله دینوب یا نیل
عجیبه یې زمانې دي، هم عجبې یې قیصې دي
زوړ دوران لره ورکړی، ده پیغام دی د رحیل
دی ساقي د ذوق لرونکو، د میدان د شوق شهسوار دی
ښه صفا شراب د ده دي، هم دی تیغ لري اصیل

دی هغه ځوانمرد سپاهي دی، چې یې زغره لاالٰه
ان په سیوري کښې د تورو، ده تکیه یې لاالٰه

هم له تا ځنې څرګند شو، د مومن بنده رازونه
هم د شپو یې ژړاګانې، هم د ورځو یې تاوونه
هم مقام اوچت د هغه، هم عظمت یې د خیالونو
هم سرود او شوق د هغه، هم نیاز هم یې نازونه
د مومن لاس حقیقت کښې، که بې ګورې لاس د خدای دی
هم غالب هم کار ایستونکی، جوړوي واړه کارونه

چي خاکي نوري سرشت شي، نو بنده مولا صفت شي
ورته هیڅ وي د دې دواړو، جهانونو دولتونه
امیدونه یې قلیل شي، مقصدونه یې جلیل شي
شي ادا یې دلفریبه، زړه راښکونکي نظرونه
پوست په وخت کښې د خبرو، کلک په وخت کښې د لټون وي
وي پاکباز او زړه یې پاک وي، وي جنګونه او بزمونه
د مومن بنده یقین پوخ، د پرکار د حق نقطه وي
او دا نور عالم دی واړه، تش طلسم مجاز، وهمونه

هم د عقل منزل دی دی، هم د عشق منزل دی دی
په حلقه کښې د آفاقو، هم ګرمي د محفل دی دی

اې کعبې د هنرمندو، یې دبدبه ته د پاک دین
مرتبه دي د حرم کړه، د اندلس د سرزمین
د اسمان لاندي ښایست کښې، که د حسن ستا مثال شته
شته په زړه د مسلمان کښې، نه شته بل چېرته چنین
آه- هغه د حق ځوانمرده، چي عرب شهسوران وو
خاوندان د "عظیم خلق" وو، هم د صدق او د یقین
څرګند شوی عجب راز دی، د هغوی له حکومت نه
خاوندان د زړه په فقر، کړي شاهي نه په نګین
خاص نظر د هغوی کړی، د ختیځ لویدیځ پالنه
په تیارو کښې د یورپ چي، د چا عقل وؤ راه بین
په برکت د چا د وینو، چي نن هم اندلسیان واړه
دي ښه زړي زاریدونکي، هم ساده روشن جبین

لا تراوسه دې هيواد کښې، آهو چشمه خلق ډېر دي
چې يې غشي د نظر دی، له هغه شان دل نشين

خوشبويي د يمن نن هم، هواګانو کښې د دې شته
د حجاز د نوا رنګ هم، نواګانو کښې د دې شته

ده په نزد د ستورو مځکه، ستا اوچته له اسمانه
خو افسوس چې د پېړيو نه، ستا فضا ده بې اذانه
ده مېشته کومه وادي کښې، ده په کوم منزل کښې پاتې
بلاګانې لړزونکی، قافله د عشق سخت ځانه
شورش وليد جرمنيانو، د اصلاح د دين له مخه
چې يې کړله هره نخښه، د زړو نقشونو ورانه
لاړه دوره پاکبازي شوه، چې د پير د کليسا وه
پرې پسې کښتۍ نازکه، چې د فکر شوه روانه
وليدو په خپلو سترګو، فرانسيسيانو انقلاب
د مغرب خلګو دنيا چې، پرې بدله شوه بې نشانه
رومي نسله قام په مينه، د زوړ رسم ؤو زوړ شوی
بيا په خوند يې د تجديد شوه، زړه شوې دنيا ځوانه
ګوره روح د مسلمان کښې، نن هم هغه اضطراب شته
دا د خدای يو داسي راز دی، وتی نه شي له زبانه

دې درياب د تل نه خدای زده، چې به څه را ولاړيږي
دغه شين ګنبد به خدای زده، چې په کوم طور بدلږي

دا په تنګو کښې د غرونو، شفق غرق شه په سحاب
که د لعل د بدخشان، ډیري پرې ایښی دی افتاب

سوز نه ډکې هم ساده دي، د دهقان د لور سندرې
دې سیلاب کښتیۀ د زړه له، په نېټه کښې د شباب
اې اوبو د کبیر [1] واورئ، دا په غاړه ستاسي څوک دی
دا د بلې زمانې چي، دی لګیا دی ویني خواب
عالم نوی چي تر اوسه، پروت پړده کښې د تقدیر دی
د هغې سحر په سترګو، کښې زما دی بې حجاب
که له مخ نه د فکرونو، زه پړده کړمه اوچته
نو زما د نواګانو به، فیرنګ را نه وړي تاب
چي په کښې انقلاب نه وي، هغه ژوند په مرګحساب دی
د قومونو د روح ژوند دی، کشمکش د انقلاب
هغه قوم لاس د تقدیر کښې، په مثال وي لکه توره
چي هر دم په هر زمان کړي، د عمل خپل احتساب

ټول نقشونه دي نیمګړي، بې د ډیره ځیګرخونه
نغمه هم کچه سودا ده، بې د ډیره ځیګرخونه

---

(۱) واد الکبیر د قرطبې دمشهور سیند نوم دی چي هغې سره نزدې د قرطبې مسجد واقع دی.

# په قیدخانه کښې د معتمد فریاد

**معتمد د اشبیلی بادشاه او د عربي ژبې شاعر وؤ د هسپانیې یو حکمران هغه له شکست ورکړی او په زندان کښې یې اچولی ؤو، د معتمد نظمونه په انگریزي ژبه ترجمه شوي او په "وزډم اف دي ایسټ سیریز" کښې شایع شوی دی.**

بې شرره یو فغان شو، په سینه کښې راته پاتې
لاړ رخصت ورځنې سوز شه، ترینه تلونکی دی تاثیر هم
بې نېزې او بې له توري، شاه زلمی پروت دی زندان کښې
زه خو خود یمه پښېمانه، چې پښېمان مې دی تدبیر هم
د ځنځیر لور ته په خپله، گوره زړه زما را کښای شي
شاید ؤو له دې فولاد نه، کله جوړ زما شمشیر هم
چې زما تیغ ؤو دوه مخی، نن ځنځیر زما د پښو دی
ځومره شوخ او بې پروا دی، پیدا کړونکی د تقدیر هم

# ((د عبدالرحمان اول د لاسه نهاله کړل شوې د کجوري اولنۍ ونه))

## ((د اندلس په مځکه کښې))

**((دا اشعار چې د عبدالرحمان اول تصنیف ځخه دی، په تاریخ المقري کښې درج دی،دا لاندینی نظم د دې ازاده ترجمه ده (نوموړې ونه په مدینة الزهراء کښې نهاله کړل شوې وه))**

زما چشمانو لره نور ته یې
ان د زړګي زما سرور ته یې
خپلي وادۍ ځنې زه لیري یمه
ما لره ونه هم د طور ته یې

یې لویه شوې د مغرب په هوا
خاص د عرب د صحرا حور ته یې
لکه پردېس کښې ناقرار یمه زه
داسي پردېس کښې په زړه چور ته یې

بارداره اوسې د پردې په هوا
شېرازه تا دي کاندي نم د صبا

نظاره د عالم څه عجب ښکاريږي
دنظر لمن تار تار شي په کښې شلږي
مبارک لامبوزني دي شي همت ته
غاړه هيڅ د سمندر نه معلوميږي
د ماښام په وخت پرېوتی ستوری نور هم
د غربت په سباؤون کښې لا ځلږي

د مومن د جهان هيڅ نه شته بريدونه
هر مقام مومن ته خپل ځايګی ښکاريږي

# هسپانيه

## ((د هسپانيې په خاوره کښې وليکل شو))
## (( د بېرته راتللو په نيټه ))

د سپين خاورې اې د وينو، د مسلم امانت ګرې
د حرم په څيري پاکه، ته زما يې په نظر کښې
پټ په خاورو کښې پراته ستا، د سجدو دي نوښانونه
دي خاموشه اذانونه، ستا بادونو د سحر کښې
د روڼو ستورو په څيري چي، روښانه يې نيزې وې
وې خېمې يې چيري جګې، ستا کمر او ستا په غر کښې

که سنګار له د پی مخو، بیا نکریځي دي په کار وي
لا مي رنګ لکوټي پاتې، دی په وینه د ځیګر کښې
د خسنو نه به ولي، د مسلم سترګه سوځیږي
دا منم چي تاؤ ګرمي يې، هغه نه شته په شرر کښې
غرناطه مي هم په سترګو، ولیدله ولې څه کړم
مسافر تسکین ونه مېند، په قیام نه په سفر کښې
ومي لید ومي ښودلو، هم مي واورؤ هم واورېد
تسلي د زړه مي شته دی، په نظر نه په خبر کښې

# د طارق دعاء

## ((د اندلس د جنګ په میدان کښې))

دا غازیان دا نالیدلي، پراسراره بندګان ستا
د خدایي د ذوق چي ایښی، پکښې تا دي قوتونه
دوه ټوټې يې په یو لته، هم سیندونه هم صحرا شي
د آوري دانې په څیر يې، شي را غونډ له ترهې غرونه
کړي له دواړو جهانونو، د بنده زړګی بې غمه
عجب خوند د اشنایي دی، عجیبه يې دي کارونه
هم مطلب او هم مقصد، د مومنانو شهادت دی
نه يې کار د ملک نیول دي، نه ولجو کښې وړل مالونه

خیابان کښې منتظره، ریدي ګل دی له مودو نه
یو قبا ورله په کار ده، د عرب د وینو سرو نه

په صحرا کښې اوسېدونکي، خلګ تا کړه بې مثاله
په خبر کښې په نظر کښې، بانګ ویلو د سحر کښې
چي ژوندون یې ګرځېدلو، د صدو نه په لټون کښې
هغه سوز یې ومیندلو، هم د دې خلګو ځیګر کښې
ور د زړه چي پرې خلاصیږي، هغه کار ښکاري و دوی ته
هلاکت نه ښکاره کیږي، دوی ته مرګ هیڅ په نظر کښې
د مومن بنده په زړه کښې، یو ځل بیا دا راز ژوندی کړې
هغه تندر برېښېدو چي، په نعره د "**لاتذر**" کښې

ارادې کلکې سینو کښې، یو ځل بیا کړي رابیدارې
د نظر د مسلمان نه، تورې جوړې کړې آبدارې

# لینن

## ((د خدای په حضور کښې))

کایناتو هم په ژوو کښې، ستا نخښې دي دوڅار
حقه دا ده چي ستا ذات دی، هم ژوندی هم پائیدار

پوهه شوی وې زه څه رنګ، چې موجود یې ته که نه یې
نظر یې د عقل واړه، بدلېدلې وار په وار
د فطرت د ازلي سروده، هیڅ څه خبر نه دی
وي ماهر د نباتاتو، که نجوم کښې وي هوښیار
چې په سترګو مې نن ولید، نو ثابت هغه عالم شو
چې به ما ګڼلو وهم، د ګرجې خوشې بېکار
مورِ په بند د ورځو شپو کښې، کلک تړلي بندګان یو
ته لیکونکی د لمحو هم، د وختونو کردګار
اجازت که راکوې نو، درنه کړمه یو پوښتنه
مقالو د حکیمانو په، کښې ایستې نه ده لار
چې تر څو پوري ژوندی وم، د اسمان تر خېمې لاندي
دا خبره مې په زړه کښې، څرخېدله لکه خار
د خبري په ادابو، باندي پاتې قابو نه شي
کله روح کښې چې دننه، موج وهونکي وي افکار
لږ یې وښیه و ما ته، ته معبود د کوم آدم یې؟
آدم هغه چې دی لاندي، د اسمان نه را حصار؟
د مشرق واکداران واړه، نن سپین پوستي فیرنګیان دي
پړقېدونکي سرۀ او سپین دي، په مغرب کښې نن واکدار
ده یورپ کښې د علمونو، هنرونو رڼا ډېره
خو چینه د حیوان نه شته، دی تیارو کښې یا غفار
د تعمیر په رعنایي کښې، په رونق په صفایي کښې
د بېنکونو عمارات دي، له ګرجو ځنې شاندار

په ظاهر کښې تجارت دی، حقیقت کښې جواري ده
په لکهونو خلقې شي، د یو کس د سود نه جار
دی حکمت، تدبر، علم، حکومت یې وینه څښونکی
په ظاهر د مساواتو، معلومیږي روا دار
بېکارۍ شراب خورۍ ته، عریانۍ افلاس ته ګوره
دا برې لا د فیرنګ، د تمدن نه دی بسیار؟
هغه قام چې وي محرومه، د پاک رب له رحمتونو
د هغو د کمالاتو، وي برٰاس بجلي معیار
حکومت د مشینونو، دی مرګی زړونو دپاره
مشینونو کښې احساس، د مروت شي تار په تار
نوښانې خو لږي لږي، داسي ښکاري چې اخر به
د تقدیر شاطر، تدبیر کړو، سر د لاندي را ګذار
یو زلزل د میخانې په، بنیادونو دی راغلی
په دې فکر کښې پیران، د خرابات دي ناقرار
په ماښام کښې په مخونو، چې سوروالی راښکاره شي
یا غازه ده یا شرابو، یې دی کړی دا سنګار
ته قادر یې هم عادل یې، ولې ستا په دنیاګۍ کښې
تریخ له حده ځنې زیات دی، د مزدور زیست و روزګار
کله ډوبه به کښتۍ، د زر پرستو شي اې ربه؟!
د بدل اخیستو ورځ ته، ده نړۍ په انتظار

# د فرشتو سندره

لا دی عقل بې له واګو، لا دی عشق بې له مقام
ازلي نقش ترړونکیه، لا دي نقش دی ناتمام
د مخلوق د خدای په سو کښې، رند فقیهه میر او پیر ناست دی
لا جهان کښې دي ګردش دی، د سحر او د ماښام
امیران دي په مال مست دي، فقیران دي په حال مست دي
خوار بنده ګرځي کوڅو کښې، لا خواجه بلند مقام
پوهه دین، علم که فن دی، غلامي د هوس ټوله
عشق دی غوټې پرانستونکی، خو لا فیض یې نه دی عام
دی جوهر د ژوندون مینه، او خودي جوهر د میني
آه- چې دغه تېره تېغ دی، لا پړده کښې د نیام

# د خدای فرمان

((فرشتو ته))

شئ پورته د دنیا، غریبانان مي پاڅوئ
زلزل د اُمراوو، په ماڼو کښې راولئ
په سوز د یقین باندي، کړئ غلام له وینه ګرمه
د باز سره چرچڼه، په میدان وجنګوئ
راتلونکې زمانه د واک، اختیار د ټول اولس ده
نقشونه زاړه هر چېرته، چې ښکاري ورانوئ

دهقان چي يې محروم وي، په روزۍ د کوم پټي
هر وږی د غنم، د دغه مځکې وسېځئ
حجاب په منځ کښې څه لا، د خالق او د مخلوق وي
پيران د کليسا له، کليسا نه وباسئ
دي خدای ته په سجده، په طوافونو د اصنامو
د دير او د حرم، ډيوه ښه دا چي وپوکئ
ناخوښ يمه ويزار يم، د مرمرو د تختو نه
د خاورو بل حرم به، ما دپاره سازوئ
تهذيب د نوي دور دی، کارخانه د ښيښه ګرو
شاعر ته د مشرق، د جنون لاري وښايئ

# ذوق او شوق

## ((دې کښې زيات شعرونه په فلسطين کښې ليکل شوي دي))

افسوسناکه راښکاره شوه، چي له دا هسي ګلانو
زه دي ورشم تش لاسونه، و صحبت له د دوستانو

د صحرا ښکلی سحر، ژوند د زړه او د نظر
نور ولې ولې روان، د چينې ځنې د لمر
د ازل حسن ښکاره، د وجود پرده پاره
سود زړګی له په کښې ډېر، تاواني په کښې نظر

وریځ پرېښودل د شپې، غړسکی سره اودي اودي
د اضم په غرشو ډېر، رنګ په رنګ ښکلی څادر
ګرځ نه پاکه شوه هوا، اونیۀ شوې صفا صفا
شګه نرمه ده رېښم، کاظمي نه لر وبر
چېرته پروت مړ شوی اور، چېرته پړی د خېمې
کاروانونه څومره تېر، لا به وي په دې ډګر

راغلو رېغ د جبرائیل، ستا هم دغه دی مقام
فراق جنو له هم دا، خوشحالي ده د دوام

تراخه ما لره د ژوند، وي شراب له زهرو زیات
زوړ محفل د کاینات، وي تازه می وارادات
نه شته بل یو غزنوي، په میدان کښې د ژوندون
سومناتونه طمع ګیر، څوک مسلم یې چې کړي مات
د عرب د ذکر سوز، د عجم د فکر ساز
یو نظر ځنې خالي، بل کښې نه شته خیالات
قافله کښې د حجاز یو، هم نه شته دی حسینτ
که تاؤ تاؤ دي زلفې څو، د دجلې او د فرات
عشق مرشد دی اولین، د نظر عقل او زړه
عشق که نه وي شرع دین، د فکرونو سومنات

عشق دی صدق د خلیلع، عشق دی صبر د حسینرض
معرکه کښې د وجود، عشق دی بدر او حنین

ته معنٰی د کاینات، په خوارو زارو ښکاره
قافلې د رنګ او بوی، ستا لټون پسې پره
جلوتیان د مدرسې، کم نظر دي مړ يې ذوق
خلوتيان د ميکدې، کم طلب تشه پياله
د مړ اور لرمه زه، په غزل کښې نښانې
د ورک شوو لټول، ده زما ټوله قیصه
په وږمو که د صبا، وده مومي خار وخس
چي پرې وده کړي آرزو، ده زما د سا وږمه
دی په وینه د ځیګر، پرورش مي د نوا
وینه رګ کښې وي د ساز، د خاوند د ساز پرته

زړه له ورنه کړې هرګز، لاس د پښو وهلو توان
کړه څو ولونه په کښې زیات، ښه ول ول چي شي زلفان

ته يې لوح او هم قلم، ستا وجود خپله کتاب
دا ګنبد ښيښې په شان، ستا په بحر کښې حباب
د اوبو خاورو دنیا، ستا په مخ رڼا رڼا
تا بخري له د رېګ، ځلا ورکړه د آفتاب
د سنجر سلیم شوکت، دی نمود ستا د جلال
د جنېد بایزید فقر، ستا جمال دی بې نقاب

که ستا شوق چیري زما، د لمانځه نه شي امام
هم قیام زما حجاب، هم سجود زما حجاب
ستا نظر ځنې د ناز، دواړو ومیندو مراد
عقل هجر او لټون، عشق حضور او اضطراب

تکه توره ده دنیا، د ګردش نه د آفتاب
کړه د وخت طبع تازه، کړه جلوه د بې حجاب

زما تیري ورځې شپې، واړه دي ستا په نظر
دی د علم نخل وچ، وم له دې نه بې خبر
په ضمیر کښې پخوانیٔ، معرکه مي شوه تازه
عقل واړه بولهب، عشق احمد ﷺ دی سراسر
کله وړي يې په حیله، کله کاندي زور متې
د عشق دواړه عجیبه، که د نبال يې دی که سر
په دنیا د سوز و ساز، زیات د وصل نه بېلتون
وصال مرګ د آرزو، هجر دوند دی خوندور
عن وصال کښې مي جرات، د کتلو نه لاره
څو لټولې که حیلې، بې ادبه شان نظر

بېلتون شور دی هم غوغا، هم ګرمي د آرزو
هم لټون دی د څپې، هم د څاڅکي دی ابرو

# پتنگ او اوراورکی

((**پتنګ**))

د پتنګ د منزل پاتې، ډېر په شا اور اورکی دی
په بې سوزه اور مغروره، په څه بیا اوراورکی دی

((**اوراورکی**))

سل شکرونه د الله دي، چې زه نه یم پروانه
نه سوالګری حاجتمند یمه، د اور د بېګانه

# د جاوېد په نامه

د خودۍ ساز کښې مینداې شي، د عمري ژوندون څراغ
دی روښان سوز د خودۍ نه، د هر یو ملت څراغ
فقط دا قدرې وینا چې، د مقصود خاوند آدم دی
دا لري فروغ زر چنده، هم هزار ګونه فراغ
هیڅ صفت د لوړ الوت هم، پیدا نه شه په کارغه کښې
باز بچه ګوره خراب شه، چې ملګری شه د زاغ
زمانې سترګو کښې ګوره، هیڅ حیا څه پاتې نه ده
خداې دي وکړي چې ځواني، درته ستا پاته شي بې داغ
ټیکاوټه په لاس اقبال له، یو خانقاه کښې هم را نغله
دا په دې چې دی خوش فکره، هم ظریف تازه د ماغ

# ګدايي

## (اخستنه له انوري نه)

يو زيرک رند په ميکده کښې، يوه ورځ وويل دا
والي زموږ د ښهريې دی، يو ګدا او بې حيا
ده ته د چا سرتوره سر، ور پرسر کړی دی تاج
ده ته د چا لغړ قوت، ورکړله زرينه قبا
دي سرهٔ شراب يې نچوړ شوي، د دهقان له وينو
زما او ستا د پټي خاوره، ده د پاره کيميا
نعمت خانه خپله کښې هر څيز يې، په سوال غونډ کړی
ورله ورکړي دا هر څه دي، يو غريب مرد بې نوا
هر يو غوښتونکی دی فقير، غواړي صدقه که خراج
څوک يې مني که نه هم، مير او هم سلطان دی ګدا

# ملا او جنت

زه هم هلته کښې حاضر وم، تېنګه ما نه کړه خبره
چې د خدای نه حکم وشو، ځي جنت ته دي ملا
عرض مي وکړوچي اې ربه! که تقصير زما معاف شي
شراب، حورې او باغونه، خوښ به نه کړي دا ملا
جنت ځای نه دی د بحث، اختلاف او د جګړو
مرکې، تکرار، بحثونه، بس د ده سرشت دی دا

دی قامونه، ملتونه، سرکوي پر بدو لارو
او جنت کښې نه جمات شته، نه کنشت، نه کلیسا

# دین او سیاست

راهبۍ باندي ولاړ، د کلیسا وو بنیادونه
په دې فقر کښې به کله، ځایدله امیري
راهبۍ د سلطاني ؤو، عداوت خپلو کښې ځکه
خاکساري وه په هغې کښې، او په دې کښې سرلوړي
سیاست خپله لمنه، د مذهب ځنې کړه خلاصه
هیڅ ونه چلیده دې کښې، د ګرجې د پیر پیري
چي جدا دین او دولت شي، په کوم وخت کښې یو له بله
د هوس شي په کښې جوړه، امیري هم وزیري
د وطن او دین دپاره، په دوی کښې نامرادي ده
د تهذیب سترګو کښې ورکه، په دوی شي رڼایي
دا اعجاز د هغه کس دی، چي صحرا کښې اوسېدلو
بشیرۍ کښې هم اوس ښکاري، که یې ګورې نذیري
هم په دې کښې حفاظت دی، د همه وو انسانانو
چي په خپلو کښې یو ځای شي، جنیدي اردشیري

# الارض للّٰہ

څوک د خاورو په تيارو کښې، پالي زړي د تخمونو؟
سحابونه او چتۍ څوک، د څپو نه د درياب؟
چا راکښلې او راوستې، له قبلې هوا سازګاره
وايه دا دي د چا خاورې، د چا دی نور د آفتاب
مرغلرو نه ډک کړی، د غنم د وږو جيب چا؟
موسمونو ته ښيلی، چا دی خوی د انقلاب؟
واوره اې د کلي خانه! ځکه ستا ده نه زما ده
نه زما ده او نه ستا ده، نه خو دا ستا د بابا ده

# د يو زلمي په نوم

ستا صوفې دی د فرنګ، قالينونه ايراني
ژړوي مي په سرو وينو، د زلمو تن اساني
امارت خو هيڅ شی نه دی، خسروي هم ده بې سوده
نه په زور کښې ته حيدرؑ، نه استغا دي سلماني

لټون مه کړه د دې ځيز ته، د تهذيب نوې ځلا کښې
چي معراج د مسلمان مي، دی ليدلی استغنا کښې

کله روح د باتورانو، چې بیدار شي په زلمو کښې
خپل منزل ورته بیا ښکاري، د اسمان په بلندو کښې
مایوس مه شه مایوسي خو، علم پوهې له زوال دی
د مومن سړي امید دی، د رازدان د رب درجو کښې

د شاهانو د ماڼیو، ګنبدونه دي ځای نه دی
ته شاهین یې کړه استوګه، ځه د غرونو په غنډو کښې

# نصیحت

د شاهین واړه بچي ته، زوړ عقاب هسي وینا کړه
رسېدل ستا په وزرو، پاس اسمان ته دي اسان
ځواني نوم د خپلې وینې، په سور اور کښې سوځېدل دي
هله تریخ ژوندون ګبین شي، چې څوک وکړوي ځان
په کوتر غوټه کېدو کښې، چې کوم خوند دی زما ځویه!
ګمان کړم د ده په وینه، کښې خوند نه وي هغه شان

# د ریدي ګل

د دې شین ګنبد نه لاندي، خاموشي خوروره
بوړنوي مي ویروي مي، تر افق ویړه میره

هم لار ورکی لاروی زه، هم لار ورکی لاروی ته
ریدي ګله! وایه ته یې، کوم منزل پسې پره
دغه غرونه، کمرونه، کلیمانو نه خالي دي
ګني ته یې او هم زه یم، د سینا د غره شغله
زه د ښاخ نه ولې مات شوم، ولې ته پرې را زرغون شوې؟
یو لذت د یکتایي یې، پیداوښت د بل جذبه
مرجونا د محبت دي، په امان کښې د خدای اوسي
ده دریاب غوندي ژوره، د دریاب هره قطره
د هغه ځپې ماتم کښې، د غولۍ سترګه ژړیږي
شوه راپورته خو تر غاړې، پوري ونه لګېده
په ګرمۍ د آدم ګرمه، هنګامه د دنیاګۍ ده
لمر او ستوري ورته ګوري، دي د دوی په تماشه
د صحرا باده په ما هم، پیرزوینې دغه وکړه
خاموشي او د زړه سوز هم، رعنایي سپکه نشه

## ساقي نامه

خیمې جګې کړې کاروان د نوبهار
جنت ساز شه له لمنو د کوهسار
ګلاب ګل، نرګس، سوسن او نسترن دی
ازلي شهید لاله خونین کفن دی

جهان واړه پټ پړدو کښې شه د رنګ
وينې ګرځي په يو يو رګ کښې د سنګ
له سرور ډکه هوا او دې فضا کښې
ټيکاويږي نه مارغان د ځالو خوا کښې

آ- واله د کوهستان ده دنګيدونکې
درېدونکې اوږدېدونکې ښويېدونکې
ټوپېدونکې، ښويېدونکې، سمېدونکې
اړو پېچ خوړونه پس بې سر اوکښونکي
چې را بند شي نو د کاڼي زړه کړي څيري
زړه د غرونو پسې کاندي څيرې ويرې
اې ګلرنګ ساقي څه لږ وکړه نظر
اوروي د ژوند پيغام ښه پرې خبر
ما له راکړه آ- شراب پړده سوځونکي
چې ګلونه هره ورځ نه دي راتلونکي

هغه مى چې ترې روښان زړه د حيات
هغه مى چې پرې وي مست ټول کاينات
سوز او ساز چې د ازل لري مى هغه
د ازل راز چې پرانستى شي پرې مى هغه
ساقي پورته کړه پړده له دغه راز
چتې وروله ته جنګ له د شهباز
شو بدل د زمانې چې وؤ انداز

نوی راګ دی بدل شوی یې دی د ساز
په دې شان سره شه فاش راز د فیرنګ
چې حیرانه ښیښه ساز دی د فیرنګ
سیاست چې وؤ کوم زوړ هغه شو خوار
له میرۍ له سلطانۍ مځکه بېزار
تېر شو وخت د سرمایې را ټولو
مداري لاړ پس د لوبې له ښودلو
ډوب ویده چینیان ورو ورو په ویښېدو شو
همالې نه شنه لختي په خوټکېدو شو
د فاران، طور د سینا زړه دی دوه نیم
منتظر بیا تجلٰی ته دی کلیمؑ
که هر څو مسلم توحید کښې ګرم جوش دی
خو زړګی یې لا تراوسه زنار پوش دی
تمدن، تصوف، شرعه هم کلام
د بتانو د عجم دی ټول غلام
حقیقت په خرافاتو کښې فنا شو
دا امت په روایاتو کښې فنا شو
پر زړه ښې لګي خبرې د خطیب
خو لذت یې د شوق نه دی په نصیب
دی بیان یې په منطق باندي سپېځلی
د لغات په کشالو کښې انښتلی
آ- صوفي چې په خدمت د حق کښې فرد وؤ
په خیالاتو د عجم کښې لاړو ورک شو

شوه تیاره لاړو د عشق اور شو مړ نن
مسلمان دی د ایرو یو ډېرې خړ نن
بیا زاړه شراب په ما وڅښه ساقي
هم هغه جام له ګردش ورکړه ساقي

ما د عشق په وزرونو په هوا کړه
اوراورک زما د خاورې نه بنا کړه
عقل ته له غلامۍ نه آزادان کړه
شاه زلمي د بوډاګانو استاذان کړه
د ملت ښاخ ستا له نم ځنې زرغون دی
دې بدن کښې ستا له دم ځنې ژوندون دی
تړپېدو د پړقېدو را له توفیق را
هم زړګی د مرتضٰیؑ سوز د صدیقؓ را
له ځیګر بیا هغه غشی تیر وبیر کړې
آرزو وېښې په سینو کښې هغه څېر کړې
تا ته روی په اسمانونو کښې د ستورو
تا ته روی په مځکو ستا د شوګیرو خورو
شاه زلمو وته ته سوز د ځیګر ورکړه
زما عشق هم ورسره مي نظر ورکړه
ته کښتۍ کړې زما پوري له ګردابه
ثابت ستوری مي سیار کړې له هر بابه
ما ته وښایې اسرار د مرګ حیات
په نظر کښې دی ستا واړه کاینات

بې خوابي هم د لمدو سترګو زما
بې تابۍ پټې د دې زړګي زما
د ژړا د نيمو شپو زما نياز
په خلوت هم انجمن کښې مي ګداز

ارزوګانې هم زما ټولې غوښتنې
اميدونه هم مي واړه لټونې
آئينه زما فطرت دی د روزګار
مرغزار دی د هوسيو د افکار

زړه زما ميدان د جنګ مي د حيات
و لښکر ته د ګمان يقين ثبات
ساقي ده هم دغه څه د فقير پنګه
فقيرۍ کښې هم له دې يم امير رنګه
دا هر څه مي ووېشه په قافله
کړه تالا يې خپل ځايګي تې رسوه
دبادب درياب روان دی د ژوندون
له هر شي پيدا جولان دی د ژوندون
هم له دې پيدا نمود دی د بدن
په شغله کښې پټ لوګی ښکاري موج زن
که هر څو ګران دی صحبت د اوبو خاورو
خوښ د دې شولو محنت د اوبو خاورو
هم ثابت دی دا او هم دی دا سيار

له پړکو د عناصرو هم بېزار
په کثرت کې دا وحدت هر دم اسير دی
خو هر ځای کښې بې مثاله بې نظير دی
دا عالم دا بتخانه د شش جهات
هم په خپله يې تراشلی دا سومنات
د تکرار دا خوی خوښ نه دی هيڅ د ده
چې ته زه نه يم او زه نه يمه ته
زه او ته نه انجمن يې کړ پيدا
ولې ناست عن په محفل کښې وي يو خوا
ده په ستورو هم برېښنا کښې يې ځلا
دی په سرو سپينو پاره کښې هويدا
هم د ده دی بيابان کيکر د ده دی
که ګلونه که اغزي دي کر د ده دی
چېرته زور يې کړي له غرونو پورته دوړې
چېرته بند يې په دا مونو جبريل حورې
چېرته کښې دی کټه باز سپمايي رنګ
سرې په وينو د تنذرو د ده چنګ

چېرته ځالې ځنې ليري وي کوتره
پړقيدنکي جال کښې ګيره وي اوتره
د نظر فريب سکون دی هم ثبات
ناقلاره دي ذرې د کائينات

د وجود کاروان یو ځای نه تیکاویږي
د وجود شان په لحظه لحظه بدلږي
ته ګمان کوې چې راز دی دا ژوندون
خو فقط ذوق د پرواز دی دا ژوندون
دي لیدلې ډېرې ده لوړې ژورې
له منزل یې زیاتي خوښی دی مزلې
ساز سامان چې دی د ژوند نوم یې سفر دی
حقیقت دی بس سفر مجاز حضر دی
له نښتلو بس جوړښت کښې یې لذت دی
تړپېدو په پړقېدو کښې یې راحت دی
مخامخ چې شي له مرګ سره بیا کله
تینګول د مرګ ډېر ګران شول ورته ګله
پس جهان د مکافات ته کښته راغی
ژوند د مرګ په څو کښې ناست خوله راغی
د دوی ذوق ځنې جوړ هر څیز دوه- دوه شو
چې لښکر- لښکر ښکاره په سم او غره شو
ډېر ګلونه له دې ښاخه رژېدل هم
بیا له دې ښاخه ګلونه ټوکېدل هم
نادانان دي چې ګڼي دا بې ثبات
جګ شي پس له ورانېدو نقش د حیات
رسېدونکی دېر زیات تېز هم تېز جولان دی
له ازله تر ابد د یو ساه آن دی

زمانه چې يو ځنځير د ورځو شپو دی
نوم د ساه د کښته پورته تلو را تلو دی
څه څيز موج دی د نفس توره تېره ده
خودي څه ده د تېرې تورې لاشه ده

خودي څه ده؟ يو پټ راز دی د حيات
خودي څه ده ويښېدل د کاينات
د خودۍ مسته جلوه ګوښه پسنده
سمندر ده خو په يو څاڅکي کښې بنده
په تياره هم په رڼا کښې ده تابناکه
زه او ته په کښې پيدا زه ته نه پاکه
دی ازل يې وروسته مخکښې يې ابد دی
نه حد وروستو له دی نه وړاندې ترې حد دی
په درياب د زمانې کښې بهېدونکې
د موجونو ستمونه يې زغمونکې
د تالاش د لټون لاره بدلوونکې
سترګې هم هسې بې واره بدلوونکې
سپک په لاسو کښې يې کاڼي لوی ګټان
په ګذار يې غرونه شي ريګِ روان
دی سفر د دې انجام او هم آغاز
هم دغه يې د تقويم وګڼه راز
پلوشه ده په سپوږمۍ شرر په سنګ کښې
دی بې رنګه که هر څو ډوب دی په رنګ کښې

کم و زیات ځنې هغه نه وي خبر
وړاندي وروستو نه له لوړ نه له ژور
له ازله کشمکش کښې ده اسیره
د آدم خاورو کښې شوه صورت پذیره
ستا په زړه کښې دا خودي لري مکان
څنګ چي وي ککو د سترګو کښې اسمان

و ساتونکی د خودۍ له زهر ناب دی
هغه رزق چي ورک د ده پرې د مخ آب دی
بختوره ورله ده هغه ډوډۍ
چي پرې پایي په دنیا هسکه غړۍ
د محمود له کر او فر تېرېدل وکړه
خودي خپله کړه سنبال ایازي مه کړه

هم هغه سجده ده وړ د احترام
ترو سجدې نورې په تا چي شي حرام
دا دنیا د رنګ آواز شور او غوغا
د مرګي نه رپ وهلای نه شي دا
بتخانه د سترګو غوږو دا جهان دی
فقط ښل، خوړل ژوندون په دا جهان دی
د خودۍ دغه اوله مرحله ده
نه چي دا دي مسافره! تیکاوڼه ده

چي اور ستا نه وي پيدا له دې خاکدانه
دی جهان له تا ته نه يې له جهانه
دا غر وشلوه په وړاندي ورځه درومه
د زمان مکان د سحر پرېکړه لومه
د پاک رب زمری خودي جهان يې ښکار دی
مځکه ښکار د دې اسمان هم د دې ښکار دی
جهانونه نور لا هم شته بې نموده
چي لا زږه نه دی تش شوی له وجوده
ستا چپاؤ وته همه په انتظار دي
و شوخۍ ته ستا د فکر او کردار دي
دا مقصد دی د ګردش د دې روزګار
چي هم تا ته ستا خودي شي در دوځار
ته فاتح د ښو د بدو دنیاګۍ
تېروم به تا ته څه ستا قيصګۍ
حقيقت باندي لباس د حرف تنګ وي
حقيقت لکه آئين ګفتار يې زنګ وي
په سينه کښې ډيوه بله د نفس ده
مګر تاب د ګفتار وايي دومره بس ده
"الوزم که وېښته سر هومره نور بر
سوځوي د تجلٰی فروغ مي پر"

# زمانه

پرون اوس نه شته اوس به بیانه وي،پټ دپردې دی دغه ګفتار
لېواله هغه ته زمانه ده، چې ښکارېدو ته کوم وي تیار
له صراحۍ نه مي څاڅکي څاڅکي، حادثې نوې نوې راڅاڅي
تسبیح د ورځو د شپو په لاس کښې، زه په دا نوی کومه شمار
اشنا له هر چا ولې ساتمه، زه خپله خپله له هر چا لاره
چا لره سور یم د چا سورلۍ یم، د عبرت زه یم چا له ګذار

ته چې محفل ته خپله را نغلې، قصور د تا شو کنه زما شو؟
شپني شراب به ساتمه چاله، د دې عادت نه یمه وېزار
د نجومیانو سترګې هیڅکله، پېژندای نه شي دا پیچ و خم مي
د چا نظر چې د عارف نه وي، تل یې خطا ځي د غشي وار
لوېدیځ افق کښې مو شفق نه دی، دغه ولې دی د سرو وینو
خوشې قیصه ده نن که پرون دی، صبا ختو ته کړه انتظار
آ- ګستاخ فکر چې یې بربنډ کړل، ټول طاقتونه چې د فطرت وو
له تندرونو نه یې پېښ شوی، هم خپلې ځالې وته دی ډار
هوا د ده ده، فضا د ده ده، جهاز د ده دی، درياب د ده دی
چې بهانه د تقدیر ګرداب شو، وایه ګرداب شي ولې هوار؟
دنیاګۍ نوې راپیدا کیږي، هغه جهان زوړ ګوره مړ کیږي
آ- فیرنګیانو د جوارۍ چې، ترې ؤو جوړ کړی ګرم بازار

هوا که هر څو ده تنده تېزه، خو خپل څراغ بې ساتلی بل دی
هغه درویش چي دبادشاهانوورلورکړې کړه وړه غفار

## فرشتې له جنته ادمء رخصتوي

شپو د ورځو بې تابي ده، قدرت تا ته دربخښلې
خبر نه یم یې د خاورو، که پاره سپینه سپېڅلې
اورم دا چي تا وجود دی، له دې خاورې نه میندلی
د سپوږمۍ، ستورو ښکلا ده، ستا په خټه کښې اخښلې
دغه خپل ښایست که چیري، تا په خوب هم ولیدلو
ښه د زړو بیدارو نه، دا د خوب جوټه وهلې
د سحر په وخت ژړا ستا، بها ډېره لري لویه
ستا زوړ نخل هم د دې نه، د ژوند وده ده میندلې
که یې ګورې ستا نوا نه یې، پردې ضمیر د ژوند دی
چي ستا ساز فطرت په خپله، په خپل لاس دی ږغولې

## د مځکې روح د ادم ء هر کلی کوي

سترګي بینا کړه اسمان، مځکه هم فضا ووینه
لمر راختونکی له ختیځ، لږ په ځلا ووینه

دا بې پړدې جلوه پړدو کښې، پټ پنا ووينه
دجدايي د ورځو ظلم، هم جفا ووينه

مه شه بېتاب جنګيز د بيم او د رجا ووينه

دا وريځې لړې همه واړه، تصرف کښې دي ستا
د آسمانونو دا ګنبد، دغه خاموشې فضا
دا صحراګانې دغه غرونه، دريابونه، هوا
ستا په نظر کښې وه پرون، د فرشتو هر ادا

آئين د ورځو کښې نن ته، خپله ادا ووينه

ستا د نظر په اشارو به، زمانه پوهيږي
د اسمان ستوري به د ليري نه، هم تاته ګوري
غاړې درياب د تخيل به د، ستا نه ښکاريږي
اسمان ته پاس به دي سپرغۍ، د اسويلو رسيږي

خودي دي سازه کړه اثر، د آه رسا ووينه

د جهان تابه لمر رڼا ده، په شرر کښې دِي تا
هم يو جهان تازه آباد دی، په هنر کښې دِي تا
نه دی هيڅ څيز دا خيراتي، جنت نظر کښې دِي تا
ستا جنت پټ دی په سرو وينو، د ځيګر کښې دِي تا

اې په ځان ګله! د خپل ښه کوشش جزاووینه

د سریندې هر تار دي ژاړي، په ژړا له ازل
ته یې د جنس د محبت، هم خریدار له ازل
د اسرار صنم خانه کښې، یې رازدار له ازل
ښه خواریکښ تېر له خپل، وینو کم آزار له ازل

لاندي تقدیر د کل جهان ستا له رضا ووینه

# پیر او مرید

## مرید هندي

له چشمانو مي سرې وينې را بهيږي
نوی علم نه دين ورځ په ورځ خواريږي

## پير رومي

که په تن ووهې علم جوړ ترې مار شي
که په زړه ووهې علم جوړ ترې يار شي

## مريد هندي

د دړدمندو عاشقانو اې امامه!
وتې نه دی لوړ کلام مي ستا له پامه
وچ مازغه، وچ يې تارونه، وچ يې پوست
له کوم ځای ځنې راځي آواز د دوست
په ډنگ مست نوی دوران او بې سرور دی
هم بې هوش او بې يقين او بې حضور دی
هيڅ خبر نه دی له دې چي څه دی راز
څه وي دوست او يا څه وي د دوست آواز
آه- يورپ چي ځلېدونکی شان ليدای شي
په نغمه باندي دوی خاورې ته را کښای شي

## پير رومي

هر سړی په سماع کله سم پوهيږي
د هر يو مارغه اينجرنه روزي کيږي

## مريد هندي

د مشرق، مغرب مي تول لوستي علمونه
خو په روح کښې مي تراوسه دي دردونه

## پير رومي

د هر يو نااهله لاس به دي بيمار کا
موږ له راشه چي دي روغ دغه آزار کا

## مريد هندي

اې چي ستا نظر دی زړه له مي کشاد
کړه ښکاره نکته د حکم د جهاد

## پير رومي

نقش د حق مات کړه په امر د حق ګله
ته ښيښه د دوست، د دوست په کاڼي وله

## مريد هندي

د ختيځ سترګي لوېديځ نه دي مسحورې
دي جنت ځنې ښايسته د لوېديځ حورې

## پير رومي

که سپين زر وي په ظاهره سپين او نوي
لاس جامې هر څه پرې تور شي لکه سوي

## مريد هندي

آه- ځلميان د مدرسو ګرمه يې وينه
ګير په دام د جادوګر فيرنګي دينه

## پیر رومي

په کچه وزر مارغه چې الوتلی
دی په پنجه د ښو دی کښیوتلی

## مرید هندي

وي تر څو به دا جګړې د دین وطن
مقدم دی وایه روح او که بدن

## پیر رومي

کوټه زر ښکاري د شپې سوچه اصلي
سوچه زر کړي انتظار د صبايي

## مرید هندي

ته له راز نه د ادم کړه ما خبر
له ذرې خاورې نه ساز کړه سپوږمۍ لمر

## پیر رومي

ظاهر تن یې له لړزان په چک د ماشي
او باطن یې اسمانونه لاندي باسي

## مرید هندي

ستا له نور نه شو د خاورو روڼ بصر
د آدم مقصد خبر دی که نظر؟

## پیر رومي

بنیادم دی فقط سترګې نور دی پوست
لیده هغه دي لیده چې دي د دوست

## مريد هندي

مشرق ټول ستا له ګفتاره نه ژوندی دی
کوم يو رنځ دی چي قومونو له مرګی دی

## پير رومي

هر آفت په پخوانو چي دی راغلی
دوی په پړي دی ګمان د لړګي کړی

## مريد هندي

نه شته رنګ نه هغه بوی د مسلمان
ولې وينه يې شوه يخه په دا شان؟

## پير رومي

چا د زړه خاوند چي نه دی دردولی
هيڅ يو قام تر هغې نه دی شرمېدلی

## مريد هندي

که بازار مو بې رونق ځو د وجود دی
د ځوانمرد کومه سودا کښې وايه سود دی؟

## پير رومي

خرڅه ته کړه زيرکي، حيراني پلوره
زيرکي ګمان حيرت دی نظر ګوره

## مريد هندي

هم مجلس مي وزيران دي د شاهانو
زما نه شته کند کلاه د فقيرانو

## پیر رومي

شه غلام یې د چا زړه چې وي روښان
ښه له دې چې دي پر سر وړي باچهان

## مرید هندي

اې شریک چې د خاصانو یې د بدر
پوهه نه شوم چې څه جبر دی څه قدر؟

## پیر رومي

دي وزر چې رسوي باز و سلطان ته
دي وزر چې کارغه بیایي ګورستان ته

## مرید هندي

کاروبار یې راهبي که حکومت دی
د نبي ﷺ د دین آخر نو څه غایت دی؟

## پیر رومي

مصلحت زموږ د دین جنګ او شوکت دی
او خلوت، دین د عیسٰی کښې مصلحت دی

## مرید هندي

څنګ قابو به شي دا خاورې دا اوبه
څنګ بیدار به شي سینه کښې ننه زړه؟

## پیر رومي

شه غلام خو چې د اس غوندي په پښو ځي
مه شه مړی چې د بل چا په اوږو ځي

## مريد هندي

نه رسېږمه په راز باندي د دين
په قيامت به مي پيدا شي څنګ يقين؟

## پير رومي

شه په ځان خپله قيامت، وينه قيامت بيا
چي دی شرط د هر يو خيز د ديدن دا

## مريد هندي

جوړوي خودي اسمان کښېٔ ځان له لار
خودي کاندي د سپوږمۍ او د لمر ښکار
بې حضوره ده، روښانه، نا قراره
د خپل ښکار د لاسه ده په زړه داغداره

## پير رومي

وړ دی عشق چي څوک يې ښکار کا که کېداي شي
لاکن دام کښېٔ د چا کله ځاييداي شي

## مريد هندي

اې چي زړه درته روښان د کاينات
د ملت به په کوم جوړ ټينګ شي حيات؟

## پير رومي

که دا نه شېٔ اڼوي به دي مارغان
که غونچه شېٔ شو کوي دي ماشومان
دا نه پټه کړه په ځان همګي دام شه
غونچه پټه کړه ګياه د سر د بام شه

## مرید هندي

ته دا وايې ځه! لټون کوه د زړه
لټوه زړه په جنګيز کښې اوسه ته
زړه زما دننه پروت مي په سينه کښې
او جوهر زما، زما په آئينه کښې

## پير رومي

ته دا وايې چي زړګی زما هم شته دی
ولې زړه خو پاس پر عرش دی کښته نه دی
تا په خپل زړګي ګمان د زړګي کړی
او لټون د اهلِ دل دي دی پرېښی

## مريد هندي

آسمانونو کښې زما فکر بلند دی
زه په مځکه خوار و زار زړه مي دردمند دی
د دنيا په کاروبار کښې لاس وهمه
او ډغرې په دې لاره کښې زه خورمه
ولې وس نه مي بهر د مځکې کار دی؟
دين کښې ولې د دنيا ساده هوشيار دی؟

## پير رومي

چي ځوک پورته و اسمان ته الوتای شي
لاندي مځکه باندي هم ښېشکه تلای شي

## مريد هندي

د حکمت او علم ډونډ څنګ لګېدای شي؟
سوز او درد او داغ په لاس څرنګ راتلای شي؟

### پیر رومي

حکمت، علم له حلال رزقه زیږیږي
رقت عشق له حلال رزقه پیدا کیږي

### مرید هندي

زمانه کړي تقاضا د انجمن
بې خلوته هیڅ سوز نه وي د سخن

### پیر رومي

خلوت بویه نه له غیرو نه له یار
دی پوستین د ژمي خیز نه د بهار

### مرید هندي

نور او سوز نه شته په هند کښې په یو لوري
اهلِ دل باندي دي دلته ورځې توري

### پیر رومي

روښنايي ګرمي دی کار د ځوانمردانو
بې شرمي حیلې دی کار د ناکسانو

# جبریل او ابلیس

## جبریل

زوړ ملګریه! وایه څنګه ده د رنګ او بوی دنیا؟

## ابلیس

سوز او ساز، درد او داغونه، جستجو او تمنا

## جبریل

پاس اسمان کښې هر وخت کيږي هم په تا باندي خبرې
آيا- بيا به پيوند نه شي دا شلېدلې لمن ستا؟

## ابلیس

های! افسوس اې جبريَله! په دې راز ته خبر نه يې
د پيالې په ماتېدو مي مستي زياته شوله لا

بيا ورتګ مي دغه ځای ته ممکن نه دی- ممکن نه دی
په دې خوښې دنياګۍ کښې خومره ډېره ده چپيا
چي په زړه د کاينات کښې نوميدي يې سوز پيدا کړي
ښه هغه لره قنوط دی او که ښه ورله رجا؟

## جبریل

لاړه لوړ- لوړ مقامونه په افکار باندي تا بايلل
سپکې واړه فرشتې شوې اوس په وړاندي د مولا

## ابلیس

موټې خاورو کښې جرات مي ذوق د ودې راپيدا کړ
دې تنې بودې جامې له د خرد فتنې زما
ته د خير او شر د جنګ کړې تماشه ليري له غاړې
ته که زه يم چي ځپيږې د طوفان خورې په بيا- بيا؟

خضر هم بې لاسو پښو شي الیاس هم بې لاسو پښو شي
دی طوفان دریاب- دریاب مي هم څپې په کښې بلا
که خدای سره شوې ځان له نو بس دا تپوس ترې وکړه
د آدم قیصه رنګینه شوه په سرو وینو د چا؟
د اغزي په شان څرخېږم زه په زړه د پاک خاوند کښې
او بغیر د "الله هو" نه بل کار نه شته دی دا ستا

# اذان

یوه ورځ ستورو ته اووې داسي ستوري د سحر
چي آدم هم کله تاسو کښې لیدلی چا بیدار
مریخ اووې چي تقدیر هم په ارادې دی پوهېدونکی
دا وړوکې شان فتنه ده، دی هم خواب ورله په کار
زهره اووې آیا نورې څه خبرې چېرته نه شته
دا شمکور غوندي چینجی دی زموږ ده سره څه کار
سپوږمۍ هلته پرې رېغ وکړ چي دا دی د مځکې ستوری
تاسو ټول په شپه څرګند شئ هغه ورځ کښې نمودار
که خبر چیري په خوند شي دی د شپې د بیدارۍ هم
پورته ده له ثریا هم بیا دا خاوره پر اسرار
د ده غېږ کښې یوه داسي تجلٰی ده چي هغې کښې
په کښې ورک به د اسمان شي ثابت ستوری هم سیار

يو ناڅاپه فضا ډکه شوه له بانګ نه د اذان
هغه چيغه چي لړزيږي ترې نه زړه هم د کوهسار

## محبت

آ کافر وي نه غازي وي چي له ميني سر کړي زار
نه ترکي نه عربي وي د مين زيست ورو‌زګار
لا هغه به بل يو څيز وي محبت نه دی هيڅکله
غزنوي غوندي بنده چي ايازي ته کړي تيار
چي جوهر د محبت څو کار کوونکي په کښې نه وي
توبه ډک وي د چل ول نه د حکمت علم هر کار
هسي رنګه آزادي او بې نيازي ده محبت کښې
پامته داره ده سلطان ته نه سلطان نه کوي ډار
زما فقر، سکندرۍ نه په څو- څو وارې بهتر دی
آدم ګر دی يو د بل دی آئينه جوړول کار

## د ستورو پيغام

دا تيارې د فضاګانو نه شي ما هيڅ ويرولای
په خمير کښې مي اخښلې ده پاکي د رخشاني

مسافره! د شپې تلونکيه خپله شه د ځان څراغ ته
له خپل داغ نه د ځيګر دي خپله شپه کړه نوراني

## د جاوېد په نوم پيغام

### ((لندن ته د هغه د خپل لاس ليکلي اولنی خط ليک راتللو په موقع))

په هېواد د عاشقۍ کښې ځان له خپل مقام پيدا کړه
خپل ماښام سحر کړه نوی، زمانه نوې پيدا کړه
که زړګی فطرت شناس هم چيري تا لره خدای درکړي
د ګلاب او ريدي ګل له خاموشۍ کلام پيدا کړه
فيرنګيان ښيښه ګران دي، چې احسان يې پورته نه کړې
له هندي کودنړو ځان له ته مينا او جام پيدا کړه
په مثال ښاخ د انګور يم خپل غزل زما مېوه ده
ته زما له دې مېوې نه شراب لاله فام پيدا کړه
اميري زما لار نه ده، که څه ده هم فقيري ده
خودي خپله خرڅه نه کړې غريبي کښې نام پيدا کړه

# فلسفه او مذهب

دغه لمر وایه څه شیز دی او څه شیز دا اسمان بر؟
نه یم پوی په تسلسل زه د مابنام او د سحر
چي زه یم په خپل وطن کښې که نا یمه مسافر؟
په لیدو- لیدو وېرېږم چي زه وینم دشت او غر
د ژوندون د سفر راز مي له پردې نه شو ښېرون
له کوم ځایه را پیدا کړم یو خاوند د ښه نظر
بوعلي حیران دریان دی چي له کومه راغلم زه
رومي دی فکر اخستی چي به ځم په کوم ډګر
"تر څه حده ملګرتیا کړم د هر لاري لاروی
شه حرام که ما تر اوسه پېژندلی دی رهبر"

# د یورپ نه یو خط

موږ ولد له محسوساتو، د ساحل یو خریدار
او رومي لکه دریاب دی پُر خطره پُر اسرار
د شوق هغه قافله کښې ته هم مل یې اې اقباله!
دی د کومي قافلې چي دُرومي هسي سالار
وایه ده نن زمانې ته رالېږلی کوم پیغام دی؟
وایي دا چي بل څراغ رومي د لاري د احرار

# ځواب

لکه خره چې خوري اوربشې خوړل مه کوه دا شان
د هوسو په څېرې خوره ته په ختن کښې سره ګلان
چې وابنه خوري يا اوربشې عاقبت هغه قربان شي
هر هغه چې نور د حق خوري په معنا هغه قرآن شي

# د نپولين پر مزار

پو پټ راز يې دی تقدير د دې منډو د دنيا
د عمل په جوش پټ راز د تقدير شي هويدا
د کردار په جوش شمشير، د سکندر شولو ځرګند
د الوند غر هم په تاؤ، چې اوبه شولو د چا
د عمل په جوش لښکر د تېمو شو لوی سيلاب
لوړ ژور دی وايه څه؟ د سيلاب په مخکښې لا
صف د جنګ کښې مومنان، چې نعره کړي د تکبير
د عمل په جوش آواز ترې نه جوړ شي د مولا
دوه ساګانې يا يوه، دې عمل لره فرصت
دوو ساګانو په عوض، شپې اوږدی د لحد بيا
عاقبت زموږ منزل د خاموشه خلګو ځای
په ګنبد کښې د اسمان هم نن جوړه کړه غوغا

# مسولیني

نوی فکر، عمل څه دی؟ دی یو ذوق د انقلاب
نوی فکر، عمل څه دی؟ په یو قام وخت د شباب
نوي فکر او عمل کښې معجزې وي د ژوندون
نوي فکر د عمل ته جوړ شي کانی لعلِ ناب
ستره رومه! زړګی ستا شو که پوهېږې په بل شان
دا چې زه څه وینم ربه! وي به ویښه که په خواب
د زړو خلګو په سترګو کښې د ژوند رڼا ښکارېږي
د زلمو سینه کښې ستا د آرزو سوی دی تاب
دا ګرمي د محبت او دا اظهار، دا ارزوګانې
د ګلونو وخت کښې ګل به څنګه پټ شپ په حجاب
له نغمو ځنې د شوق شوې فضاګانې ستا معمورې
ږغوونکې د فطرت ته، منتظر دی ستا رباب
دا د چا د نظر فیض دی؟ کرامت دغه د چا دی؟
آ- نظر یې چې په شان د پلوشو دی د آفتاب

# سوال

یو خودداره غریب داسي رنګ وینا کړله خپل خدای ته
نه شم زه ګیلې کولای ستا له دړد د فقیرۍ

مګر پوه مي کړه لږ دا هم فرشتې په اجازت ستا
ورکوي سپکو سرو ته دغه لويې اميرۍ؟

## د پنجاب کاشتکار ته

آ یا ته د خپل ژوندون په راز پوهېږې؟
چي په خوا نه خړو خاورو کښې رغېږې
هم په دې خاوره کښې پټ شولو ستا اور
اذان اوشه د سحر ويښ شه اوس نور
څو په مځکه که دی رزق د آدم
دی خالي آبِ حيات نه دا تورتم
زمانې ورله روپۍ دي کوټه کړې
چا چي خپله خودي نه ده کر کړې
بتان مات کړه د خيلونو قبيلو
بېړۍ ماتې د رسمونو کړه زړو
هم دغه دی دين محکم د بري باب
پرې دنيا کښې چي توحيد شي بې حجاب
دانه وکره د زړه د تن په خاوره
حاصل خېزه دا دانه ده زما واوره

# نادرشاه افغان

له حضور د حق یې راوړې څو تابانه مرغلرې
هغې وریځ چې رګ د ګل نه جوړوي تار د نفس
په منځ لار کښې چې جنت مې ولېدلو شوم بې تابه
زړه مې وغوښت په دې ځای کښې ودرېږم په هوس
له جنت دا آواز راغی منتظره دي و تاته
د هیرات او د کابل هم د غزني سبزه نورس

د نادر د سترګو اوښکې د لاله په داغ شینده ته
په دا شان چې دغه اور یې بیا دوبار مه مړ کوه ته

# د خوشحال خان[1] وصیت

د ملت په یو وحدت کښې قبایل دی ورک کړي ځان
چې پرې نوم د افغانیانو په دنیا کښې دی بلند
زه په هغو تور زنانو شاه زلمو باندي مین یم
اچوي چې کوم په ستورو د اسمان باندي کمند

[1] خوشحال خان خټک د پښتو ژبې نامتو وطن دوست شاعر ؤ چا چې د مغلو څخه د افغانستان د خپلواکۍ دپاره د پښتنو قبایلو یو جمعیت جوړ کړی ؤ، په قبایلو کې یواځې افریدیو تر پایه د ده سره ملګري وپاله، د ده داسې په سلو نظمونو انګریزي ژباړه په ۱۸٦۲ء کې د لندن څخه خپره سوې ده.

له مغل ځنې هيڅکله لاندې نه دی په هيڅ څيز کښې
دا د غرونو نازولي چې په غرونو کښې کړي ژوند
اې ملګريه! وبه کړمه تا ته زه د زړه خبره
خوشحال خان هغه مدفن کړو خپل ځان لره پسند
چې سيلۍ د غرونو هلته زما لور ته راوړای نه شي
د مغل شهسوارانو دوړې پښو نه د سمند

# د تاتاري خوب

شوکماران چېرته پيران او عالمان شو
چېرته شو بچي غټ سترګی د ترسا
د ملت او دين څادر پاره- پاره شو
شوه ريښې- ريښې د ملک او قام قبا
دی ايمان زما قايم خو هسي نه چې
په خوړلو د لمبې شي خس لګيا
د هوا تندو څپو کښې دا راګيره
موتي خاوره سمرقند د بخارا
ګير چاپېره چې له ځان نظر کومه[1]

(۱) د فارسي شعر الفاظ داسې دي: "بګردا ګرد خود چندايکه بينم، بلا انګشتري و من نګينم معلومه نه ده، چې دا د چا شعر دی، ګمان دا دی چې نصيرالدين طوسي په "شرح اشارت" کې نکل کړی دی.

بلاګوټي ځان غمی محسوسومه
یو ناګاه د سمرقند خاک په لړزان شه
د تېمور له قبره پورته شو یو نور
په سپین والي کښې سرخي یې د شفق وه
رږغ یې وکړو چې زه روح یم د تیمور
قلابند که شاه زلمي مي د تاتار شول
د الله تقدیر هرګز نه دی محصور
تقاضا د ژوندانه آ یا هم دا ده
تورانی د توراني دي وي تربور؟
خودي وسوځوه ورکړه بل یو تاب
دې جهان له ورکړه بل یو انقلاب

# حال او مقام

زړګی چې وي بیدار او هم ژوندی نو به ورو- ورو
بنده ته وربخښي نظر لرونکي نور چشمان
احوال او مقاماتو باندي هر څه دي موقوف
بدل هره لحظه وي د سالک زمان مکان
لفظونو په معنو کښې فرق نه شته خو بیا هم
اذان د ملا یو څیز، د غازي دی بل اذان
دې یکې یو فضا کښې که کوي دواړه الوت
جهان د قجیر بیل دی د شاهین دی بیل جهان

# ابوالعلا معري(۱)

وايي دا چي معري به کله غوښه نه خوړله
تېرول به په مېوو او سبزو يې خپل اوقات
يو اشنايې وريت تنذرى يوه ورځ ور ولېږلو
وېل کېداى شي په دې چل يې زه کړم غوښې ته رامات
دا خوراک تر وتازه چي په نظر د معري شو
داسې وويل ليکونکي د غفران(۲) او لزومات(۳)
اې مرغيه! خوراکيه لږ خو دا وښيه ما ته
کومه ستا هغه ګنا ده چي يې دا دى مکافات
افسوس بيا هم سل افسوسه چي دا ته ولې باز نه شوې
تا ونه ليدل په سترګو فطرت څه کړي اشارات
د تقدير د قاضي ګوره له ازل نه دا فتوىٰ ده
د ګناه د کمزورتيا له سزا مرګ د مفاجات

# سېنما

چي بتان په کښې جوړېږي هم خرڅېږي برملا
دا صنعت د آذري دى که نه دا ده سېنما
آ- صنعت نه ؤ هيڅ کله طريقه د کافرۍ ده
دا صنعت نه دى هيڅکله د جادو ده مشعولا
آ- د تېرې زمانې د ملتونو يو مذهب ؤ
سېنما سوداګري ده که يې ګوري نن سبا

هغه خاوره د دنیا ده دغه خاوره د دوزخ ده
بتخانه هغه د خاورو د ایرو بتخانه دا

## د پنجاب پیر زادګانو ته

زه د شېخ مجدد ؒ قبر ته حاضر شوم یوه ورځ
چې پر مځکه د دې خاورې ورېدل هر وخت انوار
د دې خاورو له ذرو نه شرمنده دي واړه ستوري
په دې خاورو کښې پټ پروت دی چې خاوند ؤ د اسرار
چې ګردن یې کښته شوی جهانګیر په وړاندي نه ؤ
چې د ده د ګرمې ساه نه ګرمي مونتی هر احرار
هغه هند کښې نګهبان چې د ملت د سرمایې دی
ان په وخت چې پاک الله دی ګرزولی خبردار
عرض مې وکړ چې و ما ته فقیري دي وبخښل شي
زما کسي خو بینا دي ولاکن نه دي بیدار
دا آواز راغی چې بس نور سلسله د فقر بند شوه
خاوندان د نظر ملک نه د پنجاب شولو بېزار
ټیکاوېه د عارف نه ده هغه سیمه چې هغې کښې
په کوپړۍ د فقر جګه چې شمله وي د ستار
ولولې د حق باقي وې په کوپړو د فقیرانو
دی شملو کښې اوس نشې دي خدمتونه د سرکار

# سیاست

په دې لوبه کښې لازم ده چې په نخښه مرتبې شي
د لوبغاړي عنایت دی ته یې سوور زه پیاده
اې بې کسه پلیه ته هم یوه ګونټه یې بېقدره
د سواره نه هم ده پټه د لوبغاړي اراده

# فقر

دی، یو فقر چې په خپله پکښې ښکار جوړ شي ښکاري
دی، یو فقر چې رازونه د شاهۍ څرګندوي
دی، یو فـقـر چې یې خلګ خوراکي کړل هم زړه سترې
دی یو فقر چې یې خاوره د اکسیر صفت لري
دی یو فقر شبیري ده، په دې فقر کښې میري ده
او میراث د مسلمان هم سرمایه ده شبیري

# خودي

په عوض د سرو او سپینو چې خودي خپله ورنه کړې
چې شغله خپله بدله پام کوه په شرر نه کړې
دا ویلي فردوسي دی چې بینا یې وو چشمان
په رنجو د ده دي سترګې د همه عجم روښان

د روپو دپاره ګوره تند بدخویه چي ته نه شې
وایه ورکې دي روپۍ شي خو په ځان چي پاتې ته شې

## جدایي

لمر ته ګوره زرزري تار نه لګیا دی
څادر ووودي دنیاګۍ له د انوار
ته به وایې دا عالم مست او خاموش دی
د هر شي په نصیب شوی دی دیدار
دریابونه، غرونه، ستوري که سپوږمۍ ده
بې صبرۍ فراق نه څه وي خبردار
ما سره د بېلتانه ښایي غمونه
ده اشنا چي دغه خاوره د بېلتونه!

## خانقاه

اشارې دي که رمزونه، موزون نه دي دې دوران له
شعر نه شم جوړولای زه په شان د شاعرانو
شول رخصت هغه ویل چي به یې "قم باذن الله شه
زیارتونه دي نیولي منجاور یا ګورکنانو

# د ابلیس عرض داښت

کړه ابلیس خبره داسې خداوند د کل جهان ته
د آدم د موټې خاورې، سور اور جوړ شو هیبتناک
په روح خوار، په بدن خورب، ثقه ناک، پټ په جامه دی
دی په زړه باندې مړګونی دی یې عقل پوخ چالاک
د مشرق په شریعت کښې چې ناپاک کوم شی ګڼل شي
د مغرب عالمان واړه پرې فتویٰ کړي چې دی پاک
تا ته دا معلومه نه ده چې حوران د جنت واړه
د جنت د ورانېدلو په سودا کښې دی غمناک
د جمهور ابلیسان واړه مشران د سیاست دي
ضرورت ما ته نور نه شته چت نه لاندې د افلاک

# وینه

که شته وینه په بدن کښې بیا نه خوف شته نه هراس
که شته وینه په بدن کښې نو زړګی شته بې وسواس
بېش بها پنګه دا چا له چې په لاس ورشي بیا هغه
نه په سپینو کوي مینه، نه یې غم وي د افلاس

# پرواز

یوه ورځ ونې دا هسي د صحرا مارغه ته وویل
د رنګ بوی د غمکدی دی په ستم باندي بنیاد
بال و پر که چیري ما ته رابخښلی پاک خاوند وای
نو تازه له دې نه زیات به دا عالم وای د ایجاد
ښه ځواب ونې له ورکړ د صحرا مارغه دا هسي
غضب دا چي تا ته عدل ښکاره شوی دی بېداد
په پرواز کښې چي کوم خوند دی دغه حق د هغوی نه دی
له قبضې نه چي د خاورو یې وجود نه وي آزاد

# د مکتب شیخ ته

د مکتب د شیخ مثال د یو معمار دی
لوی هنر یې دی بس روحِ انساني
ستا دپاره دا نکته ده دلپذیره
چي ویلې ده حکیمِ قاآني
"د لمر مخې ته دېوال مه وهه پام کړه
خپل انګړ که چیري غواړې نوراني"

# فلسفي

وېښته يې لوی ؤ خو جرات غیرت يې هيڅ نه لره
حکيم د راز د محبت نه بې نصيب پاتې شو
څو که فضا کښې قجير وګرځېد د باز په ډول
د ژوندي ښکار له خوږ لذت نه بې نصيب پاتې شو

# شاهين

وکړه ما د خاورو له هغې اډانې ډډه
نوم چېرته چي د رزق دی په تياره د خوړلو
زه ځان له بيابان کښې په خلوت کښې ځکه خوښ يم
فطرت مي له ازله د راهب ورسېدلو
نه باد د پسرلي وي، نه ګلچين وي نه بلبل
نه غم لرمه زه د عاشقانو د بدلو
لازم دی د باغونو چمنونو نه پرهېز
لري چي اداګانې دوی د زړونو د راکښلو
غازي غوندي چي کله شاه زلمی وکړي ګذار
هوا د بيابان يې کړي جوګه د لګېدلو
زه وړی هرګز نه يم د کور کوړو او کوترو
زاهد غوندي د باز وي طريقه د ژوند کولو

غوټه کښې اوړېدل په شا او بيا غوټه کېدل
بانه مي لټولای دا د وينې تودولو
مشرق دی که مغرب دی، دا دنيا ده د زرکانو
څو کچه شين اسمان زما دی ځای د ګرځېدلو
زه يم لکه درويش په دنياګۍ کښې د مارغانو
شاهين يم غم مي نه شته هيڅ د ځالې جوړولو

## باغي مريد

ګوره موږ کره د خاورو يو ډيوه قدر هم نه شته
بل خوا کور د پير صاحب دی په بجلۍ باندي روښان
که د کلي که د ښار دي، مسلمان همه ساده دي
د کعبې له بامبړانو دوی جوړ کړي دي بتان
نذرانه نه ده دا سود دی، د حرم پيران يې اخلي
د فريب مکر خرقو کښې دي نغښتلي ښياګان
په ميراث يې رسېدلې د پيرۍ دغه ګدۍ ده
د بازانو په ځايونو قابض شوي دي کارغان

## د هارون وروستی نصيحت

زکندن کښې هارون وويل خپل زوی ته
په دې لار به کله ته هم شې روان

فرشته د مرګ کافر لیدلی نه شي
ولې نه دی مسلمان ځنې پنهان

## د نفسیاتو ماهر ته

که جرات لرې نو تېر شه د افکارو له دنیا نه
د خودۍ دریاب کښې پټې دي لا پاتې جزیرې
نه شي هیڅ ښکاره کېدلای د دې پټ قُلزوم رازونه
د کلیمع په ګذار څو چې ته دغه ونه څیرې

## یورپ

((له نطشې ماخوذ شوی))

سو کښې ناست دي له مودو نه د یهودو سودخواران
ګیدړتوب مخکښې د دوی چې ټینګېدای نه شي پړانګان
خود په خپله به راپرېوزي لکه وي پخه مېوه چې
په ځولۍ کښې د چا ګورئ چې پرېوځي فیرنګیان

# د افکارو ازادي

له پرېوتي فطرت خپل نه چي لايق د آلوت نه دی
خود انجام د دی بې کاره مرغوکي دی پرېوتل
ځای د ناستې د جبريل هم ګوره هره سينه نه ده
کار د هر يو فکر نه دی د جنت مارغان نيول
هغه قام لره شوخي د اندېښنې وي خطرناکه
چي افراد د کوم يو قام وي بې مهاره ګرځېدل
خدا داد فکر نه څو که زمانه ده نن روښانه
دا د فکر آزادي ده د ابليس ښايلی چل

# زمری او خچر

## ماخوذ له جرمن نه(((

### زمری

ته د دښت بيابان ټولو اوسېدونکو نه يې ځان له
پلار نيکه دي وايه څوک دي او د کوم قام نه يې ته؟

### خچر

حضور تا زما ماما هم جوړې نه دی پېژندلی
د شاهي اصطبل فخر چي هوا په شان کړي تله

# میږی او عقاب

## میږی

زه پایمال خوار او خسته یم هم دږد مند
ستا مقام په څه له ستورو دی بلند؟

## عقاب

ته خپل رزق لټوې په منځ د خاورو کښې د راه
اسمانونه نهه واړه نه راځي مي په نګاه

قطعات غائب؟؟؟؟دو قطعات

# ضربِ کلیم

## ژباړه

## د موجوده وخت خلاف د جنگ اعلان

شېرمحمد مینوش

آزاده طبعه چي وي په يو ځای نه ټيکاويږي
شوقي کړه د سيلونو ځان په شاني د نسيم!
د کانې نه د لار دي چيني وباسه زرګونه
ګزار کړه د خودی په کمال ضرب د کليم[ع]

## فهرست

شمیر سرلیک مخ
۲۱۸..د موجوده وخت خلاف د جنګ اعلان ۵۱۴
۲۱۹..د نواب حمیدالله خان «والي بهوپال په خدمت کښې» ۵۲۷
۲۲۰..د کتاب لوستونکیو ته ۵۲۷
۲۲۱..تمهید ۵۲۸
۲۲۲..رومبۍ برخه اسلام او مسلمان ۵۲۹
۲۲۳..سهار ۵۳۱
۲۲۴..لااله الاالله(ج) ۵۳۱
۲۲۵..د تقدیر رضا ۵۳۲
۲۲۶..معراج ۵۳۲
۲۲۷..د یوه منطقي سیدزاده په نامه ۵۳۳
۲۲۸..مځکه او اسمان ۵۳۴
۲۲۹..د مسلمان زوال ۵۳۵
۲۳۰..علم او عشق ۵۳۵
۲۳۱..اجتهاد ۵۳۶
۲۳۲..شکر او شکایت ۵۳۷
۲۳۳..ذکر او فکر ۵۳۷
۲۳۴..د حرم مُلا ۵۳۸
۲۳۵..تقدیر ۵۳۸
۲۳۶..توحید ۵۳۹

۲۳۷..علم او دین ۵۳۹
۲۳۸..د هند مسلمان ۵۴۰
۲۳۹..د توري د آزادۍ په اعلان ۵۴۰
۲۴۰..غزا (جهاد) ۵۴۱
۲۴۱..قوت او دین ۵۴۲
۲۴۲..ابدي ژوند ۵۴۲
۲۴۳..فقیري او بادشاهي ۵۴۳
۲۴۴..اسلام ۵۴۳
۲۴۵..سلطان ۵۴۴
۲۴۶..صوفي ته ۵۴۵
۲۴۷..یو یورپ وهلي ته ۵۴۵
۲۴۸..تصوف ۵۴۶
۲۴۹..هندي اسلام ۵۴۶
۲۵۰..غزل ۵۴۷
۲۵۱..دنیا ۵۴۸
۲۵۲..لمونځ ۵۴۸
۲۵۳..وحي ۵۴۹
۲۵۴..شکست ۵۴۹
۲۵۵..عقل او زړه ۵۵۰
۲۵۶..د عمل مستي ۵۵۰
۲۵۷..قبر ۵۵۱

۲۵۸..د قلندر پېژندنه ۵۵۱
۲۵۹..فلسفه ۵۵۱
۲٦۰..نېکان ځوانان ۵۵۲
۲٦۱..کافر او مومن ۵۵۳
۲٦۲..برحق مهدي ۵۵۳
۲٦۳..مومن((دنیا کښې)) ۵۵۴
۲٦۴..جنت کښې ۵۵۴
۲٦۵..محمدعلي باب ۵۵۴
۲٦٦..تقدیر(ابلیس او یزدان) ۵۵۵
۲٦۷..یزادن((فرشتو ته یې وکتل)) ۵۵٦
۲٦۸..اې د محمد ص روح ۵۵٦
۲٦۹..اسلامي مدنیت ۵۵٦
۲۷۰..امامت ۵۵۷
۲۷۱..فقیري او راهبي ۵۵۸
۲۷۲..غزل ۵۵۸
۲۷۳..تسلیم او رضا ۵۵۹
۲۷۴..د توحید نکته ۵۵۹
۲۷۵..الهام او آزادي ۵٦۰
۲۷٦..ځان او تن ۵٦۱
۲۷۷..لاهور او کراچۍ ۵٦۱
۲۷۸..نبوت ۵٦۱

۲۷۹..آدم ۵٦۲
۲۸۰..مکه او جنیوا ۵٦۲
۲۸۱..اې پیره د حرم ۵٦۳
۲۸۲..مهدي ۵٦۳
۲۸۳..مسلمان ځوان ۵٦۴
۲۸۴..پنجابی مسلمان ۵٦۵
۲۸۵..آزادي ۵٦۵
۲۸٦..په یورپ کښې د اسلام تبلیغ ۵٦٦
۲۸۷..لااَوٗ اِلَّا ۵٦٦
۲۸۸..د عربو امیران ۵٦۷
۲۸۹..د خدای حکمونه ۵٦۷
۲۹۰..مرګ ۵٦۸
۲۹۱..قُمْ بِاِذْنِ الله ۵٦۸
۲۹۲..دویمه برخه ۵٦۸
۲۹۳..مقصود "سپینوزا - افلاطون ۵۷۱
۲۹۴..د حاضرې زمانې انسان ۵۷۱
۲۹۵..د شرق قامونه ۵۷۲
۲۹٦..آګاهي ۵۷۲
۲۹۷..د شرق مصلحان ۵۷۲
۲۹۸..غربي تهذیب ۵۷۳
۲۹۹..ظاهري اسرار ۵۷۳

۳۰۰..د فتح علیخان ټیپو سلطان وصیت ۵۷۴
۳۰۱..غزل ۵۷۴
۳۰۲..بیداري ۵۷۵
۳۰۳..د خودۍ تربیت ۵۷۵
۳۰۴..د فکر آزادي ۵۷٦
۳۰۵..د خودۍ ژوندون ۵۷٦
۳۰٦..حکمت ۵۷۷
۳۰۷..هندي مکتب ۵۷۷
۳۰۸..تربیت ۵۷۸
۳۰۹..ښه او بد ۵۷۹
۳۱۰..د خودۍ مرګ ۵۷۹
۳۱۱..عزیز مېلمه ۵۷۹
۳۱۲..حاضره زمانه ۵۸۰
۳۱۳..طالبِ علم ۵۸۰
۳۱۴..امتحان ۵۸۱
۳۱۵..مدرسه ۵۸۱
۳۱٦..حکیم ننټیشا ۵۸۲
۳۱۷..استادان ۵۸۲
۳۱۸..غزل ۵۸۲
۳۱۹..دین او تعلیم ۵۸۳
۳۲۰..جاوېد ته ۵۸۳

| | |
|---|---|
| ۳۲۱..درېيمه برخه( ښځه) | ۵۸۷ |
| ۳۲۲..د يورپ سړی | ۵۹۱ |
| ۳۲۳..يو سوال | ۵۹۱ |
| ۳۲۴..پړده | ۵۹۱ |
| ۳۲۵..خلوت | ۵۹۲ |
| ۳۲۶..ښځه | ۵۹۲ |
| ۳۲۷..د ښځو آزادي | ۵۹۳ |
| ۳۲۸..د ښځې حفاظت | ۵۹۳ |
| ۳۲۹..ښځه او تعليم | ۵۹۴ |
| ۳۳۰..ښځه | ۵۹۴ |
| ۳۳۱..څلورمه برخه( ادبيات او فنونِ لطيفه) | ۵۹۵ |
| ۳۳۲..دين او هنر | ۵۹۹ |
| ۳۳۳..تخليق | ۵۹۹ |
| ۳۳۴..لېونتوب | ۶۰۰ |
| ۳۳۵..خپل شعرونه | ۶۰۰ |
| ۳۳۶..د پېرس جمات | ۶۰۰ |
| ۳۳۷..ادبيات | ۶۰۱ |
| ۳۳۸..نظر | ۶۰۱ |
| ۳۳۹..د قوت الاسلام جمات | ۶۰۲ |
| ۳۴۰..تياتر (تهيټر) | ۶۰۳ |
| ۳۴۱..د اميد پلوشې | ۶۰۳ |

۳۴۲. . امید ٦۰۵
۳۴۳. . د شوق نظر ٦۰٦
۳۴۴. . هنر مندو ته ٦۰۷
۳۴۵. . غزل ٦۰۷
۳۴٦. . وجود ٦۰۸
۳۴۷. . سرود ٦۰۹
۳۴۸. . نسیم او شبنم ٦۰۹
۳۴۹. . د مصر اهرام ٦۱۰
۳۵۰. . د هنر مخلوقات ٦۱۱
۳۵۱. . اقبال ٦۱۱
۳۵۲. . فنونِ لطیفه ٦۱۱
۳۵۳. . ((شاعري، مصوري، موسیقي)) ٦۱۲
۳۵۴. . د باغ سحر ٦۱۲
۳۵۵. . خاقاني ٦۱۳
۳۵٦. . رومي رح ٦۱۴
۳۵۷. . جدت ٦۱۴
۳۵۸. . مرزا بېدل ٦۱۴
۳۵۹. . جلال او جمال ٦۱۵
۳٦۰. . مصور ٦۱٦
۳٦۱. . حلال سرود ٦۱٦
۳٦۲. . حرام سرود ٦۱٦

| | |
|---|---|
| ۳٦۳..فواره | ٦۱۷ |
| ۳٦۴..شاعر | ٦۱۷ |
| ۳٦۵..د عجمو شعر | ٦۱۸ |
| ۳٦٦..د هند هنرمند | ٦۱۸ |
| ۳٦۷..کامل ځوان | ٦۱۹ |
| ۳٦۸..نوې دنیا | ٦۲۰ |
| ۳٦۹..د معنو ایجاد | ٦۲۰ |
| ۳۷۰..موسیقي | ٦۲۱ |
| ۳۷۱..د نظر ذوق | ٦۲۱ |
| ۳۷۲..شعر | ٦۲۱ |
| ۳۷۳..رقص او موسیقي | ٦۲۲ |
| ۳۷۴..زغم | ٦۲۲ |
| ۳۷۵..ګډا | ٦۲۲ |
| ۳۷٦..پنځمه برخه( د شرق او غرب سیاست) | ٦۲۳ |
| ۳۷۷..اشتراکیت | ٦۲۷ |
| ۳۷۸..د کارل مارکس آواز | ٦۲۷ |
| ۳۷۹..انقلاب | ٦۲۸ |
| ۳۸۰..خوشامنده | ٦۲۸ |
| ۳۸۱..منصبونه | ٦۲۸ |
| ۳۸۲..یورپ او یهود | ٦۲۹ |
| ۳۸۳..د غلامۍ نفسیات | ٦۲۹ |

| | |
|---|---|
| ۳۸۴..بولشويك روس | ٦٣٠ |
| ۳۸۵..نن صبا | ٦٣٠ |
| ۳۸٦..مشرق | ٦٣١ |
| ۳۸۷..د يورپ سياست | ٦٣١ |
| ۳۸۸..خواجګي | ٦٣٢ |
| ۳۸۹..د غلامانو دپاره | ٦٣٢ |
| ۳۹۰..د مصر خلګو ته | ٦٣٢ |
| ۳۹۱..ابي سينا (حبشه) | ٦٣٣ |
| ۳۹۲..د ابليس حکم خپلو سياسي ځامنو ته | ٦٣٣ |
| ۳۹۳..د شرق د قامونو جرګه | ٦٣۴ |
| ۳۹۴..دايمي باچهي | ٦٣۵ |
| ۳۹۵..جمهوريت | ٦٣۵ |
| ۳۹٦..يورپ او سوريا | ٦٣۵ |
| ۳۹۷..مسوليني | ٦٣٦ |
| ۳۹۸..ګيله | ٦٣۷ |
| ۳۹۹..انتداب | ٦٣۷ |
| ۴۰۰..بې دينه سياست | ٦٣۸ |
| ۴۰۱..د تهذيب لومه | ٦٣۸ |
| ۴۰۲..نصيحت | ٦٣۹ |
| ۴۰۳..يو سمندري ډاکو او سکندر | ٦۴۰ |
| ۴۰۴..قاميېزه جرګه (جمعيت الاقوام) | ٦۴۰ |

۴۰۵. .شام او فلسطین ٦۴۱
۴۰٦. .سیاسي پېشوا ٦۴۱
۴۰۷. .د غلامۍ نفسیات ٦۴۲
۴۰۸. .د غلامانو لمونځ ٦۴۲
۴۰۹. .د فلسطین عربو ته ٦۴۳
۴۱۰. .شرق او غرب ٦۴۳
۴۱۱. .د حاکمۍ نفسیات ٦۴۴
۴۱۲. .شپږمه برخه د محراب ګل پښتون خیالات ٦۴۴

## د نواب حمیدالله خان

## ((والي بهوپال په خدمت کښې))

دنیا دغه ایشیا سره څه وکړه کوي ګوره
هیڅ چا نه دی ویلی چیري سم دغه داستان
یم پوهه چي بینا یې چي مي هرڅه پر زړګي دي
زړګي ته دي ښکاره دي هم دي فکر ته عیان
درکومه یې زه واخله دا مي پنګه ده بهادره!
شاید چي ګل دي لاس کښې وي د بوټي نه شادان

## د کتاب لوستونکیو ته

چي څو دي د ژوندون په حقایقو نظر نه ؤ
چرې به دابنیبنه دي مقابل نه شي د سنګ!
دا ځای د زور د مټو او د ښه محکم ګزار دی
اواز به په میدان کښې د جنګ نه غواړي د چنګ
ده پنګه د ژوندون دي د زړګي او ځیګر وینه
فطرت وینه ترنګ دی مه ګڼه یې جلترنګ

# تمهید

(۱)

بیداره ده خودئ نه په حرم او نه په دیر کښې
لا روح دی د ایشیا د دې قومونو ترياکي
ممکن نه دی خلاصی دي د مرګي د غم نه چرې
په دې چي ته خودئ وته بدن وایې خاکي
اسانې که د مځکې دی سختې په تا نه که
نو خوشي د مستئ دي د فکرونو افلاکي
پټولای زمانه خپل حوادث نه شي هیڅکله
حجاب يې ستا د زړه او د نظر ده ناپاکي
عطا يې د ایشیا دغه خشاک کړو ځکه ما ته
چي ده مي په لمبو کښې سرکښي او بیباکي

(۲)

اقباله! دې ګناه دي مجلسونه جوړول
خو کم د زمانې په شاني اخلې ته پیوند
هغه غریبانان چي وو خوږونکي د قاشقاشو
اثر دي د شعرونو کړه جذبات ورله بلند
دي څنګه په فضا کښې الوتو ته بې قراره
انګړ کښې چي د کور کوم وزر ماتي وو خورسند
سزا دي د محرومي شوه د نوا نه د سحر
له ځایه هم د شوق او د سرور او د نظر

# لومړی برخه

# اسلام او مسلمان

# سهار

هم دا سهار صبا چي کله نن کله صبا شي
خبر دی ترې نه څوک چي دا له کومي نه پیدا شي
مګر هغه سهار چي دا وجود ترې نه وېرېږي
د چیغې د تکبیره د مومن نه هویدا شي

# لا اله الا اللّٰه[1]

د خودۍ رمز پنهان لااله الا الله
د خودۍ د تېغ فسان لااله الا الله
په تلاش کښې د خلیل[ع]، بیا ده ځکه زمانه
بتخانه شوله جهان لااله الا الله
چي قبوله کړله تا، دغه پنګه د غرور
دی فرېب د سود او زیان، لااله الا الله
خپلولۍ د زمانې، دغه مال دغه دولت
د وهمونو دي بتان، لااله الا الله

(1) دبهوپال په شیش محل کښې لیکل شوی دی.

عقل څنګه واچاوه، د زمان، مکان زنار
نه زمان شته، نه مکان، لا اله الا الله
د موسم نه ده پابند، هیڅ چرې دغه نغمه
که بهار وي که خزان، لا اله الا الله
په تخرګونو کښې د قام، پټ دننه دي بتان
ما ته حکم د اذان لا اله الا الله

## د تقدیر رضا

هغه قرآن کښې حکم د پرېښودو د دنیا شه
چې کښېناوه مومن يې د افلاکو پر سریر
رضا شوه د تقدیر ګوره عمل د هغې خلکو
د چا چې ارادو کښې ؤ د خدای هغه تقدیر
ښه ګوره چې ورو- ورو يې ناروا واړه روا کړه
چې څه قسم تباشي غلامۍ کښې دا ضمیر

## معراج

که خوند د الوتلو ورله جوش د مینې ورکه
شاید چې به ذره شمي و قمر کاندي تاراج

يارانو د چمن مقابله به د باز وشي
که دم چرګ محکم ؤ په سينې کښې د دراج
دی غشی مسلمان او ثريا د ده ټکۍ ده
د ځان د حجاب راز په حقيقت کښې دی معراج
که پوه په "والنجم" نه شوې ته څه تعجب دی!
لا ستا دغه قمر دی مد او جزر ته محتاج

# د يوه منطقي سيدزاده په نامه

که خودي دي چرې نه وای تباه شوې
نو مورید د برګسان به چرې نه وای
د هيکل صدف د درنه دی خالي
فلسفه يې يو طلسم دی خالي
محکميږي په څه شان زندګاني؟
او څه شان له شي خودي لا زماني
په تلاش کښې آدم هم دی د ثبات
په طلب کښې د قانون دی د حيات
د مومن اذان ده چيغه د آفاق
نمازختن د زمانې پرې شي اشراق
زه په اصل باندي يم سومناتي
مشران مي دی لاتي او مناتي

د سیدِ هاشمي یې ته اولاد
زه په خاوره باندي یمه هندوزاد
ده خمیر کښې مي اخښلې فلسفه
هم ږګونو د زړګي کښې زما ده
وي اقبال خو به بې شکه بې هنر
ولي هر رګ یې له دې ځنې خبر
ده دي یخه د جنون دغه لمبه
واوره ما نه نوراني یوه نکته
ده د عقل نتیجه بې حضوري
فلسفه د ژوندانه نه لري وي
د افکارو په نغمه کښې نه وي صوت
د عمل دپاره دی یقیني موت
زندګۍ لره بس دی ګڼ تقویم
دین دی راز د محمد او ابراهیم
د ارشاد د محمدص ومه پابند
په وینا د بوعلي نه شې خورسند
که دي سترګو کښې نظر چري وشي
غوره دی د بخارٰی ځنې قرشي*

---

* وروستي دوه شعرنه یې د حکیم خاقاني د "تحفة العراقین" څخه را خستي دي.

# مځکه او اسمان

ممکنه ده دا ته چې ورته تل وايې بهار
د نورو په نظر کښې به موسم وي د خزان
هر دم وي د حالاتو سلسله ګوره بدله
هوشیاره! فکر ونه کړې چرې د سود او زیان
شاید چې د یو بل جهان عالم یې ګڼې مځکه
دا ته چې ورته واې د دنیا خپلی اسمان

# د مسلمان زوال

منم شي زر به د حاجاتو اکتفا ګڼلی
خو نفع شته په فقیرۍ کښې توانګرۍ کښې نه ده
که شي ځوانان زما د قام چرې بیدار او زړور
قلندرۍ کښې ګټه شته سکندرۍ کښې نه ده
سبب څه بل څه دی په خپله پرې پوهېږې ته ښه
ستا ذلیلي څه مسلمانه! بې زرۍ کښې نه ده
په زمانې کښې که ظاهر چرې جوهر شو زما
په فقیرۍ کښې یې ده وجه سرورۍ کښې نه ده

# علم او عشق

ويل علم، راته مينه ګوره دی ديوانه پن
ويل مينې راته علم د ګمان او قياس دی فن
چي چينجی د کتاب نه شې ځان دي وساته د ظن
مينه واړه دی حضور د علم سراسر حجاب
دی په تپ د محبت سره ژوندون د کاينات
علم ويني تل صفات، مينه ويني عين ذات
عشق سکون دی هم ثبات، هم حيات دی هم ممات
ښه ظاهر دی علم سوال پټ يې مينه دی ځواب
دي د مينې معجزې فقيري، شاهي او دين
يو ادنٰی غلام د عشق دی مالک د تاج نګين
عشق مکان دی هم مکين هم زمان دی هم زمين
سراسر دی عشق يقين هم دی دا د ظفر باب
ده په دين د محبت د منزل مينه حرام
د طوفان شور دی حلال د ساحل مزه حرام
دې کښې تندر دی روا د حاصل ګټه حرام
علم ځوی دی د کتاب مينه مور ده د کتاب

# اجتهاد

ځوک به هند کښې حکمتونه د دين زده کاندي له کومه
نه مزه څه د عمل شته نه فکرونه شته عميق

په حلقه د شوق د علم کښې جرات د فکر نه شته
دی افسوس چي غلامي تقليد زوال دی د تحقيق
بدلوای به عمل نه شي تاويلونه د قرآن کړي
چي فقيان د حرم څومره بېنوا شو د توفيق
دې قرآن ته غلامان ځکه بېکاره کتاب وايي
چي په لار د غلامۍ باندي د دوی نه شي رفيق

# شکر او شکايت

بنده يمه ناپوهه خو بيا هم دي زه شاکر يم
چي دی مي د لاهوت دغه خلوت سره پيوند
يوه نوې ولوله مي ټولو زړونو لره ورکړه
له خوا نه د لاهور تر بخارا او سمرقند
اثر مي د وينا دی چي د مني په موسم کښې
مارغان دي دباغ ما سره بهار هسي خورسند
خو تا کړمه افسوس دی، زه پيدا هغه وطن کښې
چي دي په غلامۍ باندي بنديان يې رضا مند

# ذکر او فکر

واړه مقامونه د تلاش د هغه ځوان دي
په شان کښې چې نازل دی د چا علم الاسماء
مقام د ذکر ګوره د رومي عطار کمال دی
مقام دغه د فکر مقالې دی د سینا[✉]
مقام د فکر ګوره د زمان او مکان کچ دی
د ذکر دی مقام سبحان ربی الاعلیٰ

# د حرم مُلا

که خدای ته رسایي وشوله ستا څه تعجب دی
چې نه وینې په سترګو د آدم صحي مقام
لمانځه کښې دي جلال او نه جمال دی پاتې شوی
لمانځه لره اذان دي د سحر لري پیغام

# تقدیر

نااهلو ته حاصل کله طاقت شي په دنیا کښې
او خوار په زمانې کښې شي جوهر کله ذاتي

---

✉ شیخ ابو علي سینا

شاید چي چرته راز مي دی پټ پروت دغه عمل کښې
تقدیر چي د منطق ځنې دا ځان لري ساتي
خو دا دی حقیقت هغه هر څوک چي پرې واقف دی
ګڼي چي تاریخ د اموتونو صفاتي
ؤ تل يې د قامونو په عمل باندي نظر
د پرغې توري شان که هرې مخې ته اثر

# توحید

توحید چرې ژوندی موندی قوت ؤ په دنيا کښې
خو نن ده مسئله فقط د علم د کلام
روښانه چي يې نور دغه تياره د عمل نه کړه
نو خود نه دی واقف لا مسلمان په خپل مقام
ليدلی مي لښکر د دې سالاره د فوځونو
د توري د قل هو ځنې خالي دی هر نيام
ملا دی که فقيه هډو واقف څه په دې نه دی
وحدت چي د عمل نه وي وحدت د فکر خام
چي قام دی لا څه شی، څه امامت وي د قامونو
آګاه دی څه په دې د دوو رکعاتو دا امام

# علم او دین

د خپلې بتخانې شه هغه علم ابراهیم[ع]
الله[ج] چې که د زړه او د نظر چرې ند یم
یوه ده زمانه، یوه دنیا، یو مې ژوندون دی
کمی دی د نظر قصه د نوي او قدیم
چمن کښې تربیت د غوټۍ بیا کله کېدای شي
چې څاڅکي د دی پرخې سره مل نه وي نسیم
کمی د بصارت دی هغه علم چې یو نه که
د علم له رڼا سره نورونه د کلیم[ع]

# د هند مسلمان

هندو ورته په جار باندي غدار د وطن وایي
او وایي فیرنګی دي مسلمان ته ګداګر
او شرع د پنجاب د دې نبي د امتیانو
دا وایي چې مومن دی پخوانی هډو کافر
آواز به د حق کله د کوم لوري اوچتیږي
زړګی غریب مي تل دی په دې غم کښې کور وکر

# د توري د ازادۍ په اعلان

څه غور مسلمانه! چرې تا دی په دې کړی
چي څه شی دغه تېغ دی د فولادو جګردار
اوله مصرعه ده د هغه بیت په دې کښې پټ دی
د روزۍ د ازل نه د توحید واړه اسرار
مدام یې په تلاش کښې د مصرعې دویمي یمه
عطا دي تېغ د فقر کړي الله درته آبدار
چي لاس کښې د مومن دی دغه تېغ چرې راغلی
تورزن لکه خالد یا دی حیدر هسي کرار

# غزا(جهاد)

ده شېخ کړې فتوٰی دا زمانه ده د قلم
په نن زمان کښې زشته دی د توري څه اثر
مګر د دې خبرې نه خبر هډو شېخ نه دی
چي وعظ دی عبث دغه جومات کښې سراسر
نه توره نه ټوپک شته دی په لاس د مسلمان کښې
که وي نو چي د خوند د شهادت نه دی خبر
له مرګه د کافر څخه زړګی چي د چا رېږدي
دی مرګ د مسلمان دغه نامرده له ضرر

په کار ورله تعلیم دی د غزا د پرېښوولو
چي ورک مي د دنیا شي د خوبۍ پنجې خطر
دپاره د ساتنې د ابلیس د شوکتونو
که ځان هره وسله باندي یورپ څه برابر
د یار د کلیسا د شېخ نه دا کوو پوښتنه
دلې ده غزا شر ولي یورپ کښې نه دی شر؟
که بد په حقه نه ګڼې نو دا څه مناسب دی
مسلم سره حساب او له یورپ نه درګزر

# قوت او دین

د لاسه د چنګېز او سکندر دغه دنیا کښې
سل واره د انسان شو له جامه د حیا چاک
پیغام د امتونو د تاریخ ازلي دا دی
هوشیارو! د طاقت نشه یو شی دی خطرناک
د دغه طوفاني او آفتي سیلاب په مخکښې
نظر، علم، هنر، عقل تمام خس و خاشاک
قوت چي شه بې دین زهر قاتل ورته هیڅ نه دي
د دین چي شي خادم د دواړو زهر دی تریاک

# ابدي ژوند

صدف کښې د ژوندون دي خودي ځاځکی د نسيان دی
صدف نه دی صدف چي دغه ځاځکی ګهر نه که
يقين دی تربيت که دي ته سم د خودۍ اوکړې
دا مرګ دي په ژوندون هڅو بالکل څه اثر نه که

# فقيري او بادشاهي

فقير اوځي ميدان وته تل بې ساز و سامانه
ګزار وي ښه محکم چي وي زړګی چرې سليم
د ده د بېخوفۍ او زړورتيا د دغه جوشه
هر دم نوې قيصه ده د فرعون او د کليم[ع]
اې فقره غيرتي! جوړې دی دور دی راتلونکی
تباه دغه يورپ کړلو حرص د زر او سيم
مستۍ د محبت مي صبر واخيسته زما نه
غوټۍ به نه شي ګل بې د وږمو نه د نسيم

# اسلام

روح د اسلام دی حقيقت کښې نور او نار د خودۍ
نار د خودۍ دغه ژوندون لره دی نور او حضور

دغه تقویم دی د هر څیز هم یې باعث د نمود
څه شي؟ دا روح یې که فطرت ساتلی پټ دی ضرور
خیر دی که لفظ د اسلام سره یورپ کوي ضد
ځکه بل نوم د دغه دین دی ګورې فقر غیور

# سلطان✉

خبر دی څوک چي دي یې په زرګونو مقامونه
چي روح د دې قرآن دی په کوم فقر کښې عریان
خودۍ ته چي ظاهره چرې خپله قاهري شوه
دی دا هغه مقام چي په کښې فقر دی سلطان
په دې مقام کښې تول شي د مومن د طاقتونو
په فیض سره آدم دی د دې سوري د سبحان
دا جبر، قهر نه دی دا کمال د محبت دی
ممکن په جبر، قهر نه دی امن د جهان

په غم د غلامۍ کښې په دې باندي مبتلا شوې
چي نه شوې په رښتیا سره د فقر نګهبان
چي داغ یې د سجدو لکه سپوږمۍ په پړقېدول
انګرېز درنه اخستی هغه نور دی د ایمان

---

✉ په ریاض منزل (د سر راسن مسعود) په کور کښې په بهوپال کښې ولیکل شو

په فیض سره یې ته د دې شمس و قمر سیال وي
د هغه نور دي نه شته دی په ستورو کښې نښان

## صوفي ته

نظر کښې خو ده ستا دغه دنیا د معجزاتو
مګر زما نظر کښې ده دنیا د حادثاتو
منمه عجیبه دغه دنیا ده د خیالاتو
خو لا ده عجیبه د مرګ د ژوند د واقعاتو
بدله که دي فیض کړه د نظر څه تعجب دی
وهي درته نارې دغه دنیا د ممکناتو

## یو یورپ وهلي ته

(۱)

وجود دي تمامي یوه رڼا ده د یورپ
چې ته د هغې ملک د ا ستا کارو وې تعمیر
خو دا خاکي وجود دي دخودۍ ځنې خالي دی
دی تیکي ښه زري خو په کښې نه شته دی شمشیر

(۲)

ثابت دي په نظر کښې د الله نه دی وجود
ثابت زما نظر کښې هډو ستا نه دی وجود
وجود خو یو نمود دی د خودۍ د جوهرونو
د ځان کوه غم نه شته د جوهر کښې نمود

## تصوف✉

که علم د لاهوت دی که حکمت د ملکوت دی
د رنځ چې د حرم نه شه درمان نو دی عبث
سرور مراقبې د نیمې شپې دغه ذکرونه
که نه شه د خودۍ دي نګهبان نو دی عبث
که عقل لااله هډو وویل څه کیږي
چې زړه او نظر نه شي مسلمان نو دی عبث
که ګډې وډې وایمه حیران چې ورته نه شې!
سهار که دي پرې نه شولو روښان نو دی عبث

✉ په ریاض منزل د سرراس مسعود په کور بهوپال کښې ولیکل شو

# هندي اسلام

ملت وي د فکرونو په وحدت سره ملت
تباه چي کړي وحدت هغه الهام ګڼه الحاد
ساتنه د وحدت بې له طاقت د مهو نه شي
د عقل کوششونه په دې باب ګڼه برباد

قوت دي هغه مهو کښې لا نه شته دی اې ځوانه!
په غار کښې چرته څه کښېنه د خدای کوه تل یاد
خواري او غلامي، نااميدي د تمام عمر
چي دايې تصوف وي کړ اسلام هغه ايجاد
ده دلته اجازه چي د سجدې قدرې ملا ته
ناپوهه وايي دا، چي جوړ اسلام مي دی آزاد

# غزل

دغه مړ زړه دي زړه نه دی که ژوندی يې دوباره
فقط دا د زوړ مرض د امتونو ده چاره

دا چي غلی د دی بحر دا سکون دی که جادو دی
نه نهنګ شته نه طوفان نه نړېدلې کناره

ته د حاله د اسمان د دې ضمیر لا خبر نه یې
په تا باندي اثر نه که لا د ستوري اشاره

د سهار ادا مي ورکړه ستا د نلو دې ځنګل ته
وه بېتابه خاوره کښې مي یوه پټه شراره

دا د نن پرون دنیا به سمه هغه سړی ویني
چي روزي د کوم زلمي شوه زما شوخه نظاره

## دنیا

زه هم دغه رنګینه زمانه په سترګو وینم
قمر هغه دا ستوری هغه کاڼی دا نګین دی
زما د زړه د سترګو هم په دې فتوٰی عمل دی
چي دا مځکه دا غر هغه اسمان دی دغه سین دی
مګر حقه خبره نه شم هیڅکله پټولای
جهان بغیر له تا نه یو سراب غوندي آئین دی

# لمونځ

په بدله جامه کښې ګرځي په هره زمانه کښې
بوډا شوی دی آدم لا دی زلمی لات او منات
فقط خدای وته سجده چې دومره ګرانه ده پر تا باندي
دا به درکړي د سجدو لور وزرګولو نه نجات

# وحي ✉

دا عقل په خامۍ نه دی لایق د امامت
تباه شوه زندګي چې یې ګمان شو رهنما
غلطه دي جذبه د عمل، فکر دي بې نوره
ده ګرانه چې تیاره د زندګۍ دي شي رڼا
سپېڅلې غوټه نه شي د عمل د ښو او بدو
د ژوند که شرحه ونه کړله ژوند په خپله ستا

# شکست

که طبعه د صوفي لري ګرمي نه د غازیانو
بانه بې عمل جوړه کړه د میو د الست

✉ په ریاض منزل د سراراس مسعود کور په بهوپال کښې ولیکل شو

فقې د ښارېې مې راهبې وته مایل دی
د شرعې په میدان کښې دې جنګونه دست بدست
دا تېښته د ژوندون د کشالو نه ده ځوانانو
شکست که چرې دا نه وي نو بل څه وي شکست؟

## عقل او زړه

د عقل حکومت دی پرې خاکي دی که نوري
هر شی وینه په دام کښې بس نښتی دی د ده
جهان واړه غلام د ازلي جلال د ده دی
هر وختي په جګړه بس له ده سره وي زړه

## د عمل مستي

د حال قدرې مستي ده د صوفي په طریقه کښې
او شرعه د ملا ګڼه مستي فقط د قال
وینا ده د شاعر مړاوې بې خونده مړسپنه
نه وینې نه دې ویده دی یې بې خونده هسې خیال
هغه غازي زلمی نه وینم چرته کښې په سترګو
د جرس یې د عمل چې وي رګونو کښې کمال

# قبر

د ګور دغه دنيا مي معلوميږي خوښه نه شوه
چي ځومره دي، دې خاورو کښې بېتابه قلندر
په کښې خو خاموشي شته ده په شان د اسمانونو
د داغسي ارتوالي مګر نه لري اثر

# د قلندر پېژندنه

همېشه قلندر وايي په نره زمانې ته
چي کوم پله نېکان ځي نو ته هم ځه هغه لور ته
زما د انقلاب مقابله ته کواى نه شې
زما نه اوسه بچ ګورم تل د نظر زور ته
زه هيڅکله محتاجه د ماښکۍ نه د بيړۍ يم
که ته ختونکی رود يې درته وايمه ځه پور ته
دي چيغې د تکبير مي د مات کړي طلسمونه
ازمېښت وکړه که زه بيا که ته غاوره يې خپل زور ته
د شمس او قمر، ستورو محاسب دی قلندر
مرکب د زمانې نه دی راکب دی قلندر

# فلسفه

فکرونه د ځوانانو دا خفي دي که جلي دي
څه پټ د قلندر نه دي د سترګو له نظر نه
او پوهه په حالاتو د ي ښه يمه په دې وجه
اګاه له دغه لاري يمه ښه در و ګودر نه
دا نا چرې په دام کښې د الفاظو نه بنديږي
غواص چي صدف اخلي ۇ غرض يې د ګوهر نه
د عشق د لېونو څخه موندای شي هغه عقل
چي حال معلوموﻻی د شغلې شي د شرر نه
معنا که وه پېچې خو چي تصديق يې زړه کي وکړ
ده غوره په قيمت کښې د اصلي سوچه ګوهر نه
يقين کوه چي مړه ده يا يې وخت د ځکندن دی
چي ليک د فلسفې نه ۇ د وينې د ځيګر نه

# نېکان ځوانان

آزاد وي هغه ځوان چي يې ګزار وي ښه کاري
هغه نه چي د جنګ يې طريقه ده مکاري
په ختّه د آزاد کښې د ازل نه ده اخښلې
قباد د فقيرۍ سره يو ځای شهرياري

چي واخلي زمانه يې او افتاب ورځنې جوړ کړي
په خاورو کښې يې پروت هغه بڅرى دى ناري
وجود يې د بتانو د طواف ځنې آزاد دى
او ستا دي مومنان کافران واړه زناري

# کافر او مومن

په غاړه د درياب وويل خضر پرون ما ته
د زهرو د يورپ که لټوې چرې تاياق
د توري هسي پټه را سره يوه خبره
ښه تېزه ښه صيقل ده پورته پړقنده براق
چي ځان يې د دنيا که سراسر دغه کافر دى
او بس دغه مومن دى چي شو ورک په کښې آفاق

# برحق مهدي

په خپله جوړه کړې جبل خانه کښې واړه قيد دي
ثابت دي د ايشيا که د يورپ دغه سيار
شيخان دي د حرم که د ګرجې دغه پادريان دي
جدت يې د وينا شته نه جدت يې د کردار

چلونه يې تمام د سياست هغه زاړه دي
شاعر مي د خيالونو په نښتىٔ دى ګرفتار
جهان ته د مهدي هغه رښتنى ضرورت دى
چي وي يې زلزله دغه دنيا لره افکار

## مومن ((دنيا کښې)) *

مجلس کښې د يارانو د ريښمو هسي پوست وي
غزا کښې ورته ګوره وي محکم لکه فولاد
اسمان سره هميشه سر په سر مقابله کړي
له خاورې دى پيدا ولي بلکل ترې نه آزاد
نظر يې نه موښلي په چنچڼو په کونترو
مدام دى اسرافيل ؑ او جبرايل ؑ پسې صياد

## جنت کښې

که وايي فرشتې دغه مومن دى دلاوېز
نو وايي حوري دى خو دى بېشانه کم آميز

* د بهوپال په شيش محل کښې وليکل شو.

# محمدعلي باب

تقرير خو عالمانو ته بېشانه ښه د باب ؤ
خو وېل به يې غلط واړه اعراب د سمٰوات
موسکي چي عالمان په غلطۍ باندي د ده شو
ويل يې څه معلوم درته زما دي مقامات
آزاد شو بس زما د امامت په صدقه کښې
يا بند ؤ د اعرابو د قرآن دغه آيات

# تقدير(ابليس او يزدان)

## ابليس

آدم سره ځما څه دښمني نه وه اې خدايه!
دا پروت چي نن په دام کښې د امکان دی تردود
حضور کښې دي ممکن کله زما دغه انکار ؤ
هو! ستا په مشيت کښې مي نصيب نه وو سجود

## يزدان

شوې پوهه په دې مخکښې د انکار يا که وروستو؟

## ابليس

آخر يې تجلٰی چي دي کمال دی د وجود

### یزادن((فرشتو ته يې وکتل))

دليل ورته دا ښوولی د فطرت دغه پستۍ دي
چې وايي مشيت کښې دي زما نه وو سجود

چې نوم يې مجبوري دې آزادۍ خپلي له کښېښود
لمبو ته د خپل اور ګوره لوګی وايي مردود (*)

## اې د محمد ص روح

خوره دي روغه ډله د امت شوه په څه قسم
ځه ته وايه اوس دا چې ځي به چرته مسلمان؟
چې بحر د عربو د طوفان ځنې ناشنا شه
نو چرته به مي ځي پټ د سينې دغه طوفان
نه شته يې څه منزل نه قافله نه يې توښه شته
د دې غره او صحرا به چرته ځي دغه ساروان؟
که روح د محمد چرې ظاهر دغه اسرار کړل
څه وکړي د قرآن د آياتونو نګهبان

---

* ماخوذ د محی الدين عربي څخه.

# اسلامي مدنيت

راځه چي دي کړم پوهه څه ژوندون د مسلمان دی
د عقل دی پخوالی او کمال دی د جنون
په شان د دغه لمر يې وي ختنه پرېوتنه
په شان د زمانې يې مثل نه لري ژوندون
په کښې بې حيايي نه د حاضرې زمانې شته
په کښې نه د پخوا هسي قيصی شته نه افسون
بنياد يې دی قايم په ابدي حقيقتونو
ژوندون دی ګوره نه دی څه جادو د افلاطون
مزاج يې د ترکيب يو د جبريل ذوقِ جمال دی
نه طبعه د عجم، بل د عربو ګرم خون

# امامت

له ما نه دي پوښتلی حقيقت د امامت دی
عطا دي کړي الله ورته زما هسي اسرار
برحق امام به هغه سړی ستا د زمانې وي
چي تا کړي له موجود او د حاضر څخه بېزار
چي مخ درته د يار وښيي د مرګ په آيينه کښې
او کړي دغه ژوندون دي لا له دې څخه دشوار
د زيان په پوهولو چي که ګرمه درله وينه
د فقر په صيقل دي که د تيغ هسي آبدار

او هغه امامت دي دغه دين له تباهي ده
چي تا کړي مسلمانه! د شاهانو پرستار

## فقيري او راهبي

شايد چي لا څه بل څه ده دا ستا مسلماني
چي يو درته ښکاريږي فقيري او رهباني
بېزاره د سکون له راهبي نه فقيري ده
په دې چي سفينه ده تل د فقر طوفاني
غرض د فقيرئ اصلي نمود د روح او تن دی
ظهور يې د خودئ پوره کمال دی ايماني
د ده دغه وجود مدام صراف د کاينات دی
دی پوهه زه باقي يمه نور هرڅه دي فاني
ورک کړی چي دا فقر مسلمان دی ورته ګوره
شوه پنګه يې تباه سليماني هم سلماني

## غزل

ده پنګه د ژوندون دي بس د علم فن سرور
ده پنګه د ژوندون مي ناقراره زړه ضرور

کمال د اهلِ فکرو د منطق پېچي خبري
اعجاز د اهلِ ذکرو وي فرعون کليم او طور

د خير خبره تا ته ده ما کړې مسلمانه!
چي دم کښې دي ګرمي نه شته د روزې د تستور

پوره زما نه وشوه ګوره خيري مي ګرېوان دی
مه وايه ګډې وډې د داناوو په حضور

چرې به په دنيا باندي رسوا هغه قام نه شي
چي مينه وي زړوره د چا فقر يې غيور

## تسليم او رضا

د ونې هره څانګه دغه راز ښيي صفا
خبر دي بوټي وارَه د وسعت نه د فضا
د خاورو په خلوت کښې کله غلی کښېناستای شي
دانه چي لېونۍ ده په جنون د ارتقا
بند نه کړې د فطرت په تقاضو د عمل لاره
غرض دی لا څه بل څه د تسليم او د رضا
که جوش د ترقۍ لرې فضا ده پوره ارته
اې ځوانه! ارته بېرته ده ښه مځکه د الله

# د توحید نکته

رازونه د توحید ښه په اسانه شي سپړلی
خو څه وکړمه ستا دماغ چي کور دی د بتانو
د شوق کومه نکته چي لا اله کښې ده محفوظه
ویلای نه شم شیخ مي دی پر لار د فقیهانو
سرور چي څه په جنګ کښې دی د حقو او باطلو
څه ووایم آګاه نه یې په مراد د غزاګانو
دنیا کښې د آزاد څه عجیبه مشاهدې دي
خو څه وکړمه ستا چي دی نظر د غلامانو
چي څومره د شاهۍ نه دی اوچت مقام د فقر
خو څه وکړمه ستا چي دی ژوندون د ګدایانو

# الهام او ازادي

چي هر کله مالک شه د الهام دغه آزاد
پاره د عمل، علم نظر یې شي ممریز
د ساه په حرارت کښې یې دا قسم له اثر وي
چي خاوره د چمن پرې شي کلهم شرر آمیز
مزاج د باتورانو یې بلبلو کښې پیدا شي
چي څومره یې بدل دغه مارغان شي سحر خیز
د دغه خودشناسو حق پرستو په مجلس کښې
ګدا ته شي بخښلی شان د جم او د پرویز

الله دي وساته د غلامانو له الهامه
جهان له تباهي ده بس په شاني د چنګېز

## ځان او تن

یو عمره راسي عقل په دی بند کښې دی انختي
چي روح د څه جوهر نه دی دا تن د څه جوهر نه
مستي، شور او سرور، دردونه، داغ مي مشکلونه
او ستا پیاله د مئ ده، که دا مئ دي له ساغر نه
د حرف او د معنٰی هسي پیوند د ځان او تن دی
خلکه لکه ارو ځان له جوړوي له خاکستر نه

## لاهور او کراچی

مرګ څه وي تلل د دې دنیا نه د معنٰی دنیا ته
د غیرتي مسلمان بس په یو الله وي نظر
د کلیسا نه دیت مه غواړه د هغه شهید
چي له حرمه یې زیات د ویني دې قیمت او قدر
آه! مسلمانه! داسي هېر شو تا نه یاد دی نه دی
حرف د "لا تدع مع الله الهاً آخر"

# نبوت

فقهي او نه عارف، نه مجدد، نه محدث یم
نو یمه څه خبر د نبوت وي څه مقام
مګر جهان مي واړه د اسلام دی په نظر کښې
هم پوهه د اسمان په حقیقت ښۀ د خرام
د وخت دغه تیارو کښې مي په خپله دی لیدلی
روښانه حقیقت لکه د بدر هسي تام
مسلم کره د بنګو نشه هغه نبوت دی
په کښې یې چي د شان او د شوکت نه وي پیغام

# ادم

د شته او نشت طلسم دا چي نوم د ده آدم دی
یو راز دی د الله نه شي اظهار یې په وینا
تر اوسه له ازل نه زمانه ده په سفر کښې
مګر نه شو آدم په دې سفر د دې بوډا
که نه یې پوهه شوی نو واضحه درته وایم
نه روح دی نه بدن دغه وجود آدمه! ستا

# مکه او جنیوا

جرګې وي نن زمانِ د قامونو عامې شوې
خو پټ یې د نظر ځنې وحدت دی د آدم

حکمت د یورپیانو جنګول دي د قامونو
اسلام څخه مقصد خالي ملت دی د آدم
مکې دغه پیغام دی جنیوا وته لېږلی
د قام دی جمعیت که جمعیت دی د آدم

## اې پیره د حرم

اې پیره! د حرم د راهبۍ خبري پرېږده
لږ وخو پېژنه دا زما چیغې سحري
الله دي د ځوانانو محافظ شي د هر غم نه
تعلیم د خودۍ دوی لره ښه ورکه اثري
د کاڼو د چاودلو د قانون نه یې خبر کړه
هنر ورته یورپ ښودلی دی ښیښه ګري
زړګی ورله مات کړی غلامۍ د دوو صدۍ دی
لایقه د علاج یې څکه ده کم نظري
په جوش د لیونتوب کښې درته سپړمه رازونه
امید د انعام تا نه دا جنون زما لري

## مهدي

د دوی د زندګۍ بنا دي قام باندي قایمه
ادب ښایي دا ذوق، دغه مرغوته د چمن

په طور د یورپ "دغه مجذوب د یورپیانو"
ژوندی مي که د مهدي په تخیل باندي وطن
اې ته چي یې بېزاره د مهدي د تخیل نه
مایوسه د نافې نه هوسۍ نه کړې د ختن
کفن که ژوندي واغوسته او وایو ورته مړي
که ووایو هغه ته چي یې وشلاوه کفن

## مسلمان ځوان

هر دم د زندګۍ دی نوی شان د مسلمان
دلیل دی تل په علم په عمل کښې د رحمان
یو ځای چي جبر، قهر، مغفرت او تقدس شي
نو جوړ ترې نه خمیر شي د وجود د مسلمان
په مځکه باندي اوسي ولي سیال د فرشتو دی
وطن یې دی کابل نه بخارا نه بدخشان
هر څوک د حقیقت نه د مومن کله واقف دي
په خوله خو قرآن وایي ولي خپله دی قرآن
معیار یې ارادې دي د قدرت د مرادونو
دنیا کښې دی مېزن او هم د حشر په میدان
هم دا ده هغه پرخه چي زړګی پرې د ګل یخ شي
چي خوف ترې سمندر که هم دی دا هغه طوفان

هم ژوند يې د فطرت هغه سرود ازلي دی
ؤ يو کښې يکتا لکه سورة دی د رحمٰن
د فکر په کارګاه کښې مې جوړيږي مدام ستوري
معلوم که پکښې ستوری د قسمت د مسلمان

## پنجابی مسلمان

وي باب کښې د مذهب يې تل خبره نوې خوښه
ايسار خو په يو ځای شي مګر زر ترې نه تيريږي
په کار کښې د تحقيق نه دی هيڅ چا سره ملګری
په کار د مريدۍ کښې سم د لاسه پړکه کيږي
که لټه د تاويل دغه کورکی وته ښکاري کړي
د ښاخه ورله تل په يوه منډه راکوزيږي

## ازادي

ورکولای مسلمان لره څوک شي کله ټوکنه
د فکر آزادي يې چې نعمت دی خدا داد
که غواړي نو حرم به د ايران اتشکده کړي
که غواړي کړي بتان به يورپي په کښې آباد

او جوړه د قرآن ځنې به لوبه د تاویل که
که غواړي نو یو نوی شریعت به کړي ایجاد
په ملک د هندوستان کښې یو عجبه تماشه ده
اسلام یې دی بندي او مسلمان یې دی آزاد

## په یورپ کښې د اسلام تبلیغ

د دین ځنې محروم ضمیر د دی مدنیت دی
یورپ کښې د وروری په نسب باندي قیام
نظر کښې د انګرېز یې اوچت شوی مقام نه دی
په دین که د عیسیٰ شه هندو زوړ یې دی مقام
که دین د مصطفیٰ هڅو قبول دغه انګرېز که
بدبخته مسلمان به هغه شان وي غلام

## لا اَو اِلَا

فضا کښې یې د نور کولی ګل او بچی نه شو
د خاورې له تیارې که وتی بار نه وای دانه
د ژوند اغاز په "لا" دی اختتام یې په "الا" دی
د مرګ زېری دی "لا" چي د "الا" شه بېګانه

چي روح د يو امت چرې د "لا" نه مخکښې نه ته
يقين لره د ژوند يې ډکه شوله پيمانه

## د عربو اميران*

د هند دغه کافر به څه خبرې ورته اوکه
ګڼي که يې اميران نه د عرب بې ادبي
ړومبيه ښوول شوې دغه راز و کوم امت ته
وصال د مصطفٰیؐ وي جدائي بولهبي
ژوندون يې څه په پولو او حدونو باند نه دی
قائم په محمدؐ باندي جهان دی عربي

## د خدای حکمونه

منونکی د حکمونو پابند به د تقدير يې
اسانه مسئله ده که خيال وکړي هنرمند
سل واره شي بدل دغه تقدير هره لمحه کښې
قايل وي د تقدير کله خفه کله خورسند

* د بهوپال په شيش محل کښې وليکل شو.

پابند خو د تقدیر وي تمام عمر کاڼي بوټي
مومن ګوره فقط د خدای د حکم دی پابند

## مرګ

وي قبر کښې دننه دغه غیب او هم حضور
که زړه دي ؤ ژوندی وي ناقراره به ضرور
دا ستوري او سپوږمۍ خو وي شرر هسي څو پړقه
د میو د خودۍ به تر ابده وي سرور
بدن لره ورتللی خو د مرګ دا فرشته شي
خو لرې د مرکز نه د بدن ګرځي ضرور

## قُمْ بِاِذْنِ الله

بدل د سلیمې نه جهان دی قم باذن الله
مځکه هغه- هغه اسمان دی قم باذن الله
مه خفه کېږه لا چي دی داسي ګډ وډ د شعور
دا د یورپ د سیر(*) په شان دی قم باذن الله
جوړ کړی اور چي ؤ آواز د اناالحق ورځنې
د هغې وینې ډک جهان دی قم باذن الله

* یعني سحر

# دوهمه برخه

## ((تعلیم او تربیت))

# مقصود*

## سپینوزا

نظر خو د داناوو همېشه په زندګۍ وي
او ژوند فقط سرور، حضور، نور او وجود

## افلاطون

همېشه د هوشیارو به په مرګ باندي نظر وي
ژوندون دی په تیارې کښې د شرر هسي نمود
د مرګ او د ژوندون هډو پروا څه په کار نه ده
نظر دی د خودۍ بس د خودۍ ځنې مقصود

# د حاضرې زمانې انسان

د مینې نه محروم چیچلی عقل لکه مار دی
په هیڅ وجه دا عقل یې تابع د نظر نه که
د ستورو د سفر د دې رو ونو لټوونکی
پوره د دغه فکر په دنیا کښې سفر نه که
په دام کښې د دې خپلو حکمتونو هسي ګېر شه
چې ځان یې څه آګاه په خپله نفع ضرر نه که
د لمر دا پلوشې خو یې راګېرې کړې په دام کښې
مګر د زندګۍ دغه تورتم یې سحر نه که

*په ریاض منزل د (سر راس مسعود کور) په بهوپال کښې ولیکل شو.

# د شرق قامونه

پرانستي حقايق نه شي ليدی هغه قامونه
دوسته! د تقليد او غلامۍ چي څوک وي کور
چرې نه شي عرب او ايرانيان ژوندی کولې
عربي مدنيت چي خود په غاړه دی د ګور

# اګاهي

نظر د نجومي وي تمام عمر له په ستورو
خو نه شه د مقامه د خودۍ خپلې خبر
خودي چي چا اوچته وګڼله تر اسمانه
خبر په حقيقت دی د ماښام او د سحر
محرومه د نظر د بدو ښو نه هغه کس دی
د زړه حرام، حلال چي پېژني نا کوم بشر

# د شرق مصلحان

يم ستا د سامري هسي ساقيانو نه مايوسه
مجلس ته د ايشيا يې چي خالي راوړل جامونه

چي هر کله خالي يې د زړو نه وو لستوڼي
نه وي هغه وربځو څخه نوي تندرونه

## غربي تهذيب

تباه زړه او نظر شي په تهذيب د يورپيانو
په دې کښې چرې روح پاته کېدای نه شي عفيف
د روح نه چي پاکي لاړله هيڅکله بيا نه وي
په خيال کښې بلندي زړه کښې پاکي ذوق لطيف

## ظاهري اسرار

د توري ضرورت نه وي هيڅکله هغه قام ته
چي وي يې د ځوانانو دا خودي لکه فولاد
په مخکښې دي هيڅ شی جهان د شمس وقمر نه دی
مجبوره دی جهان د هغو ستا جهان آزاد
د موج ناقراري څه ده يو ذوق د جستجو دی
محفوظه په سيپۍ کښې يې دولت دی خدا داد
شاهين په الوتولو چرې نه ستومانه کيږي
که دم دي وي محکم نو ويره نه شته د افتاد

# د فتح علیخان ټیپو سلطان وصیت

که ځې د شوق پر لارو نو منزل مه قبلوه
که مل شوې د لیلا هډو محمل مه قبلوه
لښتیه د اوبو! وخېژه مست غوندې دریاب شه
له ذوقه د مستۍ چرې ساحل مه قبلوه
ازل کښې راته وېلې هسې شانې جبرئیل ؤ
د عقل چې غلام ؤ هغه دل مه قبلوه
چې محوه بتکدې کښې د دنیا نه شې هیڅکله
محفل که ویلي، تپ ته د محفل مه قبلوه
وي حق به لاشریکه، تل دو رنګه به باطل وي
پیوند چرې د حق او د باطل مه قبلوه

# غزل

نه هندي، نه عجمي یم عراقي نه حجازي
ما ته ښودلې ده خودۍ د دواړه کونه بې نیازي

ته کافر زما نظر کښې زه کافر ستا په نظر کښې
د ساوونو شمار دي دین دی، زما دین دم ګدازي

ته بدل شه دا ده غوره، شریعت دی بدل شوی
د تنزرو موافق چرې دین نه وي شهبازي

ستا په کلو په میرو کښې ما هغه جنون ونه لید
چي دي عقل ته ښودلی شي هر ډول کارسازي

د ګرمۍ نه د ژوندون چرې جدا مغني نه شي
تباهي د امتونو وي دا رنګ نی نوازي

# بیداري

چي هر کله بیداره د حق بین دغه خودي شي
د تېغ هسي تېره وي هم د دې هسي براق
د ده کامل نظر وته هر څه سره ښکاره وي
چي پټ هرې ذرې کښې څه طاقت دی د اشراق
د دغه خدایي ځوان سره نسبت هډو ستا نه شته
غلام نه د آفاق هغه مالک دی د افاق
خواهش هډو په تا کښې د ساحل د طلب نه شته
پاکۍ د طبعیت هغه محرم که د اعماق

# د خودۍ تربیت

موقوفه دا خبره د خودۍ په تربیت ده
چي اور شي همه سوز په موتي خاوره کښې پیدا
په هره زمانه کښې دغه راز د کلیمې دی
شعیب[ع] هسي استاد څرول ګډې په بېدیا

# د فکر ازادي

د فکر آزادي ده تباهي د هغه خلګو
په کښې د تدبر فکر چي نه وي سلیقه
دپاره د ناپوهو آزادي دا د فکرونو
د ځوان نه د جوړولو د حیوان ده طریقه

# د خودۍ ژوندون

خودي چي يې ژوندۍ وه نو فقیر ګورئ باچا دی
سنجر دی که طغرل نه دی هیڅ کم ترې نه فقیر
خودي که دي ژوندۍ وه دي پایاؤ سمندرونه
خودي چي وه ژوندی غرونه پاسته لکه حریر

نهنګ که ؤ ژوندی نو په خپل بحر کښې آزاد دی
چې مړ شي نو بیا موج دی د سراب ورله ځنځیر

## حکمت*

په شیخ او ملا لګي د درویش خبره بده
او لګي په مرید حقه وینا لکه نبات
متاع د عمل لاړه شي د هغه قام له لاسه
چې وښوت په بحثونو کښې د ذات او د صفات
د دغه میکدې زړې د وخته دغه لار ده
چې مئ او میکده ساقي دی واړه بې ثبات
خو حق دوېش د میو د هغه ملت حصه ده
ګبین چې یې ځوانانو ته ترخه وي د حیات

## هندي مکتب

اقباله! دلته مه کړه د خودۍ د علم ذکر
په کار دغه مکتب له نه دي داسي مقالات
ده غوره چې د سترګو د ټوکنه چمونک نه
په ډډه وي د باز دغه احوال او مقامات

* په ریاض منزل د (سر راس معسود کور) په بهوپال کښې ولیکل شو

یو دم د دې آزادو غلامانو له یو کال دی
تېرېږي ډېر په ګرانه د غلام دغه اوقات
د ژوند د آزاد هره لحظه زیری د ابد دی
د ژوند د غلام هره لحظه مرګ دی مفاجات
روښانه تل په حقو باندي فکر د آزاد وي
او فکر د غلام دی یو جهان د خرافات
غلام سره سودا د کرامت وي د پیرانو
په خپله په خپل ځان باندي آزاد وي کرامات
دپاره د محکوم پوره بس دغه تربیت دی
نغمې، مصوري، دغه تعلیم د نباتات

## تربیت

ژوندون څه جدا شی دی دغه علم جدا شی دی
ژوندون د ځیګر سوی دی، علم سوی د دی دماغ
قدرت دی که دولت دی که لذت دی نو دی علم
ده ګرانه دا د ځان په کښې میندای نه شي سراغ
وي ډېر په کښې دانا ولي بینا په کښې ډېر کم دي
نو نه شته تعجب که دي تش پاتې شه ایاغ
کشاد د زړونو نه شته دی د شېخ دغه مکتب کښې
څه بل په تیلۍ شي د بجلۍ دغه څراغ

# ښه او بد

په شاني د د نیا د شین اسمان د دغه ستورو
خیالونه د بنده لري طلوع او هم غروب
لري دغه دنیا د خودۍ هم لوړې ژورې
په دې کښې وي جګړې هم د خوب او د ناخوب
را پورته چي د لوړې د خودۍ نه شه دې ښکلی
د لور به د ژورې راختلی دی معیوب

# د خودۍ مرګ

د مرګ د خودۍ زړه د یورپ پوره تک تور دی
ایشیا ده د دې رنځه ګرفتاره په جذام
او روح د عرب هم د خودۍ مرګ دی ښه یخ کړی
د تن د عجم هډ، غوښه خوړلي دي تمام
د مرګ د خودۍ ځنې د هند په وزر ماتو
حلاله شوه پنجره او دغه ځاله شوه حرام
دی مرګ د حرم پیر په دې مرض دی اخته کړی
چي رزق د ده بیه د جامو شوه دا حرام

# عزیز مېلمه

ضمیر د مدرسوالو د فکرونو ځنې ډک دی
خو نن ده پوره ګرانه د دې ښه او بد تمیز
د زړه د دغه کور یوه خانه خالي په کار ده
که خدای ورله مېلمه چرته راولېږه عزیز

# حاضره زمانه

تلاش دی د فکرونو چیغې چرته کښې څوک وکړي
هر شی چي د نن وخت په دې هوا پاتې شه خام
تعلیم د مدرسو خو عقل شي آزادولی
خو پاتې شي خیالونه ترې بې جوړه بې نظام
د فکر بېدینۍ مینه یورپ کښې ده وژلې
د فکر ګډ وډي عقل ایشیا کښې که غلام

# طالبِ علم

الله خو چر ته تا د څه طوفان سره اشنا کړه
چي نه لري موجونه ستا د بحر اضطراب
په دې دي فراغت نه دی ممکن د دې کتابه
ویونکی خو یې یې نه یې خاوند ته د کتاب

# امتحان

لښتي د غر په په غر کښې یوې شګې ته دا اووې
رغښتل او پرېوتل دی دې ژوندون لره معراج
دا حال دي دی تر پښو لاندي د لیږي میده کیږې
دې شان ته زما ګوره سمندر مي دی محتاج
ټکره له دېوال سره هم تا ونه وهله
خبر دی څوک له دې نه ته یې کاڼی که زجاج

# مدرسه

دا وخت ملک الموت ؤ ستا دپاره چي په جار
کړه روح یې درنه قبض غم یې درکړ د معاش
چي ځې مقابلې لره سینې کښې دي زړه رپي
اجل دی دغه ژوند چي ذوق شه ختم د خراش*
د هغه لېونتوب ځنې ناشنا دغه تعلیم کړې
چي عقل ته بي وې ده د بانو مکوه تلاش
د فیضه د فطرت دي نظر موندی د شاهین ؤ
بدل که غلامۍ هغه په سترګو د خفاش
د سترګو نه چي ستا دغه مکتب دی څه پټ کړی
خلوت کښې د میرې غره دی هغه رازونه فاش

---

* زوقِ خراش- د زخمونو د برداشت صحیح طاقت

# حکیم نټیشا

له راز نه د توحید دغه سبب دی خبر نه شه
چي غواړي بيل نظر د لا اله دغه اسرار
اوچت فكر د ده دی د اسمان سينې له غشی
كمند كښې يې د خيال لمر او سپوږمۍ دي ګرفتار
اګرچه په خمير كښې راهبي ده د ده پاکه
خو دی د دې ګناه دغه لذت ته بې قرار

# استادان

كه غواړې تربيت د بدخشان هسي لعلونه
بې كاره د بې لارې لمر ده دې لره رڼا
په دام د رواياتو كښې دنيا ده ګيره شوې
د سيلمې مدرسوال دي سر په شاړو د بېديا
چي چا د زمانې خپلې كولای امامت شه
د خپلې زمانې شو مريدان هغه دانا

# غزل

هغوی به د منزل د رو ګودر مومي سراغ
چي ستركه يې زمري هسي تيارې له وي څراغ

اوزګار وي تمام عمر غلامان په زندګي کښې
په ژوند کښې د آزادو نه وي هیڅکله فراغ

چي برېښي دي دا سترګي د یورپ دې ترقۍ ته
حافظ دي د نظر هغه صاحب^ص شه د مازاغ

د عېش دغه مجلس ګوره مېلمه د لږ ساعت دی
پړقیږي لکه ستوری چي دا نن د چا ایاغ

دا قسم له مړ کړې کتابونو درله ذوق دی
چي پوهه د نسیم نه د ګل نه شوې په سراغ

# دین او تعلیم

آګاه په لارو د پیرانو د حرم یم
دعوه بې د خلوصه د نظر کول وي لاف
نظام دا د تعلیم چي فیرنګیانو دی جوړ کړی
سازش دی فقط دا د مروت او دین خلاف
قسمت کښې غلامي او مظلومي د هغه قام وي
چي چا خپلې خودۍ سره ونه کړلو انصاف
فطرت کړي په افرادو باندي ځان کله ناجانه
خو دا نه شي کېدای چي ملتونه کړي معاف

# جاوېد ته

(۱)

غارتګره ده د دین دا زمانه
اندرون یې دی ضمیر کافرانه
د شاهانو له درباره ده بهتره
په څو چنده د نېکانو داستانه
ولي دا د جادوګرو زمانه ده
طریقې یې واړي دي ساحرانه
دی وچ شوی د ژوندون د چینې زیم
هغه مئ شته دي نه هغه پیمانه
له هغو نه مدرسه ده خالي شوې
چي نظر یې ؤ د سترګو تاریانه
کوه فکر ته ډېوه د هغه کور یې
چي د چا ده زندګي عارفانه
په جوهر کښې دي توحید شته مه وېرېږه
که دي علم هډو شو فیرنګیانه
د بلبل هسي چیغار کوه په ځانګه
خو که جوړه دي خودئ کښې اشیانه
دا انسان دی هغه بحر چي د ده
هر یو څاڅکی سمندر بې کرانه
تن اسان که چرې نه وای دا دهقان
نو پوره ده زردانې هره دانه

مه بېکاره تېروه وخت په بازۍ
دا دي وخت دی د هنر او کارسازۍ

(۲)

که دي ګرم په سینه کښې نه ؤ زړه
پاته کېږي به ژوندون کښې دي خامي
که مارغه چرې هوشیار ؤ او بیدار
د ښکاري واړه محنت شي ناکامي
د ژوندون چینه لا شته دی په دنیا کښې
خو په کار ده ورله تنده لازمي
طریقت په حقیقت کښې دی غیرت
په غیرت ده د دې فقر تمامي
باتورانو له په کار نه ده بچیه!
په هیڅ وجه د تنزرو غلامي
د خبرو پنګه شی نه دی نایاب
بې حسابه انوري شته هم جامي
تر بلۍ لاندي یو چیغه بې اختیاره
بس زما دغه بساط دی تمامي
صداقت دی د وینا چي زه پرې یمه
په نظر د زمانې کښې ګرامي
او یقین لره دا ده د رب عطا
میراثه څه د چا نه ده نکېنامي
خپل بچي ته ښه خبره د مطلب
لا پخوا چي ده ویلې نظامي

که مقام دي چرې راغی د بهبود
پلار ولي زما به هیڅ درنه کي سود

(۳)

غمېدلی په مومن دی ځکه ژوند
دغه دین او هم دنیا قماربازي
لیونی د عمل نه شته پر دنیا
بس ژوندون دی د ساوونو درازي
هغه فقر لټوه که دي همت وي
چي بنیاد دی د کوم فقر حجازي
دغه فقر په سړي کښې که پیدا
بې مثاله الٰهي بې نیازي
د چنچڼو کور کوړو برخه دی مرګ
او د دې قفر مقام دی شاهبازي
هم په دې د عقل سترګي دي بینا
بې رنجو د بوعلي او د رازي
نتیجه یې د بدبه ده د محمود
که دي نه وه طبعیت کښې ایازي
هم دي دغه اسرافیل دی د دنیا
خو ورځي ورلره نا نی نوازي
هنګامه یې زمانې له دی نظر
ده په دغه هنګامه کښې کارسازي

که روزي دي شه دا فقر غيرتي
نو بغير توري نېزې نه يې غازي
هم په دې کبنې د مومن ده اميري
له الله نه غواړه دغه فقيري

# دریمہ برخہ

## بندٔه

# د یورپ سړی

حکیمانو څو- څو ځله سمه کړه
خو لا حل نه ده د ښځو مسئله
دې خبره کښې ده ښځه بې ګناه
چې ګواه په شرافت یې دنیا ده
تباهي د معیشت کښې د یورپ
پېژني یې ښځه نه سړی ساده

# یو سوال

څوک دې اوپوښتي حکیم دا د یورپ
دا د هند او د یونان حلقه بګوش
دې ته وېلای شي کمال د معیشت
ښځه شنده او سړی خانه بدوش

# پرده

کړل بدل دغه اسمان څومره رنګونه
خو دنیا چې زوړ مقام ده تر دې حین

زه نه وينمه خاوند ښځه کښې فرق
دي دننه په خلوت دواړه مکين
په پړده کښې دی لا نسل د آدم
دی د نور نه يې د خودۍ خالي جبين

# خلوت

له لاسه د جلوت د حرص دا دور تباه دی
ده توره آئينه د زړه روښانه دی نظر
په ذوق د نظر کړله چرې خپله پوله ماته
ګډه وړ دغه فکرونه هم خراب شي سراسر
چې ونه شي پالنه يې په غېږه د صدف کښې
چرې به هغه څاڅکی د نيسان نه شي ګوهر
يقين دی چې محکمه دا خودي شي په خلوت کښې
حرم او دير کښې نه شته د خلوت هډو اثر

# ښځه

تصوير د کاينات لره زينت دی دغه ښځه
د سازۍ حرارت دی په هر رګ کښې د ژوندون

ده بر د ثریا نه مرتبې کښې د دې خاوره
په دې چې دی هر ځوان د دې صدف درِ مکنون
لیکلې مقالې به د حکمت نه وي دې ټیک ده
خو دي ګورې د دغه اور بخری افلاطون

## د ښځو ازادي

د دې بحث کولای فیصله هډو هیڅ نه شم
اګرچې یم ښه پوهه دا دی زهر هغه قند
حاجت څه دی لا نور به په ویلو ګنهګار شم
لا مخکښې مي دښمن دی د تهذیب دغه فرزند
شاید چې بصیرت د ښځې وسپړي دا راز
مجبوره دي معذوره په دې باب کښې عقلمند
خبر نه یو کوم بر دی په ښایست او په قیمت کښې
د ښځو آزادي که د لعلونو ګلو بند

## د ښځې حفاظت

ژوندی یو حقیقت مي دی پټ دننه په سینه کښې
خاوند د یخې وینې پرې هیڅکله نه پوهیږي

نه علم نه پړده که چرې زوړ وي او که نوی
سړی فقط د ښځې په ساتنه ښه پوهیږي
میندلی چي کوم قام دغه ژوندی حقیقت نه دی
نو لمر د هغه قام به ډېر زر ده چي زیړیږي

## ښځه او تعلیم

تهذیب د فیرنګیانو دا که مرګ د موروليۍ دی
خو دی یې یقیناً دغه انسان له ثمر مرګ
د کوم علم اثر چي دغه ښځه کړه نا ښځه
هغه علم ته وایي صاحبان د نظر مرګ
د ښځو مدرسه چي شوه د دین نه بې خبره
دی مینې محبت لره یې علم هنر مرګ

## ښځه

خوبۍ شي د سړي په خپل همت سره ظاهرې
د خزې د خوبو د بل په لاسو شي نمود
او راز د غم د تپ یې بس د شوق دغه نکته ده
په ذوق یې د تخلیق دی مدام ګرم دا وجود

رازونه يې د ژوند چې دغه تپ سره ظاهر شي
ده ګرمه په دې لوبه دا د بود او د نه بود
د ښځو مظلومۍ باندې غمجن يمه بې حده
د دې غوټې مشکلې څه ممکن نه دى کشود

# خلورمه برخه

# ( ادبیات او فنونِ لطیفه)

# دین او هنر

کتاب، هنر او دین او سیاست شعر، سرود
دې ټولو صدفو نو کښې ګوهر دی یکدانه
نمود یې د انسان د دې ضمیر ورځنې کیږي
د ستورو نه یې ځکه ده اوچته کاشانه
که ؤ دي محافظ د خودۍ عینِ زندګي ده
که نه ؤ نو دی بس هسې افسون او افسانه
دنیا کښې تباه شوې وي تل هغه امتونه
چې شو ادب او دین یې د خودۍ نه بېګانه

# تخلیق

جهان نوی جوړ ولای شي مدام نوي فکرونه
د خښتو، ګټو چرې نه جوړیږي جهانونه
همت، اراده ګوره خودۍ کښې د ډوبېدونکو
جوړیږي هم له دې وړوکې لښتې ځنې بحرونه
په دور د دوران قبضه کولای هغه څوک شي
جوړولی ابدي چې د هر ساه نه شي عمرونه
د مرګ د خودۍ ځنې په مځکه د ایشیا کښې
نه وینم چې معلوم وي د خدایي ورته رازونه

هوا کښې د صحرا د رفاقت د هوا بوی دی
عجبه نه ده دا که د اشنا راشي خبرونه

## لېونتوب

دکان د ښیښه ګر دی شاعري او ملايي
غضب دی چې رسوا کور په صحرا دی دېوانه
خبر دی څوک د هغه کمالونو د جنون نه
چې هر کله شي دی د غر کمر نه بېګانه
هجوم د مدرسې یې هم د طبعي موافق دی
څه خامخا په کار نه ده بس ده له ویرانه

## خپل شعرونه

زما ګیله له تا نه بس د ذوق ده د نمود
که ته شولې ظاهر نو دي رازونه مي کُل فاش
ایراړ لکه بخرىد لمبې نه جدا نه شي
د ګرمي سینې ګرځه د خلوت کوه تلاش

# د پېرس جمات

کمال ته د هنر به يې نظر څه زما ګوري
د حق ځنې حرم دا د يورپ دی بېګانه
حرم څه نه دی دا خو د يورپ دی کاريګرو
په تن کښې د حرم ده پټه کړې بت خانه
ويده دا بتخانه هغه لوټمار و جوړه کړې
له لاسه چې د چا ښکلی دمشق دی ويرانه

# ادبيات

دا عشق دي شي په لاره اوس د عقل خدا داد
کوڅې کښې د جانان يې چې عزت نه شي برباد
او نوی روح دي ځان له زوړ بدن کښې کړي آباد
يا روح دي دغه زوړ کړي له تقليد څخه آزاد

# نظر*

سپرلی او کاروانونه دا ګلونه صحرايي
ځواني ده خوشحالي مزه مستي او رعنايي

* په رياض منزل (د سرراس مسعود کور) بهوپال کښې وليکل شو

د شپې دغه تیاره کښې د دې ستورو وهل سترګي
دا بحر وینه هم د شین اسمان دا صفایي
د ناوې د سپوږمۍ تله د تیارې دغه ډولۍ کښې
سکوت دا د اسمان د لمر ختلو رڼایي
دي مفتې تماشې که دي په سترګو کښې نظر وي
فطرت نه خرڅوي چرې جمال او زیبایي

## د قوت الاسلام جمات

له نوره خالي شوې سینه کښې مي دي څه پاته
دی مړ یې لاالٰه مړاوي بې ذوقه د نمود
څه شان له دغه سترګې د فطرت مي پیژندای شي
جدا له ایازۍ[⊠] ښخه مقام دی د محمود[⊠]
دا ځکه دي شرمیږي مسلمان د سنګینۍ نه
که نرم غلامي ورله ښیښې هسي وجود
له تا سره ښاییږي لمونځ د هغه مومنانو
چې چیغه د تکبیر یې وه یو حشر د موجود
په ساه کښې مي اوس هغه اثر هغه ګرمي نه شته
محروم دی له خلوصه مي صلوٰة او هم درود

---

⊠ ایاز، مراد غلام، ⊠ محمود مراد آزار

آواز کښې د اذان نه زما زوړ شان وشوکت شته
څه خوښ به دي داسي مسلمان شي دا سجود

## تياتر (تهيټر)

حرم دي دبدن دی په خودۍ سره روښانه
او ژوند د دغې سور دی خوشحالي او هم حيات
مقام يې ډېر اوچت دی له پروين او د سپوږمۍ نه
د نور نه يې پيدا دی دغه ذات او هم صفات
توبه خدايه توبه که دي خودي د بل حرم شه
ژوندي له نوي سره به شي لات او هم منات
کمال يې د تمثيل دی دا چي ختم دي خودي کړي
که دا شوه ختم، ختم سوز وساز شو د حيات

## د امید پلوشې

(۱)

دا شاني ورکړ لمر خپلو وړانګو لره پيغام
دنيا دی عجب ځای کله سهار کله ماښام

موده وشوه ګنبتونه مودي دې ارته فضا کښې
کميږي دم په دم د زمانې مهر مدام
څه خوند نه د پړقا د دغه شګو په ذرو شته
او نه لکه نسيم په سيل د ګلو کښې آرام
راځي مي ببرته بيا د سينې پړقندنه دنيا ته
پرېږدی دغه ميرې دغه باغونه در اوبام

(۲)

جهان کښې د هر لور نه پلوشې را پورته کيږي
او خپل ورک شوي لمر سره بيا غاړه غړی کيږي
يو شور دی چي ممکنه په يورپ کښې رڼا نه ده
په دې چي دا لوګی د مشينونو نه ختميږي
د ذوق له تماشې څخه محروم کله مشرق دی
خو غلی دی لاهوت هسي هر څوک پرې نه پوهيږي
اې لمره! بيا که موږه نوراني سينې کښې پټې
بغير له دې مقامه مو زړګی نه قراريږي

(۳)

پلوشه يوه ښه ښکلې لکه سترګې د حورانو
بېتابه بې قراره تل په ډول د سيماب
وې ما ته اجازت د رڼا کولو را عطا کړه
تر دې چي د ايشيا ذرې تمامې شي افتاب

پرېږدمه نه تیاره د هندوستان پر دغه مځکه
تر څو چي د ناراستو نه يې ونه تښتي خواب
مرکز د امیدونو د ایشیا ده دغه خاوره
په دې چي ده په اوښکو د اقبال سره سیراب
روښانه د پروین او سپوږمۍ سترګي په دې باندي
کودری د دې خاورو ملغلره ده نایاب
دا قسم له نېکان دي پر دې مځکه پیدا شوي
دپاره يې هر بحر طوفاني به ؤ پایاب
چي زړونو کښې ګرمي وه د کوم ساز په رږېدلو
محرومه هغه ساز دی په مجلس کښې د مضراب
بامبړ د درمسال په دروازه کښې ویده پروت دی
او ویر کړي مسلمان تر نصیب لاندي د محراب
خفه مه د ایشیا، مه د یورپ کوه خطر
فطرت اشارتونه کړي که هره شپه سحر

## امید*

کولای زمانې سره بالکل شمه جګړه
اګرچه نه سپاهي، نه د لښکر یمه سالار

* په ریاض منزل (د سرراس مسعود کور) په بهوپال کښې ولیکل شو

پوهېږمه نه دا ده شاعري که څه بل شی دی؟
عطا دی سرود، ذکر، جذبه ما ته هم افکار
پرِڅا بې چي تندي کښې د حق ګويه ځوان ليداى شي
ضمير کښې د وجود د دې جلال دی يو انبار
که نه يې ګڼې کفر مګر کمه ترې هم نه ده
چي شي بنده د حق د ممکناتو ګرفتار
ګورې نه شي خفه پاتې لا ډېرې زمانې دي
اسمان کښې نوي ستوري شته ظهور ته بې قرار

# د شوق نظر

پټولاى کاينات نه شي هيڅ کله خپل ضمير
په هر ذره کښې دی پوره ذوق د پيدايي
دا کار به د دنيا درته لا بل ډول ښکاره شي
د شوق دغه نظر که دي شي مل د بينايي
د دې نظر د فيض نه غلامانو ته دنيا کښې
بخښلې د دنيا د مشرۍ شي زيبايي
پرته ده جباري او قاهري دغه نظر کښې
هم دی په کښې موجودي دلبرۍ او رعنايي
د دې نظر د فيضه مي جنون هرې ذرې ته
د دښت د کچ کولو ښولې چل په صفايي

د شوق دغه نظر که دي موندلی چیري نه وای
باعث دي تن د زړه او د نظر دی رسوايي

## هنر مندو ته

پړقا د لمر، سپوږمۍ او مشتري د درنګ ساعت دی
محکم په محبت دي د خودۍ ګڼه وجود!
د تور او سپين نه پاک دي د حرم دغه ضمير دی
تميز کښې د رنګونو دي غټ شرم دی موجود
غياب دي د خودۍ د ذکر فکر معرکه ده
حضور دي د خودۍ جهان د شعر او سرود
مريض که چري روح دي په مرض د غلامۍ ؤ
دنيا دي د هنر ده بتخانه طواف سجود
د خپله شرافته خبردار که په رښتيا شوې
لښکر د انس و جن نه هم امير يې د جنود

## غزل

ګوهر دي سمندر کښې چې موجونه دي بېباک
پېکښې دی د ساحله دغه خسښي او خشاک

د تندر علامې په دې بخرو کښې زما شته
خو څه اوکړم چې بڼ دي د نلونو دی نمناک

دا دور د ژوندون دی اثر ستا د دې عمل دی
اثر چې ګورې دې ته اونه وايي افلاک

ليدلی داسي قسم له جنون ګورې هم ما دی
چې دې دي د تقدير رفو کولای شي هر چاک

په فن کښې د رندۍ ګورې کامل هغه انسان دی
چې نشته هيڅ احسان يې په مستۍ باندي دتاک

تراوسه ميکدې کښې د اېشيا هغه مى نشته دی
په چا چې منور دغه عالم دی د ادراک

مايوسه د يورپ نه دي بينا د جهان ځکه
چې دی دغه باطن د دې امت پوره ناپاک

## وجود

په شان چې د بخري دي دنيا کښې دی نمود
نو پوهه دي کړي څوک چې مقامات دي د وجود

کمال که د تعمیر د خودۍ نه لري هنر دي
تباه دي شاعري، مصوري دي هم سرود
بغیر د نابودۍ نه مدرسې کښې سبق نه شته
د بود نه ځان خبر که چې دایم به یې موجود

## سرود

له څه نه ده مستي دغه شپېلۍ کښې لکه مې
مقام یې دی شپېلۍ که د مطرب دغه زړګی
چې شی څه دی زړګی له کومه ځایه یې قوت دی؟
په یو نظر چې واړوي دا تخت د جم ادکی
د ده په زندګۍ سره قامونو کښې ژوندون دی
همېشه بدلوي دا واردات ورله څه شي؟
سبب څه دی چې تل د اهل دا ؤ په نظر کښې
څه نه دی حکومت هډو د شام او روم او رې

چې پوهه په مطلب باندي د زړه چرې مطرب شه
نو واړه مرحلې د هنر بس وګڼه طی

# نسیم او شبنم

## نسیم

فضا ته مي د ستورو رسايي هڅو ونه شوه
مدام مي قميصونه کړه د سروګلونو چاک
خو زه د دې وطن په پرښودو شومه مجبور
بې خونده يې آواز دی د بلبل هغه خوندناک
د دواړو ته محروم کړلې تقدير وايه شبنمه!
دا مځکه د چمن که ښه فضا ده د افلاک؟

## شبنم

که راته ښکلي ځان ته د چمن دغه خاشاک
"فضا د چمن" هم پوه پرده ده د افلاک

# د مصر اهرام

له دې خوشي ميرې په هيبتي چپه چپيا کښې
فطرت دې بس د شګو د ډېرو کړی تعبير
اسمان دی په تعظيم ځکه عظمت ته د اهرامو
چې جوړ که د چا لاسو داسي پوخ دغه تصوير
هنر دي د فطرت د غلامۍ څخه آزاد که
خبر نه يو ښکاريان دغه دانا دی که نخچير؟

# د هنر مخلوقات

جوړ کړی هنرمندو د جنت هسي منظر دی
چي سترګو ته ظاهر هغه رازونه شو د ذات
نه دور د ماښام او د سهار شته نه خودي شته
چي غواړي د ژوندون د کشمکش ځنې نجات
په دا غریب کافر باندي افسوس دی چي بتان يې
دي مات هغه زاړه واړه د لات او د منات
ته مړی يې امام د جنازې دي دا هنر دی
د قبر په تیارې کښې چي دا ته وينې حيات

# اقبال

رومي "ته په جنت کښې ویل داسي سنايي"
تر نن دی د ایشیا د زندګۍ هغه انداز
خو داسي روایت دی د منصور نه چي اخير
یو ځوان يې قلندر کړلو ظاهر د خودۍ راز

# فنونِ لطیفه

## ((شاعري، مصوري، موسيقي))

بیناو زه منمه دا چي ذوق د نظر ښه وي
د شي چي حقیقت نه ویني دا وي نظر څه؟
غرض خو د هنر نه د ژوندون ابدي سوی دی
ژوندون دغه یو پړق دی لا په شان د شرر څه؟
په زړه د سمندر کښې چي پیدا نه که موجونه
اې څاڅکې؟ وي هغه صدف هغه ګوهر څه؟
آواز که د شاعر وي یا که دم د مغني وي
چي مړاوی که چمن وي هغه باد د سحر څه؟
بغیر د معجزو اوچتېدای نه شي قامونه
ګزار چي د کلیم[ع] نه لري هغه هنر څه؟

# د باغ سحر

## ګل

مایدمه به دا وایي چي زما وطن دی لرې
له حاله د افلاکو خبرداره دی نزدې

## شبنم

معلومه په محنت د الوتو شي دا خبره
چي څومره فاصله ده د فلک ځنې تردې

## سحر

په شاني د نسيم ږده په چمن کښې قدمونه
چي مات دي قدم نه کړي د شبنم دغه لعلونه
د غره او بيابان سره تل غاړه غړۍ اوسه
خو جنت دي په لمني د اسمان لره لاسونه

# خاقاني

دا ليکونکی د تحفه عراقين
د نظر د خاوندانو نورِ عين
چي شلوونکي د پردو يې دی ادراک
او پرده يې کړله هره يوه چاک
ډېره غلې ده دنيا د معاني
چي لا نه شي اورېدای لن تراني
اوپوښته يې وايه څه دی دا جهان؟
هنګامه څه ده امکان او لا مکان؟
دی محرم د مکافاتو د دنيا
دا خبره مي ده څومره بې بها
خود د داسي جهان لوی به سړي وړي
چي ژوندي يې شيطانان مړه وي سړي

# روميؒ

نظر دي لا غلط دی د دې سترګو نيم کښو
دپاره چي لا ستا دی دغه خپل وجود د راز
نياز دي لا له رازه خبر هيڅ نه دی تر اوسه
چي دی دي د قيامه بې خبر دغه نماز
تارونه دي شلېدلي د خودۍ د دغه ساز
چي ته لا د نغمو نه د رومي يې بې نياز

# جدت

په خپله که دنيا ته چرې تا وکړ نظر
اسمان به نوراني ستا په رڼا شي د سحر
رڼا به د بڅرو نه دي غواړي دغه لمر
ظاهر به دي قسمت شي په تندي کښې د قمر
درياب به طوفاني شي ستا د مَوَج د ګوهر
فطرت به دي حيران شي معجزو ته د هنر
د بل نه چي کوې د خيال او فکر ګدايي
شايد خپلې خودۍ وته دي نه شته رسايي

# مرزا بېدل

وي یا به حقیقت یا به نقصان مي د نظر وي
دا غرونه، مځکه، دښت بره اسمان دغه کبود
چي وايي ورته څوک شته دی او څوک وايي چي نه شته
څه ووایم شته که نه شته د دنیا دغه وجود
بېدل ده دغه غوټه په کمال سره پرانستې
چي ګران ؤ حکیمانو ته د دې غوټې کشود
که ارت دي ؤ زړګی دغه دنیا ده پوره ارته
باهر شه د می رنګ، چي د مینا تنګ ؤ وجود

# جلال او جمال

زما دپاره بس دغه قوت دی د حیدرτ
او تا لره کافي د افلاطون دغه ادراک
زما په نظر کښې پوره ښایست هغه جمال دی
چي زور ته یې پراته دي په سجدو باندي افلاک
جلال چي په کښې نه وي نو جمال وي بې اثره
پوکی دي دغه ساز دی بس که نه ؤ اثرناک
قبول هغه انکار مي د سزا دپاره نه دی
چي تود نه ؤ تک سور ښه پوره ګرم لمبه ناک

# مصور

چي څومره په دې مځکه تباهي د تخيل ده
هندي، عجمي ټول دی مريدان د فيرنګي
زما سره دا غم دی چې بهزاد د نن زمان
هېر کړی د ايشيا هغه سرود دی ازلي
خبر دي هنرمنده يم د ټولو کمالونو
که زوړ دی او که نوی هر هنر درله درځي
ليدلی دي فطرت هم دی هر چا وته ښودلی
خو وښايه ائين کښې د فطرت خپله خودي

# حلال سرود

شي زړه خو د سازي په زېر وبم باندي خوشحاله
خو ساز يې که ؤ مړ د زړه کوای نه شي کشود
سينو د اسمانونو کښې لا پټ هغه اواز دی
چې وېلای يې په تپ شي د دې ستورو دا وجود
آدم يې په اثر له هره غمه شي بې غمه
پيدا د ايازي ځنې مقام شي د محمود
فنا به د دې ستورو او سپوږمۍ دغه دنيا شي
او يې به ته، هم ستا دغه وينا د لا موجود
روا چې ورته ويلي فقيهانو د خودۍ دي
کوي لا انتظار د مغني هغه سرود

# حرام سرود

نه ذکر کښې مي سوز سرور شته دی د صوفيانو
نه فکر مي ده تله د عذاب او د ثواب
الله که، چي د ده رايه له ما سره يوه شي
د ښار فقهي محرم چي د حديث دی او کتاب
که پټ يې په آواز کښې چرې زېرى د اجل ؤ
حرام دی په نظر کښې مي هغه چنګ او رباب

# فواره

د لښتي د اوبو غلې تله پر مځکه
نه خوښيږي زما دغه نظاره
اې ځلميه! دغه پرېږده دې ته ګوره
څنګ د زړه له زوره دانګي فواره

# شاعر

مو تازه په ايشيا کښې د دې دم دی دغه نی
شاعره! په سينې کښې دي دم زشته دی که نشتئ؟
چي نرمه په اثر د غلامۍ د چا خودي شوه
په کار نه دی دې قام لره هرګز د عجم لی

د خاورو منګوټي که کوزړۍ وه د بلورو
خو تېز يې چي په شان د ذوالفقار وي دغه مى
د لاندي د اسمان داسي دنيا نه شته هيڅ چرته
ويړيا چي به ميندلى وي چا تخت د جم او کى
هر دم نوې سينا ده نوى طور نوې پرقا ده
الله که، چي د شوق دغه منزل دي نه شي طى

## د عجمو شعر

دى شعر د عجمو خو خوندناک او دلاوېز
خو هيڅکله دا تېغ به د خودۍ پرې نه شي تېز
چي مړاوى يې چمن د صبحدم په چغارو شي
ده غوره چي بس چوپ دغه مارغان شي سحر خېز
ګزار که د فرهاد هډو سورى که غر څه وشو
چي نه شي اړولى حکومت پرې د پروېز

اقباله~ دا د کاڼو د تراشلو زمانه ده
په کار دى د ښيښې هسي د هر شي نه پرهېز

# د هند هنرمند

د عشق او د مستۍ یو جنازه یې تخیل دی
قبرونه د قامونو دا د دوی غلط افکار
د دوی په بتکدو کښې د اجل مصوري ده
هنر د بامبړانو دی له ژوند څخه بېزار
د سترګو د آدم نه پټوي لوړ مقامونه
ویده کړي دغه روح او کړي بدن ورله بیدار
د دې مځکې شاعر که مصور دی که ادیب دی
سپره ښځه د دواړو پر اعصابو ده په جار

# کامل څوان

عمیق یې دی نفرت او محبت یې هم عمیق
غصې کښې د الله په بندګانو وي شفیق
کېدلای تربیت یې خو تیارې کښې د تقلید شي
مګر ده تقاضا د طبعیت د ده تخلیق
شریک وي په مجلس کښې خو د ټولو نه جدا وي
څراغ هسي جدا د ټولو هم د دوی رفیق
د لمر هسي روښانه دی د فکر په رڼا کښې
ساده صفا ویل که خو مطلب یې وي دقیق

له خپلي زمانې نه يې انداز د نظر بيل وي
محرم يې د احوال کله پيران وي د طريق

## نوې دنيا

د ويښ زړه نه پټ نه دی د تقدير دغه ضمير
مدام په خوب کښې ويني د دنيا نوی تصوير
په چيغه د اذان باندي چي هرکله بيدار شي
په ويښه بيا د خوب د دې جهان کوي تعمير
د ده دا موتی خاوره د دنيا نوی وجود دی
او روح دغه جهان لره يې چيغه د تکبير

## د معنو ايجاد

ايجاد به د معنو وي دا منمه خدا داد
خو نه دی هنرمند سړی د سعي نه آزاد
د وينې د معمار په حرارت سره جوړيږي
که دير دی د حافظ که بتکده ده د بهزاد
بغير د سختۍ سعي جوهر نه ظاهريږي
رڼا کړه د تيشې بڅري کور کښې د فرهاد

# موسیقي

د وينې د يخوالي د مطرب نخښه دا ساز وي
چې روح دي که خوشحاله نه وي داسي اثرناک
د ساه دغه موجونه يې نغمه کړي زهرناکه
چري د مغني دغه زړګی چې نه ؤ پاک
باغونه مي ليدلي د يورپ او د ايشيا دي
ګرېوان زه د لاله نه وينم يو چمن کښې چاک

# د نظر ذوق

اوچته خنګه خودي وه د چيني اجل نيولې
چې ده ويل جلاد وته په وخت کښې د تعزير
ورو- ورو په صبر- صبر څه عجبه تماشه ده
چې وخو وينم زه دغه پړقا دي د شمشير

# شعر

د شعر په خوبو باندي خو دومره نه پوهېږم
يو ټکی چې تاريخ يې د دنيا وايي تفصيل

چي شعر کښې ؤ هر کله د ژوند ابدي زېری
اواز د اسرافیل[ع] یا دی پیغام د جبرئیل[ع]

# رقص او موسیقي

دی شعر خوښ د روح د جبرئیل او اهریمن
مجلس لکه سرود او په ګډا باندي مین
اسرار د دې هنر د چین حکیم دی داسي وېلی
دی روح د موسیقي شعر ګډا یې دی بدن

# زغم

ګیلې به د دنیا خلک کوي له زمانې نه
دردونه چوپ زغمل دي، مګر شان د فقیرۍ
ویلې ده یو پوهه راته پټه دا خبره
چي شور د شغالۍ نخښه ده زغم ده د شېرۍ

# گدا

د تن د دې گدا خبرې و بخښه یورپ ته
د روح گدا کښې زور لکه کلیم[ع] دی الٰهي
د تن د گدا نخښه وروسته تنده ستوماني وي
د روح د رقص عوض وي تمام عمر له شاهي

# پنځمه برخه

# د شرق او غرب سیاست

# اشتراکیت

له حاله د قامونو د عمل نه معلومېږي
د روس دغه تېزي نه ده بې ځایه د رفتار
د فکر په شوخئ باندي مجبوره شولو عقل
جهان د سولیدلو طریقو نه شو بېزار
حرص چي د بنده وي پټې کړی څه خبرې
ورو- ورو څه ظاهرېږي سراسر هغه اسرار
غوپه شه د قرآن په سمندر کښې مسلمانه!
عطا که درته رب چرې جدت که د کردار
تراوسه چي کوم راز په قل العفو کښې محفوظ ؤ
شاید چي حقیقت هغه نن ورځ شي نمودار

# د کارل مارکس اواز

د علم عقل لوبه هسي بحث او تکرار
چي خوښ نه وي نن وختې د دنیا زاړه افکار
حکیمه معاشي! په کتابونو کښې دي څه دي؟
خبري دي ناشونې او خطونه دي خمدار

یورپ کښې په ګرجو په میکدو په مدرسو کښې
ظلمونه د حرص پټوي بس عقل مکار

## انقلاب

ایشیا کښې نه یورپ کښې سوز وساز د زندګۍ شته
که یو د خودۍ مرګ دی بل اجل دی د ضمیر
په زړونو کښې پیدا یې ولوله د انقلاب شوه
پوره جوړه نښه شوله د زوړ جهان د ویر

## خوشامنده

خبر به له کارونو د دنیا څخه خو نه یم
خو پټ مې د چشمانو نه یو نه شته دی هم راز
کوه د حکومت د وزیرانو خوشامندي
د ستور دی نوی هم د نوي دور دی آغاز
خبر نه یمه دا دی حقیقت که خوشامنده
که چا دغه ګونګي ته وویل د تېارې باز؟

# منصبونه

مومن په دام کې ګیر دی د یورپ د جادوګرو
په دې وجه چشمان د قلندرو دي نمناک
الله د دې اوچتو منصبونو ته خير پېښ کړه
د چا دپاره تا چي دا ضمير کړلو هلاک
خو هیڅکله دا راز په پټولو نه پټیږي
دی پوهه پرې هر کس چي طبعیت يې دی چالاک
غلام له حکومت کښې چرې برخه نه ورکیږي
فقط شي اخستی دغه جوهر ترې د ادارک

# یورپ او یهود

دا هر قسم ده عېش او حکومت او تجارت
خو زړه د تسلیٰ نه سینې تورې کښې خالي
تیاره ده په یورپ د مشینولو د لوخړو
په دې نه ده په کار دغه سینا کښې تجلیٰ
تهذیب يې ځواني مرګ‌دی په حالت د ځکندن کښې
شاید شي یهودي يي د ګرجې متولیٰ

# د غلامۍ نفسیات

په کښې شته عالمان او حکیمان او شاعران
څه نه ده بېنوا د غلامانو زمانه
یوه بس د الله د دې بنده یا مدعا ده
هر یو دی په پوهه ده معنو کښې یګانه
په کار ده چې زمرو ته وښيي د هوسو تېښته
چې ختم د زمرو د زمریتوب شي فسانه
غرض يې دی رضا چې دا غلام په غلامۍ شي
تاویل د مسئلو یې ورله جوړه کړه بهانه

# بولشویک روس

د خدای د دې قضا څه عجیبه غوندي دستور دی
خبر نه یمه څه دي په ضمیر کښې د جهان
را پورته تباهۍ له د ګرجې هغه کسان شو
په نیت به د نجات یې چې مدام ؤ نګهبان
د روس په دهریت باندي دا وحي ده راغلې
"د سېلمې نه تباه که د ګرجو دغه بتان"

# نن صبا

څه حق یې د صبا په خوشحالۍ او غم کښې نشته
چې نن یې کار ونه کړ ځان یې ونه کړاوه
لایق هغه قامونه د صبا د هنګامو وي
چې نن چرې په سختو کښې چا ځان وسوځاوه

# مشرق

ګرېوان شه د لاله زما په چیغو باندې څیرې
تراوسه لا نسیم دی په تلاش کښې د چمن
نمود یې شي لیدای نه مصطفٰی نه رضا شاه کښې
تلاش پسې د تن ګرځي لا روح د دې وطن
سزا ده هم په کار پوره زما دغې خودۍ له
دی وخت په جستجو کښې لا د دار او د رسن

# د یورپ سیاست

اې خدایه! مقابل دي سیاست دی د یورپ
مګر دي مریدان یې امیران او رئیسان

ابلیس خو فقط یو ؤ تا له اوره پیدا کړی
او دوی له خاورو جوړ کړو په زرګونو ابلیسان

## خواجګي

دا وخت په حقیقت کښې هغه تېره زمانه ده
مالک د مُصلې یا سیاست دی نن امام
کمال نه د پیرۍ نه دا کمال د امیرۍ دی
بلد دی له مودو له غلامۍ سره عوام
بیا پاتې خواجګي کښې نه وي هیڅکله څه ګران
په خوی د غلامۍ چې شي کامل چرې غلام

## د غلامانو دپاره

حکمت دي د ایشیا او د یورپ را ته ښودلي
چې ده دغه نکته دې غلامانو له اکسیر
که دین دی که منطق، که فقیري ده که شاهي ده
د ټولو په محکمو عقیدو کیږي تعمیر
خبره بې اثره عمل خوار د هغه قام وي
چې تش یې د محکمو عقیدو نه شو ضمیر

# د مصر خلگو ته

په خپله د دې راز ه خبر کړی ابوالهول یم
محفوظ یې په سینې کښې چې رازونه دي قدیم
بدل چې پر ناڅاپه قسمتونه د امت شي
قوت دی چې کمزوری دی پر عقل د حکیم
په هره زمانه کښې بل شان که طبعیت وي
یا تېغ د محمد[ص] یا به همسا وي د کلیم[ع]

# ابي سینا(حبشه)

۱۸ اګست ۱۹۳۵ء

تر اوسه ګرګسان ترې د یورپ څه خبر نه دي
ده څومره زهري غوښه د حبشې د دغه لاش
چې وېشي به یې اوس دغه ناترسه بدمعاش
کمال یې د تهذیب څه دی زوال د شرافت دی
بس لوټ دی د دنیا شریک د ټولو یو قماش
د سپلمې شرمښان دي د ګډورو په تلاش
افسوس یې د ګرجې د دې حیا په آئینه دی
چې ماته کړه په ډاګه د روما دغه اوباش
اې پوپه! وایه څومره حقیقت دی دلخراش؟

# د ابلیس حکم خپلو سیاسي ځامنو ته*

په دام د سیاست کښې بامبړان واړه راګیر کړئ
تمام د درمسال د زوړ چمن نه وباسئ
او دغه روژتي چي دا د مرګ نه نه وېرېږي
دا روح د محمد ص يې له بدن نه وباسئ
بدل د عرب فکر په خیالونو د یورپ کړئ
اسلام له دې حجاز او دې یمن نه وباسئ
په دین باندي د ننګ د پښتنو دغه علاج دی
بالکل دغه ملا یې د وطن نه وباسئ
زړې خبرې واړه له قریشو څه کړئ هېرې
هوسۍ دا د ورشو د دې ختن نه وباسئ
د سرو ګلونو اور لا د اقبال په پوکو تېز شه
بس دغه غزلخوان له دې چمن نه وباسئ

# د شرق د قامونو جرګه*

تابع چي دا هوا، او اوبه دواړه کړو انسان
کېدای شي چي بدل شي د اسمان دغه ضمیر

---

* د بهوپال په شیش محل کښې ولیکل شو
*

د خپلي باچهۍ چي څه يورپ ليدلي خوب ۇ
شايد چي د دې خوب يې اړولی شي تعبير
د مځکې د ايشيا که جنيوا چرې طهران شه
ممکنه ده بدل شي د دنيا دغه تقدير

## دايمي باچهي

فطرت خو راته چل د غوپې والو دی ښودلی
خو خوښ نه دی بالکل مي سمندر د سياست
شاهي نه ده عمري چري فطرت وته منظوره
اګرچه مزېداره ده دا لوبه د حکمت
ژوندۍ خو لا تراوسه کوهکني ده د فرهاد
او پټه هډو نه شته د پروېز د حکومت؟

## جمهوريت

يو ځوان ۇ د يورپ چي که ظاهر يې دغه راز
اګرچه وايي نه چرې دانا هسي رازونه
يو شی دی د جمهورو حکومت چي په هغه کښې
دی شمار د کپرو، د سرو نه شته دي تولونه

# یورپ او سوريا

یورپ ته عطا کړی دغه خاورې د سوریا ؤ
خواخوږي، بې ازاره معصومان پیغمبران
بدل یې دی یورپ دغه سوریا لره ورکړې
کنجري او جواري هم شرابونه پلیتان

# مسوليني

## ((خپلو یورپي او ایشیائي حریفانو ته))

زما دغه ګناه څه په دنیا کښې نوې نه ده
خفه شو د پاکانو د یورپ ولې مزاج؟
چې ګران ولې غلبېل باندي د اسپ د دغه چج شه
وسلې دي د تهذیب که ته غلبېل یې نو زه چاج
سودا مې د شاهۍ ولې په تاسو بده لګي
لوټنه د کمزورو وینم ستاسو هم رواج
د چا د حکومت دغه عجبې تماشې دي؟
قایمه ده ګدي نه یې راجا شته دی نه راج
اولاد خو د سیزر د اوبه خور که په نلونو
او ستاسو دي جاري وي په دې شاړو هم خراج
د دښت د اوسېدونکو مرتنبوان دي هم لوټلي

لوټلي مو فصلونه هم لوټلی تخت وتاج
قتلونه، غارتونه د تهذیب په نامه کیږي
پرون چې څه کړو تاسي غواړئ نن زما مزاج

## ګیله

د هند د مقدر نه څوک خبر دی چې تراوسه
غریب د چا د تاج دی پړقېدونکی یو نګین
چې ګورې یې دهقان نه دی د ګور نه ولې نه مړي
کفن یې دی وروست شوی لا دننه په زمین
او روح او تن یې دواړه لا په بل باندي کانه دي
افسوس دی چې باقي شته نه مکان او نه مکین
له تا نه مي ګیله ده له پورپ څخه مي نه شته
چې څومره رضامند په غلامۍ شوې آفرین!

## انتداب

### «نو ابادیاتي نظام»

که چرته ضرورت وي د تهذیب د فرشتو
نو نن ورځې په دې کښې هډو شته نه دشواري

چي چرته جواري نه شته آزادي ښځې نه شته
حرامه چي ګڼلی چرته شي شراب خوري
يو روح يې سيمابي کوټلی تن کښ وي بېتابه
د پلار نيکه له لارو نه يې نه وي بې لاري
بچې د بدو* نر دی پوره پوهه دی محکم دی
چينه په کښې د علم د مکتب نه ده جاري
دپاره يې دا حکم د هوشيارو د يورپ دی
چي دی دغه وطن له تمدن ښخه عاري

## بې دينه سياست

چرې حقه خبره پټېدای نه شي له ما نه
الله بخښلی زړه راته خبير دی هم بصير
زما په نظر کښې دغه بې دينه سياست دی
ده مينځه د شيطان پليت يې زړه مړ يې ضمير
آزاده د ګرجې نه حاکمي ده بې مهاره
يو ديو دی سياست يورپي شلولی يې ځنځير
چي چرته نظر پرېوتئ د دوی پر پردۍ ځکه
دی زری د لښکرې د ګرجې دغه سفير

---

* بدو عيربي

# د تهذیب لومه*

اقبال نه کړي شک د ده په شرافت کښې
د مظلوم ملل یورپ دی خریدار
کرامت د کلیسا د پیر دی واړه
په بجلۍ چي منور شولو افکار
ولي زړه په فلسطین او شام مي سوځي
په تدبیر اسانېدای نه شي دا کار
له پنجې د ظالمانو ترکو خلاص شو
او په لومه د تهذیب شو ګرفتار⊠

# نصیحت

یو لاټ د فیرنګیانو داسي قسم ویل ځوی ته
هغه تماشه ګوره چي نظر ښه ګڼ ده ډېر
د دې غریب دپاره دی دا ظلم بې حسابه
که ونه ښودلي ژوندون چرې چېلۍ ته شي د شېر
په کار ده چي دا راز د حاکمۍ همېشه پټ وي
سمول د غلامانو روا نه دي په شمشیر

* د ملت جمع

⊠ د سید تقویم الحق کاکاخېل له ژباړي مخ ۱۵۵.

ور واچوه خودي مي په تېزابو د تعليم کښېږ
چي نرمه شوله تاو يې که چي غواړي په کوم څېر
اثر کښې د اکسيرو نه بهتر دغه تېزاب دي
که غر هډو د سروو شي يو دم د خاورو ډهېر

# يو سمندري ډاکو او سکندر

**سکندر**:

سزا دي زولنې يا دغه توره زما ښه ده
چي ستا د رهزنونه دي تنـګ شوي دريابونه

**ډاکو**:

افسوس دی سکندره! بهادري ته وايې دې ته
څوک داسي چرې نه اخلي د ملګرو عزتونه
پېشه زمونږ د دواړو ښه صفا ظلم و ستم دی
وهم سمندرونه زه، تا لوټ کړل ميدانونه

# قاميزه جرګه (جمعيت الاقوام)

له ډېرې مودې راسي د غريبي ځکندن دی
وېرېږمه له خولې نه مي کاواکه بهر نه شي

نښته خو د ازل نه مقرره د الله ده
دعا يې د پاپا ده دا چي خاورې يې سر نه شي
شايد که د يورپ د بوډا ګوټي انډيواله
په کوډو د شيطان د خپل ور ده خبر نه شي

# شام او فلسطين

اباده ميکده دي د رندانو د فرانس وي
د سرو شرابو ډک يې هر ګلاس دی د حلب
که حق د يهوديانو مسلم په فلسطين وي
نو داسي په اندلس ولي حق نه شته د عرب؟
خو مراد د حکومت د فيرنګيانو لا څه بل دی
قصه د ميوه جاتو نه ده بل څه ده عجب

# سياسي پېشوا

اميد د سياست د امامانو ځنې مه کوه
کړي خاورو سره لوبي لري دې سره پيوند
په ما شو په مچانو همېشه د دوی نظر وي
په شان د عنکبوت پوره نازک يې دی کمند

نېک بخته قافله ده چي يې پنګه د امير ده
خيالونه ښه سوتره ښکلي جذبات پوره بلند

## د غلامۍ نفسيات

نازک دي سببونه د مرض د امتونو
که وايم يې واضحه خو خبره شي کوتاه
په دين کښې د شېرۍ د غلامانو شېخ امام
په سترګو ويني بس دغه مکرونه د روباه
چي پټه يې پرده کښې د فرعون سره ياري وه
د دې کليم له لاسه به امت وي تل تباه

## د غلامانو لمونځ

### (د ترکو د هلالِ احمر وفد لاهور کښې)

د ترکو غازي ما نه تپوس وکړ د لمانځه
کوي دومره اوږدې ولي سجدې ستاسي امام
هغه غازي ساده خو يو آزاد غوندي مومن دی
خبر دی څه له دې نه څه شی لمونځ دی د غلام

کارونه دي بې شمېره په دنيا کښې د آزادو
په ذوق يې د عمل د امتونو شي نظام
وجود کښې د غلام څه حرارت د عمل نه وي
د ژوند په ورځو شپو يې تېرېده وي تل حرام
اوږدې که يې سجدې دي نو حيران چې ورته نه شې
په دې چې بې لمانځه نه شته کار مې د امام
الله يې امامانو ته هغه سجده عطا کړه
په کښې يې د ملت د زندګۍ چې وي پيغام

## د فلسطين عربو ته

تراوسه چې قايله په ګرمۍ يې زمانه ده
منمه شته لا هغه حرارت دي په وجود کښې
د رنځ دي دارو وينم جنيوا نه په لندن کښې
چې نبض د يورپ دی نن په پنجه د يهود کښې
دي دا مې اورېدلي چې نجات د غلامانو
مدام وي د خودۍ په پرورش او په نمود کښې

## شرق او غرب

تقليد او غلامي که وجه دلته د مرض ده
نو هلته د مرض سوب نظام دی د جمهور

نه خلاصه ترې ایشیا ده نه بې غمه ترې یورپ دی
چي زړه او نظر نن په هره مځکه دی رنځور

# د حاکمی نفسیات

## (اصلاحات)

دا مهر خو پرده ده د ښکاري د دغه ظلم
په کار مي هڅو نه شوله خوږه- خوږه وینا
پنجرې له یې راوړې راله دي مړاوي ګلونه
غرض مي دی قیدي که شي په قید باندي رضا

# شپږمه برخه

# د محراب ګل پښتون خیالات

# د محراب گل پښتون خيالات

(۱)

اې غره! مي چي پرېږدمه تا کوم طرف ته لاړ شم؟
په تا کښې مي ده خاوره د نيکونو قدرناکه

اډه يې د ازل نه د بازونو باتورانو
د ګل او د بلبل د قصو دا مځکه ده پاکه

جنت زما دپاره دي کاږه واږه تنګي دي
خوړې دي اوبه خاوره د عنبرو نه خوندناکه

غلام به څه شاهين شي د تنذرو د کوترو
د روح دغه دنيا به تن له نه کړمه هلاکه

زما غيرتي فقره! وايه څنګه دي مرضي ده
خلعت دي د انګرېز دی خوښ او يا که خرقه چاکه؟

(۲)

له وخته قرابت دی حقيقت کښې د قامونو
خو خپل به له اسمانه څوک چرې شي او نه رو

خودۍ کښې غوپه شه ګوره نه شې چې نا امیده
په زخم کښې یې دننه انتظام شته د رفو

جهان کښې به بس ته یې بې نظیره بې مثاله
که کوز دي "لا شریک له" زړه ته چرې شو

(۳)

قضا به دي هیڅ چرې په دعا نه شي بدله
خو ستا دغه حالت پرده ممکنه که بدل شي

که هر کله پیدا دي په خودۍ کښې انقلاب شي
یقین لره چي واړه مشکلونه به دي حل شي

باقي به دا شراب دغه غوغا د میکدې وي
بدل که د ساقي او میکدې دغه عمل شي

دعا کوئ چي شي کل خواهشونه دي تر سره
دعا ده زما دا چي دي خواهش هډو بدل شي

(۴)

که کوږ دغه اسمان دی دغه لمر او دا سپوږمۍ
تمام د یوې لارې مسافر ستړی بې ساه

د تندر هسي کړس د سکندر دغه راتله ؤ
د مرګ نه څوک خبر دی چرته رانه شي ناګاه

لوټلي چي نادر د دې ډيلي وو دولتونه
يو پړق ؤ بس د توري ده قصه دغه کوتاه

باقي به پښتانه هم به وطن د پښتنو وي
دی حکم د الله ځکه دنيا ده د الله

همېشه حاجتونه کړي آزاد ځلمی مجبوره
بلا بده حاجت دی جوړ د شېر نه که روباه

چي هر کله محرم د دې خودۍ شولو دا فقر
نو بيا ته يې باچا او زه هم يمه شهنشاه

مالک هغه فقير د امتونو د تقدير وي
چي در لره ورغلی چرې نه وي د بادشاه

(۵)

دا لوبي مدرسه دغه غوغا د دوکه دو
کثرت کښې د عيشونو دی هر دم نوی غم يو

په حق کښې د احرارو هغه علم ګڼم زهر
چې وي د هغه علم نتیجه دوه موټې جو

ادب او فلسفه هډو څه شی نه دی نادانه
دپاره د اسبابو د هنر په کار دی دو!

غالب دغه دانا دی د فطرت په نوامیسو
لري دغه ماښام یې د سحر هسې پرتو

که غواړي هنرمند په برکت د هنر باندي
د لمر نه را وباسي د پرخي هسي ضو

(۶)

دنیا ده د ایجاد په کښې خاوند چې د ایجاد ؤ
طواف د ده کوي به تمام عمر زمانه

چې نه کړې دا خودي دي په تقلید باندي برباده
کوه یې حفاظت دغه ګوهر دی یګانه

پیغام دي د جدت په هغه قام باندي حرام وي
چې دی یې تصور په چنګ، رباب او ترانه

خو ما سره دا غم دی چې دا چیغې د جدت
ایشیا کښې پېروي له د یورپ نشي بهانه

(۷)

بدل شو شام او روم او هم بدل شو هندوستان
که ځوان د دغه غرونو زما وپېژني ځان

که وپېژني ځان
دا غافل افغان

موسم ښه دی اوبه ډېرې او مځکه یې خوږه
که وچ ترې پټی پاته شو بدبخته دی دهقان

که وپېژني ځان
دا غافل افغان

چې څوک له خپله ځانه خپل بدن کښې شه خبر
لوګی دي باچهي شي دهقاني ته د دې ځوان

که وپېژني ځان
دا غافل افغان

هغه نه دی دریاب چې یې موجونه نه وي مست
چې تیزه یې هوا نه وه دی هیڅ هغه طوفان

که وپېژني ځان
دا غافل افغان

حیا د عالمانو دي ساتلې امي توب ده
خرڅ کړی دی ټول عمر عالمانو دین ایمان

که وپېژني ځان
دا غافل افغان

(۸)

کارغه درته وايي ځومره دي بدرنګه دي وزر
او وايي شاپېرک غوندي ړوند تاته بې هنر

شاهينه! خيال کوه چي د مرغو دغه اجهوت
دی کله د فضا د پېچ او خم ځنې خبر

د هغه مارغه پوهه څه په حال او په مقام وي
چي روح يې الوتو کښې سر تر پايه وي نظر

(۹)

مزاج د میني نه دی کمینه لکه هوس
د باز په پرو نه شي الوتنه د مګس

رواج شي د چمن په هسي شان له بدلېدلای
چي ګران په بلبلانو باندي ژوند شي د قفس

عاشق د سفر چيغې ته د کوچ نه اتاليږي
د موج د قافلې نه وي پروا څه په جرس

زلمی د مدرسې خو څه ژوندی شانې لیدای شي
خو مړ دی د یورپ نه یې پور کړی دی نفس

که هر کله غرض دي د زړګي دا تربیت وي
نظر به د مومن وي سرسري ورلره بس

(۱۰)

د خپلې قبیلې د سترګو تور هغه زلمی دي
چي پاکه یې ځواني ده هم ګداز یې دی کاري

د جنګ دغه میدان کښې د زمري په ډول نر وي
په صلحه کښې ښایسته لکه هوسي وي تاتاري

که سوی یې هرڅه او سوځوله دا عجبه نه ده
چي بڼ له د نلونو بس، بخری وي ناري

بخښلې دبدبه د باچهي ورته الله ده
چي شته یې فقیرۍ کښې حیدري او کراري

پر سر به وي سرتور ولي ته سپک ورته مه ګوره
لوګی دغه سرتوري ته د ده شه سرداري

(۱۱)

پرون چي یې ستا توره شپه روښانه په رڼا وه
امید دی چي بیا بله شي هغه ډیوه خاموش

ګیلې له زمانې نه کړي همېشه بې همته
ازاد شي د تقدير دغه نښتر باندي په هوش

د جنګ دغه ميدان له په کار هغه زلمی نه دی
په چيغو د مارغانو د چرګ بانګ چي شه بېهوش

وېرېږه مه په دې چي طبعيت دي د ماشوم دی
او دي پوره ټکان دا د يورپ شکر فروش

# (۱۲)

دا ته څه په له لاطينۍ او لا دينۍ يې اخته شوی
د کمزورو بس دارو وي "لاَ غَالِبَ اِلاَ هُوَ"

د يورپ دغه ښکاري دی له يورپه نااميده
ده ورشو يې ښه، خو نه لري نافه يې يو آهو

بې له اوښکو د چر بانګ نه د خودۍ پالنه نه شي
دا ګلونه به په غاړه بس د دې لښتي کرو

مومنان يې کوي ښکار او کافران د هغه ښکار دی
دا دنيا به بتخانه د رنګ او بوی قدري ګڼو

اميران دي د جمات نه باهر وباسه اې شېخه!
د فرېب دغه سجدو يې د دين واخسته ابرو

(۱۳)

چې ګورم زه دنيا ته راته بله غوندې ښکاري
خو پوهه په دې نه يمه ده ستا په نظر څه؟

د ورځې د قيامت نخښې دي نن هره سينه کښې
چې وشو په فکرونو د ځوانانو اثر څه؟

د ژوند غلطۍ چرې بې د جنګ نه نه سميږي
د پير د حرم کيږي په دعا د سحر څه؟

خلوت کښې د صوفي کله تخليق د خودۍ کيږي
چې اور يې وي نوجن ترې به پيدا شي شرر څه؟

(۱۴)

چې مسته او زړوره نه وي مينه روباهي ده
چې زور يې ښه محکم ؤ هغه مينه الٰهي ده

چې سختو د سفر وته سامان د سفر وايي
قسمت موقاطي کړي دا دا قسم له راهي ده

د سمې نره! ته ګوره وحشت مه وايه دې ته
دا ګټ د غره د ځان د حقيقت نه اګاهي ده

دنیا روایتونه دي عقبٰی دي دعاګانې
که دواړه دي بس پرېښودل بلکل دغه شاهي ده

## (۱۵)

په دغه حقیقت باندي ګواه زړه د آدم دی
سالکه! شه پرې پوهه ده اسانه فقیري

لایق هغه فولاد نه وي د توري جوړولو
د چا چي وه په طبعه کښې موجوده حریري

که فقر دي خود دار نه ؤ نو قهر د الله دی
که شولو غیرتي ده فقیري دي امیري

د ځان د حقیقت نه ناخبره فیرنګي که
که نه یې نو مومني وه بشیر او نذیري

## (۱۶)

د قامونو تباهي ده د مرکز نه جدایي
که خودي دي مرکزي شوه بیا یې وګڼه خدایي

که دي فقر په سختو د زمانې نه ګیله من شه
نو لا دغه فقیرۍ کښې ده څه پاتې ګدایي

د نېکانو څخه نن شته دی هم هغه هنرونه
په قوت سره چې تل غرونه دل شوي د چا یې

بې د سوز دي مزه په معرکه کښې د ژوند نه شته
راشه زر مومنه! ګرانه دي شوه نوره جدايي

د پردې د لمر خاته نه سر راپورته که اې لمره!
ور عطا مې دغه غرونو ته لباس که حنایي

## (۱۷)

بوډاګان ځلمي يې واړه په انګار بانه کښې شي
څه لکونو کښې يو هم چرې خاوند ؤ د يقين

کله- کله پیدا کیږي په دې غره او په صحرا کښې
هغه ځوان، چې دغه فقر يې کودری که نګین

ته پر لیک د خپل نصیب په خپل قلم په خپله وکړه
چې قلم د الله پرېښی دی خالي درله جبین

که همت دي وکړ والوتلې شی هڅو څه نه دی
دا اوچته شنه فضا ورته اسمان چې وایي شین

که شه پاس دي پر سر پاتې شي اسمان به ورته ویلې
که دي لاندي تر وزر شه اسمان دی بیا زمین

(۱۸)

چي شېرشاه سوري ده کړې څه پخه بنکلې خبره
دغه وېش د قبيلو دی پښتنو لره خواري

د وزير، مسعود په نوم چي دا مدام دوی خوشحالېږي
له لباس د پښتنو نه پښتانه دي لا عاري

د دې غره مسلماني چي تمامي ذرې- ذرې ده
د بتانو خپلو- خپلو هر يو قام دی پجاري

د بتانو نه دا مځکه د حرم هسي شوه پاکه
هغه زور دي الله درکړي چي ګزار يې وي کاري

(۱۹)

دا تميز د سور او زېړ چي پرې کړي دغه نظر نه دی
نظرونه به محتاج نه وای چيري د مهر وماه

د مومن هغه منزل دی د يورپ نه ډېر په وړاندي
قدم اخله مخکښې ځه دا انتها نه ده د راه

دي هرچا وته آزادې ميکدې د يورپيانو
د تازه علم مستي هڅو بلکل نه دی ګناه

په سرور کښې د دې میو دي اجل دننه وینم
که دي نه ؤ په بدن کښې چرې سوی د لااله

خانزادګان د ښتنو به مي وینا ته څه غورږ نیسي
یو فقیر یمه کند پوشه څه نه یمه خو بادشاه

(۲۰)

د فطرت د مقصدونو همېشه وي نګهبان
د دشتونو اوسېدونکی یا زلمی د کوهستان

د تهذیب د جادوګرو محاسب دی په دنیا کښې
ده د ده په فقیرۍ کښې دبدبه لکه سلطان

هم بې حسن لطافت، هم بې شوکت، هم بې قوت شته
که بلبل دی په چمن کښې نو شاهین په بیابان

د مکتب فضا به ډېره مزیداره وي اې شېخه!
خو دښتونو کښې جوړېږي که فاروق دی که سلمان

په صدو کښې پیدا کېږي، تینګوونکي د دې میو
دا په دا چي تیز د تیغ ځنې شراب دي د ایمان

پای

# ارمغانِ حجاز

## ژباړه

## شېرمحمد مینوش

## فهرست


| شمبر سرلیک | مخ |
|---|---|
| ۴۱۳..د ابلیس د مشورې جرګه۱۹۳۶ء | ٦٦٥ |
| ۴۱۴..ابلیس(خپلو مشیرانو ته) | ٦٦٩ |
| ۴۱۵..د سپین ږیري بلوڅ نصیحت خپل زوی ته | ٦٧٣ |
| ۴۱٦..تصویر او تصویر ګر | ٦٧۴ |
| ۴۱۷..د برزخ دنیا | ٦٧٦ |
| ۴۱۸..غیبي آواز | ٦٧٧ |
| ۴۱۹..غیبي ږغ | ٦٧٧ |
| ۴۲۰..مځکه | ٦٧٨ |
| ۴۲۱..معزول شهنشاه | ٦٧٨ |
| ۴۲۲..د دوزخي مناجات | ٦٧۹ |
| ۴۲۳..مسعود مرحوم | ٦٨۰ |
| ۴۲۴..رباعیات | ٦٨٣ |
| ۴۲۵..د اخوندزاده ضیغم لولابي کشمیري بیاض | ٦٨٧ |
| ۴۲٦..د سر اکبر حیدري | ۷۰۰ |
| ۴۲۷..حسین احمد | ۷۰۱ |
| ۴۲۸..حضرت انسان | ۷۰۲ |

# د ابلیس د مشورې جرګه۱۹۳۶ء

## ابلیس

دا د عناصرو لوبه، دا دنیایې دون
دا د عرش د خلګو د ارمان دپاره خون

نن هغه کارسازې بربادۍ ته آماده دی
چا چې نوم پرې ایښی ؤ دنیا د کاف او نون

خوب د بادشاهۍ په فیرنګي باندي ما ولید
مات مې د ګرجې دیر و مسجد کړلو افسون

ما دې نادارانو ته سبق د تقدیر ورکړو
هم شتمن ته ما د سرمایې ورکړو جنون

څوک یې لمبه جن سیزونکی اور شي مړ کولای
سوز چې د ابلیس یې هنګامو کښې وي درون

دنګ یې چې ښاخونه دي زموږ د اوبه خور نه
څوک به هغه بوټی پخوانی کړي سرنګون

## لومړی مشیر

نشته شکه چي پوخ دی د ابلیس دغه نظام
خوی د غلامۍ کښې لا پاخه یې کړل عوام

دي د دې خوارانو له ازل سجدې په برخه
غواړي یې فطرت چي تل یې لمونځ وي بې قیام

زړه کښې یې اول خو څه ارمان نه پیدا کیږي
مړشي که پیدا یې هم شي لا پاتې شي خام

دا زمونږ د پرله پسې سعي کرامت دی
نن صوفي، ملا، د بادشاهت دواړه غلام

ښه ؤ دا افیم چي د مشرق په طبع ساز ؤ
نه دی ګڼي کم له قوالۍ علم الکلام

پاتې هنګامه د حج طواف که ده، نو څه پرې
پڅ شو لاړو تبغ چي د مومن ؤ بې نیام

دا نوی فرمان په ناامیدۍ د چا حجت دی؟
"دی دې زمانه کښې په مسلم جهاد حرام"

## دوهم مشیر

خیر دی د جمهور د سلطانۍ غوغا که شر؟
ته نوو فتنو نه د جهان نه یې خبر

## لومړی مشیر

یمه ترې خبر خو ما دنیا لیدلې پوی یم
وي د بادشاهۍ چې یو پرده څه ترې خطر

موږه ده شاهي ته جمهوري جامه آغوستې
شو بني آدم چې خود شناسه خود نګر

نور څه حقیقت د کاروبار د امیرۍ دی
دا د میر سلطان په وجود نه ده منحصر

غونډه د ملت وي دربار که د پروېز وي
دې سلطان لري چې به پردۍ مځکه نظر

نه دی تا نظام د مغربي جمهور لیدلی
مخ یې روڼ خو زړه یې له چنګېزه تور بتر

## درېیم مشیر

روح د سلطانۍ چې وي په ځای، څه اضطراب؟
بیا د دې یهود د شرارت دی څه ځواب؟

بې برېښنا موسیٰ! هغه عیسیٰ بې له صلیبه
نه دی پیغمبر خو شته په ترخ کښې یې کتاب

څه به د کافر له پرده سوز نظره وایم
خلګو د مشرق، مغرب ته ورځ دې د حساب

زیات به نور د دې نه څه فساد د طبعیت وي
وشلاوه غلام د باداریۀ خېمو طناب

### څلورم مشیر

مات به شي د رومة الکبرٰی له ایوانونو
اٰل ته د سیرز مو اوښود بیا د سیرز خواب

څوک د روم د بحر له څپو مشت و ګرېوان دی
"جګ شي صنوبر شي، کله شور کړي د رباب"

### درېيم مشير

زه یې قایل نه یم چې هغه عاقبت بین دی
چا چې سیاست د فیرنګي کړو بې حجاب

### پنځم مشير

### (ابلیس ته مخاطب کیږي)

اې چې ستا له سوزه کار د دهر استوار
اې چې دي رضا شي هر پنهان کاندي اشکار

آب و ګِل جهان د سوز و ساز شو ستا له تاوه
ستا تعلیم "ناپوهه د جنت" کړلو هوښیار

نه دې زیات دی تا نه د آدم په خته پوهه
هغه چې ساده خلـک یې ګڼي پرورد‌ګار

کار یې چې طواف ؤ او تسبیح ؤ او تقدیس ؤ
شو ستا د غیرت نه تر ابده شرمسار

ځو که جادوګر د فیرنګ ستا ټول مریدان دي
نه مي شته د دوی په فراست اوس اعتبار

هغه یهودي چي د مزدک د روح سایه دی
کړي به يې جنون هره چپنه تار په تار

کړي سیالي شاهین سره کارغه تور د صحرا
څومره په تندي مزاج بدلیږي د روزګار

خور شو د افلاکو په وسعت چي آشفته شو
موږ له ناپوهۍ ګڼلو یو موټی غبار

دی د صبانۍ فتنې له خوفه هیبت هسي
نن دی په رپا چینې، باغوانه! کوهسار

اوس هغه جهان دی، اې باداره! ورانېدونکی
دی يې چي د ستا په سردارۍ باندي مدار

# ابلیس(خپلو مشیرانو ته)

دی زما په واک کښې دا د رنـګ و بوی جهان
ځکه او سپوږمۍ، لمر و پرده- پرده آسمان

ګرمه د یورپ د هر یو قام چې کړمه وینه
او به یې وینې خپله مشرقیان او مغربیان

ټول به لېوني کړي که یو "هو" مې له خولې و یست
څه د کلیسا شېخان او څه سیاستیان

جام و صراحي د دې تهذیب خو دي لړ مات کړي
دا چې یې نازکي شان ښیښې ګڼي نادان

ستن د مزدکي منطق یې هیڅ ګڼلی نه شي
پنجې د فطرت چې کوم شلولی دی ګرېوان

نه شي کوڅه ډب اشتراکیان یې وېرولي
دا خراب مغزن بې سره شوی پرېشان

وېره که څه ما سره ده، ده له هغه قامه
لا چې په خوړلن کښې یې سپرغۍ شته د ارمان

لا خو دې امت کښې راته ښکاري چې خال خال شته
کړي اودس په اوښکو د سحر چې ظالمان

پوې دې چې خبر څوک په رازونو د ایام دې
دا مزدکیت د صبا غم نه دې اسلام دې

(۲)

پوهه یم چي دا امت حامل د قرآن نه دی
دین دی سرمایه جمع کول د مسلمان

پوهه یمه زه، چي د مشرق په توره شپه کښې
"یدِ بیضا" نه لري لستوڼي کښې پیران

ویره شته لېکن د دغه وخت د تقاضو نه
شرع جاري نه شي د نبي آخر زمان[ص]

تښتي سل کرته د آئین د پیغمبر[ص] نه
دا ساتي ناموس د ښځو هم جوړ کړي مردان

شته پیغام د مرګ پکښې د هر ډول غلامۍ ته
نه پکښې فقیر نه څوک فغفور او نه خاقان

پاک صفا دولت کاندي له هرې پلیتۍ
کړي امانت ګر مال و دولت ته منعمان

زیات به انقلاب له دې د فکر و عمل څه وي
مځکه ده د خدای نه دي شاهان یې مالکان

پټ چي دا آئین وي د عالم له سترګو ښه دی
دا لا غنیمت چي بې یقین دی مسلمان

ښه دی چي هغه الٰهیاتو کښې وي نښتی
تل چي د قرآن په تاویلاتو کښې وي نښتی

(۳)

مات يې په تکبير چي شي جادو د شش جهات
روڼه مه شه شپه، د دې خائف د رب له ذات

مړ ابن مريم شو، که ژوندی مي به همېشه وي؟
دي صفات د حق ځنې جدا، که عينِ ذات؟

اې چي به راځي ترې نه ناصر مسيح مراد دی؟
يا څوک مجدد چي د عيسٰی لري صفات؟

ټکي د قرآن چي دي حادث دي که قديم دي؟
کومه عقيده کښې دی د دې امت نجات؟

ولي په دې دور کښې مسلمان لره بس نه دی
دا الٰهياتو نه تراشلی لات منات؟

داسي يې مشغول کړئ چي کردار ته يې پام نه شي
ګټې په "بساط د ژوند يې" ټول چي وخوري مات

وي مومن غلام چي تر قيامته دې کښې خير دی
نورو له دي پرېږدي دا جهانِ بې ثبات

شعر او تصوف د ده دپاره هغه ښه دی
پته چي د ده نه تماشه کړي د حیات

ویره هر نفس د دې امت د بیدارۍ کړم
دی چي کار د دین یې احتساب د کائنات

مست یې تل ساتئ په ذکر او فکر د سحر کښې
لا یې خانقاهي مزاج کړئ پوخ د دې نه زیات

## د سپین ږیري بلوڅ نصیحت خپل زوی ته

ستا دي شي روزي خپله هوا د بیابان
ښهٔ ترې بخارا ده، نه ډیلی د هندوستان

کوم خوا چي دي زړه وي د سیلاب غوندي چلېږه
دا کڅئ زموږ ده، هم مو هغه بیابان

لوی څیز خو غیرت دی، په دې چلنده دنیا کښې
تاج د دارا ور کاندي درویش ته په یو آن

دغه پټ دولت د یو کامل ځنې حاصل کړه
وایي د ښیښو نه جوړولی شي ګټان

لاس کښې د افرادو تل تقدير وي د قامونو
فرد وي د ملت د نصيب ستورى درخشان

پاتې شو دولت د سيند د هغه مرجونړا نه
کوم چې د صحبت نه د ساحل نه ساتي ځان

دين چې ترې نه لاړ شي که آزاد يې هم ملت شي
داسي تجارت کښې مسلمان لره دى زيان

بيا د تن او روح جګړه پېښه ده دنيا ته
بيا تهذيب را وپارول خپل ځناوران

کړي تکيه ابليس دي د يورپ په مشينونو
خداى لري باور په پامردۍ د مسلمان

څوک ويلي نه شي څه تقدير دى د قامونو؟
پوى به شي مومن که فراست لري آسان

غواړه د اخلاص عمل له تېرو مشرانو
بويه ګدايان که چري اونمانځي شاهان

# تصویر او تصویر گر

## تصویر

وویل تصویر چي اې هوښیاره تصویر ګره!
زه را پیدا شوی یمه ستا له ښه هنره

فکر وکړه ځان سره دا څه بې انصافي ده
اوسې همېشه چي پټ پنهان مي له نظره

## تصویرگر

وي سترګي بلا خپلي، په هر یو دیده ور
دې جهان ببنیۍ ګوره څه وکړل په شرر

سوز او تب و تاب او درد و غم دغه نظر دی
اې ناپوهه! بس کړه ته قانع شه په خبر

## تصویر

دې خبر د عقل او دي خرد ناتواني
دې نظر د زړه دپاره ژوند جاوداني

تګ و تاز د دغه زمانې د دې لایق
نه دی چي ور واورولی شي لن ترانی

## تصویرگر

ته مې شوې څرګند د کمالاتو د هنره
مه شه نا امیده ته له خپله نقش ګره

غواړې که دیدن زما نو بس دغه یې شرط دی
ته خپله چې نه شې پوشیده له خپل نظره

# د برزخ دنیا

## (مړی خپل قبر ته)

څه شی دی؟ د کوم یو "نن" "صبا" دی قیامت؟
وایه زړې خونې! څه اشیا دی قیامت؟

### قبر

ولې ته خبر نه یې د سلو کالو مړیه؟
هر یو مرګ ته پټه تقاضا دی قیامت

### مړی

پټه تقاضا چې د کوم مرګ ده قیامت
زه د هغه مرګ په جال کښې نه یم ګرفتار

څو که زه د سلو کالو مړی یم خو بیا هم
نه یم له دې تورې خاکې خونې نه بېزار

روح که بیا زما ټوک- ټوک بدن وته را درومي
نه یم د دې داسي قیامت زه خریدار

## غیبي اواز

نه د مار، لړم برخه ده، نه د دام او دد
دی غلام قامونو ته فقط مرګ د ابد

نه شي په شپېلۍ د اسرافیل ژوندون کېدلی
تش چي ؤ د روح نه په ژوند هم د چا جسد

بس له مرګه ژوند خو د آزادو خلکو حق دی
څو که دی منزل د هر ژوندي غېږ د لحد

## قبر (خپل مړي ته)

اُف ظالمه! ته خو جوړ په ژوند د چا غلام وې؟
پوهه نه وم ولي ده زما خاوره سوزناکه

زیاتې شولې لا زما تیارې ستا له وجوده
ستا وجود د مځکي د عزت پرده کړه چاکه

لرې! د غلام له مړي سل کرته لري!
لري مي اسرافیله! جبرائیله! خدایه پاکه!

## غیبي ږغ

په لړزان که له قیامته دی نظام د هست و بود
دي له دې ورانۍ ښکاره رازونه د وجود

الوزي تور غر لکه وريځ چي زلزله شي
کيږي ترې په غرو کښې د تازه چينو نمود

هر نوي تعمير لره پکار پوه تخريب دی
دی د ژوند د ګرانو کشالو په دې کشود

## مځکه

اُف! دا مدامي مړينه، او دا جنګ د حيات
خلاص به چري هم شي کشمکش د کائينات

نشته د خرد خپلو بتانو نه نجات
عام دي که عارف هغه بنده د لات، منات

خوار شو څه آدم؟ چي يې لرل د حق صفات
زړه، نظر، ته ګران ښکاري د دې جهان ثبات

شپه د انسان ولي صبا کيږي نه هيهات!

# معزول شهنشاه

وي دي مبارک هغه نېک مرغه شهنشاه ته
کړل چي د شاهئ اسرار يې فاش په خپل ايثار

شاه د خاورو بت دی د فرنګ په درسال کښې
زړه چې د بامبړ وغواړي کړي به يې تار تار

دا دی موږ مريانو ته افيم ګډ په کښې مشک دی
جوړ کړه د فرنګ ساحره! موږ ته بل بادار!

## د دوزخي مناجات

دې زوړ درمسال کښې مطلبيان دي بامبړان
کله چې بتانو نه خفه شي خدای کړي ياد

دي همه بې سوده که پوجاده ک نمونځونه
برخه د خوارانو هم هغه ژړا فرياد

څو که يې مانۍ رسي آسمان ته په لوړتيا کښې
ښار يې دی هر يو په ويرانۍ باندي آباد

ګوره د ترښځي د تقدير ګردش خو ګوره
دې پرويز خړوبه سينه سوی دی فرهاد

دغه سياست، علم، حکمت، که تجارت دی
څه چې دي، دا فکر د شاهانو کړل ايجاد

شکر لویه خدایه! چي دا ځای له تا وو ډک خو
دی د سوداګرو د یورپ ځنې آزاد

## مسعود مرحوم

لمر، سپوږمۍ او ستوري د آسمان لکه د دود
چا زده چي عدم دغه عالم دی که وجود

خیال د چول منزل ده افسانه او یا جادو دی
ځکه چي ژوندون خو بس یو زغل دی بې مقصود

آه د زمانې د لاسه پاتې باقي نه شو
شان د کمالاتو د احمد او د محمود

مرګ یې ناڅاپي یو د هنر علم زوال ؤ
هغه د کاروان بې بها مال چي ؤ مسعود

ژاړم د دې خلکو بې دردي مي ژړوینه
دا چي د سحر د چرګ ژړا ګڼي سرود

مه وایه علاج د یار د غم کیږي په صبر
مه وایه په صبر دی د مرګ د راز کشود

زړه چي وي په مينې کښې صابر زيات وي له سنګه
ده تر صبره لار د محبت نه زر فرسنګه

مه پوښته چي عمر تښتېدونکی بلا څه ده
څوک له دې خبر چي دا نيرنګ و سيميا څه ده

څوک چي شو د خاورو نه پيدا خاورو کښې پټ شو
دا هنګامي پټه ده؟ که تل ده فنا؟ څه ده؟

ګرد وته د لار د جمال ذوق ورکړې شوی
عقل ښودی نه شي چي د دې مدعا څه ده

زړه نظر اعجاز دواړه د دغه آب و ګِل دي؟
او که نه، نو وايه د انسان انتها څه ده؟

روح د دې جهان خو لااله الا هو دې
بيا مسيح او مېخ او د صليب ماجرا څه ده؟

چا ځنې قصاص د تمنا د مرګي غواړم
څوک دی ګنهګار او بيا د دې خون بها څه ده؟

غم مه کړه چي بند کښې د جهان ګرفتار يمه
مات به جادوګان کاندي زه هغه زړه لرمه

وي خودي ژوندۍ چي مرګ مقام دی د حيات
عشق ورکوي مرګ ته امتحان د خپل ثبات

وي خودي ژوندۍ چي نو ستا سيند دی بې پايانه
ستا په بېلتانه کښې موج مضطر د نيل د فرات

مړه که وي خودي، ته يې د باد په مخکښې خلې
ژوند که د خودۍ وي ته يې مير د موجودات

چرې که نظر د يو برېښنا نه هم محروم وي
دوه لکه جلوې يې تلافي شي د مافات

بره د افلاکو د مومن بنده مقام دی
مځکي نه وي ټول تر ثريا لات و منات

ده حريم د ذات يې، ټول عمري ابدي جاله
خاوري د لحد او نه جلوې دي د صفات

شي "ځان پېژندونکی" چي بهر له دې خاکدان
مات به کړي جادو د لمر او ستورو د آسمان

## غيبي اواز

رېغ راځي له عرشه په سحر کښې هسي شان
ورک ورځنې خرنګه جوهر شو د ادراک

ووایه نشتر دي د تحقیق څرنګه پڅ شو
اوس کولای نه شې چي د ستورو ځګر چاک

حق د خلافت دی د ظاهر هم د باطن دی
څه به لمبه وینځه شي د خس او د خاشاک

ولي دي محکوم نه دي دا لمر، سپوږمۍ او ستوري
ستا له نظرونو ولي نه رپي افلاک

څو که لا رګونو کښې ده ستا وینه روانه
نه تاؤده افکار نه اندېښنه کښې یې بېباک

وي پکښې رڼا خو جهان بینه نه وي چرې
سترګه چي نظر یې په ککۍ کښې نه وي پاک

تته شوله لاړه آئینه ستا د ضمیر
اې چي ته وژلی یې سلطان ملا که پیر

# رباعيات

## (۱)

ښاخ چي د اميد دی کوم زما څه يې اثر دی
ستا د تقدير ما لره ووايه څه خبر دی

نن د ګل کلۍ ده پرانستو وته محتاجه
ستا د صباني سحر په باد ولي نظر دی

ورکړه فراغت ورته د کار نه د جهان
خلاص چي شي غريب د هر نفس له امتحان

زوړ شو نوی فکر يې دماغ ته نه پرېوزي
نوې ګناه راوړي اوس له کوم ځايه شيطان

بل ډول عالم دغه د شام او د سحر کړه
دا جهان د وچي د لوندې زېر او زبر کړه

ستا دغه خدايي دي اوسي تل له داغه پاکه
ته مي د دې بې ذوقه سجدو نه الحذر کړه

(۲)

کاندي غريبي سره حسد مي اميري
ځکه چي زما ده غيرتمنده فقيري

تبسته له دې فقر و درويشۍ ځنې چي هغې
زده کړه مسلمان ته سرټيټي او سرکوزي

دی د دې خرد تنګ لمنی، نه مي فرياد
بيا د دغي ډېري تجلی، نه مي فرياد

ګوره چي نظر کول و غيرو وته يې خوښ دی
بس د دې نظر د کافری، نه مي فرياد

شېخ ته د حرم دا هسي اووئيل اقبال
څوک ؤچي محراب د جماعت لاندي اوده شو؟

دا راغله ندا د جماعت له دېوالونو
څوک د فيرنګي په درسال کښې ورک شو څه شو؟

يخي هنګامې مو پخوانۍ شوې د آرزو
وينه د مسلم چي يخه شوې په هر سو

دغه لاديني مي مبارک شه د بتانو
ځکه چي نن مړ دی زما اور د الله هو

کاندي د مومن خبري ډېر په زړه اثر
وي نظر يې تېز رونه سينه زخمي ځيګر

چا ته به ديدار د هغه څرنګه نصيب شي
ځکه چي محفل ته هغه کم راځي اکثر

ښکاري دا د دې نه چي تميز د ګل او خار کا
وګوره نسيم ته د سحر روشن ضمير وي

چا وېل چي د ګل په حفاظت به بريالي شي
هغه څو اغزي که چرې خوی يې د حرير وي

مه يادوه ما وته فراق او آشنايي
ځکه چي د ژوند دی حقيقت خودنمائي

زيان پکښې د سيند شته دی، نه زيان د مرغلري
شي د مرغلري چي له سينده جدائي

ولي ستا په سيند کښې طوفان نشته، طوفان نه يې؟
ولي د خودئ په حقله ته مسلمان نه يې؟

ستا دا د تقدير نه د يزدان ګيله عبث ده
ولي؟ وايه ته خپله تقدير د يزدان نه يې؟

وګوري خرد که ښه د خپل زړه د نګاه نه
دا جهان روښانه دی د نور د لاالٰه نه

بس سحر ماښام ترې پيدا کيږي يو ګردش دی
څوک که درته ګوري د رڼا د مهر و ماه نه

کله ته د سيند په نم را پورته شه ښکاره شه
کله د درياب په زړه کښې ورک لکه څپه شه

تېر شه د ساحل نه د درياب هم کله کله
لا دي د خودئ مقام ښکاره کړه يو په دوه شه

# د اخوندزاده ضیغم لولابي کشمیري بیاض

(۱)

آب د چینو ستا په رپا سر لکه سیماب
ستا په فضاګانو کښې مارغان همه بېتاب

اې وادي لولاب

ډک له شور چي نه وي که منبر وي که محراب
دین بهٔ د مومن دپاره مرګ وي او یا خواب

اې وادي لولاب

بې سازه نغمې چرته جلیا چي کړي ځګر
سست چي وي تارونه نو بې کاره وي مضراب

اې وادي لولاب

تش دی د ملا نظر د نور د فراست نه
بې تاوه د صوفي د میخانې دی می ناب

اې وادي لولاب

زړونه را بیدار چي په فریاد یې د سحر شي
دې قام کښې پخوا نه دی درویش هسي نایاب
اې وادي لولاب

## (۲)

سخت له مرګه، مرګ دی غلامي چې يې دی نام
اوپېژنئ درېغه د بادار مکر غلام؟

شرع د شاهۍ کښې د احکامو جدت ګوره
شور د شپېلۍ ښه، خوند د محشر ګڼي حرام

اې په غلامۍ کښې دي چې روح مضمحل شوی
بې سوزه سينه کښې د خودۍ مومه مقام

## (۳)

نن ګوره مجبور دی، هم محکوم او هم فقير
خلګو چې ګاڼه کمکی ايران هغه کشمير
سوی آه را وزي د افلاکو له سينې
مرد حق چې ډار شي له سلطان او له امير

اوروي قصه د زمانې د بې دردیو
کور د غر لمن کښې د زاړه دهقان زهير

آه دا شريف قام، خاربه لاسونه تر دماغه
خدايه! څنګه نيوونکيه" قيامت ولي کړي تاخير؟

(۴)

ګرمه د محکومو قامو وینه چي کوم آن شي
و رپي د رنګ و بوی څلور کنجه جهان

پاک شي د انسان ضمیر د ظن او له تخمینه
هره لار رڼا ورته ډیوه کړي د ارمان

عشق یې بې د تار او بې د ستني شي ګنډلی
نه چي شي له عقله هغه زوړ څیري ګرېوان

پرله پسې خوري چي ګذارونه آخیر مات شي
بت د شاهۍ ګټه زړه په مخ آئینه شان

(۵)

شوکت د باز ښکاریږي په الوت کښې د تنزري
تنزری که دا باز دی شو صیاد ورته حیران

پیدا دي چپاوونه په افکارو د هر قام کښې
مشرق کښې نن قیامت دی د "صبا" ښه نمایان

غوښتنو د فطرت نه شو مجبور جوړ یې قیامت کړو
شپېلۍ د اسرافیل ته چي کوم مړی ؤ نګران

(۶)

رندانو ته معلوم دي د صوفي ټول کمالات
هر څو که د دوی خپل مشهور نه دي کرامات

خپل نفس لرل په واک کښې او نعره د اناالحق
آزاد چې وي سالک نو دا يې کل دي مقامات

محکوم چې وي سالک نو دی هم دا يې "همه اوست"
هم مړی، او هم قبر او هم مرګ د مفاجات

(۷)

را ووزه له خانقاه اختيار کړه رسمِ شبيري
دا فکر د خانقاه خو دی يو غم او دلګيري

ځي بوی د رهبانۍ د ستا د دين او د ادب نه
هم دا د مړه کېدونکو امتونو ده، پيري

جلوه داسي لېمو کښې د شاهۍ د شياطينو
د ښکار په زړ کښې شوق د ښکار کېدو کاندي جاري

څه تير شول بې پروا مي د نوا د صبائي نه
چا ولوټلې توري مستې سترګي کشميري

(۸)

تا خیر دې که دا یو د ویني څاڅکی دی ګنډلی
دا زړه دی د سړي فقط یوه جذبه بلنده

خوښ نه دی د هغه د سپوږمۍ ستورو دا چلند
زړه خپله د ماښام او د سحر دی نقش بنده

ضمیر د کومو خاورو کښې چي اور د چنار شته دی
ګېدای نه شي چي یخه شي غه خاوره ارجمنده

(۹)

شوه ببرته په چمن کښې چي د ګل کتابخانه
پکار د ملا هیڅ نه شو بیا علم کتابي

هوا د پسرلو د مقانت ده لړزوونکې
لاس پوري په غزل کړلو بوډا اندرابي

ریدي" او رختي" داسي وینا وکړله په جهر
چي زه یمه رازنو ته د روح بې حجابي

مرګي ته هر هغه چي عمري خوب د لحد وايي
پنهانه په تعبير کښې د هغه ده خرابي

ژوندون د ورځو شپو دې سلسلې ته وايه نه شي
که پوهه يې ژوندون نه دی مستي او نيم خوابي

ژوندون خو په خپل اور کښې سوځېدل دي نور څه نه دي
که پوی شوې په دې راز، د خوشحاليو ده چابي

سپږغۍ که دي حاصله کړو د خپل زړګي له اوره
ستا لاندي تر قدم به دا فلک شي آفتابي

(۱۰)

پلې سختې د آزادو لکه کلکي پلې د کاڼو
پلې نرمي د غلام لکه د نرم رګ د تاک

زړه مړ او مړغژن او نا اُميد د محکومانو
ژوندی وي د آزادو زړه پر سوز او طربناک

دولت وي د آزادو، زړه روښان او نفس ګرم
دولت وي د محکومو، فقط يو لېمه نم ناک

محکوم وي د اخلاص، او د مروت نه بېگانه
هر څو که د منطق په دلايلو وي چالاک

ممکن نه ده محکوم به، چرې سیال شي د آزادو
هغه يې يو غلام، او دی بادار دی د افلاک

(۱۱)

عارف دی، که عامي، ټول له خودۍ دي بېگانه
څوک وښايي چي دا دې جماعت که میخانه

دا راز له مورږ پټ کړی هغه میر د واعظانو
حرم دی خپل څراغ باندي پڅپله پروانه

جادو د بې خبرۍ دی، کافري که دینداري ده
د شېخ او برهمن حدیث جادو او افسانه

خاونده په نصیب د دې وطن هغه درویش کړې
چي وي په فقیرۍ کښې يې انداز، کلیمانه

تر کومه به هغه د زمانې له سترگو پټ وي
د "ولر" د اوبو گوهر همه دي یکدانه

(۱۲)

د زور نه د عمل يې په بل ډول دی جهان
ژوندو قامونو ډېري معرکې کړې په ځان

باطل د نجومي دا د صبا د حال ويل دی
را پرېوتل چې کوم ؤ زاړه ستوري د آسمان

تر دې حده ضمير د دې جهان دی اور اخستی
څپو ته د درياب شولو پيدا ستوري روښان

دا مځکه يو ساعت د زلزلو نه اوزګاريږي
باريک اشارتونه د فطرت دي نمايان

چينې د هماله به تر کومه را خوټکيږي
دی فکر کښې په غاړه د "ولر" "خضر" حيران

(۱۳)

ده نخښه د ژوندو قامونو دا په زمانه کښې
چې هر سحر ماښام د دوی بدليږي تقديرونه

ژوندون چې دی د دوی کمال د صدق و پيرزويني
فطرت هم کړي معاف د هغو واړه تقصيرونه

وي شان د قلندر يې په جلال کښې سکندر وي
هم دغه امتونه دي او ښکلي شمشيرونه

چې ځان وپژني خودي جمال هم يې جلال دی
کتاب دی هم دغه، نور يې همه دي تفسيرونه

منکر خو د اختر له شانه زه نه يم خو بيا هم
د خدای په در قبول وي د آزادو تکبيرونه

حکيم زما د راز نه د سندرو څه خبر دی
د عقل نه اوچت د لېونو دي تدبيرونه

(۱۴)

دا څه کافرانه کوې د ژوند قماربازي
يې ساز د زمانې سره له ځانه ناسازي

نن زړه د جنيدؒ نشته د حرم په مدرسه کښې
او نه هغه نظر د غزاليؒ او د رازيؒ

په حکم د فطرت چې لوی مفتي دی د ازله
په دين کښې د چتي ده حرامه شهبازي

هم هغه ازلي فقيهه جره شاهين ته اووې
الوت دي په آسمان لره له مځکي ناسازي

دا زه يم چي د جهر له وينا مي توبه نه کړه
له دې وېري چي وبه شي سلطان ته غمازي

لاسونو کښې زموږه سمرقند نه بخارا شته
دعا د فقير ووايي په ترکِ شيرازي

(۱۵)

د مغرب ضمير تاجر دی، د مشرق راهبانه
هلته وخت په وخت بدلېږي دلته يو شان زمانه

د درياب په غاړه خضر راته وې محرمانه
سکندر که قلندر دی، لار يې ده ساحرانه

دا خدايان د خانقاه مي سخت دښمن ګڼي وېرېږي
چي فرياد مي ورته نه کړې دړې وړې آستانه

د غلام د علم و پوهي دغه راز خو را ښکند دی
که ده مځکه تنګه څه پرې؟ فضا شته بې کرانه

چي دا خپل ځان تېرويستل دي او که خدای سره ټګي ده
مسلمان چي عمل پرېښود د تقدير په بهانه

ښاخ د ګل ښکاري په دې او ژړولو چي زه قيد شوم
د دا هسي نغمه خوان خو درنه نه وه آشيانه

(۱۶)

بيان ته څه حاجت دی، اې وطنه د ګلانو!
تصوير زمورږ د سوي زخمي زړه ګڼه لاله

تقدير خو نتيجه ده د اعمالو نور څه نه دي
پيغام راکوي دا راته خدايان د هماله

د ژمي په بادونو کښې بربنډ يې دی بدن
هنر يې اميرانو ته چي ورکړه دوشاله

دولت ته د دنيا چي د وفا اميد ونه کړې
شته تېښته طبعيت کښې يې په څېر د غزاله

(۱۷)

چا ته چي خودي ښودلی تن فراموشي ده
نن په دې غازي باندي حرام، زره پوشي ده

(۱۸)

کړه پیدا هم هغه اراده سوز د ځیګر
توره که یې غواړې مټ پیدا کړه د پدر

(۱۹)

زه یو مسافر یم لږ خو وا مي وره فریاد
ستا سینه کښې هم چي قیامتونه شي آباد

دا ده غوره پنګه چي ژړا زما د غم ده
عام په جهان نشته دی دولت د زړه ناښاد

زه یم ګیله من د زمانې د بده ذوقه
ښکاري مي محنت ورته محنت چي د فرهاد

ږغ د ترخځ بل دی چي له ګټې اورېده شي
پوهه شه دا ږغ خو د ترخځ او د ځیګر دی

# د سر اکبر حيدري

## صدر اعظم حيدراباد دکن په نوم

## د يوم اقبال په موقع د حضور نظام د توشه خانې له خوا چي د صدراعظم ما تحت ده، د زرو روپو د چک د مېلمستيا په ډول د وصول کېدو په موقع

حکم ؤ د خدای چي قلندر وته يې ورکړې
دا پرويزي شان چي د شاهۍ لري صفات

وې چي واخله کړه شاهنشاهي په ښه تدبير
ورکړه دې راتلونکي او بيا تلونکي ته ثبات

هسک به مي را بار د امانت کړو په سر سترګو
هر تراخه وي حلق کښې د دروېش لکه نبات

دا يې قبول نه کړای شو غيرت زما د فقر
اووې چي هغه دا د خدايي مي دی ذکات

# حسین احمد

لا خو په رموز د دین عرب څه خبر نه دي
څه د دیوبند حسین احمد بوالعجمي

رېغ يې په منبر کړو جوړ ملت شي له وطنه
پوی په مقام نه دی د محمدِ عربي ص

رسه مصطفیٰ ص وته چي دین خو بس هغه دی
او، که نه وي دا، نو ده همه بولهبي

# حضرت انسان

د عقل او نظر ده په دنیا څه ارزاني
هیڅ پېدای نه شي چي عالم دی نوراني

او که ګورې دومره د فطرت نری پرده ده
ښکاري ترې مسکا د ملایکو پنهاني

زوی ته د آدم د دید بلنه دا دنیا ده
ذوق یې د اظهار شته چي کوم څیز دی نهاني

دا زوی د آدم دی، چي د ده له وینو اوښکو
خدای کړل په دنیا کښې دریابونه طوفاني

دا دنیا د خاورو د چا کور دی فلک څه زده
ستوري کړي د چا د شبستان نګهباني

زه مقصود د ګل که یم، له ما به څه سیوا وي
څه زما د نوو هنګامو به انتها وي